د اتلسمې صدئ په مینځ ۱۷۵۲ء کښې چه کله ګریګورین کلنډر په انګلستان کښې نافذ کړې شو، نو دا پورته فرق یوولس ورځې وو، لهذا په دغه کال د چارشنبې په ورځ ۲ ستمبر نه پس یوولس ورځې شمار نه کړې شوې، یعنی ددې نه ورپسې ورځ د جمعرات د ۳ ستمبر په ځائې ۱۴ ستمبر مقرر کړې شو، ددې نه علاوه په انګلستان کښې هم ددغې کال نه د نوی کال اوله ورځ یکم جنوری مقرر کړې شوه، حالانکه ددې نه مخکښې هلته دوه قسمه کلنډر عام وې، سول civel یا قانونی legal دکال شروع ۲۵ مارچ نه کیدله،

.........دغسې که دمثال په طور د ۱۵۵۰ء په آخره ورځ ۲۴ مارچ وو نو ددې نه ورپسې ورځ ۲۵ مارچ د راروان کال ۱۵۵۱ء رومبئ ورځ، ددې په عکس تواریخی Historical کال دیکم جنوری نه شروع کیدلو، دغسې که دیو قانونی سال په اعتبارسره ۲۴ مارچ ۱۵۵۰ء وو نود تواریخی کال په اعتبارسره ۲۴ مارچ ۱۵۵۱ء هرکال یکم جنوری نه ۲۴ مارچ پورې د ټولو ورځو همدغه کیفیت وو، ددې نه مخکښې د اوومې صدئ نه دیارلسمې صدئ پورې نوې کال د کرسمس د ورځې نه شمار کیدلو، ددې نه علاوه هم په عیسوی تقویم کښې ورې غټې تبدیلئ کیدلې، خوپه موجوده تقویمی حسابونو کښې دیکسانیت او سهولت په خاطر دټولې زمانې د کالونو شروع دیکم جنوری نه کیږی. (ماخوذ از جوهر تقویم)....ازمرتب

﴿۲﴾ واضحه دې وی چه قمری میاشتې دنوی سپوږمئ نه شروع کیږی اوحسابی قواعد صرف په حساب کښې داختصار اوآسانئ دپاره مرتب کړې شوی دی، دعلوم فلکیات په لحاظ سره د رؤیت هلال دمشاهداتی معیار مطالعه اوکړې شی نو داحقیقت ښکاره کیږی چه لکه څنګه مونږ دهفتې ورځې اوشمسی تاریخونه دمشرق یومخصوص مقام (۱۸۰ درجه طول بلد سره تیریدو والا بین الاقوامی ډیټ لائن) سره یومخصوص وخت باندې (د شپې دولس بجې) شروع کوو، اود راروانو څلیریشتو ګهنټو دپاره ددې نه مغرب طرف ته واقع مقاماتو باندې ددغه ځایونو دمعیاری وختونو مطابق ددې برابر مطابقت کوو، قمری اعتبارسره داسې کیدل بالکل ناممکن دی، ځکه چه د سپوږمئ د غیربرابر ماهانه ګردش په وجه د رویت هلال آغاز همیشه په یومخصوص مقام باندې نه کیږی، نوې سپوږمئ د کرهٔ ارض وسطی یا مغربی حصو کښې د مشرقی مقاماتو نه مخکښې په نظر راځی، په نورو الفاظو کښې دهر یوې میاشت قمری ډیټ لائن دمختلفو مقاماتو نه شروع کیږی اوخاص خبره داده چه د شمسی ډیټ لائن په شان دا تقریباً په یو برابر کښې نه وی بلکه خمیده بیضوی قوس په صورت کښې وی اودغسې په یوطول بلد باندې واقع ټولو مقاماتو نه نه تیریږی بلکه دمشرق نه مغرب طرف ته دقوس صرف اندرونی درجې ګیروی هم داوجه ده چه په بعضې اسلامی ملکونو کښې د سپوږمئ لیدلو باقاعده انتظاماتو باوجود څوځل ددوی په رویت هلال کښې د نورو ملکونو نه یوورځ تاخیرکیږی ددې وجوهاتو په بنا باندې د رویت هلال مطابق یوحتمی بین الاقوامی قمری تقویم تیارول قطعاً ممکن نه دی لهذا پورته ذکرشوی حسابی قاعدوته مونږ آخری فیصله نه وایو، بلکه دقریب ترین صحیح تاریخ معلومولو یوه آسانه طریقه ورته وایو، چه په دې کښې د رویت هلال نه یوه یا نیمه ورځ اختلاف ډیرځل کیږی ددې یوه وجه داهم ده چه د قمری میاشتو اصل موده ۲۹ ورځې شپږ ګهنټې او ۱۲۹ ورځې (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په دې زمانه کښې فسق عام دې ځکه دَ رؤیت په مسئله کښې به قاضی تحری کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَدوو یا دوو نه زیاتو کسانو ګواهی ورکړه چه مونږ دَاخترمیاشت لیدلې ده او په هغه وخت آسمان کښې ګرداو وریځ وی اوداخلق په عام خلقو کښې متهم بالفسق وی ځکه چه دا خلق بعضې وختونو کښې بغیردَڅه عذرنه مونځ پریږدی اوبیاهم هغوی دَاختر د میاشت ګواهی ورکوی نوآیا دَدوی قول اوشهادت به قبلولئ شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملاشیرمحمدلورآلائی بلوچستان......۱۹۷۸ء/۱۰/۲۱.

الجواب: په دې باب کښې ظن غالب ته کتلئ شې، که دَقاضی تسلی دَدوی په بیان باندې اوشی نوبیاصحیح ده، په دې زمانه کښې خوفسق عام دې، په دې وجه باندې به قاضی تحری کوی.

والفاسق اهل للقضاء حتی لو قلد یصح الا انه لا ینبغی ان یقلد کما فی حکم الشهادة فانه لا ینبغی ان یقبل القاضی شهادته ولو قبل جاز عندنا (هدایه ۲: ۱۲۲)﴿۱﴾.

کله چه قاضی ته معلومه شی چه داخلق اګرچه فاسقان دی خودروغ نه وائی

(بقیه حاشیه)..... ۱۲۰ ګهنټو په مینځ کښې مختلفو میاشتو کښې مختلف وی خوپه حسابی تقویم کښې ددې اوسط موده (۱۹۲ ورځې پاؤکم دیارلس ګهنټې تقریباً) په نظر کښې ساتلې شی، ددې نه علاوه په حساب کښې دسهولت په خاطر دهر قمری کال میاشتې یو ترتیب سره ۱۳۰ او ۱۲۹ ورځو کښې تقسیمولې شی اوپه عملی طورباندې قطعاً داسې نه کیږی، ددې معمولی سقم باوجود ددې قاعدو افادیت بهرحال مسلم دې چه دا په تحقیقی امورو کښې کافی ممد ثابت کیدې شی.
(ماخوذ از جوهر تقویم لضیاء الدین لاهوری).

خلاصه: .... ددې دواړو نظامونو تفصیلی تقویم نه معلومه شوه چه شمسی نظام تقویم د مفروضو او انسانانو دتعین اوتخصیص سره قائم دې، اوپه دې وجه د طویل میعاد تیریدو نه پس په دې کښې کمې زیاتې کیږی، اوپه قمری حساب کښې داسې نه دی، او په دې وجه شریعت د سپوږمئ په ثبوت اوعدم ثبوت باندې معیار ایښودلې دې، چه دا ډیرآسان او سهل ترینه طریقه ده...... (از مرتب)

﴿۱﴾ (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۳۵۸ کتاب ادب القاضی)

.... دغسې که دمثال په طور د ۱۵۵۰ء په آخره ورځ ۲۴ مارچ وو نو ددې نه ورپسې ورځ ۲۵ مارچ د راروان کال ۱۵۵۱ء رومبئ ورځ، ددې په عکس تواریخی Historical کال دیکم جنوری نه شروع کیدلو، دغسې که دیو قانونی سال په اعتبارسره ۲۴ مارچ ۱۵۵۰ء وو نود تواریخی کال په اعتبارسره ۲۴ مارچ ۱۵۵۱ء هرکال یکم جنوری نه ۲۴ مارچ پورې د ټولو ورځو همدغه کیفیت وو، ددې نه مخکښې د اوومې صدئ نه دیارلسمې صدئ پورې نوې کال د کرسمس د ورځې نه شمار کیدلو، ددې نه علاوه هم په عیسوی تقویم کښې ورې غټې تبدیلئ کیدلې، خوپه موجوده تقویمی حسابونو کښې دیکسانیت او سهولت په خاطر دټولې زمانې د کالونو شروع دیکم جنوری نه کیږی. (ماخوذ از جوهر تقویم).....ازمرتب

﴿۲﴾ واضحه دې وی چه قمری میاشتې دنوی سپوږمئ نه شروع کیږی اوحسابی قواعد صرف په حساب کښې داختصار اوآسانئ دپاره مرتب کړې شوی دی، دعلوم فلکیات په لحاظ سره د رؤیت هلال دمشاهداتی معیار مطالعه اوکړې شی نو داحقیقت ښکاره کیږی چه لکه څنګه مونږ دهفتې ورځې اوشمسی تاریخونه دمشرق یومخصوص مقام (۱۸۰ درجه طول بلد سره تیریدو والا بین الاقوامی ډیټ لائن) سره یومخصوص وخت باندې (د شپې دولس بجې) شروع کوو، اود راروانو څلیریشتو ګهنټو دپاره ددې نه مغرب طرف ته واقع مقاماتو باندې ددغه ځایونو دمعیاری وختونو مطابق ددې برابر مطابقت کوو، قمری اعتبارسره داسې کیدل بالکل ناممکن دی، ځکه چه د سپوږمئ د غیربرابر ماهانه ګردش په وجه د رویت هلال آغاز همیشه په یومخصوص مقام باندې نه کیږی، نوې سپوږمئ د کرۀ ارض وسطی یا مغربی حصوکښې د مشرقی مقاماتونه مخکښې په نظر راځی، په نوروالفاظوکښې دهر یوې میاشت قمری ډیټ لائن دمختلفو مقاماتو نه شروع کیږی اوخاص خبره داده چه د شمسی ډیټ لائن په شان دا تقریباً په یو برابر کښې نه وی بلکه خمیده بیضوی قوس په صورت کښې وی اودغسې په یوطول بلد باندې واقع ټولو مقاماتو نه نۀ تیریږی بلکه دمشرق نه مغرب طرف ته دقوس صرف اندرونی درجې ګیروی هم داوجه ده چه په بعضې اسلامی ملکونوکښې د سپوږمئ لیدلو باقاعده انتظاماتو باوجود څوځل ددوی په رویت هلال کښې د نورو ملکونو نه یوورځ تاخیرکیږی ددې وجوهاتو په بنا باندې د رویت هلال مطابق یوحتمی بین الاقوامی قمری تقویم تیارول قطعاً ممکن نه دی لهذا پورته ذکرشوی حسابی قاعدوته مونږ آخری فیصله نه وایو، بلکه دقریب ترین صحیح تاریخ معلومولو یوه آسانه طریقه ورته وایو، چه په دې کښې د رویت هلال نه یوه یا نیمه ورځ اختلاف ډیرځل کیږی ددې یوه وجه داهم ده چه د قمری میاشتو اصل موده ۲۹ ورځې شپږ ګهنټې او ۲۹ ورځې (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په دې زمانه کښې فسق عام دې ځکه دَ رؤیت په مسئله کښې به قاضی تحری کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ددوو یا دوو نه زیاتو کسانو ګواهی ورکړه چه مونږ داخترمیاشت لیدلې ده او په هغه وخت آسمان کښې ګرداو وریځ وی اوداخلق په عام خلقوکښې متهم بالفسق وی ځکه چه دا خلق بعضې وختونوکښې بغیرده څه عذرنه مونځ پریږدی اوبیاهم هغوی داختر د میاشت ګواهی ورکوی نوآیا ددوی قول اوشهادت به قبلولئ شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملاشیرمحمدلورآلائی بلوچستان......۱۹۷۸ء/۱۰/۲۱.

الجواب: په دې باب کښې ظن غالب ته کتلئ شې، که دقاضی تسلی ددوی په بیان باندې اوشی نوبیاصحیح ده، په دې زمانه کښې خوفسق عام دې، په دې وجه باندې به قاضی تحری کوی.

والفاسق اهل للقضاء حتی لو قلد یصح الا انه لا ینبغی ان یقلد کما فی حکم الشهادة فانه لا ینبغی ان یقبل القاضی شهادته ولو قبل جاز عندنا (هدایه ۲:۱۲۲) ﴿۱﴾.

کله چه قاضی ته معلومه شی. چه داخلق اګرچه فاسقان دی خودروغ نه وائی

(بقیه حاشیه)..... ۱۲۰ ګهنټو په مینځ کښې مختلفو میاشتو کښې مختلف وی خوپه حسابی تقویم کښې ددې اوسط موده (۲۹ ورځې پاؤکم دیارلس ګهنټې تقریباً) په نظر کښې ساتلې شی، ددې نه علاوه په حساب کښې دسهولت په خاطر دهر قمری کال میاشتې یو ترتیب سره ۳۰ او ۲۹ ورځو کښې تقسیمولې شی اوپه عملی طورباندې قطعاً داسې نه کیږی، ددې معمولی سقم باوجود ددې قاعدو افادیت بهرحال مسلم دې چه دا په تحقیقی اموروکښې کافی ممد ثابت کیدې شی.

(ماخوذ از جوهر تقویم لضیاء الدین لاهوری).

خلاصه: .... ددې دواړو نظامونو تفصیلی تقویم نه معلومه شوه چه شمسی نظام تقویم د مفروضو او انسانانو دتعین اوتخصیص سره قائم دې، اوپه دې وجه د طویل میعاد تیریدو نه پس په دې کښې کمې زیاتې کیږی، اوپه قمری حساب کښې داسې نه دی، او په دې وجه شریعت د سپوږمئ په ثبوت اوعدم ثبوت باندې معیار ایښودلې دې، چه دا ډیرآسان او سهل ترینه طریقه ده...... (از مرتب)

﴿۱﴾ (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۳۵۸ کتاب ادب القاضی)

نوبیابه دهغوی شهادت قبلؤلي شی.﴿۱﴾.نن صباعادلان(ریښتونی) کوم خائي کښې ذی،لان قوله فی الدیانات غیرمقبول ای فی التی یتیسر تلقیها من العدول (ردالمحتار ۲:۱۲۲).﴿۲﴾.وهوالموفق.

دَ ریډیو او ټیلی ویژن په تفصیلی خبرباندې اعتماد صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که په یوداسې ځائې یا علاقه کښې خلق اوسیږی چه هغوی ته عموماً دَرومبئ شپې سپوږمئ په نظر راځی، که په څه وجه هغوی ته سپوږمئ په نظر رانشی نوداسې قسمه خلق دَریډیو په اعلان باندې اعتماد کولئ شی یا نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی:(شیخ الحدیث) مولانامغفورالله صاحب دارالعلوم حقانیه۱۹۷۸ء/۱/۳۰.

الجواب: هغه امارات چه دَظن غالب افاده کوی،په هغې باندې اعتمادبغیرد تقیدنه جائزدې،نوپه ریډیواوټیلی ویژن باندې به اعتمادپه بطریق اولی جائزوی،په شرط ددې چه خبرتفصیلی وی اوحکم دهنده اومنشأ حکم باندې مشتمل وی.

اما الاول فلما فی منحة الخالق علی هامش البحر ۲:۲۷۰ لم یذکروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر کضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من سمعها ممن کان غائبا عن المصر کاهل القریٰ ونحوها الخ ﴿۳﴾. واما الثانی فلکونها

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: قال فی جامع الفتاویٰ واما شهادة الفاسق فان تحری القاضی الصدق فی شهادته تقبل والا لا، وفی الفتاویٰ القاعدیة هذا اذا غلب علی ظنه صدقه وهو مما یحفظ درد اول کتاب القضاء وظاهر قوله وهو مما یحفظ اعتماده.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۴۱۴ کتاب الشهادات)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۹۹ قبیل مطلب لا عبرة بقول المؤقتین فی الصوم)

﴿۳﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲:۲۷۰ قبیل باب مایفسد الصوم وما لایفسده)

واضحة الدلالة لعدم احتمال التخلف بضرب المدافع وغیرها ﴿۱﴾. واما الثالث فلحصول الیقین علی الظن مالم یعتملوا علی قول الطاعنین. وهوالموفق

په سوال کښې پیش کړې شوې تجویزاصولی نه دې

سوال: علمائې کرام په دې مسئله کښې څه فرمائی چه په پاکستان کښې علمائې کرام همیشه په وړوکی اختر اوپه غټ اختراوداسې دَروژې متعلق اختلافات راځی،لهذا که مونږدَسعودی عرب سره صرف دَیوې ورځې فرق په ساتلودَروژې وغیره اعلان کوو نوداتجویزعندالشرع جائز دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ملک عجب خان آفریدی دره آدم خیل......۱۴۰۱/۷/۲۲ھ.

الجواب: دَروژې او اختردارومدار په شرعی ثبوت باندې دې نه چه په نفس الامر او په اصل حقیقت باندې،لهذا په دې کښې اختلاف سلفاوخلفا راروان دې،دامنکرګنړل منکردې.﴿۲﴾.اوکوم تجویزچه تاسوپیش کړې دې دا غیر اُصولی دې،دې نه علاوه په اختلاف مطالع باندې اعتبارنه کولو کښې خطره ده، چه عوام کالانعام (جاهل) پاکستانیان به په پاکستانی رؤیت باندې روژه نیسی او په ۲۷/یا۲۸/ورځې روستوبه دَسعودی په ریډیو روژه ماتوی.وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: وقد یقال ان المدفع فی زماننا یفید غلبة الظن وان کان ضاربه فاسقا لان العادة ان الموقت یذهب الی دارالحکم آخر النهار فیعین له وقت ضربه ویعینه ایضا للوزیر وغیره واذا ضربه یکون ذلک بمراقبة الوزیر واعوانه للوقت المعین فیغلب علی الظن بهذه القرائن عدم الخطا وعدم قصد الافساد والا لزم تاثیم الناس وایجاب قضاء الشهر بتمامه علیهم فان غالبهم یفطر بمجرد سماع المدفع من غیر تحر ولا غلبة ظن والله تعالیٰ اعلم. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۱۵ مطلب فی جواز الافطار بالتحری)

﴿۲﴾قال الامام ولی الله الدهلوی:قال النبی ﷺ لا تصوموا حتی تروا الهلال ولا تفطروا حتی تروه فان غم علیکم فاقدروا له وفی روایة فاکملوا العدة ثلاثین اقول لما کان وقت الصوم مضبوطا بالشهرالقمری باعتبار روية الهلال ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ افغانستان او پاکستان په مینځ کښې علاقې والا خلق دې دَاهل فتوې د فیصلې اتباع کوی

سوال: علمائې دین مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې دَرومبئ شپې سپوږمئ په نظر نه راځی که آسمان صفا وی او که نه، ځکه چه دلته اوچت اوچت غرونه دی. زمونږ علاقه قبائلی ده، چه دا دَافغانستان او پاکستان په مینځ کښې واقع ده. اوس مونږ روژه او اختر دَپاکستان سره اوکړو او که دَافغانستان سره. حالانکه اکثر دَپاکستان او افغانستان په مینځ کښې دَیو یادوو ورځو فرق ضرور وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبیدالله افغانی مقامِ تیراه کرم ایجنسی...شوال ۱۳۸۹ھ.

الجواب: دَداسې علاقې خلقو دپاره دَاهل علم وفتوی دَفیصلې په اعتبار سره دَ دواړو ملکونو سره موافقت جائز دې.﴿۱﴾.خو بهتره دا ده چه دَکوم ملک په خبربانډې ئې روژه نیولې وی نو اختر دې هم دَهغوی سره اوکړی.وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وهو تارة ثلاثون یوما وتارة تسعة وعشرون وجب فی صورة الاشتباه ان یرجع الی هذا الاصل وایضا مبنی الشرائع علی الامور الظاهرة عند الامیین دون التعمق والمحاسبات النومیة، بل الشریعة واردة باخمال ذکرها وهو قوله ﷺ انا امة امیة لا نکتب ولا نحسب...... واعلم ان من المقاصد المهمة فی باب الصوم سد ذرائع التعمق ورد ما احدثه فیه المتعمقون فان هذه الطاعة کانت شائعة فی الیهود والنصاریٰ ومتحنثی العرب ولما رأوا ان اصل الصوم هو قهر النفس تعمقوا وابتدعوا اشیاء فیها زیادة القهر وفی ذلک تحریف دین الله وهو اما بزیادة الکم او الکیف ...... واصل التعمق ان یؤخذ موضع الاحتیاط لازما ومنه یوم الشک ومن الکیف النهی عن الوصال والترغیب فی السحور...... ثم الهلال یثبت بشهادة مسلم عدل او مستور انه رآه وقد سن رسول الله ﷺ فی کلتا الصورتین ...... وکذلک الحکم فی کل ما کان من امور الملة فانه یشبه الروایة.

(حجة الله البالغة ۲: ۵۱ احکام الصوم)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولو کانوا ببلدة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په اختر روژه کښې دَ مقامی علماؤ دَ فیصلې پابندی او په ریډیو بانډې تفصیلی اعلان

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه تیراه کښې همیشه آسمان کښې ګرد وی. همیشه په روژو کښې کمې راځی. لهذا که تاسو ته دَشعبان المعظم شهادت راغلې وی او که دَیوې ورځ ثبوت درسره وی نو مونږ ته ئې راؤلیږئ. ډیره مهربانی به وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حکیم محمدالیاس بزوټ خیل تیراه کوهاټ.... ۳/۸/۱۹۷۲ء.

الجواب: مونږ سره دَشعبان المعظم دَمیاشتې رویت لیلة الاربعاء (دَنهې په ورځ) شوې وو. او رمضان المبارک (۱۳۹۲ھ) بانډې دَجمعې په شپه شوې وو. او په دې بانډې شهادت هم قائم کړې شوې وو. او قبول شوې هم وو. باقی ستاسو دَعلاقې خلق دې دَمقامی علماؤ دَفیصلې پابندی اوکړی او دَریډیو په تفصیلی خبربانډی هم اعتماد کولې شی.﴿۱﴾.وهو الموفق.

روژه او اختر زمونږ په ځائې کښې په رؤیت هلال شرعی بانډې شوې دې

سوال: بخدمت اقدس مخدومی وسیدی حضرت شیخ الحدیث صاحب دام مجدکم:

(بقیه حاشیه) لا حاکم فیها صاموا بقول ثقة) وفی السراج ولو تفرد واحد برؤیته فی قریة لیس فیها وال ولم یأت مصرا یشهد وهو ثقة یصومون بقوله قلت والظاهر انه یلزم اهل القریٰ الصوم بسماع المدافع او رؤیة القنادیل من المصر لانه علامة ظاهرة تفید غلبة الظن وغلبة الظن حجة موجبة للعمل کما صرحوا به واحتمال کون ذلک لغیر رمضان بعید اذ لا یفعل مثل ذلک عادة فی لیلة الشک الا لثبوت رمضان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۹۹ کتاب الصوم)

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکنوی: المراد الجمع الذی یحصل بخبرهم غلبة الظن وهو مفوض الیٰ رای الامام من غیر تقدیر عدد وهو الصحیح والعالم الثقة فی بلدة لا حاکم فیه قائم مقامه. (عمدة الرعایة علیٰ هامش شرح الوقایة ۱: ۳۰۹ بیان رویة هلال صوم)

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! عرض دا دي چه زمونږ په علاقه کښې دَ آسمان دَ ګرد په وجه سره په رمضان شریف اولنۍ روژې کښې ډیر اختلاف دي، بعضو دَریډیو په خبرباندې دَجمعې په ورځ روژه اونیوله اوبعضو دَهفتې په ورځ، لهذا عرض دا دي چه تاسو مونږ دَخپلې علاقې دَحالاتو نه خبرکړئ، چه دَاختر دَمیاشتې مونږ په صحیح طریقې سره جائزه اوکړو او دا فتوی دَعوامو په مخکښې په طور دَ حجت پیش کړو. والسلام. بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا عبد اللطیف مدرسه عربیه حمیدیه نعمانیه اظهار الاسلام ډیره غازی خان.....۲۳/۷/۱۹۲۸ء

الجواب: زمونږ په ځائې کښې دَشرعی رؤیت هلال په بنیاد باندې دَروژې او اختر حکم ورکړې شوې دي، زمونږ دَجمعې په ورځ اولنۍ روژه وه او دَهفتې په ورځ اولنې شوال وو، ﴿۱﴾. ستاسو خط په اووم (۷) شوال باندې ماته ملاؤ شو، ځکه دَ تاخیر دا وجه ده. وهو الموفق.

دَ اختر او روژې د پاره دَ ټیلیفون دَ خبر حکم

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَاختر او روژې دَ ثبوت د پاره دَټیلیفون په خبرباندې اعتماد کولې شو او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عمر محمد ولایت زابل افغانستان......۲۳/۷/۱۹۸۶ء.

الجواب: ټیلیفون غیرمحفوظ آله ده، البته که محفوظ وی او دَآواز فرق کیدې شی نو په دې باندې اعتماد جائز دي.

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: (قال رسول الله ﷺ لا تصوموا حتی تروا الهلال) ای حتی یثبت عندکم روية هلال رمضان بشهادة عدلین او اکثر ویثبت بعدل واحد عند ابی حنیفة ایضا اذا کان فی السماء غیم وعند الشافعی ایضا فی اصح قولیه وعند احمد سواء کان فی السماء غیم ام لا وعند مالک لا تثبت اصلا قاله ابن الملک وقال القاضی ای لا تصوموا علی قصد رمضان الا ان یثبت وهو ان یری هو او من یثق علیه والمنفرد بالرؤیة اذا لم یحکم بشهادته یجب علیه عندنا ان یصوم الخ.

(مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ۴: ۲۴۱ باب رؤیة الهلال)

لانه لا فرق بین التلفون والتیلی غراف والرادیو عند افادة الظن الغالب الا اذا کان غیر محفوظة مثل التلفون العوامی، فافهم ﴿۱﴾. وهو الموفق

په ریډیو وغیره باندې دَ روژې او اختر اعلان معتبر او وحدت صوم وعید غیرمطلوب دي

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ریډیو، ټیلی فون او دَ تار په ذریعه دَ روژې او اختر دَاعلان اعتبار شته یا نه؟ او په یوه ورځ باندې په ټول عالم اسلام کښې دَ اختر او روژې کول کوشش ترکوم حده پورې صحیح دي؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبد القهار دار العلوم عربیه ټل......۲۵/۳/۱۹۷۲ء.

الجواب: دَروژې او اختر وحدت مطلوب شرعی نه دي او په اختلاف کښې هیڅ ضرر نشته. ولم

﴿۱﴾ دا یو مسلم قاعده ده چه شهادت من وراء الحجاب معتبرنه دي، او د فون په ذریعه خبر یوقسم غائبانه اطلاع وی شهادت نه وی، په شهادت کښې دقضا په مجلس کښې د شاهد په وړاندې راتلل اوبیان کول شرط وی، پس دا شهادت نه دي بلکه خبروی، لهذا حدود شرعیه سره دمطابقت په صورت کښې داخبر معتبر او مقبول کیدې شی مطلقاً او په هرحال کښې مقبول اومعتبرنه وی چه دغلبه ظن د پاره مفید وی او د دهوکې او فریب ویره نه وی نو دد دې خبر اعتبار صحیح دي.

قال ابن الهمام: ولو سمع من وراء حجاب کثیف لا یشف من ورائه لا یجوز له ان یشهد ولو شهد وفسره للقاضی بان قال سمعته باع ولم ارشخصه حین تکلم لا یقبله لان النغمة تشبه النغمة الا اذا احاط بعلم ذلک لان المسوغ هو العلم غیر ان رؤیته متکلما بالعقد طریق العلم به فاذا فرض تحقق طریق آخر جاز.

(فتح القدیر ۶: ۴۶۳ فصل کیفیة الشهادة).

اوعلامه حصکفی په درمختار کښې لیکی:

وقبل بلا دعوی وبلا لفظ اشهد وبلا حکم ومجلس قضاء لانه خبر لا شهادة للصوم مع علة کغیم وغبار. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۹۸ کتاب الصوم)

اوملا علی قاری په مرقاة شرح مشکوة کښې فرمائی:..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

يسال به الصحابة رضى الله عنهم كما فى حديث رواه مسلم وابو داؤد ﴿١﴾ حيث صرح فيه باختلاف اهل المدينة باهل الشام فى الصوم والفطر ﴿٢﴾.

اوپه آلاتو او علاماتو باندې اعتماد جائزدې:

عند افادة الظن الغالب كما فى منحة الخالق على هامش البحر ٢: ٢٧٠ لم يذكروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة على ثبوت الشهر كضرب المدافع

(بقيه حاشيه) (وعن ابن عباس قال جاء اعرابى) اى واحد من الاعراب وهم سكان البادية (الى النبى ﷺ فقال انى رأيت الهلال) يعنى وكان غيما وفيه دليل على ان الاخبار كاف ولا يحتاج الى لفظ الشهادة ولا الى الدعوىٰ. (مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ٤: ٢٤٨ هل يقبل شهادة المستور فى الهلال) ......(ازمرتب)

﴿١﴾ عن كريب ان ام الفضل بنت الحارث بعثته الى معاوية بالشام قال فقدمت الشام فقضيت حاجتها واستهل على رمضان وانا بالشام فرأيت الهلال ليلة الجمعة ثم قدمت المدينة فى آخر الشهر فسألنى عبد الله بن عباس ثم ذكر الهلال فقال متى رأيتم الهلال فقلت رأيناه ليلة الجمعة فقال انت رأيته فقلت نعم وراه الناس وصاموا وصام معاوية فقال لكنا رأيناه ليلة السبت فلا نزال نصوم حتى نكمل ثلثين او نراه فقلت اولا تكتفى برؤية معاوية وصيامه فقال لا هكذا امرنا رسول الله ﷺ. (مسلم ١: ٣٤٨ باب ان لكل بلد رؤيتهم ، وابوداؤد ١: ٣٢٦ باب اذا رأى الهلال فى بلد قبل الآخرين بليلة، ورواه الجماعة الا البخارى وابن ماجه (نيل الاوطار ٤: ١٩٤)

﴿٢﴾ وفى المنهاج: (قوله قال الصوم يوم تصومون)...... ولا يبعد ان يكون معناه انكم اذا صمتم او افطرتم او اضحيتم او وقفتم عرفات وفقا لقواعد رؤية الهلال ولم يكن الامر الواقع كذلك فلا ضير فيه لان المعتبر فى هذه الامور الثبوت الشرعى دون الموافقة بنفس الامر، ففى هذا الحديث دليل واضح على ان تعدد الاعياد والصيامات غير منكر، وتوحيدها ليس بمطلوب، لان المدار على الثبوت الشرعى وهو ربما يختلف دون نفس الامر وهو لا يختلف، قلت وكذا وقوع هذا الاختلاف فى عهد ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه

فى زماننا والظاهر وجوب العمل بها على من سمعها ممن كان غائبا عن المصر كاهل القرىٰ ونحوها الخ ﴿١﴾ قلت والراديو آلة محفوظ جدا فجاز الاعتماد بخبرها عند بيان منشأ الحكم واسم الحاكم خاصة لا يصل اليها كل احد اذا عرف السامع الصوت وصاحبه فافهم. وهو الموفق

په ريډيو باندې دَ اختر اعلان په مستفيض خبر کښې داخل دې يا نه؟

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَريډيو اعلان په مستفيض خبر کښې داخل دې يا نه؟ اوزمونږ قبائلی علاقې ددې اعلان په حد کښې راتلئ شی يا نه؟ بعض علماؤ فتوی ورکړې که چرې دَروژې نيولو دپاره دې يقين راشی نوګنجائش کيدې شی خودَاختردپاره دَرؤيت يا شهادت يا دَمستفيض خبرضرورت شته. اودَريډيو خبرپه شرعی لحاظ سره په دې کښې داخل نه دې. رؤيت اوشهادت خوظاهردې اوپه خبرمستفيض خودَفقې په کتاب کښې دَاستفاضې ئې دامعنی ليکلې ده.

قال الرحمتى: معنى الاستفاضة ان تأتى عن تلك البلدة جماعات متعددون كل منهم يخبر عن اهل تلك البلدة ......

(بقيه حاشيه) معاوية رضى الله عنه من غير نكير يدل على انه غير منكر. (منهاج السنن شرح جامع السنن ٤: ١٦ باب ان الفطر يوم تفطرون الخ)

قال العلامة مفتى محمد شفيع الديوبندى:

په ټولو ښارونو کښې په يوه ورځ رمضان يا اختر کول نه په مسلمانانو باندې لازم دی نه ددې په اهتمام کښې پريوتل څه اسلامی خدمت يا شرعی اجردې اونه عادة داسې کيدې شی ځکه چه په مغربی اومشرقی ملکونو کښې دطويل مسافت نه پس داختلاف مطالع وجود يقينی اوددې اعتبار د جمهوروپه نزد ثابت دې. په دې وجه د صحابه کرامو په عهد کښې رمضان اوعيد په مدينه کښې په يوه ورځ اوپه مکه کښې په بله ورځ. په شام کښې په بله ورځ په عراق اومصر کښې به په بله ورځ کيدل. په دې ټولو ښارونو کښې په يوه ورځ رمضان يا اخترکولو اهتمام چه داپه هنـ زمانه کښې ممکن وو حضرات صحابه کرامو او تابعينو ددې هم اهتمام نه دې کړې الخ

(آلات جديده کے شرعی احکام ...... صوم وعيد کا کوئی شرعی اجر نہيں)

﴿١﴾ (منحة الخالق على هامش بحر الرائق ٢: ٢٧٠ قبيل باب مايفسد الصوم ومالا يفسده)

انهم صاموا عن رويته لا مجرد الشيوع من غير علم من اشاعه (شامى مصرى ١:١٢٩)
دې نه علاوه احسن الفتاوى ۳۴۹ او په بهشتي زيور شپږم نمبرحصه کښې او
دَ جديد آلاتو شرعى حکم په مصنفه مولانامفتى محمد شفيع صاحب کښې
ئې دَعدم جواز حکم دې؟ بينواتوجروا.

المستفتى: مولاناعبدالمستعان مهمند ايجنسى.....١٧/٧/١٩٧٣ء

جواب: وفى منحة الخالق بعد ذكر عدم اختلاف المطالع وبعد تعريف الاستفاضة: لم يذكروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة على ثبوت الشهر كضرب المدافع فى زماننا والظاهر وجوب العمل بها على من سمعها ممن كان غائبا عن المصر كاهل القرىٰ ونحوها الخ (هامش البحر ٢:٢٧٠)﴿١﴾ قلت الآلة المسماة بالراديو محفوظة جدا فكما جاز الاعتماد عليها لمن تحت ولاية الحاكم لافادة الظن الغالب فكذلک جاز الاعتماد لغيرهم ايضا للعلة السابقة مع ان اهل القرىٰ ونحوها اعم ممن يكون تحت الولاية ولان ضرب المدافع وانارة القناديل لا يختصان بالحكم فافهم وتدبر. وقلت اخبار الجماعات قد يتحقق فيه الغلط والتلبيس فلما جاز الاكتفاء عليه فجواز الاكتفاء بالاخبار الذى يوجد بتوسط هذه الآلة يكون مشروعا بطريق اولىٰ لعدم مظنة الغلط والتلبيس كما هو مشاهد ومجرب. وهو الموفق

په ريډيو باندې دَ هلال کميټې دَ اعلان شرعى حيثيت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه په ريډيو باندې هلال

﴿١﴾ (منحة الخالق على هامش البحر الرائق ٢:٢٧٠ قبيل باب مايفسد الصوم ومالايفسده)

......

كميټى دَ روژې او اخترکوم اعلان کوى دا صحيح دې يا نه؟ دې نه علاوه چه
دَ موجوده هلال کميټى کوم ممبران دى دا نيکان دى او که نه؟ اوکه نه دى نو
دَدوى دَاعلان شرعى حيثيت څه دې؟ بينواتوجروا.

المستفتى: مولاناعبدالسلام.......١٧/٩/١٩٧٤ء

الجواب: دَهلال کميټئ اعلان دَاخبار، ريډيواوټيلى ويژن په ذريعه به واجب الاعتماد وى، خوچه خبرتفصيلى وى، په دې کښې حکم دهنده اوچه دَحکم وجه ذکر وى، چه ظن غالب حاصل وى او توهمات يعنى په سائنسى اُصولو باندې مبنى کيدل، دوربينونو سره کتل، په هوائى جهازونووغيره سره کتل وغيره قطع او زائل وى.

فليتفكر فى ما حرره العلامة الشامى فى منحة الخالق على هامش البحر (٢:٢٧٠) لم يذكروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة على ثبوت الشهر كضرب المدافع فى زماننا والظاهر وجوب العمل بها على من سمعها ممن كان غائبا عن المصر كاهل القرىٰ ونحوها كما يجب العمل بها على اهل المصر الذين لم يروا الحاكم اه ﴿١﴾ قلت: الراديو وغيرها اشد حفاظة واوضح دلالة كما لا يخفىٰ بخلاف ضرب المدافع او روية القناديل من المصر لانه علامة ظاهرة تفيد غلبة الظن وغلبة الظن حجة موجبة للعمل كما صرحوا به ﴿٢﴾ قلت هذا يقتضى كون غلبة الظن مقصودة ومطلوبة ايضا.
څکه چه په قاضى اومحکم اوسلطانى منادى کښې عدالت شرط نه دې،

﴿١﴾ (منحة الخالق على هامش البحر الرائق ٢:٢٧٠ قبيل باب مايفسد الصوم ومالايفسده)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله وقبل بلاعلة يقع العلم الشرعى وهو غلبة الظن) لانه العلم الموجب للعمل لا العلم بمعنى اليقين نص عليه فى المنافع وغاية البيان ابن كمال ومثله فى البحر عن الفتح وكذا فى المعراج.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ٢:١٠٠ كتاب الصوم)

لهذا دَدې ممبرانو دَعدالت تحقیق ضروری نه دې، وفی الهندیة ٥: ٣٤٢ خبر منادی السلطان مقبول عدلا کان اوفاسقا کذافی جوهر الاخلاطی. ﴿١﴾

ملاحظه:......دَ کمیټۍ دا اعلان چه رؤیت نه دې شوې په دې سره دَنورو مسلمانانو په رؤیت باندې هیڅ اثر نه پریوځی. وهو الموفق.

دَ اختر او روژې د پاره دَ سعودی اعلان باندې

اعتماد دَ علماؤ منصب دې دَ عوامو نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَریډیو سعودی عرب دَ روژې او اختر اعلان دَ پاکستانیانو د پاره حجت دې یا نه؟ که نه دې او چا روژه ماته کړه نو په هغه باندې کفاره شته او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: تحریک طلباء اسلام برمل وزیرستان...... ٨/٧/١٩٨٢ء.

الجواب: بنابر ظاهر الروایت اختلاف مطالع معتبر نه دې او ریډیو په نسبت دَ اماراتو واضح الدلالت دې، لعدم احتمال الغلط فیه بخلاف المدافع. ﴿٢﴾. پس دَ سعودی عرب په تفصیلی خبر باندې اعتماد کول قابل اعتراض نه دې، البته دا اعتماد دَعلماء کار دې دَعوامو نه، ﴿٣﴾. عوام کالانعام بلا لګام نه بعیده نه ده چه په پاکستانی اعلان باندې به روژه نیسی او دَعربو په اعلان باندې به اختر کوی، او اوویشت (٢٧) یا اته ویشت (٢٨) روژې به نیسی. چه دا دَاجماعی او

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ٥: ٣٠٩ کتاب الکراهیة باب فی العمل بخبر الواحد)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدین: العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر کضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من سمعها ممن کان غائبا عن المصر الخ.

(منحة الخالق علی بحر الرائق ٢: ٢٧٠ قبیل باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

﴿٣﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکنوی: المراد الجمع الذی یحصل بخبرهم غلبة الظن وهو مفوض الی رای الامام من غیر تقدیر عدد وهو الصحیح والعالم الثقة فی بلدة لا حاکم فیه قائم مقامه.

(عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایة ١: ٣٠٩ بیان رؤیة هلال صوم)

منصوصی امر خلاف ده، او چا چه په دې باندې اعتماد او کړو او په نصف النهار (نیمه ورځ) کښې ئې روژه ماته کړه، نو په هغه باندې به کفاره واجب نه وی. لوجود الشبهة فافهم. ﴿١﴾. وهو الموفق.

روژه دَ پاکستان په اعلان او اختر دَ سعودی عرب په اعلان جائز نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق دَرمضان روژې دَپاکستان په اعلان باندې نیسی او په آخره کښې اختر دَ سعودی عرب په اعلان باندې کوی، دَدې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا حاجی محمد بنوں........ ٢/٢/١٩٨٧ء.

الجواب: قمری میاشت دَیو کم دیرشو (٢٩) نه کمه نه وی، او مذکوره حکم دَدې منصوصی او اجماعی حکم خلاف دې. ﴿٢﴾. لهذا دا ناجائز دی، او دې نه علاوه عوام قضاء راګرځولو ته هم تیار نه وی. ﴿٣﴾. وهو الموفق.

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجیم: وانما لم تجب الکفارة فیما اذا رأی هلال رمضان ولم یصم لان القاضی رد شهادته بدلیل شرعی وهو تهمة الغلط فاورث شبهة وهذه الکفارة تندرئ بالشبهات لانها الحقت بالعقوبات الخ.

(البحر الرائق ٢: ٢٦٥ کتاب الصوم)

﴿٢﴾ قال الشرنبلالی: یثبت رمضان برؤیة هلاله لقوله ﷺ صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین فلذا قال او بعد شعبان ثلاثین یوما ان غم الهلال فلم یر لغیم ونحوه لما روینا وهذا بالاجماع.

(امداد الفتاح شرح نور الایضاح ٦٢٢ فصل فیما یثبت به الهلال)

﴿٣﴾ ...... ☆ قال العلامة ابن عابدین: لو صام رائ هلال رمضان واکمل العدة لم یفطر الامع الامام لقوله علیه الصلاة والسلام صومکم یوم تصومون وفطرکم یوم تفطرون رواه الترمذی وغیره والناس لم یفطروا فی مثل هذا الیوم فوجب ان لا یفطر (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حکومت طرف نه دَ رؤیت هلال کمیټۍ قائمول قابل تحسین دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه حکومت پاکستان په موجوده صورت حال کښې رؤیت هلال کمیټی مقرر کړې ده،هغه دَروژې او اختر وغیره حکم لګوی اوپه ریډیو اوټیلی ویژن باندی اعلان کوی،او خلق په دې باندې اعتماد هم کوی،اوس سوال دا دې چه دَدې کمیټۍ څه شرعی حیثیت شته دې که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: قاری اشرف گل ډهب سنگینی کرک.........١٩٨٩ء/١٨/٥.

الجواب: دَحکومت پاکستان دَطرف نه دَرؤیت هلال کمیټۍ قائمول قابل تحسین دی،خودَپاکستان په مغربی صوبو کښې دا کمیټی ناکام ده،نه حکومت په علت سره په آزادو علاقو کښې دکمیټۍ ممبران مقرر کړی دی اونه دَعوامو دې کمیټۍ سره یا دَپاکستان حکومت سره څه همدردی شته،دې نه علاوه دا کمیټی آزاده(باختیاره) هم نه ده،کله چه دَمشرقی صوبو دَخلقو روژې اته ویشت(٢٨) وی یادَجمعې په ورځ اخترکیدونکې وی،نوداکمیټې په شریعت باندې مصلحت ته ترجیح ورکوی،بهرحال ضرورت دَکمیټۍ دَممبرانو مقررولو دې،دَاخترحکم یو معتمد عالم هم ورکولې شی.﴿١﴾.وهو الموفق

(بقیه حاشیه) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٩٨ مبحث فی صوم یوم الشک)

......☆وفی المنهاج: لا نفطر برادیو العرب فی باکستان لان العوام یصومون برؤیة باکستان ویفطرون برؤیة العرب ثم لا یقضون عند نقصان الشهر ویقومون لیلة العید دون لیلة رمضان بالتلوم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ٤: ١٥ قبیل باب ما یستحب علیه الافطار)

﴿١﴾ قال عبد الرحمن الجزیری: لا یشترط فی ثبوت الهلال ووجوب الصوم بمقتضاه علی الناس حکم الحاکم ولکن لو حکم بثبوت الهلال بناء علی ای طریق فی مذهبه وجب الصوم علی عموم المسلمین ولو خالف مذهب البعض منهم لان......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ سپوږمۍ لیدلو دَ شرعی ثبوت نه روستو دَ هلال کمیټۍ دَ اعلان نه کولو شرعی حکم وغیره

سوال: علمائې دین دَلاندینو مسئلو په باره کښې څه فرمائی چه!
(١).که دَشرعی ثبوت په موجودګۍ کښې دَاختر اعلان په مقامی طورباندې علماء اوکړی نوعام خلق اختر کوی،خو فوجیان خلق چه کوم دلته اوسیږی دَهغوی دپاره مخالفت څنګه دې؟ (٢).دشرعی رؤیت اودَقاضی دَاعلان نه روستو دَرؤیت هلال کمیټۍ اعلان نه کول دَشرعی حکم نه منل دی؟ (٣)که دَ ثبوت باوجود هلال کمیټی اعلان اونکړی نودَدې اعلان نه کولو حکم څه دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا اشرف الدین خطیب فوج نوشهره........١٩٧٨ء/٢٤/١١.

الجواب: (١) دَشرعی ثبوت نه پس یو کس که هغه دَفوج سړې وی یادَسول،دَ مخالفت کولو مجاز نه دی.﴿١﴾ (٢) دَهلال کمیټۍ اعلان نه کول دَ شرعی حکم دپاره مانع نه دې.(بشرط صدق وثبوت).﴿٢﴾. (٣) دَشرعی ثبوت باوجود دَکمیټۍ اعلان نه کول دَمصلحت په بُنیاد باندې کیدې شی دا خدا پرستی نه ده.وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) حکم الحاکم یرفع الخلاف وهذا متفق علیه. (الفقه علی المذاهب الاربعة ١: ٤٨٢ کتاب الصیام)

﴿١﴾ وقال فی الهندیة: ولا یشترط فی هذه الشهادة لفظ الشهادة ولا الدعوی ولا حکم الحاکم حتی انه لو شهد عند الحاکم وسمع رجل شهادته عند الحاکم وظاهره العدالة وجب علی السامع ان یصوم ولا یحتاج الی حکم الحاکم.

(فتاوی عالمگیریة ١: ١٩٧ الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

﴿٢﴾ قال عبد الرحمن الجزیری: لا یشترط فی ثبوت الهلال ووجوب الصوم بمقتضاه علی الناس حکم الحاکم ولکن لو حکم بثبوت الهلال بناء علی ای طریق فی مذهبه وجب الصوم علی عموم المسلمین.

(الفقه علی المذاهب الاربعة ١: ٤٨٣ هل یشترط حکم الحاکم فی الصوم)

سحر مشرق طرف ته او ماښام دَمغرب طرف ته سپوږمۍ لیدل ممکن دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو لوئې عالم دین اعلان اوکړو، چه صبا به اختر وی، خودغه نه کم علم والا دا اولیکل چه دا اختر ناجائز دې، اوپخپله ئې هم روژه نیولې وه، اونورو تعلق لرونکوته ئې هم دَروژې نیولو دپاره وئیل، دلیل دا پیش کوی چه په دې ورځ ماسپوږمۍ مشرق طرف ته لیدلې وه، لهذا په هم دې ورځ دَمغرب طرف ته سپوږمۍ لیدلۍ کیدې نشی، اوس په دې کښې څوک په غلطۍ باندې دی او څوک صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانامحمد ابراهیم طوطی آبادلکی مروت ۲۴/شوال ۱۴۰۲ھ.

الجواب: دَالسلام علیکم نه روستو دې واضحه وی چه په ردالمحتار ۲: ۱۳۱ کښې مسطور دی چه صباحا او مساء رؤیت ممکن دې،

وعبارته هذا: وشمل قولهم لا عبرة برویته نهارا ما اذا رؤی یوم التاسع والعشرین قبل الشمس ثم رؤی لیلة الثلاثین بعد الغروب وشهدت بینة شرعیة بذلک فان الحاکم یحکم برؤیته لیلا کما هو نص الحدیث ولا یلتفت الی قول المنجمین انه لا تمکن رؤیته صباحا ثم مساءً فی یوم واحد کما قدمناه﴿۱﴾

بهرحال دَدې مخالف کونکی منشافاسد ده. وهوالموفق.

دَ سعودی عرب دَ ریډیو په تفصیلی خبرباندې اعتماد کول صحیح دی

سوال: ما ذا یقول العلماء فی المسائل الآتیة: (۱) ما حکم الاخبار والعمل برادیو الریاض من السعودیة او غیره من الممالک الاسلامیة العربیة والحال ان فی الافغانستان لیس بسلطان ولا امیر الا امراء المجاهدین والعلماء؟ (۲) وما حکم التلفون والرادیو من الآلات الاستخباریة فی القوة والضعف والظن والیقین؟ (۳) فاذا

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۴ مطلب فی اختلاف المطالع)

لم یوجد السلطان والامیر فکیف حکم العالم بالعمل بهذا الاخبار مع وجود الاختلاف الشدید بین العلماء فبعضهم یعمل بهذا الاخبار وبعضهم لا یعمل به فما حکم الفریقین؟ بینوا توجروا

المستفتی: هیئت علماء حرکت انقلاب اسلامی افغانستان... ۱۹۸۷ء/۱/۴

جواب: (۱) جاز الاعتماد باخبار رادیو الریاض اذا کان مفصلا ذکر فیه الحاکم وسبب الحکم (ماخوذ من منحة الخالق علی هامش البحر) (۲: ۲۷۰)﴿۱﴾.

(۲) التلفون آلة غیر محفوظة فلا بد من التحری فی الاخبار الموصولة بها.

(۳) العلماء اتفقوا علی ان لا یتفقوا ولا ضیر فی الاختلاف لوجوده سلفاً وخلفاً﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین الشامی: واذا کانت الاستفاضة فی حکم الثبوت لزم العمل بها ان المراد بالاستفاضة تواتر الخبر من الواردین من بلدة الثبوت الی البلدة التی لم یثبت بها لا مجرد الاستفاضة لانها قد تکون مبنیة علی اخبار رجل واحد ...... ولم یذکروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر کضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من سمعها ممن کان غائبا عن المصر کاهل القریٰ ونحوها الخ.

(منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲: ۲۷۰ قبیل باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: ان تعدد الاعیاد والصیامات غیر منکر وتوحیدها لیس بمطلوب لان المدار علی الثبوت الشرعی وهو ربما یختلف دون نفس الامر وهو لا یختلف، قلت وکذا وقوع هذا الاختلاف فی عهد معاویة رضی الله عنه من غیر نکیر یدل علی انه غیر منکر.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴: ۱۶ باب ان الفطر یوم تفطرون) وقال الحصکفی: ولو کانوا ببلدة لا حاکم فیها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلین.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۹۹ مطلب لا عبرة بقول الموقتین)

په روژې او اختر کښې اختلاف نه امرمستبعد دې او نه امر منکر

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په نزدې کلی والو علاقو کښې دوړوکی اختر په کيدو باندې اختلاف وو چه دڅغې په وجه دوه اخترونه اوکړئ شول، يو کلی پوره دشعبان ديرش (٣٠) ورځې پورې کړې وې او روژه ئې شروع کړې وه، او يو کم ديرش (٢٩) روژې ئې اونيولې. او دويمې طبقې هم ددې ورځ نه روژې شروع کړې وې او ديرش (٣٠) روژې ئې اونيولې، لهذا هر دويم فريق په يو بل باندې لعنت او دکفارې چغې وهی، يوه طبقه وائی چه داختر په ورځ روژه نيول حرام دی، دويمه طبقه وائی چه تاسو به په روژه نه نيولو باندې کفاره ادا کوئ، او ياد دې وی چه اولنئ طبقې په ټيليفون کولو باندې اخترکړې دې، اوس ستاسو صاحبانو دحکم په انتظار يو. لهذا تاسو صاحبان په دې باره کښې څه فرمايئ؟ بينواتوجروا.

المستفتی: محمد جان خطيب جامع مسجد داروړه ملاکنډ ايجنسی.

الجواب: واضحه دې وی چه حديث صوموالرؤيته وافطروالرؤيته نه معلومه شوه چه د روژې او اختر دارومدار په شرعی ثبوت باندې دې نه په نفس الامر باندې ﴿١﴾. پس په دې وجه باندې په روژې او اختر کښې اختلاف نه امر

﴿١﴾ يؤخذ من هذا الحديث (١) وجوب صيام شهر رمضان اذا ثبتت رؤية هلال ووجوب الفطر اذا ثبتت رؤيةهلال شوال. (٢) استحباب اشاعة خبر دخول شهر رمضان وخروجه بأوسع وسيلة واسرعها. (٣) ان الحكم بالصوم و الفطر معلق برؤية الهلال فلا يصام ولا يفطر الا بالرؤية. (٤) اذا حال دون مغيب الهلال ما يمنع الرؤية من سحاب او غبار او نحوهما ليلة الثلاثين من شعبان فتكمل عدة شعبان ثلاثين يوما ولا يصام يوم تلك الليلة. (٥) الرؤية هى المستند الشرعى فى احكام الصيام والافطار ولا عبرة بالحساب ولا يصح الاعتماد عليه بحال من الاحوال لان الرؤية لا تنضبط بامر حسابى فانها تختلف باختلاف ارتفاع المكان وانخفاضه وغير ذلك.

واختلف العلماء فيما اذا رؤى الهلال ببلد من...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

مستبعد دې او نه امر منکر دې، دصحيح مسلم شريف وغيره روايتونو په وجه باندې په خيرالقرون کښې هم دا اختلاف پيداشوې دې، پس په موجوده صورت کښې دفريقينو په يو بل باندې لعنت وئيل يوه عوامی او جاهلانه رويه ده، عوامو د پاره ضروری ده چه دخپل مقامی عالمانو په فتوی باندې اعتماد او کړی ﴿١﴾. وهوالموفق

(بقيه حاشيه) البلدان فهل يجب الصيام او الافطار على عموم المسلمين او ان كل قطر له حكمه فى الصيام والافطار حسب مطلع قطره الذى هو فيه؟ فذهب جمهور العلماء ومنهم الامامان ابوحنيفة واحمد الى انه اذا رؤى فى بلد لزم حكمه جميع الناس عملا بهذا الحديث والخطاب للمسلمين عامة ولا عبرة باتفاق المطالع واختلافها، وذهب الشافعى وجماعة من السلف الى القول بالحكم باختلاف المطالع وقالوا ان الخطاب فى الحديث نسبى فان الامر بالصوم والفطر موجه الى من وجد عندهم الهلال. فمسألة اعتبار اختلاف المطالع من عدمه من المسائل النظرية التى للاجتهاد فيها مجال والاختلاف فيها واقع ممن لهم الشأن فى العلم والدين وهو من الاختلاف السائغ وقد اختلف اهل العلم فى هذه المسألة على قولين فمنهم من رأى اعتبار اختلاف المطالع ومنهم لم يراعتباره واستدل كل فريق بادلته وقد مضىٰ على ظهور هذا الدين مدة اربعة عشر قرناً ولا نعلم فيها فترة جرى فيها توحد اعياد اسلامية على رؤية واحدة، فيجب صوم رمضان على رؤية الهلال او الشهادة على الرؤية والاخبار بها او اكمال عدة شعبان ثلاثين يوما فخلاصة الاقوال فى الصوم والفطر ثلاثة الاول انه اذا رؤى فى بلد لزم الناس كلهم الصوم نظرا الى ان الخطاب لكل المسلمين بقوله اذا رأيتموه، الثانى اعتبار اختلاف المطالع وتحديده بالكيلات مع الاختلاف وهذا ملاحظ فيه ان الخطاب خاص لمن يمكن رؤيته فى قطرهم، الثالث لزوم الصوم والفطر اذا كانوا تحت ولاية واحدة اى بلاد متقاربة، فالصحيح من حيث الدليل الاول وعمل اليوم على الثالث. (ملخص ماقرر مجلس هيئة كبار العلماء فى المملكة السعودية على هامش على بلوغ المرام ٢٠٧ كتاب الصيام)...... ازمرتب

﴿١﴾ قال العلامة عبد الحئى اللكنوى: والعالم الثقة فى بلدة لا حاكم فيه قائم مقامه.

مسئله لاعبرة لاختلاف المطالع دَ علماوُ په

مینځ کښې اختلافی ده اجماعی نه ده

سوال: فضیلة الشیخ المحترم مولانا مفتی محمد فرید مدظله جامعه حقانیه اکوڑه خټک: بعداز سلام (١) لا عبرة لاختلاف المطالع مسئله متون است وظاهر المذهب آنست وظاهر الروایة وهو الاصح وعلیه الفتوىٰ علی ما فی المستخلص ونور الایضاح وغیره، پس قول زیلعی که از اهل اجتهاد نیست بلکه قول مقلد وناقل است بکدام دلیل شرعی نزد او ثانی معمول شد ومذهب احناف ومالکیه وحنابله را شما علماء کرام باکستان ترک کرده اند دلیل شرعی آن را نوشته کنید۔ (٢) سپیکر ورادیو لتعامل الناس وجمیع العلماء معمول است پس شما در خصوص صوم چرا آنرا اعتبار نمیدهید وآں مثل مشافهه هم میباشد، اعلانات علی العموم خبر نیست حتی که شرائط بخواهد بلکه انشاء است استفاضه آں شرط نیست، پس اعلان قضائی وسلطنت عربستان را بکدام دلیل شرعی شما اعتبار نمیدهید، دلیل منع نوشته مع حواله کتب معتبره؟ واجرکم علی الله

المستفتی: افغان مهاجرین اکوڑه خټک کیمپ......١٩٨٩ء/٥/٢٠.

جواب: واضح باد که ظاهر الروایت اگرچه عدم اعتبار اختلاف مطالع است لیکن مراد ازیں عدم اعتبار در بلاد قریبه ست نه در بلاد قریبه ونائیه هردو ﴿١﴾۔

پس اهل پاکستان واهل کیمپهارا برؤیت عربستان اعتماد کردن خلاف فقه حنفی ست، اما اولا فلما فی البدائع ٢: ١٩٩ فی مبحث رؤیة الهلال وشهوده فاما اذا کانت بعیدة فلا یلزم احد البلدین حکم الآخر لان المطالع عند المسافة الفاحشة تختلف فیعتبر فی اهل کل بلد مطالع بلدهم دون البلد الآخر، انتهیٰ مافی البدائع ﴿٢﴾ واما ثانیا، فلان مسئلة اختلاف المطالع وعدمه مسئلة اجتهادیه، وعدم کون الشهر اقل من تسع وعشرین امر

﴿١﴾ قال الفقیه نصربن محمد السمرقندی: اهل بلدة صاموا ثلاثین یوما بالرؤیة واهل بلدة اخرىٰ صاموا تسعة وعشرین یوما بالرؤیة ایضا فعلیهم قضاء یوم اذا لم تختلف المطالع بینهما اما اذا اختلفت المطالع لا یجب القضاء. (فتاوىٰ النوازل ٦٤٨ کتاب الصوم)

﴿٢﴾ (بدائع الصنائع ٢: ٢٢٤ مبحث اثبات الاهلة)

منصوصی اجماعی فاذا صام اهل باکستان برؤیتهم وافطروا برؤیة العرب کما هو المظنون من العوام فیلزم خلاف الامر الاجماعی والمنصوصی وهو واضح. واما ثالثا: فلان اهل البلد النائیی کامیریکة اذا رؤا الهلال واخبر بها مسلم بالآلات الجدیدة الی اهالی باکستان فیصل الیهم الخبر عند طلوع الشمس لان وقت الغروب علیهم وقت الشروق علینا فیلزم الحرمان من صلاة التراویح وصیام الیوم الاول حتما دائماً.

واما ما قالوا فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب فالمراد منه المشرق والمغرب للبلد القریب مثلا اذا رآها الناس فی مغرب باکستان فیلزم اهل المشرق من الهند والباکستان برؤیة اهل المغرب ﴿١﴾.

ملاحظه: ...... کتبت المسئلة بالعربیة لئلا تقع عند غیر اهل العلم. وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکهنوی: نزد طائفه از محققین حنفیه ایں است که بلادے که بحسب قواعد علم هیئت اختلاف مطالع دارند ومقدارش نزد ایشاں مسافت یک ماه است درآں اختلاف مطالع معتبر شده حکم یک بلده ببلده دیگر ملزوم نه خواهد شد، ودر بلاد متقاربه که مسافت کم از کم یک ماه دارند ثبوت رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر ملزم خواهد شده، در مراقی الفلاح مے نویسد، اذا ثبت الهلال فی بلدة ومطلع قطرها لزم سائر الناس فی ظاهر الروایة وعلیه الفتوىٰ وهو قول اکثر المشائخ فیلزم قضاء یوم علی اهل بلدة صاموا تسعة وعشرین یوما لعموم الخطاب صوموا الرؤیته وقیل یختلف ثبوته باختلاف المطالع واختاره صاحب التجرید کما اذا زالت الشمس عند قوم وغربت عند غیرهم فالظهر علی الاولین لا للغرب لعدم انعقاد السبب فی حقهم. وطحطاوی در حواشی مراقی الفلاح مے نویسد: قوله کما ذهب الیه صاحب التجرید وهو الاشبه لان انفصال الهلال من شعاع الشمس یختلف باختلاف الاقطار کما فی دخول الوقت وخروجه وهذا مثبت فی علم الافلاک والهیئة واقل ما اختلف المطالع مسیرة شهر کما فی الجواهر، ودر فتاوىٰ تاتارخانیه مے آرد: اهل بلدة اذا رأوا الهلال هل یلزم فی حق کل بلدة اختلف فیه فمنهم من قال (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اختلاف مطالع او دَ ریډیو د اعلان په باره کښې تفصیلی استفسار او مختصر جواب

سوال: دَموجوده رؤیت هلال کمیټۍ دَطرف نه چه کوم طریقه کارمخې ته راغلې دې هغه په شرعی لحاظ سره ډیر تشویشناک دې، دې نه علاوه معلومه شوی ده چه دَخپلې علمی بې بضاعتې باوجود چه کوم نقائص شرعی

(بقیه حاشیه) لا یلزم فانما المعتبر فی حق اهل بلدة رؤیتهم وفی الخانیة لا عبرة باختلاف المطالع فی ظاهر الروایة وفی القدوری ان کان بین البلدتین تفاوت لا یختلف به المطالع یلزمه وذکر شمس الائمة الحلوانی انه الصحیح من مذهب اصحابنا، وصاحب ہدایہ درمختارات النوازل ے آرد: اهل بلدة صاموا تسعة وعشرین یوما بالرؤیة واهل بلدة اخریٰ صاموا ثلاثین بالرؤیة فعلی الاولین قضاء یوم اذا لم یختلف المطالع بینهما واما اذا اختلف لا یجب القضاء، ......وزیلعی درتبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ے طرازد: ولا عبرة باختلاف المطالع ومعناه اذا رأی الهلال اهل بلدة ولم یره اهل بلدة اخریٰ یجب ان یصوموا برؤیة اولئک کیف ما کان علی قول من قال لا عبرة باختلاف المطالع وعلی قول من اعتبره ینظرفان کان فیهما تقارب بحیث لا یختلف المطالع یجب وان کان بحیث یختلف لا یجب واکثر المشائخ علی انه لا یعتبر حتی اذا صام اهل بلدة ثلاثین یوما واهل بلدة اخریٰ تسعة وعشرین یوما یجب علیهم قضاء یوم، والاشبه ان یعتبر لان کل قوم مخاطبون بما عندهم وانفصال الهلال عن شعاع الشمس یختلف باختلاف المطالع کما فی دخول وقت الصلاة وخروجة یختلف باختلاف الاقطار...... خلاصه کلام این است که مذہب اعتبار اختلاف مطالع مطلقا وعدم لزوم حکم رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر اگرچه متقارب باشد غیر معتبر است ومذہب عدم اعتبار اختلاف مطالع مطلقا ولزوم حکم رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر اگرچه متباعد باشد بغایت بعد مخالف حدیث ابن عباس است واصح المذاہب عقلا ونقلا ہمیں است که ہر دو بلدهٔ که فیما بین آنہا مسافتی باشد که دراں اختلاف مطالع مے شود وتقدیرش مسافت یک ماه است دریں صورت حکم رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر نخواہد شد ودر بلاد متقاربه که مسافت کم از یک ماه داشته باشند حکم رؤیت یک بلدة ببلدهٔ دیگر لازم خواہد شد بشرطیکه ثبوت آن بطریق موجب شده باشد۔

(مجموعة الفتاویٰ علی هامش خلاصة الفتاویٰ ١:٢٥٥ کتاب الصوم)

لحاظ سره مونږ ته معلوم شوی دی دَ مشرانو په مخکښې ئې کیږدئ اطمینان حاصل کړئ. ﴿١﴾. دَټول ملک دپاره په یو وخت روژه، روژې ماتی او اختر ضروری ګڼړلو مثال په خیرالقرون کښې نه ملاویږی اودَغیرضروری ګڼړلو هم. ﴿٢﴾. په زرګونو مربع میلونو حکومت کښې داخبره دَ اعتبار دَاختلاف مطالع خلاف ده ځکه چه دَاختلاف مطالع مقدر دَیوې میاشتې مسافت علماؤ ګرځولې دې، چه دَمیلونو په حساب سره تقریباً ثلورسوه اواتیا (۴٨٠) میله سفرجوړیږی. او کراچۍ دَلکی مروت نه دَاته سوو (٨٠٠) کلومیټرو نه په زیاته فاصله باندې واقع ده، اود محققین علمائې کرامو په نزد دَ اختلاف مطالع د اعتبار قول صحیح او راجح دې. چه دَدې دَتحقیق دپاره دَمولانا عبدالحئ رحمۃ اللہ علیہ مختصرخو جامع بحث دا لاندې دې:

در باب اختلاف مطالع فقہاء حنفیه برچند اقوال مختلف اند، بعضے برآنند که اختلاف مطالع معتبر است، واعتبار رؤیت یک بلده ببلده دیگر نیست، بلکه برائے اہل ہر بلده رؤیت ہماں بلده معتبر است ونزد اکثر مشائخ حنفیه موافق ظاہر الروایه اختلاف مطالع را مطلقا اعتبار نیست، پس رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر اگرچه فیمابین ہردو فاصله کثیر باشد، بعد ثبوت آن بطریق شرعی ملزم ومعتبر خواہد شد، ونزد طائفه از محققین حنفیه ایں است که بلادی که بحسب قواعد علم ہیأة اختلاف مطالع دارند ومقدارش نزد ایشاں مسافت یک ماه است دران اختلاف مطالع معتبر شده حکم یک بلده ببلدهٔ دیگر ملزوم نخواہد شد ودر بلاد متقاربه که مسافت کم از یک ماه دارند ثبوت رؤیت یک بلده ببلدهٔ دیگر ملزم خواہد شده، در مراقی الفلاح می نویسد اذا ثبت الهلال فی بلدة ومطلع قطرها لزم سائر الناس فی ظاهر الروایة وعلیه الفتویٰ وهو قول اکثر المشائخ فیلزم قضاء یوم علی اهل بلدة صاموا تسعة وعشرین یوما لعموم الخطاب صوموا لرؤیته وقیل یختلف ثبوته باختلاف المطالع واختاره صاحب التجرید کما اذا زالت الشمس عند قوم وغربت عند غیرهم فالظهر علی الاولین لا المغرب لعدم انعقاد السبب فی حقهم انتهیٰ، وطحطاوی درحواشی مراقی الفلاح می نویسد قوله کما ذهب الیه صاحب التجرید وهو الاشبه لان انفصال الهلال من شعاع الشمس یختلف باختلاف الاقطار

كما فى دخول الوقت وخروجه وهذا مثبت فى علم الافلاك والهيأة واقل ما اختلف المطالع مسيرة شهر كما فى الجواهر انتهىٰ ،ودرفتاوىٰ تاتارخانية ے آرد اهل بلدة اذا رأوا الهلال هل يلزم فى حق كل بلدة اختلف فيه فمنهم من قال لا يلزم فانما المعتبر فى حق اهل بلدة رويتهم وفى الخانية لا عبرة باختلاف المطالع فى ظاهر الرواية، وفى القدورى ان كان بين البلدتين تفاوت لا يختلف به المطالع يلزمه وذكر شمس الائمة الحلوانى انه الصحيح من مذهب اصحابنا انتهىٰ 'وصاحب بدايه درمختارات النوازل ے آرد، اهل بلدة صاموا تسعة وعشرين يوما بالرؤية واهل بلدة اخرىٰ صاموا ثلاثين بالرؤية فعلى الاولين قضاء يوم اذا لم يختلف المطالع بينهما واما اذا اختلف لا يجب القضاء انتهىٰ، وزيلعى درتبيين الحقائق شرح كنز الدقائق مى طرازد، ولا عبرة باختلاف المطالع ومعناه اذا رأى الهلال اهل بلدة ولم يره اهل بلدة اخرىٰ يجب ان يصوموا برؤية اولئك كيف ماكان على قول من قال لا عبرة باختلاف المطالع وعلى قول من اعتبره ينظر فان كان فيهما تقارب بحيث لا يختلف المطالع يجب وان كان بحيث يختلف لا يجب واكثر المشائخ على انه لا يعتبر حتى اذا صام اهل بلدة ثلاثين يوما واهل بلدة اخرىٰ تسعة وعشرين يوما يجب عليهم قضاء يوم والاشبه ان يعتبر لان كل قوم مخاطبون بما عندهم وانفصال الهلال عن شعاع الشمس يختلف باختلاف المطالع كما فى دخول وقت الصلوٰة وخروجه يختلف باختلاف الاقطار حتى اذا زالت الشمس فى المشرق لا يلزم ان تزول فى المغرب وكذا طلوع الفجر وغروب الشمس بل كلما تحركت الشمس درجة فتلك طلوع الفجر لقوم وطلوع الشمس لبعضهم وغروب لبعض ونصف ليل لغيرهم والدليل على اختلاف المطالع ما روى كريب ان ام الفضل بعثته

الى معاوية بالشام قال فقدمت الشام وقضيت حاجتها واستهل على شهر رمضان وانا بالشام فرأيت الهلال ليلة الجمعة ثم قدمت المدينة فى آخر الشهر فسألنى عبدالله ابن عباس ثم ذكر الهلال متى رايتم الهلال فقلت رايناه ليلة الجمعة فقال انت رأيته فقلت نعم وراه الناس وصاموا وصام معاوية فقال لكنا رايناه ليلة السبت فلا نزال نصوم حتى نكمل ثلاثين اونراه فقلت اولاتكتفى برؤية معاوية وصيامه قال لاهكذا امرنا رسول ﷺ قال فى المنتقى رواه الجماعة الا البخارى وابن ماجة انتهى خلاصه كلام اين است كه مذهب اعتبار اختلاف مطالع مطلقا وعدم لزوم حكم رويت يک بلده ببلدهٔ ديگر اگرچه متقارب باشد غير معتبر است ومذهب عدم اعتبار اختلاف مطالع مطلقا ولزوم حكم رؤيت يک بلده ببلدهٔ ديگر اگرچه متباعد باشد بغايت بعد مخالف حديث ابن عباس است واصح المذاهب عقلا ونقلا همين است كه هر دو بلده كه فيما بين آنها مسافتى باشد كه دران اختلاف مطالع ميشود وتقديرش مسافت يک ماه است درين صورت حكم رؤيت يک بلده ببلدهٔ ديگر نخواهد شد، ودر بلاد متقاربه كه مسافت كم از يک ماه داشته باشند حكم رؤيت يک بلده ببلدهٔ ديگر لازم خواهد شد بشرطيكه ثبوت آن بطريق موجب شده باشد انتهىٰ (ما فى مجموعة الفتاوىٰ على هامش خلاصة الفتاوىٰ ١: ٢٥٤،٢٥٥).

علامه انورشاه كشميرى رحمه الله په عرف الشذى ٣٥٣ (مطبع قاسميه ديوبند) كښې علامه زيلعى شارح كنز دا پورته عبارت نقل كولو نه روستو فرمائيلى دي، كنت قطعت بماقال الزيلعى ثم رايت فى قواعد ابن رشد اجماعا على اعتبار اختلاف المطالع فى البلدان النائية،دَروژي مسئله خونسبتاً لره ضعيفه شان ده څكه چه په دي كښې خوشهادت نشته صرف اخبار دي،خو مشكله مسئله مخكښې دا خترراوانه ده،چه دَهغې دپاره شهادت ضرورى دي،اوپه شهادت كښې شرعاً او عقلاً دګواهانو حاضرى ضرورى ده اوكه نقل دَقاضى دَحكم وى نوپه هغې كښې هم دوه ګواهان ضرورى دى، حالانكه دلته حكومت دَدي ځائي نه علاوه چرته چه رؤيت شوي وى، نورو ته ولو

ځایونو دپاره په ټیلی فون او ریډیو باندې دَحکم رسولو انتظام کړې دې، حالانکه زمونږ په ناقص خیالونو کښې دادَفقهې دَقواعدو په بنیاد باندې قطعاً غلط معلومیږي، صاحب بحر لیکي،

واعلم ان ما کان من باب الدیانات فانه یکتفی فیه بخبر الواحد العدل کهلال رمضان وما کان من حقوق العباد وفیه الزام محض کالبیوع والاملاک فشرطه العدد والعدالة ولفظ الشهادة مع باقی شروطها ومنه الفطر انتهیٰ (بحر ۲: ۲۶۷)

او په مجموعة الفتاوی کښې ۱: ۲۷۵ صفحه باندې دي، بحسب ضوابط فقهیه مجرد اخبارات او تار وغیره درباب روژه او افطار معتبر نه دي.

په درمختار کښې دي:

فلیزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رویة اولئک بطریق موجب

چه په دې باندې علامه شامی رحمة الله علیه لیکي:

قوله بطریق موجب کان یتحمل اثنان الشهادة ویشهدا علی حکم القاضی او لیستفیض الخبر،

دې نه پس لیکي:

قال الرحمتی معنی الاستفاضة ان تأتی من تلک البلدة جماعات متعددون کل منهم یخبر عن اهل تلک البلدة انهم صاموا عن رؤیة لا مجرد الشیوع من غیر علم بمن اشاعه انتهیٰ

دې عباراتو نه معلومه شوه چه رؤیت هلال دَروژې په باره کښې دَ ریډیو، ټیلی فون او دَتار په ذریعه اطلاعات په دې صورتونو کښې شامل کیدې نشي چه هغه علمائې کرام په شرعی لحاظ سره دَاعتبار قابل اوګڼړي، نو څه به پرې باندې دَاختربنا اوکړې شي، ځکه چه صاحب بحر وغیره ټولو علمائې کرامو په اتفاق سره رویت هلال دَ اختر اثبات په شرعی لحاظ سره شهادت شرط ګرځولې دې او په شهادت کښې خو شرعاً او عقلاً په دواړه لحاظ سره دَګواهانو حاضری اولنې شرط دې، په شرعی لحاظ سره دَفقهې په کتابونو کښې ثبوت موجود دې او عقلاً دې دپاره چه ترننه پورې تمام ذی عقل او تعلیم یافته ججیان صاحبانو که هغه کافران ولې نه وي په ریډیو، ټیلی فون او دَتار په ذریعه شهادت اخستل جائز نه دي ګرځولی.

پس که مونږ په قول مرجوح باندې عمل اوکړو او په اختلاف مطالع باندې اعتبار اونکړو نو په یو مجرد دَدروغو خیز (ریډیو) باندې څنګه اعتماد اوکړې شي چه دَ دروغژن مجرب سره سره اعلان کونکې هم فاسق وي او که هم دا ټول نقصونه نظرانداز کولې شو نو بیا دَسعودی عربیه په اعلان باندې لبیک ولې نه وایو، چه دَټول امت روژه او اختر یو وي؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا عزیز الرحمٰن بنوں تحصیل لکی مروت........ ۱۹۷۵ء/۲/۳

الجواب: واضحه دې وي چه په خیرالقرون کښې دَروژې او اختر دَوحدت ضروری یا غیر ضروری کیدو دَدواړو مثال نه ملاویږي، البته دَوحدت دَمشروع کیدو دلیل ملاویږي.

وهو قوله علیه الصلاة والسلام صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته ﴿۱﴾ وجه الدلالة ان الخطاب فیه عام لجمیع المسلمین، والمراد من الرؤیة ثبوت الرؤیة بالمشاهدة او الشهادة وغیرها لا الرؤیة المحضة اجماعا وهو واضح فاذا ثبتت عند اهل المشرق رؤیة اهل المغرب ثبوتا شرعیا فیلزم علیهم الصوم والافطار وهو ظاهر الروایة کما صرحوا به، وخصص ابن عباس الخطاب باهل البلد حیث قال هکذا امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فیکون عدم حکمه بناء علی رأیه المستنبط من الحدیث دون منطوق الحدیث والاصل فی الخطاب هو العموم فیکون ظاهر الروایة قویا من حیث الدلیل وهو الراجح عند المحققین کذا صرحوا به ﴿۲﴾، واما ما اختاره الزیلعی فهو غیر ظاهر الروایة والمراد من الاجماع فی کلام ابن رشد اجماع المالکیة،

﴿۱﴾ اخرجه احمد فی المسند (۲: ۴۵۴) والبخاری فی الصوم باب قول النبی صلی الله علیه وسلم اذا رأیتم الهلال فصوموا، ومسلم فی الصیام باب وجوب صوم رمضان لرؤیة الهلال والفطر لرؤیة الهلال وغیرهم من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعاً.

﴿۲﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: ان الجمهور استدلوا بالسنة والقیاس اما السنة فهو حدیث ابی هریرة وغیره صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته.....(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

واضحه دي وی چه ریډیو یوډیره محفوظ آله ده، دَدې په ذریعې چه کوم خبر نشر کیږي، هغه واضح الدلالت وی، په خلاف دَمدافع وغیره، چه په هغې کښې دَغیر احتمال هم موجود وی، پس چه په مدافع باندې اعتماد صحیح او مشروع دې نو په آله باندې به اعتماد بالکل صحیح وی،

كما فی منحة الخالق علی هامش البحر ۲: ۲۷۰ لم یذکروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر کضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من

(بقیه حاشیه) فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین فهو یدل علی ان ایجاب الصوم علی کل المسلمین معلق بمطلق الرؤیة والمطلق یجری علی اطلاقه فتکفی رؤیة الجماعة اوالفرد المقبول الشهادة، واما القیاس فانهم قاسوا البلدان البعیدة علی المدن القریبة من بلد الرؤیة اذلا فرق والتفرقة تحکم لا تعتمد علی دلیل هذا وقد ذکر ابن حجر فی الفتح ستة اقوال فی الموضوع، وقال الصنعانی والاقرب لزوم اهل بلد الرؤیة وما یتصل بها من الجهات التی علی سمتها ای علی خط من خطوط الطول وهی ما بین الشمال الی الجنوب اذ بذلک تتحد المطالع وتختلف المطالع بعدم التساوی فی طول البلدین او باختلاف درجات خطوط العرض.

وقال الشوکانی ان الحجة انما هی فی المرفوع من روایة ابن عباس لا فی اجتهاده الذی فهم عنه الناس، والمشار الیه بقوله هکذا امرنا رسول الله ﷺ وقوله فلا نزال نصوم حتی نکمل الثلاثین والامر الوارد فی حدیث ابن عمر، لا یختص باهل ناحیة علی جهة الانفراد بل هو خطاب لکل من یصلح له من المسلمین فالاستدلال به علی لزوم رؤیة اهل بلد لغیرهم من اهل البلاد اظهر من الاستدلال به علی عدم اللزوم لانه اذا رآه اهل بلد فقد رآه المسلمون فیلزم غیرهم ما لزمهم ...... وهذا الرأی (رأی الجمهور) هو الراجح لدی توحیدا للعبادة بین المسلمین.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳: ۱۶۲۲ المطلب فی اختلاف المطالع)

سمعها ممن کان غائبا عن المصر کاهل القری ونحوها الخ ﴿۱﴾.

داهم دي واضحه وی چه په منادی سلطان کښې دَعدالت شرط نشته دې، کمافی الهندیة ۵: ۳۴۲ وخبرمنادی السلطان مقبول عدلاکان اوفاسقا کذافی الجواهر الاخلاطی ﴿۲﴾.

اوچه کله دَریډیو په ذریعه سره تفصیلی خبرچه په هغې کښې دَفیصلې والا اومنشاء د (رؤیت وغیرها) ذکروی، هیڅ شک پکښې نشته دې. وهوالموفق.

دَ تکمیل ثلاثین نه پس به دَ اختر حکم ورکولې شی خوچه دَدوو گواهانو په ثبوت سره روژه شوې وی

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَپیرپه شپه په دیرشمه روژه دَسپوږمۍ په لیدلو باندې شرعی شهادت پیش شو اودَوړوکی اختر اعلان اوکړې شو، دې نه روستو دَمنګل په شپه یعنی په یکم شوال په راتلونکې شپې سپوږمۍ اونه لیدلې شوه، آیادَدې دویمې ورځې سپوږمۍ نه لیدل دَذکرشوی شهادت دَتکذیب دلیل نه دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: گل محمد واهلیان خویشکی نوشهره............ ۲۶/۱۰/۱۹۷۷ء.

الجواب: اگرچه دَدویمې شپې سپوږمۍ دَاولنۍ شپې په نسبت اوچته اوغټه وی، لهذا په دویمه شپه سپوږمۍ په نظرنه راتلل دَدروغو یا دَغلطۍ دلیل دې، البته دیرش ورځې پوره کیدو په وجه باندې بغیردَرؤیت نه به دَاختر حکم ورکولې شی،

کمافی الهندیة ۱: ۲۱۱ واذا شهد علی هلال رمضان شاهدان والسماء متغیمة وقبل القاضی شهادتهما وصاموا ثلثین یوما فلم یروا الهلال شوال ان کانت السماء متغیمة یفطرون من الغد بالاتفاق وان کانت مصحیة یفطرون ایضا علی الصحیح کذا فی المحیط ﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر ۲: ۲۷۰ قبیل باب ما یفسد الصوم وما لایفسده)
﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۰۹ کتاب الکراهیة)
﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۹۸ الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

دَ روژې دَمیاشتې د پاره دَ درې کسانو ګواهی او دَ یقینی خبرحکم

علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو کلی کښې دَرمضان شریف میاشت اولیدلئ شوه اوپه هغې کښې دَروژې اعلان اوکړئ شو، اوس چه دَدې دویم کلی والا دا خبر واخلی لاړشی نودَدې موجب طریقه کومه یوه ده، که درې عام سړی دَدې کلی نه راشی او دا اووائی چه په دې بل کلی کښې سپوږمئ لیدلې شوې ده اودَرمضان دَفرضیت اعلان اوکړی، آیا دا شهادت کافی دې یا یقینی خبرضروری دې؟بینوا توجروا.

المستفتی: مولاناعبد الرحمٰن وانډه شهاب خیل لکی مروت.

الجواب: واضحه دې وی چه صحیح ثبوت په درې قسمه دې کمافی ردالمحتار ۱۳۲:۲قوله بطریق موجب کان یتحمل اثنان الشهادة اویشهداعلی حکم القاضی اویستفیض الخبربخلاف ماذااخبران اهل بلدة کذا رؤوه لانه حکایة﴿۱﴾.

پس په دې بناء باندې داخبرچه په استفتاء کښې مسطور دې مستفیض خبر نه دې، په دې باندې عمل کول واجب نه دی، چونکه ظن غالب هم د موجباتو نه شمیرلې شوې دې، کمافی ردالمحتار۲:۱۲۵وغلبة الظن حجة موجبة للعمل کما صرحوابه.﴿۲﴾ قلت والخبرالمستفیض یوجب من حیث انه یفیدالظن الغالب فلایلزم الزیادة علی الثلاثة فافهم،پس که دا کسان ریښتونی وی نودَوې په خبرباندې اعتماد کول به غلط نه وی، لان خبرهم لیس مادون من صوت المدافع فافهم،وهوالموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱۰۵:۲ کتاب الصوم مطلب فی اختلاف المطالع)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: والظاهر انه یلزم اهل القریٰ الصوم بسماع المدافع او رؤیة القنادیل من المصر لانه علامة ظاهرة تفید غلبة الظن وغلبة الظن حجة موجبة للعمل کما صرحوا به.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۹۹:۲ کتاب الصوم مطلب لاعبرة بقول المؤقتین)

افواګانې خبر مستفیض نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یوځائې څه کسان قاضی یا امام ته خبرورکړی چه مثلاً په فلانی ځائې کښې شهادت ورکړې شوې دې چه سپوږمئ په نظر راغلې ده او داهم ورسره اووائی چه دَهغه ځائې مولوی صاحب دَاختراعلان کړې دې اودَمولوی صاحب پېژندګلونشته دې اونه دګواهانوپه باره کښې څه علم شته دې،نوآیا هغه قاضی یا امام دَاختراعلان کولئ شی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: مولوی یحی مهمند ایجنسی متعلم حقانیه،یکم ذی الحجة ۱۳۹۹ھ

الجواب: دې قسمه خبرونوباندې دَاختریاروژې حکم ورکول بې قاعدې کاردې، داافواګانې دی صحیح خبرنه دې،

فی ردالمحتار ۱۲۹:۲: قال الرحمتی معنی الاستفاضة انه تأتی من تلک البلدة جماعات متعددون کل منهم یخبر عن اهل تلک البلدة انهم صاموا عن رؤیة لا مجرد الشیوع من غیر علم بمن اشاعه کما قد تشیع اخبار یتحدث بها سائر اهل البلدة ولا یعلم من اشاعها الخ ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ ریډیو وغیره اعلان په روژې او اخترباندې دَاعتماد شرائط

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په موجوده زمانه کښې حکومت په ریډیو وغیره باندې دَروژې او اختر اعلان کوی، آیا شرعی لحاظ سره به په دې باندې اعتبارکولئ شي؟ بینواتوجروا.

المستفتی: مولانااحمدزمان منګوری پاره چنار.........۱۹۸۶ء/۱/۱۸.

الجواب: هرکله چه په مدافع وغیره باندې اعتماد جائز دې، کمافی ردالمحتار۲:۱۲۵.﴿۲﴾

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱۰۲:۲ قبیل مطلب فی رؤیة الهلال نهاراً)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: قلت والظاهر انه یلزم اهل القریٰ الصوم بسماع المدافع ورؤیة القنادیل من المصر لانه علامة ظاهرة تفید غلبة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ومنحة الخالق على هامش البحر ۲: ۲۷۰. ﴿۱﴾. پس په ریډیو وغیره باندې اعتماد په صحیح طریقې سره جائز دې، لکونها ادل على المرام لان اصوات المدافع قدتکون لغیردخول الشهر، البته په جواز اعتماد کښې شرط دادې چه اعلان کولو والا مسلمان وی او خبرتفصیلی وی﴿۲﴾ ځکه چه په موجوده دور کښې داخطره ده چه هغوی دَماهرینوفلکیاتو په مفروضوباندې اعتماد نه وی کړې اوپه شریعت کښې میاشت دَ یوکم دیرشونه کمه نه وی نوهغه

(بقیه حاشیه) الظن وغلبة الظن حجة موجبة للعمل کما صرحوا به واحتمال کون ذلک لغیر رمضان بعید اذ لا یفعل مثل ذلک عادة فی لیلة الشک الا لثبوت رمضان. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۹۹ کتاب الصوم مطلب لا عبرة بقول الموقتین فی الصوم)

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امین الشهیر بابن عابدین: لم یذکروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة على ثبوت الشهر کضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها على من سمعها فمن کان غائبا عن المصر کاهل القرىٰ ونحوها کما یجب العمل بها على اهل المصر الذین لم یروا الحاکم قبل شهادة الشهود.

(منحة الخالق على هامش البحر الرائق ۲: ۲۷۰ قبیل باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

﴿۲﴾ د روژې او اخترډپاره د ریډیواعلان تردې حده پورې معتبردې چه دې سره داسې غلبه ظن حاصلیدې شی کومه چه موجب دحجت وی.

(۱) رؤیت هلال کمیټی په متدین علماء مفتیانو او په اهل خلقو باندې مشتمل وی.

(۲) ریډیو په حکومتی کنټرول کښې وی اوپه دې ملک کښې حکومتی ریډیو سټیشن دخبرونو په لحاظ سره محفوظ وی اوپه عوامو کښې دا معروف اومشهور وی ګنی د عوامی ایف ایم اینټینو نه به خطره وی.

(۳) اعلان تفصیلی وی محض په اخوا دیخوا خبرونو باندې مشتمل نه وی مثلاً دلته اخترډې فلانی ځائې کښې سپوږمۍ لیدلې شوې ده. زمونږ په علاقه کښې هم نن اخترډې یا رمضان دې وغیره دا خبرمحض دې اعلان دشهادت وغیره نه دې.

(۴) دهلال کمیټۍ د شرعی فیصلې په روسره سرکاری اعلان وی.

(۵) په کمیټۍ او اعلان کونکی باندې اطلاعاتی وزراء یا دبل چا یا حکومتی مفاد اثرانداز نه وی. (۶) حکومتی ذرائع ددې په اهتمام کښې مشهوراومعروف وی. وغیره

(ماخوذ ازفتاوی شیخ الاسلام. نظام الفتاوی. جدیدفقهی مسائل. جواهرالفقه وغیره)

............(از مرتب)

اعتماد به غیر معتمد وی، چه هغه دَدې دپاره مستلزم وی. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ ورځې په وخت کښې سپوږمۍ په نظر راتلل به دَ راروانې شپې شمیرلې کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَاخترمیاشت کله دَورځې په نظر راشی نوپه کوم وخت روژه ماتې کول پکاردی، صحیح قول کوم یو دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: صلاح الدین ایبټ آباد...۱۸/ذی قعده ۱۳۹۷ھ.

الجواب: کله چه په ورځ کښې سپوږمۍ په نظر راشی نو دا سپوږمۍ به دَ راروانې شپې شمیرلې کیږی، اونمړدوبیدونه مخکښې روژې ماتې کول به ناجائز وی، کمافی شرح التنویرورؤیته بالنهارللیلة الآتیة مطلقاعلى المذهب ذکره الحدادی وفی ردالمحتار ۲: ۱۳۰ قوله مطلقا ای سواء رؤی قبل الزوال او بعده. ﴿۲﴾ وهوالموفق.

دَ روژې، وړوکی اختر او په غټ اختر کښې دَ اختلاف مطالع اعتبار او عدم اعتبار

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه پاکستانې مسلمان یم اوپه امریکه کښې اوسیږم، دلته هرکال دَاخترپه ورځوکښې مسئله پیدا کیږی هغه داچه دَ اختر سپوږمۍ امریکه کښې په نظر راشی نواختربه کولې شی اودَرمضان میاشت چه دلته په نظر راشی نو روژې به شروع کولې شی یا که سپوږمۍ په مصر، عرب وغیره کښې په نظر راغله نوپه امریکه کښې به

﴿۱﴾ قال العلامة شبیر احمد العثمانی: فینبغی ان یعتبر اختلافها ان لزم منه التفاوت بین البلدتین باکثر من یوم واحد لان النصوص مصرحة بکون الشهر تسعة وعشرین او ثلاثین فلا تقبل الشهادة ولا یعمل بهما فیما دون اقل العدد ولا ازید من اکثره.

(فتح الملهم بشرح مسلم ۳: ۱۱۳)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۰۳ کتاب الصوم مطلب فی رؤیة الهلال نهارا)

هم اختر کولئ شی، حالانکه دَامریکې او عربو په وختونو کښې اته ګهنټې فرق دې او په بعضې ځایونو کښې خودولس ګهنټې فرق دې، ځکه چه په ګومه ورځ هلته سپوږمئ په نظر راشی دلته په نظر نه راځی، لهذا مونږ په روژه او اختر کښې څه موقف اختیارکړو، دې نه علاوه داچه دَلوئی اختر په موقع باندې یوطرف ته هغه مسلمانان دی هغوی وائی چه حج په سعودی عرب کښې کیږی په کومه ورځ چه په سعودی عرب کښې اختر وی دلته به هم وی، بل طرف ته هغه مسلمانان دی چه هغوی وائی داسې صحیح نه ده، لهذا شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: کوکب صدیقی یوایس اے (U.SA)......۲۳/شوال ۱۴۰۱هـ.

الجواب: محترم المقام سلمه الرحمٰن السلام علیکم نه پس واضحه دې وی چه د ظاهر الروایت په بنیادباندې دَاختلاف مطالع هیڅ اعتبارنشته دې، پس په امریکه کښې اوسیدونکې دَعربو په ثابت شوې رؤیت باندې روژه او اختر کولئ شی.

لما فی شرح التنویر: واختلاف المطالع غیر معتبر علی ظاهر المذهب وعلیه اکثر المشائخ وعلیه الفتویٰ، فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئک بطریق موجب انتهیٰ بحذف، (هامش ردالمحتار ۲: ۱۳۱) ﴿۱﴾

البته قربانی په خپل مطلع باندې کول ضروری دی.

کما فی ردالمحتار ۲: ۱۳۲ وهل یقال کذلک فی حق الاضحیة لغیر الحجاج لم اره والظاهر نعم لان اختلاف المطالع انما لم یعتبر فی الصوم لتعلقه بمطلق الرؤیة وهذا بخلاف الاضحیة، فالظاهر انها کاوقات الصلوات یلزم کل قوم العمل بما عندهم فتجزئ الاضحیة فی الیوم الثالث عشر وان کان علی رؤیا غیرهم هوالرابع عشر ﴿۲﴾. وهوالموفق

په بلاد بعیده کښې دَاختلاف مطالع مسئله اودَ سعودی عرب په اعلان باندې دَ روژې او اختر حکم

[illegible]: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقه دَمهمند

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰۴ کتاب الصوم)

[illegible]دالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۵ قبیل باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

ایجنسئ په هغه خطه کښې واقع ده چه هلته نه پاکستانې حکومت دې او نه افغانې بلکه مکمل طورباندې آزاده علاقه ده، مونږ دَسعودی عرب په اعلان باندې روژه او اختر کوو، بعضې خلق داسې هم دی چه هغوی دَسعودی په اعلان باندې عمل نه کوی، اوس سوال دا دې چه دَسعودی په اعلان باندې عمل کول جائز دی که نه، اودَهغې دویمې طبقې څه حکم دې، چه هغوی دَسعودی په اعلان باندې عمل نه کوی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانافضل الله آزادقبائل مهمندایجنسی......۱۹۸۹ء/۱۰/۸.

الجواب: واضحه دې وی چه بنابرظاهرالروایت اختلاف مطالع معتبرنه دې، پس اهل مشرق دَاهل مغرب په رؤیت باندې اکتفاکولئ شی، کمافی شرح التنویرقبیل باب مایفسدالصوم ومالایفسده. ﴿۱﴾. اوبعضې اهل علم هم په دې روایت باندې عمل کوی، اوبعضې علماء په دې باندې عمل نه کوی بلکه وائی چه دا عدم اعتبار په بلاد قریبه کښې دی. نه په بلادبعیده کښې.

کما یشیر الیه کلام البدائع ۲: ۸۳ هذا اذا کانت المسافة بین البلدتین قریبة لا تختلف فیه المطالع فاما اذا کانت بعیدة فلا یلزم احد البلدین حکم الآخر لان مطالع البلاد عن المسافة الفاحشة تختلف فیعتبر فی اهل کل بلد مطالع بلدهم دون البلد الآخر، انتهیٰ مافی البدائع ﴿۲﴾

او سعودی عرب چه دې هغه بغیرشک نه په بلادبعیده کښې راځی.

(۱)...او دا چه څنګه دَاولنئ شپې سپوږمئ په آسمان کښې اوچته شی او دَ نمر ډوبیدونه روستو یوپنځوس (۵۱) منټه تیرشی، پس دا سپوږمئ په مغربی بلادکښې هم دَداسې اوچت والی په وخت اووه سوه اوپنځوس (۷۵۰

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: واختلاف المطالع غیر معتبر علی ظاهر المذهب وعلیه اکثر المشائخ وعلیه الفتویٰ فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئک بطریق موجب.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰۴ کتاب الصوم)

﴿۲﴾ (بدائع الصنائع ۲: ۲۲۴ کتاب الصوم اثبات الاهلة)

میله تقریباً په آسمان کښې لیدلئ شي،او دا بلاد په بلاد قریبه کښې راځی، او دَدې فاصلې نه زیاته فاصله په بلادبعیده کښې راځی.

(۲)......پس دا منصوصی او اجماعی حکم دې چه دَمیاشتې دَیو کم دیرشونه کمیدل په قیاس او رائې سره متغیرکول جائز نه دی او که ظاهرالروایت په خپل اطلاق باندې پریښودلې شی نو په دې سره دا تغیر لازم راځی چه پاکستانیان (عوام) به روژې په پاکستانی رؤیت باندې نیسی او اختر به دَسعودی په ریډیو باندې کوی، پس روژه به په بعضو ختونو کښې دَاته ویشتو (۲۸) ورځووی، خلاصه دکلام داده چه که ظاهرالروایت براطلاق خود حمل شود پس عوام بے لگام صوم به رؤیت پاکستان وفطربررادیو عرب خواهند کرد وازقضاء یک یادو روز گریز خواهند کرد، پس براهل علم انسداد این مفسده ضروری است.﴿۱﴾.وهوالموفق.

اختلاف مطالع او ریډیو وغیره باندې دَ اعلان حکم

سوال: مايقول العلماء فی هذه المسئلة ای فی خبر الآلات الجديدة كالتار والتلفون وغيرهما اذا اخبرمن العرب وغير ذلک من الممالک الاسلامية هل يصح لنا الصوم والافطاربه ام لا؟ وهل يثبت حكم الشرعی بهذه ام لا؟ وهل يختلف المطالع باختلاف الاقطار ام لا؟ نرجوا منكم ان ترشدنا الى طريق الصواب بالبراهين.

المستفتی: مولاناغلام رسول......۱۹۷۲ء/۵/۷.

﴿۱﴾ قال الشيخ محمد يوسف البنوری: ولا بد من تسليم قول الزيلعی والا لزم وقوع العيد يوم السابع والعشرين والثامن والعشرين او الحادی والثلاثين والثانی والثلاثين اذا كان بين البلدتين مسافة بعيدة كالهند والقسطنطينية فربما يتقدم طلوع الهلال فی بلاد القسطنطينية يومين فاذا رؤی الهلال فی بلاد الهند بعد رؤية الهلال هناک بليلتين ثم بلغتنا رؤيتهم فان لزمتنا رؤيتهم لزم تقدم العيد وان رآی رجل الهلال فی القسطنطينية ثم جاء نا قبل العيد فهل يعمل برؤيته او برؤية اهل بلدنا؟ لم اجد هذه الصورة فی كتبنا والظاهر انه يتبع اهل بلدنا الخ.

(معارف السنن ۵:۳۳۷ مسئلة اختلاف المطالع)

جواب: ليعلم ان ههنا مسائل: الاولیٰ فی اعتبار اختلاف المطالع، فالراجح فيه عدم الاعتبار الا اذا يستلزم التغير لامر متقرر فی الشرع كما اذا استلزم كون الشهر ثمانية وعشرين يوما يدل عليه ما فی الدرالمختار، واختلاف المطالع غير معتبر علی ظاهر المذهب وعليه اكثر المشائخ وعليه الفتویٰ﴿۱﴾ واما حديث ابن عباس فيمكن ان يقال ان رده مبنی علی فوات المحل فكانها شهادة الفرد علی الافطار، او يقال ان الظاهر عدم بناء الرد علی اعتبار اختلاف المطالع عنده بل الرد بناء علی اعتبار الرؤية ای كل قوم مخاطب بما ثبت عندهم دون غيرهم قربوا او ابعدوا ولم يذهب اليه احد من الحنفية، او يقال انه فهم من حديث صوموا لرؤيته (الحديث) والحق انه حجة لعدم اعتبار اختلاف المطالع والحجة هی الرواية دون رأی الراوی (هامش الرد ۲: ۱۳۱).

والثانية: فی الاعتماد علی الآلات والامارات فالمحقق هو الاعتماد عند افادة الظن الغالب لما فی منحة الخالق علی هامش البحر ۲: ۲۷۰ لم يذكروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر كضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من سمعها ممن كان غائبا عن المصر كاهل القریٰ وغيرها كما يجب العمل بها علی اهل المصر الذين لم يروا الحاكم قبل شهادة الشهود ﴿۲﴾.

والثالثة: ان حكم الحاكم خارج ولايته لايلزم العمل به نعم يجب التحری فان غلب علی ظنه الصدق فيقبل كما صرحوا به ﴿۳﴾ ولا شک ان الراديو آلة محفوظة

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰۴ كتاب الصوم)

﴿۲﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲: ۲۷۰ قبيل باب مايفسد الصوم ومالايفسده)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: الصحيح من مذهب...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

جدا فاذا نشر به الحکم المفصل بحیث ذکر فیه الحاکم والحکم ومنشأ الحکم فلا شک فی افادته الظن. وهوالموفق

په بلاد بعیده کښې په سعودی اعلان باندې دَ روژې او اختر عوامی رواج

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ز مونږ په مهمند ایجنسئ کښې دَډیروخت نه دا رواج دې چه خلق روژه او اختر دَ سعودی عرب په اعلان باندې کوی،آیا دا جائز دی؟ بینواتوجروا.

المستفتی:ډاکټرحبیب الرحمٰن چنارے پایاں مهمند ایجنسی.

الجواب: که ستاسو دَعلاقې دَعلماؤ په فتوې او فیصلې باندې دا رواج جاری شوې وی نو په دې کښې هیڅ اعتراض نشته.﴿۱﴾.البته په عیدالاضحٰی (لوئی اختر) کښې دَدې رواج نه جاری کیدل دَدې امر دلیل دې چه دا دَعوامو او جرګې فیصله ده.وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) اصحابنا ان الخبر اذا استفاض وتحقق فیما بین اهل البلدة الاخریٰ یلزمهم حکم هذه البلدة قلت ووجه الاستدراک ان هذه الاستفاضة لیس فیها شهادة علی قضاء قاض ولا علی شهادة لکن لما کانت بمنزلة الخبر المتواتر وقد ثبت بها ان اهل تلک البلدة صاموا یوم کذا لزم العمل بها لان البلدة لا تخلو عن حاکم شرعی عادة فلا بد من ان یکون صومهم مبنیا علی حکم حاکمهم الشرعی فکانت تلک الاستفاضة بمعنی نقل الحکم المذکور وهی اقویٰ من الشهادة بان اهل تلک البلدة رأوا الهلال وصاموا لانها لا تفید الیقین فلذا لم تقبل الا اذا کانت علی الحکم او علی شهادة غیرهم لتکون شهادة معتبرة والا فهی مجرد اخبار بخلاف الاستفاضة فانها تفید الیقین فلا ینافی ما قبله.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۰۲ قبیل مطلب فی رؤیة الهلال نهارا)

﴿۱﴾قال الحصکفی: واختلاف المطالع غیر معتبر علی......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

....

پــه دې باندې دَبعض علماؤ عمل دې اودَبعض اهل علم والو قول دا دې چه دا عدم اعتبارپه بلادقریبه کښې معتبر دې په بلادبعیده کښې نه، کمایشیرالیه کلام البدائع (۲:۲۲٤) هذا اذا کانت المسافة بین البلدتین قریبة لا تختلف فیه المطالع فامااذا کانت بعیدة فلایلزم احدالبلدین حکم الاخر لان مطالع البلاد عندالمسافة الفاحشة تختلف فیعتبرفی اهل کل بلدمطالع بلدهم دون البلد الآخرانتهی.

په دې وجه باندې دَعلماؤ او دَعلاقې دَمفتیانو فیصله دَفقهاؤ په بنیاد او علمی بنیادونوباندې مضبوطه وی،اودَعوامو او جرګو فیصله دَ انتشار وجه جوړیدې شی،اوبیاداخطره وی چه عوام به په پاکستانی رؤیت باندې روژه نیسی او دَسعودی عرب په رؤیت باندې به اخترکوی او داسې به روژې اته ویشت(۲۸) پاتې شی،وغیره.

......(ازمرتب)........

(بقیه حاشیه) ظاهر المذهب وعلیه اکثر المشائخ وعلیه الفتویٰ فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئک بطریق موجب (درمختار ۲:۱۰۴).

....

الفرائد اللوامع فی تحقیق اختلاف المطالع

ثوکالو راسې دامسئله په ډیره تیزئ سره مخې ته راغلې ده، دَبعض علماؤ رائې دی چه په ټول عالم اسلام کښې روژه او اختر هم په یوه ورځ کول پکار دی، او توحید الصوم والاعیاد دپاره په علمی بنیادونو باندې کوشش کوی، خودَعلماؤ په مینځ کښې دَاختلاف او عملی طور باندې دَدې په تنقید کښې دَ راتلونکو رکاوټونو په وجه سره بعضې علماء دَدې سره اختلاف کوی، دلته دَحضرت مفتی صاحب یوه مقاله چه په منهاج السنن کښې موجود ده، په حواله جات او دَبعضو نوؤ رایو سره په فتاوٰی کښې شاملؤلې شی، اوهم دا دَمفتی صاحب په اختلاف مطالع کښې موقف هم دې......(ازمرتب)

واضحه دې وی چه په نفس اختلاف مطالع کښې هیڅ نزاع نشته دې په دې وجه باندې چه کله دَ دؤؤ ښاریو په مینځ کښې دومره فاصله وی چه په یو کښې سپوږمئ په نظر راځی او په بل کښې نه راځی، او داسې مطالع د شمس هم دی، ځکه چه دَنمر دَشعاګانو نه دَسپوږمئ جُدا کیدل دَاختلاف اقطار په وجه باندې وی، تردې چه کله نمر مشرق طرف ته ډوب شی نو دا لازم نه ده چه په مغرب کښې هم ډوب شوې وی، داسې دَسحر راختل او دَنمر ډوبیدل هم په مختلف علاقو کښې مختلف وی، بلکه نمر چه کله یوه یوه درجه حرکت کوی نو دَچادپاره سحر راځی او دَچا دپاره دَنمر راختل، داسې په بعض علاقو کښې نمر ډوبیږی او په بعض کښې نیمه شپه وی،

هٰکذا فی الزیلعی ﴿۱﴾. او دَ لرې والی انداز چه په هغې سره مطلع مختلف کیږی، بعضو دَمیاشتې یا دَدې نه زیاته فاصله خودلې ده، ذکره القهستانی عن الجواهر، او تاج تبریزی په دې تنبیه کړې ده چه اختلاف مطلع دَ څلریشت (۲۴) فرسخ نه کمه فاصله باندې ممکن نه ده. ﴿۲﴾. او په معارف السنن کښې ذکر شوی دی چه هغوی دَتحقیق پورې دا خبره رسولې ده چه په مطلع کښې وقوع د اختلاف تقریباً پنځه سوه (۵۰۰) میله پورې وی. ﴿۳﴾. او س په اختلاف مطالع باندې اعتبار کول او نه کولو کښې اختلاف دې، او په دې کښې درې اقوال دی.

(۱) دَهر قوم دپاره دَخپلې مطلع اعتبار کول واجب دی، او دَنورو دپاره دَهغوی په مطلع باندې عمل کول لازم نه دی.

﴿۱﴾ قال العلامة فخر الدین الزیلعی : وانفصال الهلال عن شعاع الشمس یختلف باختلاف الاقطار کما ان دخول الوقت وخروجه یختلف باختلاف الاقطار حتی اذا زالت الشمس فی المشرق لایلزم منه ان تزول فی المغرب وکذا طلوع الفجر وغروب الشمس بل کلما تحرکت الشمس درجة فتلک طلوع فجر لقوم وطلوع شمس لآخرین وغروب لبعض ونصف لیل لغیرهم .

(تبین الحقائق شرح کنز الدقائق ۱ : ۳۲۱ کتاب الصوم)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقدر البعد الذی تختلف فیه المطالع مسیرة شهر فاکثر علی مافی القهستانی عن الجواهر......وفی شرح المنهاج للرملی وقد نبه التاج التبریزی علیٰ ان اختلاف المطالع لا یمکن فی اقل من اربعة وعشرین فرسخا وافتیٰ به الوالد الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲ : ۱۰۵ اختلاف المطالع قبیل مایفسد الصوم وما لا یفسده)

﴿۳﴾ قال الشیخ محمد یوسف البنوری :وعلی کل حال بلاد الهند واسعة الأرجاء تختلف عروضها من ست عشرة درجة الی اربع وثلاثین درجة والمسافة بینها تبلغ الی نحو الفی میل وحققوا وقوع الاختلاف فی المطلع بنحو خمسمأة میل فکیف یتصور الجهد للتوحید فی مثله .

(معارف السنن ۵ : ۳۴۰ تحقیق اعتبار اختلاف المطالع)

واعتمده الزيلعى ﴿١﴾ وهوالصحيح عندالشافعية﴿٢﴾.

(۲) دَ اختلاف مطالع هيڅ اعتبار نشته. بلکه چرته هم چه سپوږمۍ په نظر راغله نو په نورو خلقو باندې عمل کول واجب دي، وهوظاهر الرواية عن ائمتنا وهوالمعتمدعندناوعندالمالكية والحنابلة واليه ذهب بعض الشافعية﴿٣﴾.

(۳) دا عدم اعتبار په بلاد متقاربه کښې دې په بلاد متباعده کښې نه دې، وهذا مختار عند بعض المشائخ قال الكاسانى فى البدائع :هذا اذا كانت المسافة بين البلدتين قريبة لاتختلف منه المطالع فاما اذاكانت بعيدة فلا يلزم احدالبلدين حكم الاخر لان مطالع البلاد عندالمسافة الفاحشة تختلف فيعتبر فى اهل كل بلد مطلع بلد هم دون البلدالاخر .انتهى ﴿٤﴾وقال العلامة ابن رشد: اجمعوا على انه لا يراعى ....

﴿١﴾ قال العلامة الزيلعى:والاشبه ان يعتبر لان كل قوم مخاطبون بما عندهم والفصال الهلال عن شعاع الشمس يختلف باختلاف الاقطار.
(تبين الحقائق شرح كنز الدقائق ١ : ٣٢١ كتاب الصوم)

﴿٢﴾ قال عبدالرحمن الجزيرى: الشافعية قالوا اذاثبتت رؤية الهلال فى جهة وجب على اهل الجهة القريبة منها من كل ناحية ان يصوموا بناء على هذا للثبوت ' والقرب يحصل باتحاد المطلع بان يكون بينهما اقل من اربعة وعشرين فرسخا تحديدا اما اهل الجهة البعيدة فلا يجب عليهم الصوم بهذه الرؤية لاختلاف المطلع .
(الفقه على المذاهب الاربعة ١ : ٤٨١ اذا ثبت الهلال بقطر من الاقطار)

﴿٣﴾ قال ابن عابدين :لكن المعتمد الراجح عندنا انه لا اعتبار به وهو ظاهر الرواية وعليه المتون كالكنز وغيره وهو الصحيح عندالحنابلة كما فى الانصاف وكذا هو مذهب المالكية.(رسائل ابن عابدين ١ : ٢٥١ تنبيه الغافل والوسنان على احكام هلال رمضان)

﴿٤﴾(بدائع الصنائع ٢: ٢٢٤ شروط صحة الاداء)

ذلک فى البلدان النائية .﴿١﴾ وقال ابن عبدالبر اجمعوا على انه لاتراعى الرؤية فيما بعدمن البلاد﴿٢﴾.

دَ اولنى قول دليل اجتهاد دَ ابن عباس رضي الله عنه دي؛

عن كريب ان ام الفضل بنت الحارث بعثته الى معاوية بالشام قال فقدمت الشام فقضيت حاجتها واستهل على هلال رمضان وانا بالشام فراينا الهلال ليلة الجمعة ثم قدمت المدينة فى آخر الشهر فسالنى ابن عباس ثم ذكر الهلال فقال متى رايتم الهلال فقلت رايناه ليلةالجمعة فقال انت رايته ليلة الجمعة فقلت نعم وراه الناس وصاموا وصام معاوية فقال لكن رايناه ليلة السبت فلا نزال نصوم حتى نكمل ثلاثين يوما او نراه فقلت الا تكتفى برؤية معاوية وصيامه قال لاهكذا امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم رواه الترمذى﴿٣﴾.

په دې حديث کښې ابن عباس رضي الله عنه دَ حضور پاک صلى الله عليه وسلم نه يو لفظ ذکر کړې دې او نه دَ لفظ معنى بلکه يو مجمل صيغه ئې ذکر کړې ده، والحجة انماهى فى المرفوع لافى اجتهاده الذى فهم عنه الناس، او دَ دوى دې قول هٰكذا امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم مشار اليه دا قول دې فلانزال نصوم حتى نكمل ثلاثين او دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چه کوم امر نقل دې، شيخينو وغيره په دې الفاظو کښې ذکر کړې دې لاتصوموا حتى تروا الهلال ولاتفطروا حتى تروه فان غم عليكم فاكملوا العدة ثلاثين هكذا قال الشوكانى فى النيل.﴿٤﴾. دا روايت .....

﴿١﴾(بداية المجتهد ١: ٢١٠ كتاب الصيام قبيل الركن الثانى وهو الامساک)

﴿٢﴾(فتح البارى بشرح صحيح البخارى٥: ٦٠١ باب اذا رأيتم الهلال فصوموا)

﴿٣﴾ رواه الجماعة الاالبخارى وابن ماجه(نيل الاوطار ١٩٤/٣)

﴿٤﴾ قال الشوكانى:ان الحجة انما هى فى المرفوع ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په دې باندې دلالت کوی چه امیرمعاویه رضی الله عنه سپوږمۍ لیدلې وه، اودَمسلم په روایت کښې واضحه دی چه کریب هم سپوږمۍ لیدلې وه.

دَقول ثانی دلیل داحدیث دې: صوموالرؤیته وافطروالرؤیته، ﴿۱﴾. ځکه چه دا خطاب عام دې کوم مسلمان هم چه دَخطاب صلاحیت لری چه دادَ یو خاص علاقې یا بلد سره خاص نه دې، او داسې داحدیث هم دې انا امة امیة لانکتب ولانحسب متفق علیه. ﴿۲﴾. ځکه چه اختلاف مطالع ته اعتبارورکول په علم هئیت اوعلم حساب باندې موقوف دې چه دَهغې مونږ مکلف نه یو.

دَدریم قول دلیل دا دې که چرې بلادبعیده لکه په عرب او هند کښې اختلاف معتبراونه منلې شی نو په اته ویشتم (۲۸) رمضان باندې به مثلاً اخترکیږی. ﴿۳﴾.

زمونږعلماؤ دویم قول ته ترجیح ورکړې ده اوداظاهرالروایت دې. اود حدیث ابن عباس رضی الله عنه نه ئې دا جواب کړې دې.

بان الحجة روایة الراوی لارأیه ولم یذکر لفظ الحدیث

(بقیه حاشیه) من روایة ابن عباس لا فی اجتهاده الذی فهم عنه الناس والمشار الیه بقوله هکذا امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم قوله فلا نزال نصوم حتی نکمل الثلاثین.

(نیل الاوطار ۱۹۵/ج۴ باب الصوم)

﴿۱﴾رواه البخاری باب قول النبی صلی الله علیه وسلم اذا رأیتم الهلال فصوموا حدیث رقم (۱۹۰۹) ومسلم باب وجوب صوم رمضان حدیث رقم (۱۰۸۱) وابن ماجه باب ما جاء فی صوموا لرؤیته و افطروا لرؤیته حدیث رقم (۱۶۵۵) واحمد فی المسند (۲:۴۵۴) والطبرانی فی الصغیر حدیث رقم (۱۶۱)

﴿۲﴾اخرجه البخاری فی صحیحه باب قول النبی صلی الله علیه وسلم لا نکتب ولا نحسب برقم (۱۹۱۳) ومسلم باب وجوب صوم رمضان لرؤیة الهلال برقم (۱۰۸۰) من حدیث عبد الله بن عمر رضی الله عنهما.

﴿۳﴾ قال الشیخ محمد یوسف البنوری: ولا بد من...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ولامعناه فلم نعلم انه بلغه الحدیث الصریح فی اعتبار مطلع کل بلد لاهله دون غیره او استنبطه من حدیث اخرجه الشیخان او لم یقبله لانه شهادة الواحد فی غیر غیم او لانه فات محل الشهادة وهو اول الشهر وبالجملة ان هذا واقعة الحال ولم ینکشف اجماله فلا یمکن الاستدلال به﴿۱﴾

اودا خبره یاد ساتل پکاردی چه ظاهرالروایت اګرچه مطلق دې خوصریح حدیث او اجماع دا ده چه میاشت دَیوکم دیرشو (۲۹) نه کمه اودَدیرشو (۳۰) ورځو نه زیاته نه وی. او دا دواړه (حدیث، اجماع) دَظاهرالروایت دَمقید کیدو تقاضا کوی، یعنی اذالم یستلزم عدم الاعتبار نقصان الشهر عن تسع وعشرین او زیادته علی الثلاثین، پس ظاهره دا ده چه ظاهرالروایت او دَدویم قول مآل یو دې، فافهم.

اوکوم خلق چه دَدې امر ختمولو پسې دی چه توحیدالصوم والاعیاد

(بقیه حاشیه) تسلیم قول الزیلعی والا لزم وقوع العید یوم السابع والعشرین والثامن والعشرین اوالحادی والثلاثین والثانی والثلاثین اذا کان بین البلدتین مسافة بعیدة کالهند والقسطنطینیة فربما یتقدم طلوع البلاد فی بلاد القسطنطینیة یومین فاذا رؤی الهلال فی بلادالهندبعدرؤیةالهلال هناک بلیلتین ثم بلغتنا رؤیتهم فان لزمتنا رؤیتهم لزم تقدم العید.

(معارف السنن ۳۳۷/۵ مسأله اختلاف المطالع وتحقیق عدم عبرتها)

﴿۱﴾قال العلامةابن الهمام: وقد یقال ان الاشارة فی قوله هکذاالی نحو ماجری بینه وبین رسول ام الفضل وحینئذٍ لادلیل فیه لان مثل ما وقع من کلامه لووقع لنا لم نحکم به لانه لم یشهد علی شهادة غیره ولا علی حکم الحاکم فان قیل اخباره عن صوم معاویة یتضمنه لانه الامام یجاب بانه لم یأت بلفظة الشهادة ولو سلم فهو واحد لا یثبت بشهادته وجوب القضاء علی القاضی.

(فتح القدیر ۲۴۳/۲ فصل فی رؤیة الهلال)

کیدل پکار دی نودا امرمطلوب نه دي. اوپه بلاداسلامیه کښې چه دخلقوپه مینځ کښې کوم اختلاف واقع کیږی په دې کښې هیڅ ضرر نشته دې.﴿۱﴾.

عن ابی هریرة ان النبی ﷺ قال الصوم یوم تـصومون والفطریـوم تفطـرون والاضـحی یـوم تـضحون﴿۲﴾.ظاهرطوربانديې دا کلام غلط معلومیږی خومونږپه جواب کښې وایو چه خطابی وئیلی دی.

معناه ان الخطأ مرفوع عن الناس فی ما کان سبیله الاجتهاد فلو ان قوماً اجتهدوا فلم یروا الهلال الابعد ثلثین فلم یفطروا حتی استوفوا العدد ثم ثبت عنلهم ان الشهر کان تسعا وعشرین فان صومهم وفطرهم ماضٍ لاشیئٌ علیهم من وزرٍ اوعیب ،ولا یبعد ان یکون معناه انکم اذا صمتم اوافطرتم اواضحیتم اووقفتم عرفات وفقا لقواعدرؤیة الهلال ولم یکن الواقع کذلک فلاضیر فیه لان المعتبر فی هذه الامور الثبوت الشرعی دون

﴿۱﴾قال العلامةالبنوری:وقد دارت المسألة فی هذه الایام فی توحید نظام الامة فی الصیام والعید فی بلادالهند......وکل ذلک تنطع وتکلف ینبو عن مقاصد الشرع...... ثم کیف یتصور هذا التوحید فی القری والجبال والبوادی التی لم تبلغ الیها هذه الوسائل المادیة؟......وعلی کل حال بلاد الهند واسعة الارجاء تختلف عروضها من ست عشرة درجة الی اربع وثلاثین درجة والمسافة بینها تبلغ الی نحو الفی میل وحققوا وقوع الاختلاف فی المطلع بنحو خمسمأة میل فکیف یتصور الجهد للتوحید فی مثله ‘فکل ذالک نبوء وبعد عن السهلة السمحة البیضاء.

(معارف السنن ۳۴۰/ج۵ بحث اختلاف المطالع)

﴿۲﴾اخرجه الترمذی فی الصیام باب ما جاء فی الصوم یوم تصومون والفطر یوم تفطرون حدیث رقم (۶۹۷) وقال حدیث حسن غریب ‘واخرج بنحوه ابو داؤد فی الصیام باب اذا اخطأ القوم الهلال (۲۳۲۴) والبیهقی فی السنن الکبری (۴: ۲۵۲) من حدیث ابی هریرة بلفظ صومکم یوم تصومون واضحاکم یوم تضحون .

الموافقة بنفس الامر﴿۱﴾ پس په دې حدیث کښې په دې خبره باندې واضح دلیل دې چه تعدد د اعیاد اوصوم غیرمنکردی اوپه دې کښې اتحاد مطلوب نه دې ځکه چه ددې امورو بنیاد په شرعی ثبوت باندې دې، اوپه ثبوت کښې اختلاف واقع کیدې شی نه چه په نفس الامر کښې چه په دې کښې اختلاف واقع کیدې نشی.قلت وکذا وقوع هذا الاختلاف

﴿۱﴾قال الشیخ عبدالله البسام السلفی :ان مجلس هیٔة کبارالعلماء فی المملکة العربیة السعودیة فقرروا بقرارهم بالاجماع ما خلاصته بعد دراسة المجلس للموضوع وتداول الرأی فیه تقرر ما یلی اولاً:اختلاف مطالع الاهلة من الامور التی علمت بالضرورة حسا وعقلا ولم یختلف فیها احد وانما وقع الاختلاف بین العلماء فی اعتبار المطالع من عدمه.ثانیاً:مسألة اعتبار اختلاف المطالع من عدمه من المسائل النظریة التی للاجتهاد فیها مجال والاختلاف فیها واقع ممن لهم الشان فی العلم والدین وهو من الاختلاف السائغ وقد اختلف اهل العلم فی هذه المسألة فمنهم من رأی اعتبار اختلاف المطالع ومنهم لم یراعتباره.......وقد مضی علی ظهور هذا الدین مدة اربعة عشرقرنا ولانعلم فیها فترة جری فیها توحد اعیاداسلامیة علی رؤیة واحدة فان اعضاء الهیٔة یقررون بقاء الامم علی ما کان علیه وان یکون لکل بلد اسلامی حق اختیار ما تراه بواسطة علمائها من الرأیین المشار الیها، واما مایتعلق باثبات الاهلة بالحساب فقد اجمع اعضاء الهیٔة علی عدم اعتباره ......واصل المسألة ان الله تعالی علق احکاماً شرعیة بمسمی الهلال ،والشهر کالصوم والفطر والنحر،فشرط کونه هلالا وشهرًافلوطلع فی السماء ولم یعرفه الناس لم یکن هلالاً فلا یسمی هلالاً الابالظهوروالاشتهار کمادل علیه الکتاب والسنة .فخلاصة الاقوال فی الصوم والفطر ثلاثة:الاول:انه اذا رؤی فی بلد لزم الناس کلهم الصوم نظراً الی ان الخطاب لکل المسلمین بقوله:اذارأیتموه.الثانی:اعتبار اختلاف المطالع وتحدیده بالکیلات الفان ومئتان وستة وعشرون (۲۲۲۶) کیلاً فاقل.وهذا ملاحظ فیه ان الخطاب خاص لمن یمکن رؤیته فی قطرهم.الثالث:لزوم الصوم والفطر اذاکانوا تحت ولایة واحدة......والعمل الآن علی الثالث.(التعلیق للشیخ البسام علی بلوغ المرام ص ۲۱۰ کتاب الصیام)

ولذا لا نفطر ﴿۱﴾ في عهد معاوية رضى الله عنه من غير نكير يدل على انه غير منكر. ولذا لا نفطر في باكستان لان العوام يصومون برؤية باكستان ويفطرون برؤية العرب براديو العرب في باكستان لان العوام يصومون برؤية باكستان ويفطرون برؤية العرب ثم لا يقضون عند نقصان الشهر يقومون ليلة العيد دون ليلة رمضان بالتلوم.

(ماخوذ از منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی)

﴿۱﴾عن كريب قال قدمت الشام......فرأيت الهلال ليلة الجمعة ثم قدمت المدينة في اخر الشهر فسالني عبدالله بن عباس ثم ذكر الهلال فقال متى رأيتم الهلال فقلت رأيناه ليلة الجمعة فقال انت رايته فقلت نعم وراه الناس وصاموا وصام معاوية فقال لكنا رايناه ليلة السبت فلانزال نصوم حتى نكمل ثلثين اونراه فقلت أولا تكتفى برؤية معاوية وصيامه فقال لاهكذا امرنا رسول الله ﷺ.(صحيح مسلم ۱:۳۴۸ باب ان لكل بلد رؤيتهم)

وقال الامام ولى الله الدهلوى: قال النبى ﷺ: لا تصوموا حتى تروا الهلال ولا تفطروا حتى تروه فان غم عليكم فاقدروا له وفي رواية فاكملوا العدة ثلاثين، اقول: لما كان وقت الصوم مضبوطا بالشهر القمرى باعتبار رؤية الهلال وهو تارة ثلاثون يوما وتارة تسعة وعشرون وجب في صورة الاشتباه ان يرجع الى هذا الاصل وايضا مبنى الشرائع على الامور الظاهرة عند الاميين دون التعمق والمحاسبات النومية بل الشريعة واردة باجمال ذكرها وهو قوله ﷺ : انا امة امية لا نكتب ولا نحسب. (حجة الله البالغة ۲ : ۵۱ احكام الصوم)


حضرت الشيخ المفتى محمد شفيع الديوبندى فرمائى: په ټولو ښاريو کښې هم په يوه ورځ رمضان يا اختر کول نه په مسلمانانو باندې لازم دى اونه دَدې په اهتمام کښې پريوتل يو اسلامى خدمت يا شرعى اجر دې، اونه عادةً داسې کيدې شى ځکه چه په مغربى اومشرقى ملکونو کښې دَډيرې فاصلې نه پس دَاختلاف مطالع وجود يقينى اودَدې اعتبار دَجمهورو په نزد ثابت دې ځکه دَصحابه کرامو په زمانه کښې رمضان او اختر کښې په يوه ورځ کښې به په مکه کښې په بله ورځ به په شام کښې په بله ورځ په عراق اومصر کښې وو، په دې ټولو ښاريو کښې په يوه ورځ رمضان يا اختر کولو چه کوم اهتمام په هغه زمانه کښې ممکن وو، حضرات صحابه وتابعينو دَدې هم اهتمام نه وو فرمائيلې. الخ. (آلات جديده کے شرعى احکام ۱۷۵ هوائى رؤيت هلال).

فتاوى ديوبند پاكستان المعروف به

فتاوى فريديه ځلورم جلد

باب تعريف

الصوم و انواعه



بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

فی الجنة ثمانية ابواب

منهاباب يسمى الريان

لا يدخله الا الصائمون.

.........(متفق عليه)........

....

باب تعريف الصوم وانواعه

دَ علاماتِ بلوغت نه ظاهریدلو په صورت کښې دَ روژې دَ فرضیت د پاره دَ عمر حد

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَرمضان دَمیاشتې روژې دَ څومره عمرپه هلک یا جینۍ باندې فرض دی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: نامعلوم.........۱۱/۱۱/۱۹۷۵ء.

الجواب: که دَبلوغت علامات پکښې نه وی ظاهرشوی نودَپنځلسو کالو (۱۵) عمرته رسیدلو باندې پرې روژه نیول فرض کیږی. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

په کوم ځائې کښې چه یویشت (۲۱) گهنټې ورځ وی هلته به یوویشت (۲۱) گهنټې روژه نیولې شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په سفرکښې دې اوپه داسې علاقه کښې دَهغه سفرشروع کیږی چرته چه درې نیمې بجې نمر راخیژی اودولس بجې په ډوبیدو باندې هم دَهغې نمرسرخی نه ختمیږی، په دې حساب سره شپه صرف درې یا درې نیمې گهنټې پاتې کیږی، باقی ټول وخت په ورځ کښې راځی، یعنی تقریباً دَیویشت (۲۱) گهنټو ورځ وی، اوس دَروژې په میاشت کښې بنده به په کوم وخت کښې روژه نیسی اوپه کوم وخت به روژې ماتې کوی، ځکه چه مقامی خلق دَدې مسئلې نه بالکل ناخبره دی دی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: آدم خان ساکن بټل حال کنیډا (امریکا).........۲۳/۸/۱۹۷۶ء.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: فان لم يوجد فيهما شيئ منها فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة وبه يفتى.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵:۱۰۷ كتاب الحجر بلوغ الغلام)

الجواب: چونکه په دې علاقه کښې په ځلریشتو (۲۴) ګهنټو کښې د ننه باقاعده راختل او ډوبیدل کیږی لهذا دلته به باقاعده روژه نیولې کیږی، ځکه چه په څلیریشتو (۲۴) ګهنټو کښې د ننه یو ځل روټۍ او خوړلۍ شی نو په روژه نیولو کښې هیڅ حرج نه وی، بهرحال دَ نمر ډوبید و متصل دې روژه ماته کړئ شی او دَ نمر راختلو نه دې یوه نیمه ګهنټه مخکښې روژه بندوی.﴿۱﴾.وهو الموفق.

﴿۱﴾....... **دَ اوږدو ورځو په علاقوکښې دَ روژې حکم:**

(۱)......په کومو علاقو کښې چه دَنمر دَعام ګردش په اعتبار سره روزانه راختل او ډوبیدل نه مونډلې کیږی بلکه ډیرو ډیرو ورځو یا ډیرو ډیرو میاشتو پورې مسلسل نمر ولاړ وی یا ډوب شی دَزمکی اوڅ (اطرافو) کښې غائب وی. څنګه چه په ارض تسعین او دَهغې طرفونو کښې داسې کیږی. نو په دې ځایونو کښې دَنمریوه پوره دوره (دَڅلیریشت (۲۴) ګهنټو) دَشپې او ورځې چه کومه مجموعه شمیرلۍ کیږی او دَهغې نصف آخر دَورځې حصه شمیرلۍ کیږی. په هغې کښې روژه اونیسی او دَهغې نیمې دَشروع کیدو نه یو نیمه ګهنټه مخکښې دَپیشمنی خوراک بند کړئ او دَروژی نیت اوکړئ. او اولنۍ نیمه حصه چه دَشپې حصه شمیرلۍ کیږی په هغې کښې دَماښام، ماسخوتن، وتر، تراویح سحرتول مونځونه کوئ. اوبیاچه دا مجموعه دَشپې اوورځې پوره شی او دویم دور شروع شی نو فوراً دَماښام دَمونځ پشان روژې ماتې هم اوکړئ اوبیا دَدې دویم دور په نصف اول کښې خوراک څکاک وغیره او دَشپې ټول مونځونو نه فراغت اوکړئ. او دَنصف ثانی دَشروع کیدو نه یوه نیمه ګهنټه مخکښې پیشمنې اوکړئ. او دَروژې نیت اوکړئ. ذلک للدلیل الذی بینه فی ردالمحتار ۱:۳۳۹ تحت التتمة).

(۲)......په کومو علاقو کښې چه دَنمر راختل او ډوبیدل روزانه پوره کال مونډلې کیږی خو په هر موسم کښې دَنمر ډوبیدو نه روستو دَصبح صادق راختلو نه مخکښې دومره موقع نه ملاویږی چه خوراک څکاک پکښې اوکړئ شی او بیا دَهغې نه روستو ډوبیدو پورې روژه پوره کړې شی، نو په دغه ځایونو کښې دَ روژې مقدار دَ ګهنټونه یا دَنمرنیمګړی ګردش سره متعین مه کوئ بلکه دې میاشت (رمضان) نه روستو هم دا ورځې دَروژو دپاره متعین وی خو چونکه داسې بغیر آسودګۍ سره خوراک څکاک په پوره میاشت کښې په روژې باندې عادةً و عموماً قدرت نشی کیدې. ځکه دَخپل قدرت او استطاعت مطابق روژه نیسئ او په کومو ورځو کښې چه روژه ماتوئ دَهغې ورځو دَروژو په بدله کښې.........

(باقی حاشیه په راروانه صفحه)

دَ نمر ډوبیدو دَ تحقق د پاره مشرق طرف ته دَ سرخۍ زوال (ختمیدل) شرط نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې روژې ماتې او دَماښام مونځ کښې اختلاف دې بعض خلق وائی چه نمر کله دَغرونو نه لاندې شی او مشرق طرف ته تیاره ښکاره شی، نو دَماښام مونځ کول پکاردې، او هم دا دَروژې ماتی وخت دې او بعض خلق وائی چه دَمشرق طرف ته کله سرخی زائل نشی ترهغې وخت پورې مونځ یا روژې ماتې جائز نه دې، دَمسئلې حل څه دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا عبیدالله دکی لورآلائی.....۱۵/ رمضان ۱۴۰۷ھ.

الجواب: دَمشرق دَسرخۍ دَزوال قید نه دَقرآن پاک او نه دَاحادیثو نه ثابت دې

(باقی حاشیه) دَنورو میاشتو په ورځو کښې دَطاقت مطابق په ناغه ورکولو ورکولو کښې اداکوی.

(۳)........په کومو علاقو کښې چه دَنمر ډوبیدل او راختل روزانه مونډلې کیږی خو په کال کښې صرف په بعضو میاشتو کښې دَنمر ډوبیدو نه تر دَصبح صادق په مینځ کښې د ټول مفروضه او واجبه مونځ ادا کولو نه روستو په اطمینان سره دَخوراک څکاک او روژې نیولو وخت ملاویږی او په بعض میاشتو کښې نه ملاویږی، نو چه کله دَروژې میاشت په هغې میاشتو کښې راشی په کومو کښې چه دا موقع نه ملاویږی نو په ناغه ورکولو سره دې حسب طاقت روژې نیسی او په کومو ورځو کښې چه مو روژه نه وی نیولې دَهغې ورځو قضاء هم دَدې کال په نورو ورځو کښې اوکړئ.

(۴)...... په کومو علاقو کښې چه دَنمر ډوبیدول او راختل روزانه وی او دَډوبیدو نه روستو دَسحر ختمیدو نه مخکښې پورې پوره کال دومره وخت ملاویږی چه په هغې کښې نماز هائے مفروضه و واجبه ادا کولو سره سره په اطمینان سره دَخوراک څکاک او دَلږ آرام او سکون وخت هم ملاویږی او دَدې ځایونو په خلقو باندې هم دَرمضان (روژې میاشت) کښې همیشه دَروژو ادا کول واجب او ضروری به وی او دَ فجر صادق راختلو سره روژه شروع کول به لازم وی، او دَسحر وخت زیاتیدلو په وجه سره دَروژې مقدار اګرچه زیات شی خو دا دومره زیات والې نه دې چه یو کس په روژې باندې طاقت نه لرې. البته که چاته عارضی طور باندې مجبوری یا.....

(باقی حاشیه په راروانه صفحه)

اونه دَ آثارو نه، په معتبرات فقه کښې مسطوردی بلکه حدیث اذااقبل اللیل من هٰهنا وادبر النهارمن هٰهناوغربت الشمس ﴿۱﴾ سره متصادم ده، البته په کومو علاقو کښې چه مغرب طرف ته لوئی لوئی غرونه وی نوپه هغې کښې لږ ګنجائش شته.﴿۲﴾.وهوالموفق.

په یوه علاقه کښې روژه اوپه بله کښې اختر وی نو دَ اختر والا علاقې ته تللو باندې به څه کوې؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَرمضان په آخر کښې په یوه علاقه کښې ورکې اختر نه وی اودَهغه ځائې اوسیدونکې داسې علاقې ته لاړ شی چرته چه دَاختر اعلان شوې وی،

(باقی حاشیه) شرعی عذرمثلاً حمل، حیض، مرض، سفروغیره چه پیښ شی نو هغوی ته دَروژې قضاء کولو اجازت دې. کمافی الهدایة.

(۵)......په کومو علاقو کښې چه نمر روزانه ډوبیږی او راخیژی، خوشفق احمر ډوبیدو سره یادَهغې نه هم مخکښې دَسحر سپین والې شروع کیږی لکه (۲۰) دَعرض البلدنه روستوپه بعض ځایونو کښې کیږی اودَیوامام په نزد هم دَماسخوتن وخت متحقق نه وی نو روژه به باقاعده نیولې کیږی، او درې واړه مونځونه (ماښام، ماسخوتن، سحر) یوتربله پسې بغیر دلحاظ دجمع بین الصلاتین به ادا کولې شی، او ترڅوپورې چه درنه کیږی دَصبح صادق دَ راختلو نه مخکښې دَ ماسخوتن دَفرضواو وترو نه دَځان فارغ کولو کوشش دې اوکړئ شی اودَتراویح موقع که ملاؤ نشی او داسې دَسنن او رواتب موقع ملاؤ نشی نو مه ئې کوئ. (کماحققه الامام ابن الهمام فی فتح القدیر ۱:۱۵۶).

(ماخوذ از منتخبات نظام الفتاوی وغیره)......از مرتب).

﴿۱﴾ (متفق علیه (مشکواة المصابیح ۱:۱۷۵ قبیل باب تنزیه الصوم)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: (اذا اقبل اللیل) ای ظلامه (من هٰهنا) ای جانب الشرق (وادبر النهار) ای ضیاؤه (من هٰهنا) ای جانب الغرب (وغربت) ای غابت (الشمس) ای کلها قال الطیبی وانما قال وغربت الشمس مع الاستغناء عنه لبیان کمال الغروب کیلا یظن انه یجوز الافطار لغروب بعضها.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۴:۲۵۲ باب الفصل الاول)

نو دَهغه دپاره دَدې ورځې روژه پوره کول پکار دی که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عبدالقیوم مدرس مډل سکول

متهه شبقدر فورټ چارسده ۱۰/ذی قعده ۱۳۸۹هـ.

الجواب: که په دې دوېمې علاقې کښې په شرعی ثبوت سره باقاعده دَ اختر حکم ورکړې شوې وی نوهلته روژه پوره کول ضروری نه ده بلکه په دې باندې اعتماد صحیح دې.﴿۱﴾.وهوالموفق.

﴿۱﴾......☆: قال فی التاتارخانیة: اهل مصر صاموا رمضان بغیر رؤیة وفیهم رجل لم یصم حتی رأی الهلال من الغد فصام اهل المصر ثلاثین یوما وهذا الرجل تسعة وعشرین ثم افطروا جمیعا فان کان اهل المصر رأوالهلال شعبان وعدوا شعبان ثلاثین یوما کان علی هذا الرجل قضاء یوم الاول الخ.

(فتاویٰ تاتارخانیة ۲:۳۵۴ الفصل الثانی فیما یتعلق برؤیة الهلال)

......☆: وفی المنهاج: فاذا رأی الهلال فی العرب لیلة الجمعة وفی باکستان لیلة السبت وصام رجل فی باکستان ثمانیة وعشرین یوما وذهب الی العرب فی الطیارة وقد رأی هلال شوال هنا فیقضی یوما مثلاً ولا یعتذر بانی صمت بالرؤیة المعتبرة وافطرت بالرؤیة المعتبرة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴:۱۴ باب لکل بلد رؤیتهم)

......☆: وقال الدکتور وهبة الزحیلی: فسافر من بلد الرؤیة من صام به فالاصح انه یوافقهم وجوبا فی الصوم آخر، وان کان قد اتم ثلاثین، لانه بالانتقال الی بلدهم صار واحدا منهم فیلزمه حکمهم وروی ان ابن عباس امر کریبا بذلک ومن سافر من البلد الآخر الذی لم یرفیه الهلال الی بلد الرؤیة، عید معهم وجوباً لانه صار واحدا منهم سواء اصام ثمانیة وعشرین یوما ام تسعة وعشرین بان کان رمضان تاما عندهم وقضی یوما ان صام ثمانیة وعشرین لان الشهر لا یکون کذلک ومن اصبح معیدا، فسارت سفینته او طائرته الی بلدة بعیدة اهلها صیام فالاصح ان یمسک بقیة الیوم وجوبا لانه صار واحد منهم.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۶۵۹ المطلب الثالث اختلاف المطالع)

......☆: قال العلامة محمد یوسف البنوری: وان ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ پیشمنی آخری وخت او په ورځ کښې یا دَ شپې نه دَ رمضان دَ روژې دَنیت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه (۱) الکلام الاول دا آیت: قوله تعالی (کلوا واشربواحتی یتبین لکم الخیط الابیض من الخیط الاسود من الفجر) (الآیة) کښې دَوخت تحدید راغلې دې، خوراک څکاک هغه وخت بندول پکار دی. کله چه درته دَسحرکیدو متعلق حقیقی علم حاصل شی سره دَدې چه دَشپې نه سپوږمئ وې او نه وریځ وی. آیا دَ دویم سحر دَ راختلو دَ ظهور پورې خوراک څکاک مباح دی یادَدویم سحرراختلونه ګهنټه یا نیمه ګهنټه مخکښې بندول پکار دی.

(۲) والکلام الثانی فی اول وقت الصوم وآخره ایبتدء من طلوع فجرالثانی المعترض فی الافق وآخره الی اللیل ام یبتدء من بعض اللیل وآخره الی بعض اللیل؟

(۳) والکلام الثالث فی نیة صوم رمضان ایصح من اللیل والنهارکلیهما ام یصح من اللیل فقط؟ بینوا توجروا.

المستفتی: (مفتی) عبدالله شاه (دارالعلوم اسلامیه) چارسده ۲۹/۱/۱۹۷۲ء.

الجواب: (۱) المدارهوتیقن طلوع الفجرالثانی لکن الاستحباب هوالامتناع من الاکل وغیره فی السبع الآخیر مما بین غروب الشمس وبین الفجرالثانی کما فی امدادالفتاوی (۱).

(بقیه حاشیه) رأی رجل الهلال فی القسطنطینیة ثم جاء نا قبل العید فهل یعمل برؤیته او برؤیة اهل بلدنا؟ لم اجد هذه الصورة فی کتبنا، والظاهر انه یتبع اهل بلدنا نظیره ما یقوله الشافعیة فیمن صلی الظهر فی بلد ثم وصل من فوره الی بلد لم یدخل وقت انه یصلی معهم. والله اعلم
(معارف السنن ۵:۳۳۷ مسألة اختلاف المطالع)

﴿۱﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دهیڅ په قاعده سره (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۲) صرح جمیع الفقهاء فی اول کتاب الصوم ان مبدءه طلوع الفجرالثانی ومنتهاه الغروب الملازم باقبال اللیل ﴿۱﴾

(۳) النیة افضل من اللیل وجازقبل نصف النهارالشرعی کمافی الهدایة وغیرها. ﴿۲﴾. وهو الموفق:

(بقیه حاشیه)... د نمر د راختلو دوخت نه یوه نیمه ګهنټه مخکښې پورې پیشمنې خوړلې شی او فقهاؤ احتیاط کړې دې چه د غروب نه طلوع پورې چه کل وخت څومره دې هغه په اوؤه باندې تقسیم کړئ په شپږمه حصه کښې سحری خوړلې شي.
(امداد الفتاوی ۱:۹٦ کتاب الصوم والاعتکاف)

﴿۱﴾ قال العلامة سید احمد الطحطاوی: النهار عبارة عن زمان ممتد من طلوع الفجر الصادق الی غروب الشمس وهو قول اصحاب الفقه واللغة، الی الغروب، هو اول زمان بعد غیبوبة تمام جرم الشمس بحیث تظهر الظلمة فی جهة المشرق وفی البخاری عنه ﷺ اذا اقبل اللیل من ههنا فقد افطر الصائم ای اذا وجدت الظلمة حسا فی جهة المشرق فقد دخل وقت الفطر او صار مفطرا فی الحکم لان اللیل لیس ظرفا للصوم قهستانی ولذا ذکره الوصال منح.
(الطحطاوی علی المراقی ۱:٦۳۱ کتاب الصوم)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغینانی: وسبب الثانی النیة وجه قوله فی الخلافیة قوله علیه الصلاة والسلام لا صیام لمن لم ینو الصیام من اللیل ولانه لما فسد الجزء الاول لفقد النیة فسد الثانی ضرورة انه لا یتجزأ بخلاف النفل لانه متجزی عنده ولنا قوله ﷺ بعد ما شهد الاعرابی برؤیة الهلال الا من اکل فلا یأکلن بقیة یومه ومن لم یأکل فلیصم وماروواه محمول علی نفی الفضیلة والکمال او معناه لم ینوانه صوم من اللیل ولانه یوم صوم فیتوقف الامساک فی اوله علی النیة المتأخرة المقترنة باکثره کالنفل وهذا لان الصوم رکن واحد ممتد والنیة لتعیینه لله تعالی.
(هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۲۳٦ کتاب الصوم)

نمر ډوبیدو سره متصل دَ روژې ماتولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په رمضان یا غیر رمضان کښې نمرډوبیدو سره اذان کول پکار دې یا احتیاط هم کول پکار دی؟ که یو سړی دَنمرډوبیدو سره روژې ماتې اوکړو نودَهغه روژه اوشوه او که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: تقدیرالله ساکن زندوبانړه

الجواب: دَنمرپه ډوبیدو او دَشپې په راتلو کښې ملازمه ده. لهذا دَ نمر ډوبیدو سره متصل اذان کول جائز دی. ﴿۱﴾. البته که دګرد یا دَغرونو په وجه باندې دَنمرپه ډوبیدو کښې شک وی نوهلته یو څو منټه احتیاط کول ضروری دی. ﴿۲﴾. وهوالموفق.

په رمضان کښې دَ غنمو کټ کولو د پاره روژه پریښودل بې باکی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! زمونږ په علاقه کښې دَ

﴿۱﴾ قال العلامة سید احمد الطحطاوی: النهار عبارة عن زما ن ممتد من طلوع الفجر الصادق الی غروب الشمس وهو قول اصحاب الفقه واللغة، الی الغروب هو اول زمان بعد غیوبة تمام جرم الشمس بحیث تظهر الظلمة فی جهة المشرق وفی البخاری عنه ﷺ اذا اقبل اللیل من ههنا فقد افطر الصائم، ای اذا وجدت الظلمة حسا فی جهة المشرق فقد دخل وقت الفطر او صار مفطرا فی الحکم لان اللیل لیس ظرفا للصوم قهستانی ولذا ذکره الوصال منح.

(الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۱ : ۶۳۱ کتاب الصوم)

﴿۲﴾ قال العلامة الطاهر البخاری: ویستحب للصائم تعجیل الافطار قبل طلوع النجوم وتاخیر السحور وفی یوم الغیم لا یستحب التعجیل ولا یفطر مالم یغلب علی ظنه غروب الشمس. (خلاصة الفتاویٰ ۱ : ۲۶۶ قبیل فصل فی الاعتکاف کتاب الصوم)

غنمو کټ کولو وخت دَروژې په میاشت کښې راغلې دې، اوس که غنم کټ نه کړې شی نوغنم به خراب شی، اودَروژې په حالت کښې دَغنمو کټ کول ډیر زیات مشکل کار دې، څکه بعض علماؤفتوی ورکړې ده چه روژه پریږدئ اودَ غنمو کټائی اوکړئ، اودلیل دَشامی جلددویم عبارت پیش کوی. وکذا لوخاف هلاک زرعه اوسرقته ولم یجدمن یعمل له باجرمثل الخ، تاسو صاحبان په دې باره کښې څه فرمایئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: جلات خان دکاندارد کی لورآلائی..... ۱۵/رمضان ۱۴۰۷هـ.

الجواب: دَغنمو کټ کول هلکان (نابالغ) هم کولې شی، اود شپې هم کیدې شی، دې نه علاوه دَ پیشمنی دَ روټئ نه روستودَ ورځې لس (۱۰) بجې پورې هم کیدې شی، لهذا دا مرخص ګنړل دَبې باکئ دروازه کهلاؤل دی. وهوالموفق.

دَ حمل په حالت کښې وینه په روژې باندې اثر نه غورځوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوه ښځه حامله ده اودا حمل کم وزیات دَدریو میاشتو دې، ښځې په رمضان کښې روژې شروع کړې، غالباً دَدویمې یا دریمې روژې په دوران ئې په کپړو باندې دَوینې داغ معلوم شو، ممکن ده چه دا داغ دَطبیعت دګرمئ په وجه باندې ظاهرشوې وی، اوس دَښځې روژه اوشوه که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: محمد عبدالرحیم عزیزمولې پورملتان....... ۱۹۲۹ء/۱۹/۳.

الجواب: دَحمل په حالت کښې وینه دحیض وینه نه وی بلکه د استحاض وینه وی. چه دَروژې دپاره مانع نه ده. (ردالمحتار ۱ : ۲۲۳ : ۲۷۵) ﴿۲﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وما تراه صغیرة دون تسع...... وحامل ولو قبل خروج اکثر الولد استحاضة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱ : ۲۰۹ قبیل مبحث فی مسائل المتحیرة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ودم استحاضة حکمه کرعاف دائم وقتاً کاملا لا یمنع صوما وصلاة الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱ : ۲۱۸ قبیل مطلب فی حکم وطء المستحاضة)

په ایران کښې دَ ایرانی اعلان خلاف پاکستانی اعلان باندې اختر کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دلته ایرانی حکومت دَاتوار په ورځ عام اختر وکړلو ،اوپه هغې ورځ زمونږ دیرش(۳۰) روژې پوره شوې،دلته څه پاکستانیانو او افغانیانودَهفتې په ورځ اختر وکړلو او دلیل دا پیش کوی چه پاکستان کښې سپوږمۍ په نظر راغلې ده،آیا دا اختر صحیح دې؟ یا به پرې قضا لازم وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ضیاء الرحمٰن اصفهان جمهوری اسلامی ایران.. ۱۹۷۴ء/۲/۲۶

الجواب: که دې پاکستانیانو یا افغانیانودَیو معتمد مفتی یاعالم دَحکم نه بغیر اختر کړې وی نوپه دوې باندې دَیوې روژې قضالازمی ده.﴿۱﴾ وهوالموفق

چه چاته پته نه وی چه اختردې او په خپل قیاس باندې اختر اوګنړلو او روژه ئې ماته کړه؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَهفتې په ورځ په مردان پیښور او ګیرچاپیره علاقو کښې اختر اوکړۍ شو ،دلته په اټک کښې دَاختر اعلان نه وو شوې،زیددَ نمر ډوبیدو نه مخکښې سپوږمۍ اولیدله نو خیال ئې اوکړو چه دا سپوږمۍ خو غټه ده،نن ورځ دَاختر معلومیږی نو هغه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: رأی مكلف هلال رمضان او الفطر ورد قوله بدليل شرعی صام مطلقا وجوبا وقيل ندبا فان افطر قضیٰ فقط فيهما لشبهة الرد واختلف المشائخ لعدم الرواية عن المتقدمين والراجح عدم وجوب الكفارة، وقال العلامة ابن عابدين: لو صام رأی هلال رمضان واكمل العدة لم يفطر الامع الامام لقوله عليه الصلاة والسلام صومكم يوم تصومون وفطركم يوم تفطرون رواه الترمذی وغيره والناس لم يفطروا فی مثل هذا اليوم فوجب ان لا يفطر نهر.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۹۸ قبیل مطلب لا عبرة بقول الموقتين)

روژه ماته کړه،اګرچه هغه ته دَاختریقینی پته نه وه.اوس په هغه باندې قضاء او کفاره لازم ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالرؤف پرملی شادی خان ډهوک اټک جمات۱۹۲۹ء/۱/۲

الجواب: اګرچه دَهفتې په ورځ باقاعده اختر شوې وو ،لهذا په دې کس باندې نه قضا واجب ده او نه کفاره،بیشکه دَدې کس روژې ماتې بې قاعدې دې لهذا په روژې ماتولو باندې مجرم دې.فقط.

دَ یوم الشک نفلی روژه دَ باقاعده رمضان دَ ثبوت نه روستو به فرضی شمارلۍ کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ رمضان نه صرف یوه ورځ مخکښې مانفلی روژه اونیوله،په هغه ورځ دَغرمې په وخت خبر راغې چه نن دَ روژې ورځ ده،او سپوږمۍ په نظر راغلې ده،پس ما بغیردَخه ردو بدل نه روژه جاری اوساتله،آیا دا روژه به فرضی شمیرلۍ کیږی یا به ئې قضاء راګرځول وی؟ ځکه چه بعض خلق وائی چه دَشک په ورځ یوه روژه هم نه کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالقیوم مټه مغل خیل چارسده.... ۱۰/ذی قعده ۱۳۸۹ه.

الجواب: دا نفلی روژه به دَرمضان شمیرلۍ کیږی،ټولو علماؤ لیکلی دی چه دَ رمضان روژه دَنفل په نیت سره اداکیږی،لهذا دَ روژې دَثبوت نه روستو ،که هغه ثبوت هم په هغه ورځ اوشی یا روستو اوشی،دا روژه به په رمضان کښې شمیرلۍ کیږی،دَدې قضاء به نه کیږی اودَشک په ورځ روژه کیږی،خودَ عوامو دپاره بهتر نه ده.﴿۱﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة المرغينانی: قوله ولا يصومون يوم الشک الا تطوعا لقوله ﷺ لا يصام اليوم الذی يشک فيه انه من رمضان الا تطوعا...... ثم ان ظهر ان اليوم من رمضان يجزيه لانه شهد الشهر، قال ابن الهمام: فاما صوم ماقبله ففی التحفة قال والصوم قبل رمضان بيوم او يومين مكروه ای صوم كان لقوله عليه الصلاة والسلام لا تقدموا رمضان بصوم يوم ولا يومين الا ان يوافق صوما كان يصومه احدكم قال وانما ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دَ خواصو د پاره دَ یوم الشک دَ روژې حکم

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په ځائی کښې دَیوم الشک روژې ته بعض خلق ډیر اهمیت ورکوی وائی چه دَدې ډیر غټ ثواب دې، فرض کړئ که رمضان وی نو دابه په فرضی روژو کښې شمیرلې کیږی که نه وی نو بیابه هم ورته ثواب ملاویږی، دې باره کښې ستاسو صاحبانو رائې څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبدالرشید کوټ ملاکنډ ایجنسی ۱۷/ رمضان ۱۳۹۹ھ.

الجواب: خواصو دپاره دَیوم الشک روژه نیول جائزبلکه مستحب ده، کمافی شرح التنویر(۱) البته دې نه کوم خواص مراد دی، په دې کښې اختلاف دې، بعضې وائی چه دې نه مفتیان مراددی اوبعض وائی چه دې نه هغه خلق مراد دی چه دَدې دَنیت نه خبر وی، یعنی چه صرف دَنفلو نیت ساتی، دې نه علاوه په نورو نیتونو سره روژه نیول مکروه ده.(شامی وغیره)《۲》 والحدیث

(بقیه حاشیه) کره علیه السلام خوفا من ان یظن انه زیادة علی صوم رمضان اذا اعتادوا ذلک وعن هذا قال ابویوسف یکره وصل رمضان بست من شوال وذکر قبله باسطر عدم کراهة صوم یوم الشک تطوعا ثم قیده بکونه علی وجه لا یعلم العوام ذلک کی لا یعتادوا صومه فیظنه الجهال زیادة علی رمضان.

(فتح القدیر فی ذیل الهدایة ۲: ۲۴۴ کتاب الصوم)

《۱》 قال العلامة الحصکفی: والا یصومه الخواص ویفطر غیرهم بعد الزوال به یفتیٰ نفیا لتهمة النهی. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۹۷ مطلب فی صوم یوم الشک)

《۲》 قال العلامة الحصکفی: الخواص کل من علم کیفیة صوم یوم الشک فهو من الخواص والا فمن العوام قال ابن عابدین: فعامة المشائخ علی انه ینبغی للقضاة والمفتین ان یصوموا تطوعا ویفتوا بذلک خاصتهم ویفتوا العامة بالافطار وهذا یفید ان التلوم افضل فی حق الکل کما فی النهر لکن فی الهدایة والمحیط...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

المشهور علی الالسنة لم یثبت مرفوعابل هو موقوف (۱).وهوالموفق.

دَ یوم الشک روژه که دَ نفلو په نیت سره وی نو مکروه نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ روژې نه مخکښې

(بقیه حاشیه) والخانیة وغیرها ان المختار ان یصوم المفتی بنفسه اخذا بالاحتیاط ویفتی العامة بالتلوم الی وقت الزوال ثم بالافطار والتلوم الانتظار.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۹۷ مطلب فی صوم یوم الشک)

《۱》 الحدیث: "من صام یوم الشک فقد عصیٰ ابا القاسم" اخرجه البخاری باب قول النبی ﷺ اذا رأیتم الهلال فصوموا واذا رأیتموه فافطروا رقم (۱۹۰۶) وابوداؤد فی سننه باب کراهیة یوم الشک رقم (۲۳۳۴) والترمذی باب ماجاء فی کراهیة صوم یوم الشک رقم (۶۸۶) وقال حسن صحیح، والنسائی باب صیام یوم الشک رقم (۲۱۸۷) وابن ماجة باب ماجاء فی صیام یوم الشک برقم (۱۶۴۵) والمزی فی تحفة الاشراف رقم (۱۰۳۵۴) وصححه ابن حبان رقم (۳۵۸۵) والحاکم فی المستدرک ۱: ۴۲۳ ووافقه الذهبی فی تلخیصه، وکلهم من قول عمار رضی الله عنه لا مرفوعا الی النبی ﷺ فانما هو موقوف ولا یصح رفعه.

وقال فی منهاج السنن: واجیب عن هذا الحدیث ان الصاغانی ذکره فی الموضوعات وفیه انه لیس فی سنده من یتهم بالوضع، واجیب عنه ایضا بانه موقوف وفیه ان مثله کالمرفوع (منهاج السنن ۴: ۷).

وقال العلامة الحصکفی: واما حدیث من صام یوم الشک فقد عصی ابا القاسم فلا اصل له، قال الشامی: کذا قال الزیلعی ثم قال ویروی موقوفا علی عمار بن یاسر وهو فی مثله کالمرفوع، قلت وینبغی حمل نفی الاصلیة علی الرفع کما حمل بعضهم قول النووی فی حدیث صلاة النهار عجماء انه لا اصل له علی ان المراد لا اصل لرفعه والا فقد ورد موقوفا علی مجاهد وابی عبیدة وکذا هذا اورده البخاری مطلقا بقوله وقال صلة عن عمار من صام الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۹۶ باب صوم یوم الشک) ......از مرتب

دَ خواصو د پاره دَ یوم الشک دَ روژې حکم

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په ځائی کښې دَیوم الشک روژې ته بعض خلق ډیر اهمیت ورکوی وائی چه دَدې ډیر غټ ثواب دې، فرض کړئ که رمضان وی نودا به په فرضی روژو کښې شمیرلې کیږی که نه وی نوبیا به هم ورته ثواب ملاویږی، دې باره کښې ستاسو صاحبانو رائې څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبدالرشید کوټ ملاکنډ ایجنسی ۱۷/ رمضان ۱۳۹۹ھ.

الجواب: خواصو د پاره دَیوم الشک روژه نیول جائز بلکه مستحب ده، کمافی شرح التنویر (۱) البته دې نه کوم خواص مراد دی، په دې کښې اختلاف دې، بعضې وائی چه دې نه مفتیان مراددی او بعض وائی چه دې نه هغه خلق مراد دی چه دَدې دَنیت نه خبر وی، یعنی چه صرف دَنفلو نیت ساتی، دې نه علاوه په نورو نیتونو سره روژه نیول مکروه ده. (شامی وغیره) ﴿۲﴾ والحدیث

(بقیه حاشیه) کره علیه السلام خوفا من ان یظن انه زیادة علی صوم رمضان اذا اعتادوا ذلک وعن هذا قال ابویوسف یکره وصل رمضان بست من شوال وذکر قبله باسطر عدم کراهة صوم یوم الشک تطوعا ثم قیده بکونه علی وجه لا یعلم العوام ذلک کی لا یعتادوا صومه فیظنه الجهال زیادة علی رمضان.

(فتح القدیر فی ذیل الهدایة ۲: ۲۴۴ کتاب الصوم)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والا یصومه الخواص ویفطر غیرهم بعد الزوال به یفتیٰ نفیا لتهمة النهی. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۹۷ مطلب فی صوم یوم الشک)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: الخواص کل من علم کیفیة صوم یوم الشک فهو من الخواص والا فمن العوام قال ابن عابدین: فعامة المشائخ علی انه ینبغی للقضاة والمفتین ان یصوموا تطوعا ویفتوا بذلک خاصتهم ویفتوا العامة بالافطار وهذا یفید ان التلوم افضل فی حق الکل کما فی النهر لکن فی الهدایة والمحیط......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

المشهور علی الالسنة لم یثبت مرفوعابل هو موقوف (۱). وهوالموفق.

دَ یوم الشک روژه که دَ نفلو په نیت سره وی نو مکروه نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ روژې نه مخکښې

(بقیه حاشیه) والخانیة وغیرها ان المختار ان یصوم المفتی بنفسه اخذا بالاحتیاط ویفتی العامة بالتلوم الی وقت الزوال ثم بالافطار والتلوم الانتظار.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۹۷ مطلب فی صوم یوم الشک)

﴿۱﴾ الحدیث: "من صام یوم الشک فقد عصیٰ ابا القاسم" اخرجه البخاری باب قول النبی ﷺ اذا رأیتم الهلال فصوموا واذا رأیتموه فافطروا رقم (۱۹۰۶) وابوداؤد فی سننه باب کراهیة یوم الشک رقم (۲۳۳۴) والترمذی باب ماجاء فی کراهیة صوم یوم الشک رقم (۶۸۶) وقال حسن صحیح، والنسائی باب صیام یوم الشک رقم (۲۱۸۷) وابن ماجة باب ماجاء فی صیام یوم الشک برقم (۱۶۴۵) والمزی فی تحفة الاشراف رقم (۱۰۳۵۴) وصححه ابن حبان رقم (۳۵۸۵) والحاکم فی المستدرک ۱: ۴۲۳ ووافقه الذهبی فی تلخیصه، وکلهم من قول عمار رضی الله عنه لا مرفوعا الی النبی ﷺ فانما هو موقوف ولا یصح رفعه.

وقال فی منهاج السنن: واجیب عن هذا الحدیث ان الصاغانی ذکره فی الموضوعات وفیه انه لیس فی سنده من یتهم بالوضع، واجیب عنه ایضا بانه موقوف وفیه ان مثله کالمرفوع (منهاج السنن ۴: ۷).

وقال العلامة الحصکفی: واما حدیث من صام یوم الشک فقد عصی ابا القاسم فلا اصل له، قال الشامی: کذا قال الزیلعی ثم قال ویروی موقوفا علی عمار بن یاسر وهو فی مثله کالمرفوع، قلت وینبغی حمل نفی الاصلیة علی الرفع کما حمل بعضهم قول النووی فی حدیث صلاة النهار عجماء انه لا اصل له علی ان المراد لا اصل لرفعه والا فقد ورد موقوفا علی مجاهد وابی عبیدة وکذا هذا اورده البخاری مطلقا بقوله وقال صلة عن عمار من صام الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۹۶ باب صوم یوم الشک) ......از مرتب

دَ یوم الشک په موقع باندې خلق په نفلی روژه باندې مجبورکول صحیح دی یا نه؟ دَمختلف حدیثو په رنړا کښې راته جواب راؤلیږئ،

عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ لا يتقدمن احدكم رمضان يوم او يومين الا ان يكون رجل يصوم صوما فليصم ذلک اليوم متفق عليه (مشكواة) وعن عمار بن ياسر قال من صام اليوم الذى يشک فيه فقد عصى ابا القاسم ﷺ رواه ابوداؤد والترمذى والنسائى وابن ماجة والدارمى (مشكواة). بينواتوجروا

المستفتی: مولانامحمود شبقدر فورټ چارسده.... ۱۸/۹/۱۹۷۶ء.

الجواب: په یوم الشک باندې روژه نیول مکروه دی، که دَفرضویا واجبو په نیت سره وی، او مکروه نه ده چه دَنفلو په نیت سره وی،

كما فى شرح التنوير: والتنفل فيه احب ان وافق يوم يعتاده. واما حديث من صام يوم الشک فقد عصى ابا القاسم فلا اصل له (اى لرفعه او محمول على نية رمضان) والا فيصومه الخواص ويفطر غيرهم بعد الزوال به يفتى نفيا لتهمة النهى. و كل من علم كيفية صوم يوم الشک فهو من الخواص والا فمن العوام. والنية المعتبرة هنا ان ينوى التطوع على سبيل الجزم من لا يعتاد صوم ذلک اليوم انتهىٰ بحذف يسير ﴿۱﴾ قلت: وعوام زماننا لا يقضون الصوم اصلا فالتنفل احوط وارعىٰ وهو الصواب ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۹۶، ۹۷ مبحث فى صوم يوم الشک)

﴿۲﴾ وفى المنهاج: قيل المختار التلوم فى حق الخواص ايضا لما ذكره صاحب النهر عن السراج، ولان العوام يقعون فى الفتنة ويقولون هل زمام الشريعة فى ايديهم حيث حرموا الصوم علينا واحلوه لانفسهم، قلت، لا ندع قول الاكثرين لقول البعض، ولانه لو روعيت فتنة العوام لكان الانسب الافتاء بصيام يوم الشک تطوعا وان كان من العوام لانه ربما يثبت كون يوم الشک من رمضان فى اثناء الشهر، وربما...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

یوم الشک په باره کښې حدیثونه او مفتی به قول

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیوم الشک دَروژې متعلق علامه ابن همام په فتح القدیرا: ۵۴، ۵۵ کښې څه حدیثونه نقل کړی دی، او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دَدې روژې نیول مستحب او دَامام ابن حنبل رحمه الله په نزدې واجب دی، او بعضې دې ته ناجائز وائی، دَدې متعلق صحیح حکم کوم یو دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: حاجی فضل حق خال ضلع دیربالا ۲۵ جولائی ۱۹۷۹.

الجواب: دَ دلائلو په رنړا کښې دَیوم الشک روژه نیول مکروه نه ده، البته دَ حديث لاتقدموا رمضان بصوم يوم او يومين (رواه الستة)﴿۱﴾ نه دمخالفت په وجه باندې دَخواصو دپاره دَاخفاء او عوامو دپاره دَ تلوم فتوی ورکړې کیږی كما لا يخفى على من راجع الى كتب علمائنا ....

(بقيه حاشيه) يحكم بالفطر عند الرؤية ليلة تسع وعشرين فيقول العوام اف لعلماء هذا الزمان امرنا بافطار يوم رمضان ولو امرنا بالصيام ما احتجنا الى القضاء فارتكاب ترک الافضل اهون من ارتكاب الحرام لان الغالب من حال العوام انهم لا يقضون.

(منهاج السنن شرح ترمذى ۴: ۷، ۸ باب كراهية صوم يوم الشک)

﴿۱﴾ رواه البخارى فى كتاب الصوم باب لا يتقدم رمضان بصوم يوم ولا يومين (۴: ۱۲۷) ومسلم فى كتاب الصوم باب لا تتقدموا رمضان بصوم يوم ولا يومين (۲: ۷۶۲) وابوداؤد فى كتاب الصوم باب فى من يصل شعبان برمضان (۲: ۳۰۰) والترمذى فى كتاب الصوم باب ماجاء لا تقدموا الشهر بصوم (۳: ۶۸، ۶۹) والنسائى باب التقدم قبل شهر رمضان (۴: ۱۴۹) وابن ماجة باب ماجاء فى النهى ان يتقدم رمضان بصوم (۱: ۵۲۸) ومسند احمد (۲: ۲۳۴، ۲۸۱، ۳۴۷) والدارمى باب النهى عن التقدم فى الصيام قبل الرؤية (۲: ۸).

کردالمحتار وغیره﴿۱﴾ وهوالموفق.

په هیره باندې خوراک څکاک یاجماع کول دَ روژې دپاره نقصانی نه دی

سوال: حضرت شیخ الحدیث صاحب بانی دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! دې مسئلې باره کښې بنده ته شک دې که چرې چاپه هیره باندې په روژې مبارکه کښې دَخپلې ښځې سره جماع اوکړه، نو په هغه باندې قضایا کفاره شته دې اوکه نه.دَمذهب حنفی په دلائلوسره اود کتابونوپه حوالې سره جواب راولیږئ والسلام.

المستفتی: عباس خان زانکی خیل داګئ صوابی......۱۹۶۹ء/۵/۸

الجواب: دَاحنافوپه نزدې په هیره باندې خوراک څکاک یا جماع سره روژې ته نقصان نه رسیږی لهذا په دې باندې نه قضا واجب ده اونه کفاره (وفی الهدایة ۱:۱۹۶) واذا اکل الصائم اوشرب اوجامع نهارا ناسیالم یفطر والقیاس ان یفطر وهوقول مالک لو جود ما یضاد الصوم فصار کالکلام ناسیافی الصلوة وجه

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین : قوله والا یصومه الخواص ای وان لم یوافق صوما یعتاده ولا صام من آخر شعبان ثلاثة فاکثر استحب صومه للخواص قال فی الفتح وقیده فی التحفة بکونه علی وجه لا یعلم العوام ذلک کی لا یعتادوا صومه فیظنه الجهال زیادة علی رمضان ویدل علیه قصة ابی یوسف المذکورة فی الامداد وغیره حاصلها ان اسد بن عمر وسأله هل انت مفطر فقال له فی اذنه انا صائم وفی قوله یصوم الخواص اشارة الی انهم یصبحون صائمین لا متلومین بخلاف العوام لکن فی الظهیریة الافضل ان یتلوم غیر آکل و لا شارب مالم یتقارب انتصاب النهار فان تقارب فعامة المشائخ علی انه ینبغی للقضاة والمفتیین ان یصوموا تطوعا ویفتوا بذلک خاصتهم ویفتوا العامة بالافطار وهذا یفید ان التلوم افضل فی حق الکل کما فی النهر لکن فی الهدایة والمحیط والخانیة وغیرها ان المختار ان یصوم المفتی بنفسه اخذا بالاحتیاط ویفتی العامة بالتلوم الی وقت الزوال ثم بالافطار والتلوم الانتظار کما فی المغرب.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۹۷ مطلب فی صوم یوم الشک)

الاستحسان قوله علیه الصلاة والسلام للذی اکل وشرب ناسیاتم علی صومک فانما اطعمک الله وسقاک ﴿۱﴾ قال العینی رواه الستة فی کتبهم﴿۲﴾ وهوالموفق

دَ ماښام نه مخکښې سپوږمۍ لیدل اودَ شک په وجه باندې روژه ماتول دَ کفارې موجب نه ده

سوال: دې مسئلې باره کښې علمائې دین څه فرمائی چه دَاخترمتعلق دیرغټ شک وو،بعض خلقو دَ زیارت په ورځ اخترکړو اوبعض خلقودَ جُمعې په ورځ اوکړو،خومسئله داده چه دَزیارت په ورځ کوموخلقو روژه نیولې وه په هغوی کښې بعض خلقودَماښام کیدونه مخکښې سپوږمۍ اولیدله او روژه ئې ماته کړه،اوس سوال دادې چه دَماښام نه مخکښې چه نمردوب شوې نه وی او هم داسې سپوږمۍ وینی او روژه ئې ماته کړه،نودَدې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حافظ ګل دادخان چارخانه پیښور.........۲۱/۱۱/۱۹۷۴

الجواب: دَشرعی ثبوت نه مخکښې روژه ماتول صحیح نه دی اوبې قاعدې کار دې،البته دَشک په وجه دکفارې موجب نه ده. کمافی الدرالمختار:ورؤیته بالنهار للیلة الآتیة مطلقا وفی ردالمحتار(۲:۱۳۰)ای سواء رءی قبل الزوال اوبعده وقوله علی المذهب ای الذی هو قول ابی حنیفه ومحمد،قال فی البدائع فلا یکون

﴿۱﴾ (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۲۵۴ باب مایوجب القضاء والکفارة)

﴿۲﴾ اخرجه البخاری: (۱۹۳۳) ومسلم: (۱۱۵۵) وابوداؤد: (۲۳۹۸) والترمذی: (۷۲۱) وابن ماجة: (۱۶۷۳) کلهم من حدیث ابی هریرة: جاء رجل الی النبی ﷺ فقال یا رسول الله انی اکلت وشربت ناسیا وانا صائم فقال: الله اطعمک وسقاک، واللفظ لابی داؤد ورواية الجماعة "من نسی وهو صائم فاکل او شرب فلیتم صومه فانما اطعمه الله وسقاه، وسیاق المصنف نسبه الزیلعی لابن حبان فی صحیحه وکذا هو فی سنن الدارقطنی (۲:۱۷۹) انظر نصب الرایة (۲:۴۴۵).

(تخریج احادیث اللباب ۱:۱۵۶ فصل ما لا یفطر به الصائم)

ذلک الیوم من رمضان عندهماوقال ابویوسف ان کان بعد الزوال فکذلک وان کان قبله فهو للیلة الماضیة ویکون الیوم من رمضان وعلی هذا الخلاف هلال شوال ﴿۱﴾ وهوالموفق

دَ مقامی او مرکزی رؤیت هلال کمیټې په مینځ کښې دَ اختلاف په صورت کښې دَ قضاء مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په سرحد کښې په کومه ورځ روژه وه دَهغې په بله ورځ هلال کمیټې دَروژې اعلان کړې وو،آیا په دوی باندې قضاء لازم ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: اورنګ زیب کهوسلکی بدین..۱۰/ شوال ۱۴۰۰هـ.

الجواب: چاچه دَهلال کمیټئ په خبرباندې روژه او اختر کړې دې په هغوی باندې قضاء لازم نه ده شاید چه هلال کمیټئ ته دَصوبه سر حد نه باقاعده ثبوت نه وی رسیدلې.﴿۲﴾ وهو الموفق

په مختلف علاقوکښې دَ رمضان دَ اختلاف په وجه سره دَ قضاء مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ څوکالونه مونږ دَ

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۰۳ مطلب فی رؤیة الهلال نهاراً)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: لان قضاء القاضی حجة وقد شهدوا به لا لو شهدوا برؤیة غیرهم لانه حکایة نعم لو استفاض الخبر فی البلدة الاخریٰ لزمهم علی الصحیح من المذهب، قال ابن عابدین: لانه حکایة فانه لم یشهدوا بالرؤیة ولا علی شهادة غیرهم وانما حکوا رؤیة غیرهم کذا فی فتح القدیر ،قلت وکذا لو شهدوا برؤیة غیرهم وان قاضی تلک المصر امر الناس بصوم رمضان لانه حکایة لفعل القاضی ایضا ولیس بحجة بخلاف قضائه ولذا قید بقوله وحد استجماع شرائط الدعویٰ الخ.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۰۲ قبیل مطلب فی رؤیة الهلال نهارا)

مرکزی رؤیت هلال کمیټئ په اعلان باندې روژه او اختر کوو،حالانکه دَ څوکالونه دَرمضان میاشت دَیوکم دیرشو راروانه ده.آیا په مونږ باندې به قضاء لازمیږی چه کله دَیوې بلې علاقې مثلاً دَمردان وغیره نه دا اطلاع ملاؤ شی چه هلته دیرش(۳۰) ورځې روژې پوره شوې یاهلته زمونږنه مخکښې روژه نیولې شوې وه؛او دا اطلاع هم صرف خبر وی شهادت نه وی. دَدې اختلاف په وجه به دَنورو علاقو خلق څه کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټرنذیراحمد ثمرباغ ضلع دیر........۲۲/۲/۱۹۸۲ء

الجواب: که تاسو دَحکومت په اعلان باندې روژه او اخترکوئ نودَ فراغت ذمه دپاره هم دا کافی دی دَهراختلاف په وجه سره دَقضاء کولو حکم بې قاعدې حکم دې.وهو الموفق.

دَ پیشمنی آخرنې وخت یعنی دَ سحردَ راختلو تعین

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې وائی چه دَ پیشمنې نه پس کله اذان اوشی نودَهغې نه پس پنځلس منټوپورې خوراک کول جائز دی،دلته تقریباً په درې نیمې بجې باندې اذان کیږی،صحیح مسئله څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اسلم پی او ایف واه کینټ......۲۱/ رجب ۱۴۰۱هـ.

الجواب: دَ پیشمنی آخرې وخت دَشپې آخری وخت سره راځی،دَاذان سره نه﴿۱﴾ او په مشاهدې او تجربې سره معلومه ده چه صبح صادق دَنمرراختلو نه پاؤباندې یوه ګهنټه مخکښې راځی،پس په دې بنیادباندې زمونږ په علاقه کښې څلوربجوپورې او واه کینټ کښې تقریباً پنځه منټه کم څلوربجوپورې

﴿۱﴾قال الشرنبلالی: ومعناه شرعا هو الامساک نهارا، النهار عبارة عن زمان ممتد من طلوع الفجر الصادق الی غروب الشمس وهو قول اصحاب الفقه واللغة، ولهذا قال صاحب دیوان الادب النهار ضد اللیل وینتهی اللیل بطلوع الصبح الصادق کذا فی الحاشیة. (امداد الفتاح شرح نور الایضاح ۶۵۰ کتاب الصوم)

یا احتیاطاً لس منته کم ثلوربجوپورې پیشمنې کولې شی.﴿۱﴾

ملاحظه.......دَ ریاضې په حساب سره نور گنجائش هم پکښې شته.وهوالموفق.

پیشمنی د پاره په لاؤډ سپیکر باندې صلاة وسلام وئیل او خلق راپاسول

سوال: مفتیان کرام دې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې اذان کونکی حضرات دَپیشمنی په وخت لاؤډسپیکر باندې الصلاة والسلام علیک یارسول الله یا حبیب الله،یا آدم صفی الله یانوح نبی الله، وغیره الفاظ وئیلوسره

﴿۱﴾ قال عبد الرحمن الجزیری: ووقت الصبح من طلوع الفجر الصادق وهو ضوء الشمس السابق علیها الذی یظهر من جهة المشرق وینتشر حتی یعم الافق، ویصعد الی السماء منتشرا واما الفجر الکاذب فلا عبرة به وهو الضوء الذی لا ینتشر، ویخرج مستطیلا دقیقا یطلب السماء بجانبیه ظلمة ویشبه ذنب الذئب الاسود فان باطن ذنبه ابیض، بجانبیه سواد، ویمتد وقت الفجر الی طلوع الشمس.

(الفقه علی المذاهب الاربعة ۱: ۱۶۹ کتاب الصلاة وقت الصبح)

وقال الشیخ محمد فرید مدظله: وفی الشامیة ان التفاوت بین الفجرین وکذا بین الشفقین الاحمر والابیض انما هو بثلاث درج انتهیٰ وفی التصریح اذ قد علم بالتجربة ان انحطاط الشمس اول الصبح الکاذب وآخر الشفق ثمانیة عشر درجة وفی الحاشیة ان المراد من الانحطاط فی الجانبین انحطاط مرکز الشمس من الافق الشرقی او الغربی وهو قدر ثمانیة عشر درجة ویقطعه الفلک الاعظم فی ساعة وخمس ساعة وهذا مجموع الصبحین الکاذب والصادق ومن ذلک المجموع خمس ساعة حصة الصبح الکاذب والساعة الواحدة حصة الصبح الصادق انتهیٰ قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بین طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وکذا بین غروب الشمس وغیوب البیاض بتفاوت البلاد، والمشاهد فی دیارنا قدر ساعة وربع ساعة.

السنن شرح جامع السنن للترمذی ۲: ۱۰ باب مواقیت الصلاة عن النبی ﷺ)

خلق راپاسوی، آیا دا الفاظ جائز دی؟ او دَپیشمنی دپاره دا طریقه جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالقیوم منگل زئی گلستان بلوچستان ۱۹۹۱ء/۲/۴

الجواب: پیشمنی دپاره خلق راپاسول جائز دی ﴿۱﴾ دا اعانت علی البر دی، البته په داسې کلماتوسره راپاسول چه هغه همیشه ناجائزوی یا په هغې کښې موهم شرک وی ناجائز دی البته دَشرک دارومدارپه عقیدې باندې دې، دَ موهم شرک کلماتوباندې نه دې،فافهم.وهوالموفق.

روژه مکمل کولو د پاره دَحیض دَ بندش گولئ خوړل تکلف او تعمق دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَروژې میاشت نزدې راروانه ده اودَرمضان دَ روژې ثواب دَټول عمر دَ روژو نه افضل دې،اوس که ښځې دَحیض بندولو دپاره گولئ اوخوری چه دَدې افضلیت نه محروم پاتې نه شی نوآیا دا جائز دی یا شرعاً منع دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد سیاب لکی مروت.

الجواب: په حدیث شریف کښې راغلی.دی چه دکوم سړی نه دَڅه عذرپه وجه یوعبادت پاتې شی نوهغه ته به باقاعده مکمل ثواب ورکړې کیږی (رواه ابوداؤد وغیره)﴿۲﴾.پس دَ داسې قسمه گولو استعمال تکلف او تعمق دی.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وعن الحسن لا بأس بالدف فی العرس لیشتهر وفی السراجیة هذا اذا لم یکن له جلاجل ولم یضرب علی هیئة التطرب اقول وینبغی ان یکون طبل السحر فی رمضان لا یقاظ النائمین للسحور کبوق الحمام تأمل.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۵: ۲۴۷ قبیل فصل فی اللبس).

﴿۲﴾ عن ابی انس ان رسول الله ﷺ قال لقد ترکتم بالمدینة اقواما ما سرتم مسیرا ولا انفقتم من نفقة ولا قطعتم من واد الا وهم معکم فیه......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اګرچه ددې استعمال نه ضروری دې او نه منع دې، لحدیث وماسکت عنه فهو عفو﴿۲﴾. وهوالموفق.

ملاحظه:......خودروژې دَ فوت کیدو دَخلاصی دپاره فائده مندې دی. ځکه چه دَ ښځودپاره قضاء راګرځول مشکل وی.........(سیف الله حقانی)

دَ خنزیر غوښه خرڅول. فحاش معاشره او ګنده خوراک څکاک دَ روژې د پاره مانع نه دی

سوال: علمائې کرام دَ لاندینو مسئلوپه باره کښې څه فرمائی چه:

(۱) زمونږ څه ملګری په مشین د ذبحه شوی غوښې فیکټرئ کښې کارکوی، چه په هغې کښې تقریباً دَ خنزیرغوښه هم شامل ده. آیا دا مسلمان ملګری روژه نیوې شی؟

(۲) دلته دَ کار وخت لس ګهنټې او تموله ورځ اوولس(۱۷) ګهنټې ده، خودلته عریانیت او فحاشی ډیره زیاته ده اودَسترګوزناهروخت وی، په دې صورت کښې مونږ روژه نیولې شو؟

(۳) دلته دَخوراک څکاک سامان په هرقسمه ګندګئ ډك وی، په داسې حالاتو کښې مونږ روژه نیولې شو؟ بینواتوجروا

المستفتی: شیرعالم خان جرمنی

الجواب: (۱) دَخنزیر حلالول او دَهغې غوښه خرڅول فسق او حرام دی کفر نه دې.﴿۱﴾ پس ددوې مونځ او روژه صحیح ده. دګناه په وجه باندې نیکې ته نقصان نه رسیږی.

(یعنی دَ ګناه په وجه نیکی نه ساقطیږی. (سیف الله حقانی).

(۲) چرته چه اوولس(۱۷) ګهنټې ورځ وی، هلته په روژه نیولو کښې هیڅ شک نشته، دَ(اندام مخصوص نه علاوه) دَ نورو اعضاء په زنا سره روژه نه ماتیږی، په ثواب کښې کمې راځی.﴿۲﴾.

(۳) دَخوراک څکاک سامان دګنده کیدو په وجه سره په روژې باندې هیڅ اثر نه پریوځی، په روژې کښې دا شرط نشته چه خوراک څکاک دې حلال وی. وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) قالوا یا رسول الله و کیف یکونون معناوهم بالمدینة قال حبسهم العذر. (رواه ابوداؤد ۱:۳۴۵ باب فی الرخصة فی القعود من العذر). وعن انس ان رسول الله ﷺ رجع من غزوة تبوک فدنا من المدینة فقال ان بالمدینة اقواما ما سرتم مسیرا ولا قطعتم وادیا الا کانوا معکم وفی روایة الا شرکوکم فی الاجر قالوا یا رسول الله وهم بالمدینة قال وهم بالمدینة حبسهم العذر رواه البخاری ورواه مسلم عن جابر. (مشکوٰة المصابیح ۲:۳۳۱ کتاب الجهاد)

﴿۱﴾قال الامام ولی الله الدهلوی: فمن المقاصد الجلیلة فی التشریع ان یسد باب التعمق فی الدین لئلا یعضوا علیها بنوا جذهم فیأتی من بعدهم قوم فیظنوا انها من الطاعات السماویة المفروضة علیهم ثم تأتی طبقة اخری فیصیر الظن عندهم یقینا الخ.

(حجة الله البالغة ۲:۲۲ الاقتصاد فی العمل)

﴿۲﴾ عن سلمان قال سئل رسول الله ﷺ عن السمن والجبن والفراء فقال الحلال ما احل الله فی کتابه والحرام ما حرم الله فی کتابه وما سکت عنه فهو مما عفا عنه.

(سنن الترمذی ۱:۲۰۶ باب ماجاء فی لبس الفرآء)

وعن ابن عباس قال کان اهل الجاهلیة یأکلون اشیاء ویترکون تقذرا فبعث الله نبیه ﷺ وانزل کتابه واحل حلاله وحرم حرامه فما احل فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سکت عنه فهو عفو وتلاقل لا اجد فیما اوحی الی محرما علی طاعم یطعمه الی آخر الآیة.

(سنن ابی داؤد ۲:۱۸۳ باب مالم یذکر تحریمه)

﴿۱﴾ قال العلامة طاهر بن عبد الرشید: ولو استأجر مسلما لیرعی خنازیر یجب ان یکون علی الخلاف کما فی الخمر ولو استأجره لیبیع له میتة لا یجوز واذا استأجر الذمی من المسلم دارا لیسکنها فلا بأس به...... ولو استأجر من اهل الذمة مسلما لیضرب لهم الناقوس لا یجوز. (خلاصة الفتاوی ۳:۱۵۰ کتاب الاجارات)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: وفی حدیث الحاکم الذی صححه لیس الصیام من الاکل والشرب فقط انما الصیام من اللغو والرفث ویؤخذ منه ان یتاکد اجتناب المعاصی علی الصائم کما قیل فی الحج لکن لا یبطل ثوابه من اصله بل کما له فله ثواب الصوم واثم المعصیة. (مرقاة المفاتیح شرح المشکوٰة ۴:۲۶۰ باب تنزیه الصوم)

۲۳/ رمضان باندې سورة عنکبوت او سورة روم وئیلو په باره کښې دَ ارشاد الطالبین حواله

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ۲۳/رمضان باندې سورة عنکبوت او سورة روم وئیل ثابت دی که نه؟ په ارشادالطالبین ۲۲۳ کښې لیکلې شوې دی،دربیان شب که دراں شب گناهاں همه بخشیده می شوند ،وآن شب بست وسویم ماه رمضان ست،واگردرشب ۲۳/رمضان سورة روم وعنکبوت بخواند خواننده وشنوائده راباتش دوزخ کارنباشد ،دَدې په تفصیل سره جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: صالح الدین حقانی........ ۷/۷/۱۹۸۶.

الجواب: دَقران پاک تلاوت اودَدې اوریدل عظیم عبادت دې البته دَخپل طرف نه یوسورت یا دَوخت تخصیص مکرودې،

کما اشار الیه صاحب البحر ۲:۱۵۹ ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشیئ دون شیئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به ﴿۱﴾
عوام په دې ګمان کښې اخته کیږی چه په دې کښې ثواب ډیر دې، بهرحال دا ابداع دی.نعم من قرءهما علی وجه دفع الاعداء دون قصدالثواب فیکون مباحالاعبادة﴿۲﴾ وهوالموفق

ملاحظه:......په دې متعلقه حواله کښې نه دلائل موجود دی اونه دَعلماؤ جزئیات. وقدصرح فی ارشاد الطالبین بجواز الزوجات فوق الاربع وجواز المطلقة ثلاثا بلاتحلیل وغیر ذلک.


﴿۱﴾ (البحرالرائق ۲:۱۵۹کتاب العیدین).

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: (قرآن پاک دَڅه مقصدد پاره وئیل) صحیح دی څنګه چه په حدیث کښې دَسورة واقعه هم دا خاصیت بیان شوې دې،چه هغه صریح دلیل دې،دَجواز. (امدادالفتاوی ۴:۸۹باب تعویذات واعمال).

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ځلورم جلد

باب مایفسد الصوم ومالایفسده



....

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

......قال الله تعالی......

وكلوا واشربوا حتى يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود من الفجر، ثم اتموا الصيام الى اليل.

........[البقرة:۱۸۷]........

....

باب مایفسد

الصوم ومالایفسده

دَ روژې په حالت کښې په غوږ،پوزه او سترګو کښې دوائی اچول

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څنګه انسان دوائی اوخوری نو روژه ئې ماتیږی، خوپه غوږ، پوزه او سترګوکښې دَاچولو څه حکم دې؟ اودَانجکشن(ستن) لګولو څه حکم دې؟ اووجه د فرق ئې څه ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد عمرضلع دیر........۱۹۷۸ء/۹/۱۰.

الجواب: انجکشن که په رګ کښې وی اوکه په غوښه کښې دَروژې دپاره نقصانی نه ده، ځکه چه په دې عمل سره دوائی باطن ته دَ مساماتوپه ذریعه رسیږی دَمنافذ په ذریعه نه، ځکه چه دَلاسونو، پښواو خیټې په مینځ کښې یو سورې هم نشته، صرح بهذا الاصل فی الهندیة ۱:۲۱۶ ﴿۱﴾، په غوږ کښې پچکاری کولو سره چه کله دوائی دماغوته اورسیږی نو روژه فاسدیږی، (شامی وغیره)﴿۲﴾، په سترګوکښې دوائی اچولو سره روژه نه فاسدیږی،

﴿۱﴾ وفی الهندية: وما يدخل من مسام البدن من الدهن لا يفطر هكذا فى شرح المجمع. (فتاوی عالمگيرية ۱:۲۰۳ الباب الرابع فيما يفسد وما لايفسد)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: او احتقن او استعط فى انفه شيا او اقطر فى اذنه دهنا او داوى جائفة او آمة فوصل الدواء حقيقة الى جوفه ودماغه قال ابن عابدين: (قوله الى جوفه ودماغه قال فى البحر والتحقيق ان بين جوف الرأس وجوف......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

اګرچه دَ هغې رنګ وغیره په پوزه یا حلق کښې ظاهرېږي (عالمګیری ﴿۱﴾ شامی ﴿۲﴾) که په پوزه کښې دوائی اچولو په وخت دوائی دماغوته اورسیږي نو روژه به فاسده وی (شامی وغیره). وهو الموفق.

دَ روژې په حالت کښې دَ دوائی بوئی کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ روژې په حالت کښې دوائی بوئی کولو سره روژه ماتیږي او که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: داعمل شم دې سعوط نه دې (یعنی دَ دوائی ذرات شم سره دننه نه ځی) لهذا دَمشک وغیره پشان دَدې بوئی کولو کښې څه نقصان نشته،

(بقیه حاشیه) المعدة منفد اصلیا فما وصل الی جوف الرأس یصل الی جوف البطن.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۱۱۱ باب مایفسد الصوم وما لایفسده)

﴿۱﴾ وفی الهندية: ولو اقطر شيئا من الدواء فی عينه لا يفطر صومه عندنا وان وجد طعمه فی حلقه واذا بزق اثر الكحل ولونه فی بزاقه عامة المشائخ علی انه لا يفسد صومه.

(فتاوی عالمگیریة ۱: ۲۰۳ الباب الرابع فيما يفسد وما لايفسد)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله او ادهن او اكتحل او احتجم وان وجد طعمه فی حلقه) ای طعم الكحل او الدهن وكذا لو بزق فوجد لونه فی الاصح لان الموجود فی حلقه اثر داخل من المسام الذی هو خلل البدن والمفطر انما هو الداخل من المنافذ للاتفاق الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۱۰۶ مطلب يكره السهر اذا خاف فوت الصبح)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله او استعط) والسعوط الدواء الذی صب فی الانف...... وعدم وجوب الكفارة فی ذلک هو الاصح لانها موجب الافطار صورة ومعنی والصورة الابتلاع كما فی الكافی وهی منعدمة والنفع المجرد عنها يوجب القضاء فقط امداد.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۱۱۱ باب مايفسد الصوم وما لايفسده)

فلیراجع الی ردالمحتار ۲: ۱۳۲) (۱) (۲) وهوالموفق

دَ دمې د مریض انهیلر استعمالولو سره روژه ماتیږي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَدمې مریض دې چه دَهغې دپاره دَ انهیلر ګیس سپرې په حلق کښې دننه کوی، دا دَیوې سپنې هوا په شکل کښې دَ دوائې ذرات وی، آیا په دې سره روژه ماتیږي؟ بینواتوجروا.

المستفتی: محمد احمد خان جهانګیره......

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: لا يكره للصائم شم رائحة المسک والورد ونحوه مما لا يكون جوهرا متصلا كالدخان فانهم قالوا لا يكره الاكتحال بحال وهو شامل للمطيب وغيره ولم يخصوه بنوع منه وكذا دهن الشارب.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۱۲۳ قبيل مطلب فی الفرق بين الجمال والزينة)

﴿۲﴾ په دې زمانه کښې بعضې دوایانې داسې وی چه دهغې استعمال د پوزې په ذریعه کیږي او په دې کښې د دوایئ دومره باریك ذرې وی چه په ظاهره بوئیول معلومیږي لیکن په حقیقت کښې ددې باریکو ذراتو ادخال مقصود وی چه ددې په ذریعه علاج کولې شی چونکه دا هوا سره د دوایئ نه د دماغو منځ ته یا د معدې منځ ته رسیږي او دا مفسد دې.

كما فی خلاصة الفتاویٰ ۱: ۲۵۳ وما وصل الی جوف الرأس والبطن من الاذن والانف والدبر فهو مفطر بالاجماع وفيه القضاء،

اوعام طورباندې چه کومې دوایانې وی او هغه څوك بوئی کړی نو دا به عمل شم کښې داخل وی سعوط به نه وی.

والسعوط صب الدواء فی الانف (امداد الفتاح ۶۸۸) وقال الشرنبلالی: من ادخل دخان حلقه بای صورة كان الادخال فسد صومه سواء كان دخان عنبر او عود وغيرهما حتی من تبخر ببخور فآواه الی نفسه واشتم دخانه ذاكر الصومه افطر لامكان التحرز عن ادخال المفطر جوفه ودماغه وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس فليتنبه له ولا يتوهم انه كشم الورد ومابه والمسک لوضوع الفرق بين هواء تطيب بريح المسک وشبهه وبين جوهر دخان وصل الی جوفه بفعله. (امداد الفتاح ۶۷۷) ......(ازمرتب)

الجواب: په دې سپړې کولو سره روژه ماتیږي. ﴿۱﴾. البته چه تکلیف دَبرداشت کولو قابل نه وي نوروژه نیول نه دي پکار، او بیاچه کله بیماري ختمه شي نو قضاء ئې لازمي ده. ﴿۲﴾. وهو الموفق.

په باب الصوم کښې دَ جلاب په باره کښې دَ بهشتي زیور دَ عبارت وضاحت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بهشتي زیور (از مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله) کښې دَروژې په باب کښې دَدې جملې څه مطلب دې؟ په جلاب کښې ئې عمل واخستو او دَڅکلو دوائی ئې اونه څکله، دلته یو کس هم دَدې په مطلب باندې نه پوهیږي، پوره عبارت دا دې، چاپه روژه کښې ناس اوکړو (پوزه کښې ئې څه دوائی واچوله) یا په غوږ کښې ئې تیل واچول یا په جلاب کښې ئې عمل اوکړو اودَڅکلو دوائی ئې اونه څکله بیاهم روژه لاړه، خوصرف قضاء واجب ده او کفاره واجب نه ده، او که په غوږ کښې ئې اوبه واچولې نو روژه ماته نه شوه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالحمید ایس وی چودهواں ډی آئی خان...... ۱۹۲۹ء/۱/۱۲.

الجواب: جلاب کول دَاحتقان معنی ده او احتقان دَجلاب په ارادې سره کولې شی ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: ولو اكل او شرب ما يتغذى به او يتداوى به فعليه القضاء والكفارة. (هداية على صدر فتح القدير ۲:۲۶۳ باب مايوجب القضاء والكفارة)

﴿۲﴾ قال العلامة الموصلي: ومن خاف المرض او زيادته افطر لقوله تعالىٰ: فمن كان منكم مريضا او على سفر فعدة من ايام اخر، معناه فافطر فعدة من ايام اخر لان المرض والسفر لا يوجبان القضاء.
(الاختيار لتعليل المختار ۱:۱۷۳ فصل فی المريض والمسافر)

﴿۳﴾ فیروز اللغات ص ۴۲۷ کښې دی، جلاب یوه داسې دوائی ده چه دې سره دست راځی، مسهل، دست راوستونکې دوائی. وقال ابن نجيم: احتقن اى وضع الحقنة فی الدبر (بحر الرائق ۲:۲۷۸) او په معدن الحقائق کښې دی (۲۳۶) د ختیې صفا کولو دپاره د پاخانې په مقام دوائی اچول، او په القاموس الجدید (۱۹۳) کښې دی، حقن حقنا: پچکاری کول، پچکارئ سره دوائی داخلول......(از مرتب)

دا ټول دَمسائل د هدایه دَعبارت ترجمه ده، چه دا مکمل او په تفصیل سره دَبهشتي زیور په حاشیه کښې موجود ده ﴿۱﴾.

په غرغرې کولو سره لوندوالې حلق ته په رسیدلو سره دَ روژې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په روژه کښې غرغرې وغیره کولو باندې لوندوالې حلق ته اورسیږي خو اوبه ختیې ته نه وي رسیدلې، نوآیا په دې سره روژه ماتیږي؟ بینواتوجروا.

المستفتی: اکرام الحق راولپنډی

الجواب: په دې صورت کښې دَفساد حکم ورکړې شوې دې ﴿۲﴾ لان عندتعذر الاطلاع على المسبب يدارالحكم على السبب الظاهر ﴿۳﴾ ولم اجده صريحا. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة المرغيناني: ومن احتقن او استعط او اقطر فى اذنه افطر ولا كفارة عليه ولو اقطر فى اذنه الماء او دخله لا يفسد صومه.
(هدايه على صدر فتح القدير ۲:۲۶۶ باب مايوجب القضاء والكفارة)

﴿۲﴾ يدل عليه ما قال الحصكفي: او خرج الدم من بين اسنانه ودخل حلقه يعنى ولم يصل الى جوفه اما اذا وصل فان غلب الدم او تساو يا فسد والا لا الا اذا وجد طعمه، قال العلامة ابن عابدين: ولما كان هذا القول خلاف ما عليه الاكثر من التفصيل حاول الشارح تبعا للمصنف فى شرحه بحمل كلام المتن على ما اذا لم يصل الى جوفه لئلا يخالف ما عليه الاكثر قلت ومن هذا يعلم حكم من قلع ضرسه فى رمضان ودخل الدم الى جوفه فى النهار ولو نائما فيجب عليه القضاء. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۰۷ قبيل مطلب مهم المفتى فى الوقائع لابدله الخ)

﴿۳﴾ قال الحافظ احمد ملا جيون: وقد يقام السبب الداعى والدليل مقام المدعو والمدلول...... وذلك اى قيام الداعى والدليل اما لدفع الضرورة والعجز كما فى الاستبراء...... او للاحتياط كما فى تحريم الدواعى الى الوطى من النظر والقبلة واللمس اقيمت مقام الوطى فى الاستبراء وحرمة المصاهرة والاحرام والظهار والاعتكاف للاحتياط فهو ايضا مثال لاقامة الداعى مقام المدعوا. (نور الانوار ۲۸۰ مبحث الاحكام)

انجکشن(ستن) روژې د پاره ماتونکې نه ده

سوال: چه مے فرمایند علماء دین درین مسئله که دوائی بواسطه انجکشن دربدن انسان خواه دررگ باشد یادرگوشت حکم شرعی چیست مفسد صوم است یانیست، بوجه خوب مع ادله شرعیه بیان کندزیرانکه دروطن یعنی افغانستان ولایت غزنی مایان بیسیارنزاع برپاست؟ بینواتوجروا.

المستفتی: مولوی سیدحسن کتوزغزنی افغانستان......۱۹۷۹ء.

الجواب: انجکشن خواه دررگ باشدیادرگوشت مفطرومفسدصوم نیست الا آنکه براه راست درصدریادربطن باشد، دلیل عدم فساد این است که درمیان دست وپاوباطن منفذنیست ودواء بذریعه مسامات درباطن مے رسد مثل روغن بادام وروغن کاهو، که بسرمالش کرده شوند ودرباطن دماغ بذریعه مسامات داخل مے شوند، وهرچیزکه بذریعه مسامات داخل شودمفسد روزه نیست.﴿۱﴾ یدل علیه مافی الهندیة ۱:۲۱۶ وما یدخل من مسام البدن من الدهن لا یفطر هکذا فی شرح ....

﴿۱﴾ وفی المنهاج: اعلم انه لیس بین العین وبین الدماغ والحلق منفذ، والدمع یخرج الی العین بطریق الترشح من المسامات کالعرق، والمفطر هو الدخول من المنافذ دون المسامات کما صرح به فی البحر وشرح المجمع وغیره ولذا لا یفطر الادهان والغسل وهذا یدل علی ان الدواء الداخل فی الباطن بتوسط الحقن والابرة لا یفطر سوآء ادخلت الابرة فی اللحم اوالعرق، لان هذا الدواء وان وصل الی اللحم والعرق بالمنفذ لاکنه یدخل الباطن بوساطة المسامات دون المنافذ لعدم المنفذ بین مثل الید والباطن، وعروق البدن لیست بمجوفة کما ان عروق الاشجار لیست بمجوفة وکما ان الماء یصل الی اغصان الاشجار واوراقها بالتموج فی العروق فکذلک الدم والدوآء تصل الی القلب وغیره بالتموج فی العروق.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴:۳۴ باب الکحل للصائم)

المجمع ولو اقطر شیئا من الدواء فی عینه لا یفسد صومه عندنا وان وجد طعمه فی حلقه واذا بزق فرئ اثر الکحل ولونه فی بزاقه عامة المشائخ علی انه لا یفسد صومه کذا فی الذخیرة وهو الاصح هکذا فی التبیین ﴿۱﴾. وهمچنین ازنیش عقرب وغیره این حکم عدم فساد مستفاد مے شود۔ وهو الموفق

دَ رګ او څرمن د انجکشن(ستن) حکم کښې هیڅ فرق نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَرګ او څرمن انجکشن سره روژه فاسدیږی او که نه؟ اوکه نه فاسدیږی نو په دواړو کښې څه فرق دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل ولی ګړهی کپوره مردان

الجواب: واضحه دې وی چه انجکشن په رګ کښې وی او که په څرمن کښې روژه پرې نه فاسدیږی، ځکه چه دَانجکشن په ذریعې سره دوائی جسم ته دَمساماتو په ذریعه سره رسیږی دَمنافذ په ذریعه نه،

والمفطر هو الثانی دون الاول کما فی الهندیة ۱:۲۱۶ وما یدخل من مسام البدن من الدهن لا یفطر هکذا فی شرح المجمع ولو اقطر شیئا من الدواء فی عینه لا یفسد صومه عندنا وان وجد طعمه فی حلقه واذا بزق فرئ اثرالکحل ولونه فی بزاقه عامة المشائخ علی انه لا یفسد صومه ﴿۲﴾

واضحه دې وی چه رګ دَپائپ په شان نه وی بلکه دَ اوني دَ جرړو پشان وی.﴿۳﴾.وهو الموفق.

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگریه ۱:۲۰۳ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۰۳ الباب الرابع فیما یفسد ومالایفسد)

﴿۳﴾...... ☆ قال العلامة شمس الدین محمد القهستانی: او وصل دواء الی جوفه او دماغه من غیر المسام فلو وصل شیئ من المسام الی الجوف......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ انجکشن په مسئلې باندې دوباره استفسار

سوال: محترم مفتی صاحب زیدمجدکم:

تاسو په فتوی کښې فرمائیلی دی چه انجکشن که په خرمن کښې وی او که په رګ کښې په دې سره روژه نه ماتیږی، خودلته بعض خلق په دې کښې اختلاف کوی، په تفصیل سره جواب راؤلیږئ ستاسو به ډیره مهربانی وی، چه مخالفینو ته جواب ورکړئ شی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: فضل ولی ګرهی کپوره مردان....۱۷/رمضان المبارک ۱۳۹۹ھ

الجواب: مونږ سره دَفتاوی عالمګیری جزئیات موجود دی، شائد چه ماحواله هم ورکړی وی، تاسو دَهغې مخالفینو دلائل اولیکئ او راولیږئ چه دَهغې جائزه واخستلې شی.وهوالموفق.

دَ رګ ستن(انجکشن) سره روژه نه فاسدیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ ته دَرګ په ستن

(بقیه حاشیه) لم یفسد بلا خلاف لکن ینبغی ان یکون مکروها علی الخلاف قیاسا علی صب الماء علی البدن.

(جامع الرموز ۱:۳۶۲ فصل موجب الافساد)

☆......قال العلامة النووی: لو اوصل الدواء الی داخل الساق او غرز فیه سکینا او غیرها فوصلت مخه لم یفطر بلا خلاف لانه لا یعد عضوا مجوفا.

(شرح مهذب ۵:۳۱۴ باب ما یفسد به الصوم ومالایفسد)

☆......قال الدکتور وهبة الزحیلی: لا یفسد الصوم عند الحنفیة بالحقن فی العضل او تحت الجلد اوفی الورید.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۷۱۲ مبحث ما یفسد الصوم ویوجب القضاء والکفارة)

کښې مشکلات پیښیږی څکه چه په دې سره دَروژې ماتولو اعتراضات موجود دی، نوآیا دَرګ په ستن سره یقیناً روژه ماتیږی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: لطیف الرحمٰن مردان.......۱۹۷۸ء/۸/۲۳

الجواب: دَرګ ستن (انجکشن) سره روژه نه فاسدیږی څکه چه په رګ سره دوائی وغیره بدن ته دَمسامونو په ذریعې سره رسیږی دَمنافذ په ذریعه سره نه.

کما فی الهندیة ۱:۲۱۶ ومایدخل من مسام البدن من الدهن لا یفطر هکذا فی شرح المجمع وفیها بعد عبارة واذا بزق فرئ اثرالکحل ولونه فی بزاقه عامة المشائخ علی انه لا یفسد صومه کذا فی الذخیرة وهو الاصح هکذا فی التبیین ﴿۱﴾ رګ دَپائپ پشان نه وی بلکه دَ بوټې دَ جرړو پشان وی.وهوالموفق.

په روژه کښې دَ ګلوکوز انجکشن یا ډریپ لګولو حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په روژه کښې ګلوکوز انجکشن یا ګلوکوز تهیلا لګولو سره په روژې باندې څه اثر پریوځی یا نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: ډاکټرحبیب الرحمٰن ورسک ډیم پشاور.......۱۹۸۲ء/۶/۲۹

الجواب: انجکشن یا ګلوکوز تهیلا لګولو سره روژه نه فاسدیږی څکه چه په دې طریقې سره دا دوائی زړه او اینې ته دَمسامونو په ذریعه رسیږی دَمنافذ په ذریعه نه، والمفطرهوالثانی دون الاول کما اشارالیه الفقهاء﴿۲﴾ البته په سینه او خیټه کښې براه راست انجکشن لګولو سره روژه فاسدیږی څکه چه دا

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ۱:۲۰۳ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وما یدخل من مسام البدن من الدهن لا یفطر هکذا فی شرح المجمع.

(فتاویٰ عالمګیریه ۱:۲۰۳ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)

دوائی په سوری سره باطن کښې داخلیږی. ﴿۱﴾. وهو الموفق.

دَ ملا هډوکی کښې انجکشن لګولو سره روژه نه فاسدیږی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَملا په هډوکی کښې بعض وخت انجکشن لګولې کیږی او دوائی ورته رسولې شی او دَ ملا دَ هډوکی په بدن کښې خاص حیثیت وی آیا په دې سره روژه ماتیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټر محمد علی جان غوریواله بنوں..........۱۲/۱۰/۱۹۷۵ء.

الجواب: دَ ملا په هډوکی کښې انجکشن لګول روژې دپاره نقصانی نه ده ځکه چه دا دوائی زړه وغیره ته دَمسامونو په ذریعه رسیږی چه دا نقصانی نه ده، ماخوذ ازهندیه ۱:۲۱٦. ﴿۲﴾ دې نه علاوه دَ لاسونو پښو په زخم باندې دوائی او پټئ لګولو سره روژه نه خرابیږی، البته که زخم په خیټه کښې سورې وی نو دَدوائې په داخل کیدو باندې او خیټې ته رسیدو په صورت کښې روژه فاسدیږی. ﴿۳﴾. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: او داوی جائفة او آمة فوصل الدواء حقیقة الی جوف دماغه،

قال ابن عابدین: الجائفة الطعنة التی بلغت الجوف او نفذته والآمة من اممته بالعصا الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۱۱ کتاب الصوم)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ومایدخل من مسام البدن من الدهن لا یفطر...... ولو اقطر شیئا من الدواء فی عینه لا یفطر صومه عندنا وان وجد طعمه فی حلقه واذا بزق فرئ اثر الکحل ولونه فی بزاقه عامة المشائخ علی انه لا یفسد صومه کذا فی الذخیرة.

(فتاویٰ عالمګیریة ۱: ۲۰۳ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الله بن مودود الموصلی: وقال ابویوسف ومحمد لا یفسد الصوم فی الجائفة والآمة لان الشرط عندهما الوصول من منفذ اصلی ولعدم التیقن بالوصول لاحتمال ضیق المنفذ وانسداده بالدواء وصار کالیابس، وله ان...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په انجکشن سره دَ روژې ماتیدلو حکم دَ اسلامی اصولو مخالف دې

سوال: محترم جناب مفتی محمد فرید صاحب مدظله العالی:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: عرض دې چه په انجکشن(ستن) سره روژه ماتیږی، په عنوان سرهٔ دا یو څو صفحې درلیږم، تاسومونږ دَ خپلې رائې نه خبر کړئ، واجرکم علی الله. (صفحات راته ملاؤنه شو)......(ازمرتب)

المستفتی: صوفی عبدالحمید سواتی مهتمم مدرسه نصرت العلوم ګجرانواله ۳/۱/۱۹۸۹ء

الجواب: ماته دې حکم (انجکشن (ستن) باندې دَروژې ماتیدو حکم) سره اتفاق نشته دې، دا دَاسلامی اصولو خلاف دی، په انجکشن سره دوا او غذا په بدن کښې دَمساماتو په ذریعې سره رسیږی دَمنافذ په ذریعه نه. ﴿۱﴾ دَ ستن په منتهی او په بدن کښې نه قدرتی سوره وی او نه مصنوعی، بهرحال دا نوی تحقیقات دَاسلامی اصولو مؤید جوړول نقصانی نه دی، اودې تحقیقاتو ته دَمتبوع درجه ورکول دَتحریف دین پیش خیمه ده. وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) رطوبة الدواء اذا اجتمعت مع رطوبة الجراحة ازداد سیلانا الی الباطن فیصل بخلاف الیابس لانه ینشف الرطوبة فینسد فم الجراحة، قال مشائخنا والمعتبر عنده الوصول حتی لو علم بوصول الیابس فسد، ولو علم بعدم وصول الرطب لا یفسد.

(الاختیار لتعلیل المختار ۱: ۱۷۰ فصل ما یفطر الصائم)

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: واما ما وصل الی الجوف او الی الدماغ عن غیر المخارق الاصلیة بان داوی الجائفة والآمة فان داواها بدواء یابس لا یفسد لانه لم یصل الی الجوف ولا الی الدماغ، ولو علم انه وصل یفسد فی قول ابی حنیفة وان داواها بدواء رطب یفسد عند ابی حنیفة وعندهما لا یفسدهما اعتبرا المخارق الاصلیة لان الوصول الی الجوف من المخارق الاصلیة متیقن به ومن غیرها مشکوک فیه فلا نحکم بالفساد مع الشک.

(بدائع الصنائع ۲: ۲۴۳ فصل فساد الصوم)

نسوار اچولو سره روژه ماتیږی

سوال: علمائي كرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نسوار اچولو سره روژه ماتیږی او که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: ملک تاج محمد طورومردان...... ۱۹۸۴ء/۴/۱۲

الجواب: چونکه نسوار تیریږی او ددې اثر په حلق کښې محسوسیږی لهذا نسوار استعمالولو والا به قضاء راوړی.ونظیره مافی شرح التنویر: **اذا مضغه ووجد طعمه فی حلقه**﴿۱﴾.وهوالموفق.

نسوارو باندې د روژې ماتیدلو تفصیل

سوال: علمائي كرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) دنسوارو عادتی د روژې په حالت کښې نسوار واچول.اودنسوارو نشه په بدن کښې خوره شوه خودنسوارو ذائقه(خوند) د لاړو سره خیټې ته داخل نه شواودنسوارو څه حصه هم حلق نه لاندې داخل نه شوه.بیاهغه نسوار اوتهوکول اوپه اوبوسره ئې خوله صفا کړه.په دې سره روژه ماته شوه او که نه؟

(۲) یو کس په خوله کښې نسوار واچول روستوهغه ته پته اولګیدله چه په کوم وخت هغه په خله کښې نسوار اچولی وو،هغې وخت صبح صادق شوې وو.په دې وجه باندې هغه روژه ماته اوګڼله او روستوئې بیاخوراک هم اوکړو.آیا په داسې سړی باندې کفاره لازم ده؟ بینواتوجروا.

المستفتی: مولاناعبدالحلیم کوهستانی(ایم این اے)

سابق مدرس دارالعلوم حقانیه....۱۹۸۹ء

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: الا اذا مضغ بحيث تلاشت فی فمه الا ان يجد الطعم فی حلقه الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۲۲ باب مایفسد الصوم ومالایفسد)

الجواب: واضحه دې وی چه تمباکونه مسکردې اونه مفطر،کمافی ردالمحتار ۶: ۴۵۹ آخرکتاب الاشربة الطبع المصطفی البابی،فانه لم يثبت اسكاره ولا تفتيره ولا اضراره ﴿۱﴾ اوزمونږ په علاقه کښې ددې استعمال په دوو(۲) طریقو سره کیږی.

(۱) لوګي تیرول (چلم یاسګریټ). (۲) په خوله کښې ږدل بغیر تیرولو.

قسم اول او طریق اول مفطر دی او عادتی سړی دپاره دکفارې موجب هم دې، کماصرحوا به﴿۲﴾.او دویم قسم اودویم طریق بذات خود مفطر نه دې،لانه یوضع فی الفم، نه ددې خوراک یا تیرول عادت وی.

وفی شرح التنویر عن البدائع ومفاده ان استقرار الداخل فی الجوف شرط للفساد، (باب ما يفسد الصوم ومالايفسده)﴿۳﴾. وان ثبت انه دخل الی جوفه فمفطر لا موجب للكفارة ونظيره مافی شرح التنوير واكل مثل سمسمة من خارج يفطر ويكفر فی الاصح الا اذا مضغ بحيث تلاشت فی فمه الا ان يجد الطعم فی حلقه﴿۴﴾. انتهیٰ.

فالصواب علی التحقيق عدم افطار الصوم، لكن لسدالباب علی العوام.

د تقید رعایت ضروری دې یعنی په حلق کښې دذوق محسوس کولو په صورت کښې مفطردې.﴿۲﴾.په دې سړی باندې دشک په وجه سره کفاره واجب نه ده.لاحتمال وجودطعمه فی الحلق وعدمه.وهوالموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۵: ۳۲۶ آخر کتاب الاشربة)

﴿۲﴾ قال العلامة الشرنبلالی: وعلی هذا البدعة التی ظهرت الآن وهو الدخان اذا شربه فی لزوم الكفارة وقال الطحطاوی: ای البدعة التی حدثت فی لزوم الكفارة علی هذا الاختلاف فمن قال ان التغذی ما يميل الطبع اليه وتنقضی به شهوة البطن الزم به الكفارة.

(طحطاوی علی مراقی الفلاح ۲۶۵ باب مايفسد الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء)

﴿۳﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰۷ باب مايفسد الصوم ومالايفسده)

﴿۴﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۲۲ باب ما يفسد الصوم ومالايفسده)

په نسوارو باندې د روژې ماتیدلو دوباره استفسار

سوال: په رمضان المبارک کښې مولانا عبدالحلیم کوهستانی په نسوارو باندې د روژې نه ماتیدو فتوی ورکړه او په دلیل کښې ستاسو فتوی پیش کوی د دې لړ وضاحت او کړئ څکه چه مونږ په دې باندې نه پوهیږو؟ بینوا توجروا.

المستفتی: منتظم اعلی بورډ آف ریونیو (زکاة وعشر) صوبه سرحد ..۱۹۸۹ء

الجواب: واضحه دې وی چه تمباکونه د نشې والا څیزدې اونه د اعضاؤ نشه کولو والا، څنګه چه علامه شامی رحمه الله په ردالمحتار ۲: ۴۵۹ کتاب الاشربة په آخر کښې لیکلی دی، فانه لم یثبت اسکاره ولاتفتیره ولااضراره ﴿۱﴾. یعنی تمباکو د نشې والا څیز کیدل یا بې خوشی پیدا کیدلو والا یا نقصان ورکولو والا ثابت نه دی او زمونږ په علاقه کښې تمباکو په دوو طریقو استعمالیږی.

(۱) لوړی تیرول (۲) د نسوارو په شکل کښې په څوله کښې ږدل.

اولنئ طریقې سره روژه فاسدیږی او په عادتی سړی باندې کفاره ورکول هم لازمیږی، څنګه چه په شامی ۲: ۱۳۴ فی اوائل باب مایفسد الصوم کښې دی ﴿۲﴾. او په دویمې طریقې سره ئې استعمال هسې خو مفطر نه دې څکه چه دا په څوله کښې ږدلئ کیږی اونه د دې تیرول عادت دې.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵: ۳۲۶ آخر کتاب الاشربة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله انه لو ادخل حلقه الدخان) ای بأی صورة کان الادخال حتی لو تبخر ببخور فاواه الی نفسه واشتمه ذاکرا لصومه افطر لامکان التحرز عنه...... وبه علم حکم شرب الدخان ونظمه الشرنبلالی فی شرح علی الوهبانیة بقوله. ویمنع من بیع الدخان وشربه، وشاربه فی الصوم لا شک یفطر، ویلزمه التکفیر لوظن نافعا، کذا دافعا شهوات بطن فقرروا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۶ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

یدل علیه مافی شرح التنویر عن البدائع ومفاده ان استقرار الداخل فی الجوف شرط للفساد، هامش ردالمحتار ۲: ۱۳۵ ﴿۱﴾ یعنی کوم څیزچه ټول په خیټه کښې غائب شی او په خیټه کښې پاتې شی نو په هغې سره روژه ماتیږی، البته که دا ثابته شی چه نسوار خیټې ته داخل شوی دی او حلق ته رسیدلی دی نو په دې سره به روژه فاسد وی، خو کفاره به لازم نه وی.

ونظیره مافی شرح التنویر: واکل مثل سمسمة من خارج یفطر ویکفر فی الاصح الا اذا مضغ بحیث تلاشت فی فمه الا ان یجد الطعم فی حلقه انتهیٰ هامش ردالمحتار ۲: ۱۵۳ ﴿۲﴾.

یعنی چه کله کونځلې (کنجد) په څوله کښې په داسې طریقې سره اوچوپې چه اجزاء کالعدم شی او د لعاب سره لعاب شی، نو د دې په تیرولو سره روژه نه فاسدیږی، البته که د دې اجزاء ذائقه په حلق کښې محسوس شی نو بیا به روژه فاسد وی، پس د تحقیق په وجه اګرچه روژه نه فاسدیدل صحیح دی خو عوام د بې باکئ نه بچ کولو د پاره په فتوی کښې د دې قید یعنی حلق ته رسیدل ضروری دی، څکه مونږ وایو چه نسوار تیریږی څکه په دې سره روژه ماتیږی.

(۲) په دې سړی باندې د شک په وجه کفاره واجب نه ده څکه چه په حلق کښې د ذائقې موندلو او نه موندلو دواړه احتمال موجود دی. وهوالموفق.

په اوبو کښې غوپه وهلو سره روژه نه فاسدیږی

سوال: علمائې کرام د دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په اوبو کښې د ننه غوپه وهلو سره روژه ماتیږی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی فقیر ګل ګرهی عثمان خیل ملاکنډ ایجنسی. ۱۹۷۵ء/۱۰/۱۲

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰۷ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۲۲ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

الجواب: په اوبو کښې غوپې سره روژه نه ماتیږی (ماخوذ ازهندیه ۱:۲۰۳).
﴿۱﴾ وهوالموفق.

دَ ښځې ښکلولو یا یوځائې څملاستلو سره روژه نه فاسدیږی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په رمضان شریف کښې دَ ورځې په وخت دَښځې سره یوځائې څملاستلوسره یا دَښځې په ښکلولو سره روژه ماتیږی یا نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: زبیراکبرافریدی......۲۱/۱۰/۱۹۷۵ء

الجواب: مضاجعت (دَیوبل سره غاړه کیدل) اوتقبیل (ښکلولو) سره روژه نه فاسدیږی، ټولو فقهاؤ دا صریحاً لیکلی دی.(۲). وهوالموفق.

استمناء بالید او بالفخذین سره روژه ماتیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په استمناء بالید سره روژه ماتیږی یانه؟ او دا ګناه صغیره ده او که کبیره؟ او کفاره لازم ده که نه؟ او دَ دواړو پنډو په مینځ کښې یعنی غیرسبیلین کښې دَذکراستعمال ګناه ده یا نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عطاء الله تېل......۲۵/جولائی ۱۹۷۹ء

جواب: الاستمناء بالید حرام اذا فعله لا ستجلاب الشهوة واما اذا.....

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومن اغتسل فی ماء وجد برده فی باطنه لا یفطره.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۰۳ الباب الرابع فیما لایفسد ومالایفسد)وقال العلامة ابن نجیم: ان خاض الماء فدخل اذنه لا یفسد. (البحر الرائق ۲:۲۷۸ باب مایفسد الصوم ومالایفسد)

﴿۲﴾ قال العلامة مرغینانی: ولو قبل لا یفسد صومه...... ولا بأس بالقبلة اذا امن علی نفسه ای الجماع او الانزال ویکره اذا لم یامن.
(هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۲۵۷ باب مایوجب القضاء والکفارة)

غلبته الشهوة ففعل ارادة تسکینها به فالرجاء ان لا یعاقب، والمختار انه یفسد الصوم وعلیه القضاء ولا یوجب الکفارة اذا انزل وهو المختار فلیراجع الی ردالمحتار ۲:۳۹۹﴿۱﴾ وهکذا حکم ایلاج الذکر بین فخذیه مسطور فی الصفحة المذکورة ایضاً﴿۲﴾. وهوالموفق

باقاعده چه انزال نه وی شوې نو روژه نه فاسدیږی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زما یو دوست دَ رمضان په آخری عشره کښې دَ یو انتهائی فحش ناول ډیر تعریف اوکړو،ما دَهغه نه کتاب واخستلو او دَهغې کتل مې شروع کړل.زه جنسی طورباندې لږ کمزورې هم یم،اودَې حقیقت نه خبرهم ووم چه دَدې کتاب کتلو نه پس بۀ ماته دَفرض غسل ضرورت راځی،کتاب مې اوکتلو،په دې دوران کښې مانه لږې اوبه تلې وې. په دې دوران کښې ماته دَمتیازو ضرورت هم پیښ شو

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قوله وکذا الاستمناء بالکف ای فی کونه لا یفسد لکن هذا اذا لم ینزل اما اذا انزل فعلیه القضاء کما سیصرح به وهو المختار...... فان غلبته الشهوة ففعل ارادة تسکینها به فالرجاء ان لا یعاقب...... واما اذا فعله لاستجلاب الشهوة فهو آثم......
ویدل ایضا علی ما قلنا ما فی الزیلعی حیث استدل علی عدم حله بالکف بقوله تعالیٰ والذین هم لفروجهم حافظون الآیة وقال فلم یبح الاستمتاع الا بالزوجة والامة فافاد عدم حل الاستمتاع ای قضاء الشهوة بغیرهما.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف.

﴿۲﴾ قال الحصکفی: او جامع فی مادون الفرج ولم ینزل یعنی فی غیر السبیلین کسرة وفخذ، قال ابن عابدین: اما لو انزل قضیٰ فقط ای بلا کفارة...... حیث قال اراد بالفرج کلا من القبل والدبر فما دونه حینئذ التفخیذ والتبطین.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۰۸،۱۰۹ قبیل مطلب حکم الاستمناء بالکف)

دَمتیازونه روستو هم دوه درې قطرې لاړې ماته پته نشته چه دا منی ده یامذی؟ دَهغې رنګ خالص سپین نه وو، اوس په دې حالت کښې په ما باندې کفاره لازم ده یاصرف قضا لازم ده، یا دواړه لازم دی یا هیڅ لازم نه دی، صرف روژه مکروه ده؟ بینوا توجروا.

الجواب: که ستاسو انزال نه وی شوې نو ستاسو روژه نه ده ماته شوې، دَ انزال مطلب دا دې چه دَمنی دَخارج کیدو په وخت درته مزه محسوس شی، دا مطلب نه دې چه دَمزې نه پس رطوبت خارج شی، پس که صرف دَ تفکر په وجه سره انزال شوې وی دَعضو مخصوص سره دَلاس لګولو نه بغیر، نو روژه فاسد نه ده، ګینې فاسد ده. (شامی)﴿۱﴾...﴿۲﴾ وهو الموفق.

دَ زوجینو دجماع په دوران کښې دصبح صادق په طلوع کیدو د روژې حکم

سوال: مایقول العلماء فی هذه المسئلة ان جامع رجل مع امرأته قبل صبح

﴿۱﴾ قال الحصكفي: او قبل ولم ينزل او احتلم او انزل بنظر ولو الى فرجها مراراً او بفكر وان طال لم يفطر.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۰٦ باب مايفسد الصوم ومالايفسد)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: ان الجماع المفسد للصوم هو الجماع صورة وهو ظاهر او معنى فقط، وهو الانزال عن مباشرة بفرجه لا فى فرج او فى فرج غير مشتهىٰ عادة او عن مباشرة بغير فرجه فى محل مشتهى عادة ففى الانزال بالكف او بفخيذ او تبطين وجدت المباشرة بفرجه لافى فرج...... وفى الانزال بمس آدمى او تقبيله وجدت المباشرة بغير فرجه فى محل مشتهى اما الانزال بمس او تقبيل بهيمة فانه لم يوجد فيه شيئ من معنى الجماع فصار كالانزال بنظر او تفكر فلذا لم يفسد الصوم اجماعاً.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۰۹ بعيد مطلب فى حكم الاستمناء بالكف)

الصادق فاذا اصبح عليهما وهما مشغولان بالجماع، اتجب الكفارة عليهما ام لا ام القضاء؟ بينوا توجروا

المستفتی: متعلم جامعه حقانیه اکوړه ختک... ۱۲ اکتوبر ۱۹۸۳ء

جواب: قال فى شرح التنوير على هامش ردالمحتار (۲: ۱۳۵) ولو مكث حتى امنىٰ ولم يتحرك قضىٰ فقط وان حرك نفسه قضى وكفر، وفى ردالمحتار: اما اذا لم ينزع وبقى فعليه القضاء ولا كفارة عليه فى ظاهر الرواية...... وما وجه به ظاهر الرواية يدل على عدم الفرق بين تحريك نفسه وعدمه انتهىٰ﴿۱﴾ وبالجملة ان مافى شرح التنوير فغير ظاهر الرواية. وهو الموفق

دَ منی وتلو په مختلف صورتونو کښې دَ روژې حکم

سوال: علمائې دین دې مسائلو په باره کښې څه فرمائی چه:

(۱) چه که یو سړې یو غلط حرکت اونکړی صرف په شهوت ترې منی اوځی، نو روژه ئې ماته شوه یا نه؟ او دَ کفارې څه حکم دې؟

(۲) او که دَورځې ورته شهوت راغې او په یوه یا دوه ګهنټې کښې یا په هروخت دَمتیازو کولو په وخت ورته دَمنی اثرات ښکاره شول، نو دَ روژې څه حکم دې؟ او کفاره لازم ده یا نه؟

(۳) او که شهوت نه وی راغلې صرف دَمتیازپه وخت کښې ورته دَمنی پشان اثرات ظاهرشی نو روژه ماتیږی او که نه؟ او دَغسل څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: لعل ګل ډاک اسماعیل خیل نوشهره......... ۱۰/۱۲/۱۹۷۲ء

الجواب: په درې واړو صورتونو کښې روژه نه ماتیږی او ترڅو پورې چه انزال

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۰۸ مطلب مهم المفتى فى الوقائع لا بدله من اجتهاد

....

نه وی شوې نو غسل هم لازم نه دي.(هنديه۱: ۲۱۷ ﴿۱﴾ شامی ۲: ۱۰۳)﴿۲﴾
وهوالموفق.

دَ روژې په حالت کښې دَ ښځې ښکلول او ترغاړه کېدو وغيره حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په رمضان شريف کښې دَورځې په وخت دَښځې سره بغيرمباشرت اوجماع نه ښکلول او ور ترغاړه کېدل اولاس لګول وغيره جائز دی يا نه؟ بينواتوجروا.

المستفتی: دلباغ محمدکوهاټ

الجواب: دَ روژې په حالت کښې داسې کول جائز دی،چه طرفين مامون وی.(حديث ﴿۳﴾ وهنديه ﴿۴﴾ وغيره ﴿۵﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾وفی الهندية: واذا نظر الی امرأة بشهوة فی وجهها اوفرجها کرر النظر اولا لا يفطر اذا انزل کذا فی فتح القدير وکذا لا يفطر بالفکر اذا امنی هکذا فی السراج الوهاج.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۲۰۴ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: اما الانزال بمس او تقبيل بهيمة فانه لم يوجد فيه شیء من معنی الجماع فصار کالانزال بنظر اوتفکر فلذا لم يفسد الصوم اجماعا.

(ردالمحتار ۲: ۱۰۳ باب مايفسد الصوم ومالايفسد مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)

﴿۳﴾عن عائشة رضی الله عنها قالت کان النبی صلى الله عليه وسلم يقبل وهو صائم ويباشر وهو صائم ولکنه کان املککم لاربه، متفق عليه واللفظ لمسلم وزاد فی رواية فی رمضان اخرجه البخاری فی الصيام باب المباشرة للصائم وقالت عائشة رضی الله عنها يحرم عليه فرجها (۱۹۲۷) ومسلم فی الصيام باب بيان ان القبلة فی الصوم ليست محرمة علی من لم تحرک شهوته (۱۱۰۶).

﴿۴﴾وفی الهندية: ولاباس بالقبلة اذا امن علی نفسه الجماع والانزال ويکره ان لم يأمن.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۲۰۰ الباب الثالث فيما يکره)

﴿۵﴾ قال الشرنبلالی: لا تکره للصائم القبلة والمباشرة ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

قئ فی الصوم کښې مفتی به قول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه من استقاء عمدا فسد صومه رواه ابوداؤد وذکره الزيلعی فی الکنزوايضاهذامذهب الامام محمد،خوپه شامی کښې دَدې مسئلې خلاف ئې ذکر کړې دې،په دې کښې ملا الفم او اعاده دوه شرطه زائدذکرکړی دی.ترجيح کوم قول ته دې،اودَ امام محمد رحمه الله مذهب ظاهری طورباندې دې حديث سره اتفاق ساتی؟ بينواتوجروا.

المستفتی: مبارک شاه مدرسه عربيع تجوړی بنوں.......۲۳/شوال ۱۴۰۱ھ.

الجواب: اکثر محققينو دَامام ابويوسف رحمه الله قول صحيح ګنړلئ دې،وجعلوا التقليل منه کالعدم و کاللعاب﴿۱﴾.وهوالموفق.

(بقيه حاشيه)مع الامن من الانزال والوقاع لما روی عن عائشة رضی الله عنها انه عليه السلام کان يقبل ويباشر وهو صائم رواه البخاری ومسلم وهذا ظاهر الرواية وعن محمد انه کره المباشرة الفاحشة وهی رواية الحسن عن ابی حنيفة لانها قل ما تخلو عن فتنة وفی الجوهرة قيل ان المباشرة تکره وان امن علی الصحيح وهو ان يمس فرجه فرجها وفی الظهيرية عن ابی حنيفة انه قال تکره المعانقة والمصافحة وانه خلاف المشهور انتهیٰ.

(امداد الفتاح شرح نور الايضاح ۶۹۶ فصل فيما يکره وفيما لا يکره وما يستحب)

﴿۱﴾قال العلامة الشرنبلالی: او استقاء ای تعمد اخراجه ولو دون ملأ الفم فی ظاهر الرواية لاطلاق قوله صلى الله عليه وسلم ومن استقاء عمدا فليقض وشرط ابويوسف ان يکون ملء الفم وهو الصحيح لان ما دونه کالعدم حکما حتی لا ينقض الوضوء.

(امداد الفتاح شرح نور الايضاح ۶۹۲ باب مايفسد الصوم)

وقال العلامة حسن بن عمار: اواستقاء ای تعمد اخراجه وکان اقل من ملأ فمه علی الصحيح وهذا عند ابی يوسف وقال محمد يفسد ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

(بقیه حاشیه) وهو ظاهر الروایة ولو اعاده فی الصحیح لا یفسد عند ابی یوسف کما فی المحیط لعدم الخروج حکما ولا ینقض الطهارة وقال الکمال وهو المختار عند بعضهم لعدم الخروج شرعا.

(مراقی الفلاح شرح نورالایضاح ۲:۲۲۲ باب فی بیان مالایفسد الصوم).

قال العلامة محمد امین : (قوله والا لا) ای وان لم یملأ القیٔ الفم واعاده کله او بعض لا یفسد صومه عند ابی یوسف...... هو المختار وفی الخانیة هو الصحیح وصححه کثیر من العلماء رملی.


(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۲۱ مطلب فی مایکره للصائم)

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ثلورم جلد

باب ماتجب به القضاء والکفارة



....

....

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالیٰ:........

فمن كان منكم مريضا

اوعلى سفرفعدة من ايام اخر

وعلى الذين يطيقونه فدية

طعام مسكين.

.....(البقرة: ۱۸۴).....

....

باب ماتجب به القضاء والكفارة

دَ روژې نه نیولو والا توبه صحیح او قضا فرض ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې وائی چه په توبه کولو سره ټول ګناهونه معاف کیږی، ځکه هغه روژه نه نیسی او دَاختر په ورځ توبه کوی چه آئنده دپاره به روژه نیسم، بیا رمضان راځی اوهم دا طریقه هغه اختیاروی آیا دا طریقه صحیح ده؟ او دې دپاره شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: مولوی عبدالحق......۱۹۷۵ء/۱۰/۲۸.

الجواب: قصداً عمداً روزانه نه نیول او مونځونه قضا کول، کبیره ګناه ده﴿۱﴾ اودَهرې ګناه نه توبه کول صحیح دی، چه په مخکښې ګناهونو باندې ملامتیا اوآئنده دپاره دَنه کولو عزم اوکړی، البته دَمرګ په وخت توبه

﴿۱﴾ قال الحافظ [illegible] الذهبی: الکبیرة الرابعة ترک الصلاة والسادسة افطار یوم من رمضان: [illegible] ر، وقال علیه السلام من افطر یوما من رمضان بلا عذر لم یقضه صیام الدهروان صامه وعن ابن عباس: عری الاسلام وقواعد الدین ثلاث شهادة ان لا اله الا الله والصلاة وصوم رمضان فمن ترک واحدة منهن فهو کافر.

(کتاب الکبائر للذهبی ۵۱ افطار یوم من رمضان بلا عذر)

نه قبلیږی﴿۱﴾.اوپه داسې تائب باندې قضا کول فرض دی،صرف په توبې سره هرڅه نه معاف کیږی﴿۲﴾.وهو الموفق.

(دسوال نه معلومیږی چه آئنده دپاره هم دنه کولو اراده ده ځکه داتوبه توبه نه ده......سیف الله حقانی).

دَ مفتی دَ فتوی په وجه سره په افطار کولو باندې کفاره نشته قضا شته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ دکلی څه خلقو دَدیرشمې روژې نه مخکښې سپوږمۍ اولیدله،اوزمونږدکلی یو مفتی صاحب فتوی ورکړه چه روژه ختمه کړئ او اختر کړئ،ځکه په هغې ورځ اختر کړئ شو،آیا دا اختر صحیح دې یا نه؟ اوکه صحیح نه وی نو کومو خلقو چه روژه ماته کړې ده په هغوی باندې اوپه هغې مفتی صاحب باندې قضا او کفاره لازم ده اوکه نه؟ اوکوم اعتکاف کونکئ چه دَاعتکاف نه بهر راوتلې وی په هغه باندې دوباره دَاعتکاف څه حکم دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عبدالستارمتعلم جامعه حقانیه........۱۹۷۴ء/۱۲/۱۲.

الجواب: دَمفتی په فتوی ورکولو سره په افطارکولوباندې کفاره لازم نه ده، البته دَهغې ورځ قضایعنی دَ روژې اواعتکاف دواړو قضا لازم ده،په شرط دَدې چه دَنورو علاقونه دَاختر خبر رارسیدلې نه وی،ګینې قضاهم لازم نه ده.

یدل علی علم التکفیر ما فی الدرالمختار: حتی لو افتاه مفت یعتمد ....

﴿۱﴾قال العلامة الفرهاری: ویغفر مادون ذلک ای ما سوی الشرک لمن یشاء من الصغائر والکبائر مع التوبة وبدونها التوبة هی الندم علی المعصیة والعزم علی عدم العود الیها......وهل یقبل توبة من حضره الموت والصحیح ما فی الحدیث ان الله یقبل توبة العبد مالم یغرغر رواه الترمذی اما ایمان الیأس فلا یقبل وهو حین یشاهد الکافر النار قبل موته ولذا لم یقبل ایمان فرعون.

(النبراس شرح شرح العقائد ۲۳۳ ویغفر مادون ذلک لمن یشاء)

﴿۲﴾ قال الشرنبلالی: وصوم رمضان فرض عین اداء وقضاء علی من اجتمع فیه اربعة اشیاء.

(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ۶۵۲ کتاب الصوم)

علی قوله او سمع حدیث ولم یعلم تأویله لم یکفر للشبهة، (هامش ردالمحتار ۲: ۱۴۹﴿۱﴾ واما القضاء فلان عدم التکفیر لا یستلزم عدم القضاء ولذا یقضی فی صورة الاحتجام نعم عند فساد الاعتکاف یقضی الیوم الواحد عند الطرفین واما عند ابی یوسف یقضی العشر اوالایام الباقیة والتفصیل فی ردالمحتار ۲: ۱۸۰ باب الاعتکاف فلیراجع﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ رمضان پنځه روژې ئې خوړلې وی او دَ پنځو واړو قضا او یوه کفاره لازمی ده

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دګناه نه دَنه خبریدو په وجه باندې مادَتیرشوی رمضان پنځه روژې خوړلې دی،اوس څه اوکړم، دَقضا اوکفارې څه صورت دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: محمد انعام غله ډهیرمردان......۴/رمضان ۱۴۱۰ھ.

الجواب: که چرې تاسو دَ روژې دَنیت کولو نه پس روژه خوړلې وی نو تاسو

﴿۱﴾. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۱۸ قبیل مطلب فی الکفارة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فلو شرع فی نفله ثم قطعه لا یلزمه قضائه لانه لا یشترط له الصوم علی الظاهر، قال ابن عابدین: وعلی کل فیظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتکاف المسنون بالشروع وان لزوم قضاء جمیعه او باقیه مخرج علی قول ابی یوسف اما علی قول غیره فیقضی الیوم الذی افسده لاستقلال کل یوم بنفسه وانما قلنا ای باقیه بناء علی ان الشروع ملزم کالنذر وهو لو نذر العشر یلزمه کله متتابعا ولو افسد بعضه قضی باقیه علی ما مر فی نذر صوم شهر معین والحاصل ان الوجه یقتضی لزوم کل یوم شرع فیه عندهما بناء علی لزوم صومه بخلاف الباقی لان کل یوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعیة وان کان المسنون هو اعتکاف العشر بتمامه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۴۳ باب الاعتکاف)

باندې دَقضا نه علاوه کفاره یعنی دوه میاشتې مسلسل روژې نیول هم فرض دی یعنی ۲۰+۵=۲۵ ورځې﴿۱﴾. او که تاسو دروژې دَنه نیولو اراده کړې وه، نوصرف قضادرباندې فرض ده اودکفارې شپیته(۶۰) ورځې فرض نه دی.(معتبرات فقه).وهوالموفق.

دَ روژې خوړونکی یا په بعض ورځو کښې دَ نه نیولو یا دَ ټولو روژو نه نیولو والا دپاره حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی.مونږ دَیورپ دَټولو نه بنائسته ځائې کښې اوسیږو.دَهغې ځائې دَماحول دَوجې نه مونږ سره درې قسمه مسلمانان دی:

(۱).بعض داسې دی چه روژې نیسی.دَپیشمنی دپاره پاسی اونیت کوی، خو صبا ته دولس یا یوه بجه بغیردَڅه عذر نه روژه ماتوی.

(۲).بعض روژې نیسی خودَهفتې اواتوار په ورځ روژه نه نیسی اودَپیشمنی دپاره هم نه پاسی،اوباقاعده وائی چه مونږ به دَ هفتې او اتوار په ورځ روژه نه نیسو.(۳).بعض خلق داسې دی چه صحت مند هم دی خو روژې دَدې په وجه باندې نه نیسی چه دا یورپ دې اوپه یورپ کښې روژې لازمی نه دی، دَدې درې واړه قسمه خلقو دپاره دَقضا او کفارې څه حکم دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: سلطان مسعودشاه مغربی جرمنی

الجواب: (۱).که داخلق دَخوراک څښاک یا دَ دوایئ په خوړلو سره روژه ماته کړی،نوپه دوی باندې دَقضا نه علاوه کفاره هم واحب ده.په شرط دَدې چه دَ روژې نیولو اراده ئې کړې وی.(ماخوذ از شامی) ﴿۲﴾_ (۲،۳) په دې خلقو

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ولو تكرر فطره ولم يكفر للاول يكفيه واحدة ولو فی رمضانين عند محمد وعليه الاعتماد بزازية ومجتبیٰ وغيرهما واختار بعضهم للفتویٰ ان الفطر بغير الجماع تداخل والا لا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۲۰ مطلب فی الكفارة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: وان جامع فی رمضان اداء......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

باندې قضا اوتوبه و استغفار لازم ده، کفاره واجب نه ده.(شامی) (۱).

ملاحظه:.........د کفارې نه مراد دا دې چه مسلسل دوه میاشتې به روژې نیسی. وهوالموفق.

دَ معتمد عالم.دَ فتوی په صورت کښې کفاره لازم نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه هلال کمیټې په اوولسم (۱۷) ستمبر ۱۹۷۴ء باندې اعلان اوکړو چه صبا په اتلسم(۱۸) ستمبر به ړومبئ روژه وی،خویومعتمدعالم دین دَحکومت په اعلان باندې احتجاج اوکړو چه فرضی نشته ځکه ټول کلی والو روژه ختمه کړه.هوټلې کهلاؤ شوې،دَهغې نه پس اته ویشت(۲۸) روژې پوره شوې اودې ګواهان هلال کمیټې ته راغلل او اختر اوکړئ شو.اوس سوال دا دې چه دَهلال کمیټئ اعلان دَروژې او اختر صحیح دې که نه؟ او زمونږ دا روژه ماتول دَ کفارې موجب ده که نه؟ بینواتوجروا.

المستفتی: غلام دستګیرلکی مروت........ ۲۷/نومبر ۱۹۷۴ء.

الجواب: (۱).دَهلال کمیټئ تفصیلی اعلان چه دَحکم دهنده او دَرؤیت په حکم وغیره باندې مشتمل وی،دَ روژې او اختر موجب دې.

كما يدل عليه ما فی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲:۲۷۰ لم يذكروا عندنا العمل بالامارات الظاهرة الدالة علی ثبوت الشهر كضرب المدافع فی زماننا والظاهر وجوب العمل بها علی من سمعها فمن كان غائبا عن المصر كاهل ....

(بقیه حاشیه) او اكل او شرب غذاء او دواء...... قضیٰ فی الصور كلها وكفر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۱۸ قبيل مطلب فی الكفارة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: اولم ينو فی رمضان كله صوما ولا فطرا مع الامساک لشبهة خلاف زفر او اصبح غيرنا وللصوم فأكل عمدا ولو بعد النية قبل الزوال لشبهة خلاف الشافعی ...... قضیٰ فی الصور كلها فقط.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۱۲ باب مايفسدالصوم ومالايفسده)

القریٰ ونحوها ﴿۱﴾ قلت وجه الدلالة ان الرادیو آلة محفوظة جدا والدلالة فیها اتم
وقلت ایضا ان التقیید بالتفصیل لفساد الزمان ورفع احتمال البناء علی قول الموقتین
(المهندسین) وغیرهم فافهم.

(۲) ظاهری طورباندې پرې کفاره واجب نه ده.

کما یدل علیه عبارة الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۴۹ وان جامع (الی ان قال) قضی وکفر لانه ظن فی غیر محله حتی لو افتا مفت یعتمد علی قوله او سمع حدیث ولم یعلم تاویله لم یکفر للشبهة وفی ردالمحتار: وفی النهایة ویشترط ان یکون المفتی ممن یؤخذ منه الفقه ویعتمد علی فتواه فی البلدة وحینئذ تصیر فتواه شبهة ولا معتبر بغیره ﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ چا ګواهي چه رد کړئ شي او روژه ماته کړي
نو په هغه باندې صرف قضا ده کفاره نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي، یوسړی او دَهغه ښځې اووئیل چه مونږ سپوږمۍ لیدلې ده، اوپه آسمان کښې وریځ هم وه، اودا دواړه متهم بالفسق هم دي، ځکه چه دوی دواړه بغیر دَڅه عذر نه کله ناکله مونځ پریږدي، عام خلقو او علماؤ دَدوی په وئیلو باندې عمل اونکړو، اوس هغوی صباروژه اونیوله اوپه مینځ کښې ئې ماته کړې ده، اوس په دوی باندې قضا او کفاره شته اوکه نه؟ بینواتوجروا.

المستفتي: ملاشیرمحمدلورآلائي بلوچستان........۱۹۷۸ء/۲۱/۱۰.

الجواب: دَکوم کس ګواهي چه دَفسق په وجه رد کړئ شي اوبیاروژه ماته کړي نوپه هغه باندې کفاره نشته او قضا لازم ده.

رای مکلف هلال رمضان اوالفطر ورد قوله بدلیل شرعی صام مطلقا وجوبا وقیل ندباً فان افطر قضی فقط فیهما لشبهة الرد. (الدر المختار علی هامش......

﴿۱﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲:۲۷۰ قبیل ما یفسد الصوم ومالایفسده)
﴿۲﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۱۸ قبیل مطلب فی الکفارة)

ردالمحتار ۲:۱۲۳ ﴿۱﴾ وهوالموفق

دَ قې کولو په وجه دَنظر په ګمان باندې ئې
اوبه اوڅکلې، نوپه ده باندې قضا واجب ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړي دَرمضان په میاشت کښې قې اوکړې، هغه اوګڼړل چه په دې سره روژه ماتیږي.لهذا دَهغې نه پس ئې قصداً اوبه اوڅکلې.اوس په ده باندې صرف قضاده یا کفاره هم ده؟ بینوا توجروا.

المستفتي: فقیراستادبهرت بنون....۳/ذی الحجة ۱۳۸۹ه.

الجواب: په دې کس باندې قضا واجب ده او کفاره واجب نه ده.

لما فی البحر وکذا لو ذرعه القی وظن انه یفطره فافطر فلا کفارة علیه لوجود شبهة الاشتباه (بحواله شامی ۲:۱۳۹) ﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ دمې دَ مریض دپاره دَ انهیلرسپرې استعمال دَ قضا او کفارې موجب دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دَدمې دَمریض دپاره انهیلرپمپ په رمضان کښې استعمالول څنګه دي؟ ځکه چه دَدې پمپ نه بغیر یوه ګهنټه تیرول هم مشکل وي، ځکه چه په دې پمپ کښې هوا وي، نوآیا دَدې هوا په دننه تلو باندې هم روژه ماتیږي؟ که ماتیږي نوپه ده باندې صرف قضا ده یا کفاره یا دواړه؟ بینواتوجروا.

المستفتي: مولانافتح محمد فاضل دیوبند عمرزئي چارسده

الجواب: هوا اګر چه جسم دې خودَدې داخلیدل او بهرتلل چه دَتنفس په طور

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۹۸ قبیل مطلب لاعبرة بقول الموقتین)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۱۱ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

سره نه وی علمائې کرامو په مفطرات کښې ذکر کړی نه دی. څنګه چه علمائې کرامو دَ جن او ملائک په باطن کښې داخلیدل په مفطرات کښې نه دی شمیرلی. حالانکه دا هم جسمونه د ی، پس معلومیږی چه اجسام لطیفه داخلیدل او بهروتل په روژې باندې هیڅ اثر نه پریوباسی، پس که دَپمپ په ذریعې سره صرف هوا داخلیږی نو مفطر نه دې، خو که دَدوایئ اجزا په پمپ کښې محفوظ وی او دَهوا سره په بدن کښې داخلیږی، او هم دا واقعه ده) نو دَ قضا او کفارې دواړو موجب به وی، قال فی الهدایة ۱۶۰ ولو اکل او شرب ما یتغذی به او یتداوی به فعلیه القضاء والکفارة ﴿۱﴾ وهکذا فی غیر واحد من کتب الفقه ﴿۲﴾ او دَهوا سره دَ دوایئ اجزا دَداخلیدو په صورت کښې که چرې دې مریض ته بغیر دَدې پمپ نه دَهلاکت یا دَمرض دَزیاتوالی قوی اندیښنه وی نو دَهغه دپاره روژه ماتول جائز دی، دَدې نه پس که صحت یاب شو، نو قضا به راوړی، او که صحت یاب نه شو نو په ده باندې کفاره ورکول ضروری نه دی.

لعدم وجود الشرط وهو ادراک ایام اخر، قالوا فی الهندیة ۱: ۲۲۰ ولو فات صوم رمضان بعذر المرض او السفر او استدام المرض والسفر حتی مات لا قضاء علیه لکنه ان اوصیٰ بان یطعم عنه صحت وصیته وان لم تجب علیه وفیها ایضا ۲۱۹ المریض اذا خاف علی نفسه التلف او ذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندنا وعلیه القضاء اذا افطر ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۲۶۳ باب مایوجب القضاء والکفارة)

﴿۲﴾ قال الامام شمس الدین القهستانی: او اکل او شرب غذاء او دواء وهو یوثر فی البدن بالکیفیة فقط کالکافور وغیره لکن فی المحیط لو اکل ما یتداویٰ به قصدا او تبعا لغیره یکفر وما لا فلا وفی الهلیلج روایتان...... عمدا احتراز عن الاکراه والخطاء والنسیان قضیٰ وکفر.

(جامع الرموز ۱: ۳۵۸ فصل موجب الافساد)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۰۷ الباب الخامس فی الاعذار التی تبیح الافطار)

غاښ ویستلو د پاره ړومبې دَ کیپسول خوړلو په صورت کښې قضا او کفاره دواړه واجب دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زما غاښونو ته چنجې اولګیدو، چه دَهغې په وجه سره په وورې کښې مې درد او پیپ پیدا شو، او دَ چار اندام په وخت کښې غاښونو نه به مې ډیره وینه بهیده، زمونږ محکمې زه راولپنډۍ ته یو ډاکټر ته اولیږلم. هلته ډاکټر په ۲۴ رمضان باندې زما دوه غاښونه اوویستل. دَدرد تکلیف کمولو دپاره او په وورو کښې اوبه وغیره نه تللو دپاره ډاکټر ماته یوه کیپسول راکړه، چه دَهغې په وجه روژه ماته شوه. اوس دَهغې په بدله کښې ما قضا روژه نیولې ده، خو بعضې خلق دَ کفارې وائی، آیا په ما باندې کفاره لازم ده؟ بینواتوجروا.

المستفتی: حاجی احمد الدین مدنی مسجد جامع سرائے قیام ټیکسلا ۱۳۸۹ھ

الجواب: که دَ سخت درد په وجه دې غاښ ویستلې وی او روستو دې کیپسول خوړلې وی، که دا دَدې سخت درد په وجه سره شوې وی، نو په دې صورت کښې کفاره نشته دې. ﴿۱﴾. او که دَغاښ ویستلو نه دې مخکښې کیپسول خوړلې وی چه دَغاښ ویستلو نه روستو سخت درد پیدا نه شی، او دَویستلو نه مخکښې درد نه وو، نو په دې صورت کښې کفاره واجب ده ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: المریض اذا خاف علی نفسه التلف او ذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندنا وعلیه القضاء واذا افطر کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۰۷ الباب الخامس فی الاعذار المبیحة)

...... خو دا جواب به هله وی چه درد دومره سخت وی چه ورسره دځان خطره وی او یا روژې سره د درد د زیاتوالی او اوږدوالی ویره وی...... (سیف الله حقانی)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: اذا اکل متعمدا ما یتغذی به او یتداویٰ به یلزمه الکفارة وهذا اذا کان مما یؤکل للغذاء او للدواء فاما اذا لم یقصد لهما فلا کفارة وعلیه القضاء.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۰۵ النوع الثانی مایوجب القضاء والکفارة)

په روژه کښې سګريټ څکلو سره کفاره لازم ده

سوال: علمائې کرام دې باره کښې څه فرمائی چه په سګريټ څکلو سره روژه ماتیږی او که نه؟ او صرف قضابه راؤړی یا کفاره هم؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عبدالله........۱۹۷۵ء/۱/۱.

الجواب: په عادتی سړی باندې په روژه کښې سګريټ او چیلم څکلو سره قضا او کفاره دواړه لازم دی(شامی ۲:۱۳۴) (۱). وهوالموفق.

په روژه کښې نسوار استعمالولو سره قضا لازم ده

سوال: ایها العلماء الکرام ما قولکم فی استعمال النبات المسمی بالتنباک والتتن....

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله انه لو ادخل حلقه الدخان) ای بای صورة کان الادخال حتی لو تبخر ببخور فآواه الی نفسه واشتمه ذاکر الصومة افطر لامکان التحرز عنه...... وبه علم حکم شرب الدخان ونظمه الشرنبلالی فی شرحه علی الوهبانية بقوله، ويمنع من بيع الدخان وشربه، وشاربه فی الصوم لاشک يفطر ويلزمه التکفير لو ظن نافعا کذا دافعا شهوات بطن فقرروا.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۰۶ باب ما يفسد الصوم ومالايفسده)

وقال الشرنبلالی: من ادخل بصنعه دخانا حلقه بأی صورة کان الادخال فسد صومه سواء کان دخان عنبر او عود او غيرهما حتی من تبخر ببخور فآواه الی نفسه واشتم دخانه ذاکرالصومه افطر لامکان التحرز عن ادخال المفطر جوفه ودماغه وهذا مما يغفل عنه کثير من الناس فليتنبه له ولا يتوهم انه کشم الورد ومائه، والمسک لوضوع الفرق بين هو تطيب بريح المسک وشبهه وبين جوهر دخان وصل الی جوفه بفعله.

(الطحطاوی علی المراقی ۱:۲۶۰ باب مالايفسد الصوم)

حيث تخلط معه النورة او رماد الاشجار او الماء ثم يضعونها تحت الشفت فی الفم، ثم يطرحونها بعد مضی وقت ويطرحون الريق المنجذبة من ابدانهم بسببه، وانی کنت تتبعت الکتب الموجودة عندی فما شفی صدری لکونه غير موصلة الی الجوف الا ان العاملين يقولون اذا استعملها فلا حاجة لنا للماء والطعام، فهل يفطر بها الصوم ام لا؟ بينواتوجروا

المستفتی: نامعلوم..........

جواب: التتن المخلوط بالماء والنورة لا يفطر فی نفسه نعم اذا دخل الحلق والباطن فيفطر البتة وقد تجربت ان طعمه يوجد فی الحلق ولو بعد المضمضة ويؤيد الافطار ما فی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۵۳ واکل مثل سمسمة من خارج يفطر ويکفر فی الاصح الا اذا مضغ بحيث تلاشت فی فمه الا ان يجد الطعم فی حلقه کما مر انتهی﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ ښځې سره جماع کولو باندې قضا او کفاره دواړه لازم دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ لاعلمئ په وجه سره ښځه خاوند دَ روژې په حالت کښې جماع اوکړی نو په دوی باندې صرف قضاده یا کفاره هم ده؟ او دَ جماع کولو په وخت کښې دَ پردې په حالت کښې وی، اوپه کفاره یا قضا کښې دواړه برابر شریک دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: خورشید انورراولاکوټ آزاد کشمیر......۱۹۸۳ء/۸/۱۷.

الجواب: که دَ روژې یادولو په حالت کښې جماع اوکړی نو دواړه به یوه ورځ

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۲۲ باب مايفسد الصوم ومالايفسده)

....

قضا او دوه میاشتې روژې دَ کفارې په طور نیسی(۱). او جماع دَ پردې په حالت کښې یوه مجمل جمله ده.لهذا وضاحت اوکړئ جواب به درکړو.
وهوالموفق.

ښځې سره دَ ملاعبت په وجه سره دَ انزال په صورت کښې صرف قضا ده

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَرمضان په میاشت کښې دَروژې په حالت کښې دَښځې سره په ځملاستلو او ترغاړه وتلو سره انزال (منی خارج) شی،نو صرف قضا به لازم وی یا کفاره به هم لازم وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: غلام حیدرمحکمه زراعت ایبټ آباد......۱۹۷۵ء/۲۲/۱۰.

الجواب: په داسی حالت کښې به صرف یوه ورځ روژه نیول فرض وی،په دې کښې کفاره نشته دې.کذافی الهندیة ۲۱۷:و اذا قبل امراته وانزل فسد صومه من غیر کفارة کذا فی المحیط(۲).وهوالموفق.

په روژې کښې په لاس سره منی خارج کولو باندې صرف قضا لازم ده کفاره نه

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو کس په رمضان کښې دَ روژې په حالت کښې دَخپلو لاسونو په ذریعې سره منی خارج کړی،نو دَ کفارې څه حکم دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: وحیداحمد تحصیل و ضلع کوهاټ..........۱۹۸۹ء/۲/۲۹.

(۱) قال العلامة الحصکفی: وان جامع المکلف آدمیا مشتهی فی رمضان اداء او جومع او توارت الحشفة فی احد السبیلین انزل اولا ...... قضی فی الصور کلها وکفر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۱۷ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

(۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۰۴ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)

الجواب: دَ روژې په حالت کښې په لاس سره منی خارج کولو باندې به صرف قضا لازم وی کفاره نه(۱).وهوالموفق.

په لاس سره منی خارج کولو په وجه باندې د نذر روژه دوباره په لاس سره منی خارجولو سره د روژې ماتولو په صورت کښې دَ قضا حکم

سوال: یو سړی خپل ځان باندې لازم کړه که دَشهوت پوره کولو دپاره ما جلق اوکړو، نو یوه روژه به نیسم،اوس دَشپې په وخت کښې داسی اوشو،نو صبا ئې روژه اونیوله،خودَ ورځې ئې بیا جلق اوکړو،په دې خیال سره چه زه دوه روژې به اونیسم،اوس دَدې کس څه حکم دې،دوه روژې به نیسی یا صرف دَدې یوې روژې قضا به کوی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالله پیښور یونیورسټی..........۲۸/شعبان ۱۴۰۳ ھ.

الجواب: که انزال نه وی شوې نو روژه فاسد شوې نه ده،او په ظاهره دا کار ګناه کبیره ده،اوکه انزال شوې وی نو دَدې روژې قضابه راوړی(۲) وهوالموفق
کتبه:.......... رشید احمد صدیقی عفی عنه.

الجواب: دَانزال په صورت کښې وجوبی طورباندې یوه روژه قضاراوړل دی(۳)

(۱) (قال العلامة ابن عابدین: قوله وکذا الاستمناء بالکف، ای فی کونه لا یفسد لکن هذا اذا لم ینزل اما اذا انزل فعلیه القضاء.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)

(۲) قال العلامة الحصکفی: وکذا الاستمناء بالکف، قال الشامی: ای فی کونه لا یفسد لکن هذا اذا لم ینزل اما اذا انزل فعلیه القضاء کما سیصرح به وهو المختار.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۰۹ مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)

(۳) قال العلامة المرغینانی: ان الکفارة تعلقت بجنایة الافطار فی رمضان علی وجه الکمال وقد تحققت. (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۲۶۴ باب مایوجب القضاء والکفارة). وفی الهندیة: ولا کفارة بافساذ صوم غیر رمضان کذا فی الکنز.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۱۵ باب المتفرقات کتاب الصوم)

او احتیاطي طورباندې به دوه روژې نیسي. وهوالموفق. (لاحتمال انعقادالنذر)

.......(سیف الله حقانی).

کتبه ......محمدفریدعفی عنه

دَ روژې په حالت کښې لواطت کولو

سره قضا او کفاره دواړه واجب دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی: که یو سړې په رمضان المبارک کښې لواطت اوکړی، نو په هغه باندې صرف قضا واجب ده یا کفاره هم؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فخرالدین نیازی ډی آئی خان.........١٩٧٧ء/١٨/٩.

الجواب: دَ لواطت کولو په صورت کښې به قضا او کفاره دواړه واجب وی.

کما فی شرح التنویر وان جامع فی رمضان اداء او جومع او توارت الحشفة فی احد السبیلین انزل اولا الی ان قال قضی فی الصور کلها وکفر هامش ردالمحتار ٢:١٤٧، ١٤٩ ﴿١﴾. وهوالموفق

په روژه دار زانی باندې قضا،کفاره،توبه او حد زنا لازم دی

سوال: علمائې کرام دَهغې سړی په باره کښې څه فرمائی چه هغه دَیوې ناواده شوې حائضه ښځې سره دَزنا اراده اوکړه، اودې سړی واده هم کړې وو او دَ روژې په حالت کښې هم وو. هغه اووئیل چه که دَاسې جماع شروع کړم نو بیا به لګاتار روژې نیسم، نوهغه دَ کاغذ یوه ټکړه تیره کړه، اوبیا ئې جماع (زنا) شروع کړه، اوس دا معلومول دی چه:

(١). بغیر دَشرعی عذر نه روژه ماتول څنګه دی، که دَ کاغذ په ټکړې سره ولې

﴿١﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:١١٧، ١١٨ باب مایفسد الصوم ولایفسده)

نه وی؟ دَ جماع په وخت کښې ورته معلومه شوه، چه هغه ټکړه دَده په تالو کښې وینختلې ده او خیټې ته نه ده تلې.

(٢). دَ دې کس روژه په جماع سره ماته شوه یا دَ کاغذ په ټکړې سره؟

(٣). اوس دَدې کس دپاره څه داسې کفاره شته چه په هغې سره دَدې کس ګناهونه معاف شی، او که هغه دَ روژې کفاره دَروژې په نیولو سره نه غواړی نو آیا بل څه صورت شته؟ بینواتوجروا.

المستفتی: میرصاحب شاه مرکزصحت اباخیل لکی مروت ١٩٧٩ء/١٨/٨

الجواب: (١). دَ شرعی عذر نه بغیر روژه ماتول حرام دی. قال الله تعالی: ولا تبطلوا اعمالکم الآیة ﴿١﴾.

(٢). دَ روژې ماتولو دارو مدار خیټې ته په تللو باندې دې، په حلق کښې داخل کیدو باندې نه دې. (شامی) ﴿٢﴾.

(٣). په داسې مجرم باندې قضا، دَروژې کفاره، توبه او حد لازم دې، البته دَحد متعلق څه تفصیل شته، چه هغه دَ فقهې دَ کتابونو نه معلومولې شی. وهوالموفق.

په قضا او کفاره کښې دَ زنا او لواطت یو حکم دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په رمضان کښې سړې او ښځه زنا اوکړی، نو قضا او کفاره دواړه لازم دی. خوچه کله غیر

﴿١﴾ (سورة محمد آیت: ٢٣ پاره: ٢٦)

﴿٢﴾ قال العلامة محمد امین: (قوله یعنی ولم یصل الی جوفه) ظاهر اطلاق المتن انه لا یفطر وان کان الدم غالبا علی الریق وصححه فی الوجیز کما فی السراج وقال ووجهه انه لا یمکن الاحتراز عنه عادة فصار بمنزلة ما بین اسنانه وما یبقی من اثر المضمضة...... حاول الشارح تبعا للمصنف فی شرحه بحمل کلام المتن علی ما اذا لم یصل الی جوفه.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ٢:١٠٧ باب مایفسد الصوم ومالایفسده)

محصن اغلام فی الدبر اوکړی نوپه لواطت کښې هم قضا او کفاره دواړه واجب دی یا صرف قضا؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عبدالسلام برگوکند سوات ضلع

الجواب: په قضا او کفاره کښې دَ قبل و دبر(مخې او شا) یو حکم دې﴿۱﴾. صرف دَ حد په وجوب کښې اختلاف دې﴿۲﴾.فلیراجع الی ابواب مفسدات الصوم وباب مایوجب الحدفی جمیع کتب الفقه.وهوالموفق.

په وجوب کفاره کښې دَ جماع حلال یا حرام هیڅ فرق نشته

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی:زمونږ په ځائې کښې یو سړی اووئیل چه دَخپلې ښځې سره او پردې سره په جماع کښې هیڅ فرق شته. هغه دا چه دَخپلې ښځې سره جماع کولو باندې کفاره واجیږی او دَزنا په صورت کښې صرف قضا واجب ده کفاره نه ده.ځکه چه په دې صورت کښې دَزنا په وجه سره په ده باندې حد جاری کیږی،اوحد اوکفاره دواړه جمع کیدې نشی.دَدې کس دا قول صحیح دې؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عبدالحمید لدها ډی آئی خان

﴿۱﴾ قال الشیخ الغنیمی المیدانی: ومن جامع آدمیا حیا عامدا فی احد السبیلین انزل اولا او اکل او شرب ما یتغذی به او یتداوی به فعلیه القضاء والکفارة لکمال الجنایة بقضاء شهوة الفرج اوالبطن.

(اللباب فی شرح الکتاب ۱:۱۵۷ باب مایفسد الصوم)

﴿۲﴾ قال العلامة ابوالحسین القدوری: فان کان الزانی محصنا رجمه بالحجارة حتی یموت...... وان لم یکن محصنا وکان حرا فحده مأة جلدة...... ومن اتی امرأة فی الموضع المکروه او عمل عمل قوم لوط فلا حد علیه عند ابی حنیفة ویعزر وقال ابویوسف ومحمد هو کالزنا الخ.

(مختصر القدوری علی صدر اللباب ۳:۵۹ کتاب الحدود)

الجواب: په ثلور واړو مذهبونو کښې چاهم دَموجب کفارې په حلال یا حرام کښې فرق نه دې کړې،لهذا دَدې فارق قول غلط دې،په ده باندې ضروری ده چه یو حواله پیش کړی،بله داچه هرکله په زناکونکې ښځې باندې کفاره واجب وی،نوپه زناکارسړی باندې به په بطریق اولی واجب وی.

لعدم الاختلاف الامام الشافعی فی حق الرجل الجامع، قلت ویدل علی الوجوب علیها فی الهندیة ۱:۲۱۸ ولو مکنت نفسها من صبی او مجنون فزنی بها فعلیها الکفارة بالاتفاق کذا فی الزاهدی. ﴿۱﴾. وهوالموفق

په روژه کښې دَ کپړوسره په جماع کولو باندې دَ قضا یا کفارې وغیره حکم

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید د هندې سره په روژه کښې په داسې کیفیت کښې جماع اوکړه چه په مینځ کښې درې پردې حائل وې،او دا جماع قصداً وه، نسیاناً نه وه،او انزال هم اوشو،اوس په زید باندې قضا او کفاره دواړه لازم دی یا صرف قضا؟ بینواتوجروا.

المستفتی: عمرخان ډیروی حقانی ډی آئی خان......... ۲۲/۴/۱۹۷۰ء.

الجواب: که دَدې پردو باوجود دَفرج دَحرارت احساس کیدو،نو کفاره او قضا دواړه واجب دی،اوکه حرارت نه محسوس کیدو،نوکفاره واجب نه ده،او دَ قضا په وجوب کښې تفصیل دې،یعنی که دَباقی بدن سره لمس بالید یابالفم وغیره نه وی شوې،نو قضا نشته دې،او روژه فاسد شوې نه ده،اوکه لمس شوې وی خوچه په مینځ کښې داسې پرده موجود وی چه دَحرارت احساس منع کوی،نوبیاهم روژه فاسد نه ده،اوکه بالکل پرده نه وی یاپرده دَحرارت احساس نه منع کوی،نوپه دې صورت کښې روژه فاسدا و قضا لازم ده.

فی ردالمحتار ۲:۱۴۲ لو مسها وراء الثیاب فامنی فان وجد حرارة جلدها فسدها ...

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۰۵ النوع الثانی مایوجب القضاء والکفارة)

والا فلا ﴿۱﴾. وفی الدرالمختار واصل ممسوسة بشهوة ولولشعر علی الرأس بحائل لا یمنع الحرارة ، قال العلامة الشامی ۲: ۳۸۵ فلو کان مانعا لا تثبت الحرمة کذا فی اکثر الکتب وکذا لو جامعها بخرقة علی ذکره انتهیٰ ﴿۲﴾. قلت ولا فرق فی الحرمة وسائر الاحکام فافهم. وهوالموفق

حقه(چیلم) څکل موجب قضا او احتیاطاً موجب کفاره دي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَرمضان المبارک په میاشت کښې دَچیلم څکلو څه حکم دې؟ صرف قضا به وی یا کفاره هم؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فقیراستادبنوں.......۳/ذی الحجة ۱۳۸۹ھ.

الجواب: په معتاد سړی باندې کفاره او قضا دواړه واجب دی، احتیاطًا، لما فی مراقی الفلاح: وعلی هذا البدعة التی ظهرت الآن وهو الدخان اذا شربه فی لزوم الکفارة ﴿۳﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۱۳ باب مایفسد الصوم ومالایفسد)


﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۴ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ قال الشرنبلالی: واختلفوا فی معنی التغذی قال بعضهم ان یمیل الطبع الی اکله وتنقضی شهوة البطن به وقال بعضهم هو ما یعود نفعه الی اصلاح البدن وفائدته فیما اذا مضغ لقمة ثم اخرجها ثم ابتلعها فعلی القول الثانی تجب الکفارة وعلی الاول لا تجب...... وعلی هذا البدعة التی ظهرت الآن وهو الدخان اذا شربه فی لزوم الکفارة، قال الطحطاوی: قوله فی لزوم الکفارة، حال من البدعة ای البدعة التی حدثت فی لزوم الکفارة علی هذا الاختلاف فمن قال ان التغذی ما یمیل الطبع الیه وتنقضی به شهوة البطن الزم به الکفارة وعلی التفسیر الثانی لا. (الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۱: ٦٦٥ باب مایفسد الصوم وتجب به الکفارة)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب العوارض المبیحة للفطر



....

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عن ابی هريرة قال

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

من افطر يوما من رمضان

من غيررخصة ولا مرض

لم يقض عنه صوم الدهر كله

وان صامه.

احمد،ترمذی،ابوداؤد،ابن ماجه،دارمی،

والبخاری فی ترجمة الباب

....

باب العوارض المبيحة للفطر

په حالت دَ اضطرار او مرګ ته نزدې سړی د پاره دَ روژې ماتولو حکم

سوال: علمائې کرام لاندې ذکرشوو مسائلوپه باره کښې څه فرمائی چه (١). روژه ماتول که فرضی وی یا نفلی په حالت اضطرارې کښې دَدې څه حکم دې؟

(٢). که یو سړې په ټوپک یا بل څه آله باندې اوویشتلې شی اودَهغه مرګ یقینی معلوم شی،اوس دا کس روژه نه ماتوی او وائی چه روژې ماتولو سره هسی هم ځان نه بچ کیږی،چه دَروژې په حالت کښې راته مرګ راشی نو بهتر ده.اوس دَ فتوی او تقوی په لحاظ سره دَدې کس څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی:عبدالحمیدایس وی درازنده ډی آئی خان ١٠/ربیع الثانی ١٣٩٢ھ

الجواب: (١). که دې روژه دار دَ تکلیف په حالت کښې خوراک اونکړو او مړ شو نو ګناه ګار به وی.وفی الهندية ٥ :٣٧٤ومن امتنع عن اكل الميتة حالة المخمصة او صام ولم ياكل حتى مات ياثم ﴿١﴾.

(٢).که خوردنوش ته مضطرنه وی نوده په عزیمت باندې عمل کړې دې ګنې مجرم دې﴿٢﴾.وهوالموفق.

مسافر ته په روژه کښې اختیار دې البته دَ عدم مشقت په صورت کښې روژه نیول افضل دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دې دور کښې

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ٥ :٣٣٨ الباب الحادى عشر فى الكراهة فى الاكل)

﴿٢﴾ قال الشرنبلالى: يجوز الفطر لمن حصل له عطش شديد او جوع مفرط يخاف منه الهلاک او نقصان العقل او ذهاب بعض الحواس وكان ذلک لا باتعاب نفسه اذ لو كان به تلزمه الكفارة وقيل لا. (امداد الفتاح شرح نور الايضاح ٦٩٩ فصل فى العوارض كتاب الصوم)

هرقسمه سهولیات مسافرو ته موجود دی، خومسافرته په رمضان کښې روژې معاف دی، اوس که یو مسافر په سفر کښې روژه اونیسی، آیا دا جائز دی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: علی گوهر، مسجد قصابان کندی هوتی خیل نوشهره ۱۹۷۴ء/۷/۲/۷

الجواب: په هر دورکښې مسافر ته اختیار ورکړې شوې دې، که روژې نیسی اوکه نه نیسی، البته چه دَ مشقت خطره نه وی نو روژه نیول په نسبت دَ نه نیولو نه بهتر دی، گناه په یو صورت کښې هم نسته دې (معتبرات فقه) ﴿۱﴾. وهوالموفق.

په بل ملک کښې مقیم سړې شرعی مسافر نه دې څکه روژې دې نیسی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی: مونږ څه کسان ایران ته راغلی یو، دلته سخته گرمی ده، مونږ دَیو غیرمسلم په کمپنۍ کښې کار کؤو. زما ملگرو یوه دوه دوه روژې اونیولې باقی ئې پریښودې، او وائی چه په سفر کښې روژې نه نیول هم جائز دی. الحمد لله ما ټولې روژې نیولی دی، آیا په دې سفر کښې مونږ روژې پریښودې شو، او چه روستو ئې اونیسو نو دا صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محبت خان ایران بندر ایران....... ۱۴۰۱/۲/۲۲ھ.

الجواب: تاسو هلته مقیم یئ، ددې وجهې نه تاسو شرعی مسافر نه یئ، لهذا تاسو به ټولې روژې نیسې، بغیر ضرورت نه روژه مه ترک کوئ (شامی) ﴿۲﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال الشرنبلالی: وصومه ای المسافر احب ان لم یضره لقوله تعالیٰ: وان تصوموا خیرلکم (البقرة: ۱۸۴).

(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ۶۹۹ فصل فی العوارض المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وعوارض المبیحة لعدم الصوم لمسافر سفرا شرعیاً، قال ابن عابدین: ای مقدرا فی الشرع لقصر الصلاة ونحوه وهو ثلاثة ایام ولیالیها ولیس المراد کون السفر مشروعا باصله ووصفه بقرینة مابعده.

(الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۱۲۶ فصل فی العوارض)

روژې نیولو سره په مرض کښې دَ زیات والی په صورت کښې دَ روژې نه نیولو اجازت دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی: که یو سړې په داسې بیمارۍ کښې اخته وی چه هغه مهلک او سخته بیماری وی، اوس که دَ رمضان په دوران کښې دوائی استعمال نه کړی نو دَزیات تکلیف ورته راتلئ شی، بلکه دَمرگ وجه ئې جوړیږی، نو داسې مریض ته څه کول پکار دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم............ ۱۹۷۷ء/۸/۲۶

الجواب: که یو دیندار طبیب یا ډاکټر دې مریض ته دا مشوره ورکړی، چه دې مرض کښې روژه نیولو سره په مرض کښې زیاتوالې راځی، نودامریض روژه ماتولئ شی، یعنی دَروژې نیت دې نه کوی، البته باقاعده قضاکول (په شرط دَ صحت) یا فدیه ورکول به لازم وی. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ دمې مریض دَ پاره دَ روژې حکم

علمائې کرام دې مسئلې په باره کښې څه فرمائی چه زما عمر تقریباً پنځه اویا (۷۵) کاله دې، دَ اسلامی عبادتونو، مونځ، روژه، زکوٰة او حج پوره پابندی کوم، تقریباً پنځلس کالو نه دَزکام نه روستو دمې مستقل مریض جوړ کړم، دگرمۍ په موسم کښې راته لږه گزاره کیږی، البته په یخنۍ کښې دا مرض نازک صورت اختیاروی، دې نه پس دَزړه په مرض کښې اخته شوم، روزانه دوه درې دورې راباندې دَزړه راځی، چه دې سره مې لاس پښې معذوره شی، بیاپه ناسته باندې مونځ کوم، په دې کال دَ دورو اود مرض

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: او مریض خاف الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض...... بغلبة الظن بامارة وتجربة او باخبار طبیب حاذق مسلم...... الفطر وقضوا ما قدروا بلا فدیة وبلا ولاء، قال ابن عابدین: المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۲۶، ۱۲۷ فصل فی العوارض)

زیات والی په وجه ډاکټرانو دَ ګرځیدو او روژه نیولو نه منع کړې یم، اوس چه رمضان مبارک نزدې دې، زړه مې غواړی چه روژې اونیسم، اوپه ختم کښې شریک شم، خو صحت اجازت نه راکوی، اوس زمادپاره شرعی څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی فضل ربی کوټ اسماعیل زئی مردان.... ۴/۸/۱۹۷۷ء

الجواب: تاسودَ روژې نیت کوئ، اودَ دورې راتلو په وخت خوراک اودوائی نه علاوه نورڅیزونه(پتې وغیره) سره روژه ماتوئ، دې نه پس دوائی استعمالوئ﴿۱﴾ اوکه دوره راتلل یقینی وی، نو روژه مه نیسئ، اوبهرحال دَدې روژو قضا صحت یاب کیدو نه پس ضروری ده، اودَقضانه کولو په صورت کښې دَمرګ نه پس فدیه ورکول ضروری دی﴿۲﴾. اوکوم مریض چه دَصحت نه نا امیده وی په ژوند هم فدیه ورکولې شی. (ماخوذ از ردالمحتار)﴿۳﴾. وهوالموفق.

مریض ته دَ لاپرواه ډاکټرپه هدایت باندې دَ روژې نه نیولو اجازت نشته دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ شوګریو مریض دې او دَ کیس بیمارهم دې، دماغی اودَقوت باه کمزوری هم ورته لاحق ده، یو ډاکټر هغه ته وائی چه روژې مه نیسه، اوس بعض علماؤ ورته دَ نه نیولووائی اوبعض ورته دَ نیولووائی، تاسوصاحبان تسلی بخش جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملتان خان پلوسه چارسده...... ۳۱/۷/۱۹۷۵ء.

﴿۱﴾ وفی الهندية: واذا ابتلع ما لا يتغذى به ولا يتداوى به عادة كالحجر والتراب لا يوجب الكفارة كذا فى التبيين، ولو ابتلع حصاة او نواة او حجرا او مدرا او قطنا او حشيشا او كاغذة فعليه القضاء ولا كفارة كذا فى الخلاصة.
(فتاوىٰ عالمگیریة ۱: ۲۰۲ الباب الرابع فيما يفسد وما لايفسد)

﴿۲﴾ یعنی ورثاؤ دپاره چه کله وصیت شوې وی اود ثلث ترکه نه ......(سیف)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى: او مريض خاف الزيادة ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: محترم المقام ملتان خان صاحب سلمه الرحمٰن السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چه موجوده ډاکټران حضرات زیات طورباندې دَدین پرواه نه کوی، لهذا تاسو دَ دینداره حکیمانو مثلاً لالاجی صاحب بام خیل﴿۱﴾ یامتشرع او متدین ډاکټرانو سره مشوره اوکړئ، اوبیا دَهغې موافق عمل اوکړئ﴿۲﴾. الله تعالی دې تاسو ته صحت نصیب کړی اودَنیک اعمالو توفیق دې درکړی. وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) لمرضه وصحيح خاف المرض...... بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبيب حاذق مسلم مستور...... وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدية وبلا ولاء......فان ماتوا فيه اى فى ذلك العذر فلا تجب عليهم الوصية بالفدية...... ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصية بقدر ادراكهم عدة من ايام اخر...... قال ابن عابدين: المريض اذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۲۶ تا ۱۳۰ فصل فى العوارض)

﴿۱﴾ دَ دوی پوره نوم مولانا عبدالوارث باچا دې، دوی دَبام خیل صوابی مشهور علمی او روحانی شخصیت مولانا عبدالقیوم باچادویم ځوې دې، ۱۹۰۲ء په ورځ دَ زیارت دوی پیدا شو، دوی دَمولانا عبدالمجید(تلمیذ شیخ الهند) نه ټول درس نظامی په تکمیل باندې سند الفراغ حاصل کړو، علم طب ئې هم دَدوی نه حاصل کړو، اوروستو ئې دَطب سلسله جاری اوساتله، دې نه علاوه طب دَدوی خاندانی مشغله وه، دَدوی پلار مولانا عبدالقیوم باچا چه دَمولانا عبدالحق لالاجی صاحب بام خیل ځوې وو، دَخپل زمانې مشهور طبیب وو، اوروزانه به ئې په سوونو مریضانو علاج کولو، دوی علوم ظاهریه دَتهند کوئی مولانا حمیدالله صاحب رحمۃ اللہ علیہ نه حاصل کړې وو، اودَخپل پلار نه په طریقه قادریه کښې بیعت وو، دوی په ۱۹ ستمبر ۱۹۳۹ دپیر په ورځ وفات شو، اوپه باجاکښې دَخپل والد صاحب سره خواکښې دفن کړو، مولانا عبدالوارث باچادَ دوی دویم ځوې وو، اودَخپل والد صاحب دخلیفه مولانا صفی الله نه دوی ته خلافت حاصل وو، ۵/ستمبر ۱۹۸۵ء باندې دَزړه په دورې راتلو سره دَدوی وفات اوشو، په اولاد کښې ئې ډاکټر عبدالبدیع باچا دَزړه دَمرض ډاکټر، ډاکټر عبدالصمد باچا ایم ډی(امریکه) کراچی او ډاکټر عبدالاحد باچا حیات دې. دَدوی تذکره دَمشاهیر علمائې سرحد اوشرح اسماء الحسنی قلمی ازمولانا محمدزاهد ابوالوفا افغانی نه اخستلې شوې ده............ ازمرتب.

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: اومريض خاف الزيادة......(باقی حاشیه په بله صفحه)

دَ هائی بلډپریشر مریض دپاره دَ روژې مسئله

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو کس دَهائی بلډ پریشرمریض دې، ډیرو علماؤ هغه ته دَروژې نه نیولو مشوره ورکړې ده، ځکه چه بغیر اوبو څکلو دَده مرض زیاتیږی، عمرئې تقریباً اتیا(۸۰) کاله دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مرزاخمی جگرسرډهیرئی چارسده........۱۹۷۹ء/۲۵/۷

الجواب: تاسو نه روزانه کمزوری کیږې اونه دَصحت نه مایوس یئ، تاسو په ژوند کښې فدیه نشې ورکولې،

کما فی ردالمحتار ۲:۴۳۷ **قوله وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی ای الذی فنیت قوته او اشرف علی الفناء ولذا عرفوه بانه الذی کل یوم فی نقص الی ان یموت نهر، ومثله فی القهستانی عن الکرمانی المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض ﴿۱﴾ قلت المراد من المریض العاجز عن الصوم،** البته که دَروژې په وجه ستاسو مرض زیاتیږی، دَتجربې وغیره نه دا ثابت وی، نو تاسو روژه ماتولئ شې. کمافی شرح التنویر، اومریض خاف الزیادة لمرضه الخ

(بقیه حاشیه) لمرضه وصحیح خاف المرض...... بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبیب حاذق مسلم مستور الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۲۶ فصل فی العوارض)

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: او مریض خاف الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض...... بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبیب حاذق مسلم مستور.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۲۶ فصل فی العوارض)

او په ژوندباندې فدیه نشې ورکولې، بلکه قضابه ئې راوړئ، او دَ قضانه کولو په صورت کښې به دَ فدیې دپاره وصیت کوی ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ روژې نه نیولو دپاره دَ مرض دَ زیاتوالی ظن غالب شرط دې، محض توهم او خطره نه

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی: یو سړې بیمار دې روژې نیولو سره ئې دَتکلیف زیاتیدو خطره ده، داسې سړې دپاره شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمداقبال اوورسیرپاک پی ډبلیوډی کوهاټ ۱۹۷۲ء/۱۰/۱۰

الجواب: واضحه دې وی چه فقهائې کرامو په مرض کښې دَزیاتوالی په وجه باندې دَ روژې ماتولو اجازت ورکړې دې، په شرط دَدې چه دا زیاتوالی یقینی وی، صرف توهم او خطره نه ﴿۲﴾. تاسو که دَیخنئ په موسم کښې دَ ماښام نه نمر راختلو پورې بغیرخوراک نه وخت تیرولئ شې، نو په دې ورځو هم دَنمر راختلو نه تردَنمرډوبیدو پورې وخت تیرولئ شې. وهوالموفق.

دَ غیر متدین ډاکټرانو په مشورې سره روژه نه نیول دَ شریعت خلاف دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی: زه په ۱۹۷۵ء کښې دَ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وقضوا لزوما ما قدروا بلا فدیة...... فان ماتوا فیه ای فی ذلک العذر فلا تجب علیهم الوصیة بالفدیة...... ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصیة بقدر ادراکهم عدة من ایام اخر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۲۷ فصل فی العوارض)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (وصحیح خاف المرض) ای بغلبة الظن کما یأتی فما فی شرح المجمع من انه لا یفطر محمول علی ان المراد بالخوف مجرد الوهم کما فی البحر.

(ردالمحتار هامش الدر المحتار ۲:۱۲۶ فصل فی العوارض)

تې بی مریض ووم. دَ کال ۱۹۷۹ پورې مې په بیمارئ کښې روژې اونیولې، دې نه پس مې بیماري زیاتیده، تردې چه په ناسته باندې مونځ کولو نه هم لاچار شوم، او وینه هم راته راتله، ۱۹۸۰ء پورې مې روژې اونه نیولې، بیا مې ډاکټرنه دَدې دَقضا په باره کښې تپوس اوکړو، نو اجازت راته ملاؤ نه شو، په سن ۱۹۸۰ء کښې مې بیا ایکسره اوکړه، نو صفا وه، خو دَ روژو اجازت راته ملاؤ نه شو. اوس په دې کال راته بیا دَ روژو اجازت ملاؤ نه شو، اوس (۱). زه دَ ډاکټر په مشوره باندې عمل اوکړم او که روژې اونیسم. (۲). دَ تیرشوو دوو کالو فدیه ورکړم یا وصیت اوکړم؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیق ډپټی ډائریکټرایگریکلچرپیښور.....۱۴۰۱/۷/۲۱ھ

الجواب: اکثرَ موجوده ډاکټرانو په زړه کښې دَدین اهمیت کم وی، لهذا صرف دَهغې ډاکټرانو دَمشورې په وجه باندې روژې نه نیول دَشریعت خلاف دی (۱) البته تاسو څه روژې اونیسې، اوتحری اوکړئ، که دَمرض دَزیاتوالی ظن غالب وی نو روژې مه نیسئ، اوتاسو بهرحال صحت مند کیږئ، اومرض په خپل ځائی ولاړ نه دې، نوتاسو په ژوند باندې فدیه نشې ورکولې (۲). وهوالموفق.

روژه دَ عادل ډاکټرپه مشورې یا دَ تجربې په بنیاد باندې نیول نه دی پکار

سوال: علمائې دین څه فرمائی دې مسئلې باره کښې: چه یو سړې مثلاً دَ

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله طبيب حاذق مسلم مستور) وقيل عدالته شرط وجزم به الزيلعي وظاهر مافى البحر والنهر ضعفه، قلت واذا اخذ بقول طبيب ليس فيه هذه الشروط وافطر فالظاهر لزوم الكفارة كما لو افطر بدون امارة ولا تجربة لعدم غلبة الظن والناس عنه غافلون. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۲۶ فصل فى العوارض)

(۲) قال الشيخ عبد الله بن المودود الموصلي: وان صح واقام ثم ما تا لزمهما القضاء بقدره لانهما بذلك القدر ادركا عدة من ايام اخر. (الاختيار لتعليل المختار ۱:۱۷۳ فصل فى المريض والمسافر)

مالیخولیاوغیره په مرض کښې اخته دې چه په دې کښې دَډاکټرانو په مشورې باندې به هروخت اوبه څکې، آیا داسې کس روژه نیولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حکم خان سرخ ډهیرئی مردان.........۱۴۰۱/۷/۱۵ھ

الجواب: که یو ماهرعادل ډاکټرتاسو ته مشوره درکړې، چه ستاسو دپاره روژه نیول نقصانی ده، نوتاسو ته دَروژې نه نیولو اجازت دې. خوموجوده ډاکټرانو کښې عادل ډاکټردکوم ځائې نه راوستلې شی، بهرحال روژه دَبرکت والا عبادت دې، پس دَتجربې په بنیادباندې نه نیول دَشریعت یوقدم دې، اودَ ډاکټرانو په مشورې باندې عمل کول دَایمان کمزورې ده (۱). وهوالموفق.

معدوم المال والنفقه او مجبوردهقان په رمضان کښې روژه نه نیولو سره مزدوری کولې شی؟

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو زمیندار یو سړې ته هزار روپې دَدهقانئ دپاره ورکړې، زمکه اوچیدو ته نزدې وه، زمیندارهغه ته اووئیل چه په رمضان کښې ئې ګوډ کړه، ګینې دَدهقانئ نه به دې معزول کړم، اوس که هغه په رمضان کښې بیوه (هل) چلوی، نودَ تندې دَوجې نه دَمرګ خطره ده، هغه ته یو مفتی صاحب فتوی ورکړه چه ستادپاره دَ اولنئ ورځې نه روژه نه نیول جائز دی. آیا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدخان حقانی لورالائی بلوچستان......۱۹۷۸ء/۹/۱۰

(۱) قال العلامة الحصكفي: او مريض خاف الزيادة لمرضه وصحيح خاف المرض...... بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبيب حاذق مسلم مستور. (قال العلامة ابن عابدين): وقيل عدالته شرط وجزم به الزيلعي وظاهر ما فى البحر والنهر ضعفه، قلت واذا اخذ بقول طبيب ليس فيه هذه الشروط وافطر فالظاهر لزوم الكفارة كما لو افطر بدون امارة ولا تجربة لعدم غلبة الظن والناس عنه غافلون. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۲۶ فصل فى العوارض)

الجواب: که دا دهقان عدیم المال اوعدیم النفقه وی، اودَشپې په وخت کښې ئې په زمینداریٔ کولو باندې وس نه وی، مختصرډَورځې په اولنۍ حصه کښې ئې یوې چلولو سره مقصدنه پوره کیږی اوپه زیات کارکولو سره ئې مرګ واقع کیږی، نودا دهقان روژه ماتولې شی.

کما فی ردالمحتار ۲:۱۵۷ ولکن لو آجر نفسه فی العمل مدة معلومة فجاء رمضان فالظاهر ان له الفطر وان کان عنده ما یکفیه اذ لم یرض المستاجر بفسخ الاجارة کما فی الظئر فانه یجب علیها الارضاع بالعقد ویحل لها الافطار اذا خافت علی الولد فیکون خوفه علی نفسه اولیٰ تامل ﴿۱﴾، قلت ولما کانت الاجارة اجارة مذکورة فی السوال فاسدة فجاز له الفسخ بلا رضاء رب الارض فلذا ذکرت قید کونه عدیم المال والنفقة. وهوالموفق

په رمضان کښې دَ بیمارۍ زیاتیدو په صورت کښې دَ روژې ماتولو حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! چه په رمضان کښې یو کس سخت بیمار شو او ډاکټرهم ورته اووئیل چه که روژه دې ماته نکړه نو بیماری دې خطرناک شکل اختیارولئ شی. آیا دا سړې روژه ماتولې شی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محبوب الرحمٰن سول بازارکیمل پور........ ۲۹/۴/۱۹۶۹ء.

الجواب: په دې حالت کښې روژه ماتول جائز دی، خوپه شرط دَدې چه دا خطره مثلاً تجربه یادَمسلمان غیرفاسق ډاکټرپه خبرباندې وی، توهم باندې نه وی، فی الهندیة ۱:۲۱۹ المریض اذا خاف علی نفسه التلف او ذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندنا وعلیه القضاء اذا افطر کذا فی المحیط ثم معرفة ذلک باجتهاد المریض والاجتهاد ....

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۲۵ قبیل فصل فی العوارض)

غیر مجرد الوهم بل هو غلبة الظن عن امارة او تجربة او باخبار طبیب مسلم غیر ظاهر الفسق ﴿۱﴾. وهوالموفق

شرعی مسافر او مریض عاجز چه دَ روژې نیولو وس نه لری، هغه ته دَ روژې نه نیولو اجازت دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَقرآن پاک آیت (وان کنتم مریضا اوعلی سفر) الآیة، کښې کوم یو سفر او کومه بیماری مراد ده، چه په هغې کښې روژه نه نیول جائز وی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: محمد طیب سخاکوټ ملاکنډایجنسی...... ۱۲/شوال ۱۴۰۴ھ.

الجواب: دَهرشرعی مسافر دپاره روژه نه نیول جائزدی، اوهرمریض روژه نشی ماتولې، صرف هغه مریض ته دَروژې نه نیولو اجازت دې کوم مریض چه دَ روژې نیولو طاقت نه لری یا په روژه نیولو سره ئې بیماری زیاتیږی. قضا په دواړه باندې باقاعده واجب ده. (ماخوذازشامی) ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۰۷ الباب الخامس فی الاعذار التی تبیح الافطار)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: لمسافر سفرا شرعیا ای مقدراً فی الشرع لقصر الصلاة ونحوه وهو ثلاثة ایام ولیالیها...... او مریض خاف الزیادة او ابطاء البرء او فساد عضو...... وصحیح خاف المرض ای بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبیب حاذق مسلم مستور.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ۲:۱۲۶ فصل فی العوارض)

....

باب الفدية

دَ ټول رمضان فدیه تقریباً(په انګریزی سیر باندې) یونیم من غنم دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی!زه دَیوسید خاندان ډاکټرنه علاج کوم.اودَمونځ روژې پابند سړې یم.دَدې ډاکټرمطابق ماروژې اونه نیولې.اودابیماری مسلسل ده.اوس به دَدیرشوروژو څومره فدیه ادا کوم؟ بینواتوجروا.

المستفتی: شمشیرخان حاجی زئی شبقدر.........۱۹۷۵ء/۲۸/۱۰.

الجواب: که تاسودَصحت یابی نه نااُمیده یئ،نوتاسو دَیوې روژې دوه سیره غنم ورکړئ،په دې حساب سره دَرمضان فدیه۲x۳۰=۶۰ ،یعنی انګریزی یونیم من غنم جوړیږی﴿۱﴾.وهوالموفق.

دَ روژې دَ فدیې مقدار او په مختلفو مسکینانوکښې دَ تقسیم مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! زمادَ مور دَخیټې اپریشن په رمضان کښې اوشو.چه دَهغې په وجه ئې ټولې روژې اونه نیولې.اوس ئې صحت صحیح دې.خودَروژو نیولو طاقت نه لری.اوس که فدیه ورکوی نو دَ دې مقدار به څه وی،اویومسکین ته فدیه ورکولې شی یا

﴿۱﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: واما الفدية عند الحنفية نصف صاع من برای قیمته بشرط دوام عجز الفانی والفانية الی الموت ومد من الطعام من غالب قوت البلد عن كل يوم عند الجمهور بقدر ما فاته من الايام...... وتجب الفدية ايضا بالاتفاق على المريض الذى لا يرجى برؤه لعدم وجوب الصوم عليه.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۷۴۳ المطلب الثالث الفدية)

نه؟ یعنی په ډیرو مسکینانوکښې به ئې تقسیمول وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عصمت خان c/o شیخ زرین کبابی

صدر بازار رسالپور چهاؤنی نوشهره.....۱۹۷۹ء/۲۸/۱.

الجواب: دَقوت اواستطاعت ساتلوپه صورت کښې پرې قضاواجب ده.اوپه دې صورت کښې دَقضانه کولو نه روستوفدیه یعنی پاؤکم دوه سیره (انګریزی) غنم دَیوې روژې په بدله کښې ورکول ضروری دی.اوچونکه کفاره دَفطر او ظهار یو شان ده.لهذه کفاره فطرکښې یومسکین ته په یوه ورځ کښې ډیرې کفارې به نه ورکولې کیږی.بې شک په بیله بیله ورځ کښې یوه یوه کفاره ورکول کافی ده.

فی الخلاصة کفارة الفطر وکفارة الظهار واحدة﴿۱﴾ ولو اعطى مسكينا واحدا كله فی يوم واحد لا يجزيه الاعن يومه ذلک وهذا فی الاعطاء بدفعة واحدة من غير خلاف اما اذا ملكه بدفعات فقد قيل يجزيه وقيل لا يجزيه الاعن يومه ذلک وهو الصحيح (۱:۵۳۸ هندية) ﴿۲﴾.فقط

شیخ فانی یادَ صحت نه چه مایوس نه وی نوفدیه ورکول بې قاعدې دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی !مانه دَرمضان اووه(۷) روژې پاتې شوی دی،باقی روژې مااونیولې،اوس زه مسکینانوباندې په روژه کښې روټئ خوړل غواړم،خودَاوړو دګرانئ په وجه باندې دا کار مشکل دې،آیا اوس دَرقم په حساب سره ورکولئ شم؟ بینواتوجروا.

المستفتی: شیرمحمدقریشی پیښور.

الجواب: تاسو نه شیخ فانی یئ اونه دَصحت نه مایوس یئ،لهذا ستاسودپاره په ژوندکښې فدیه ورکول بې قاعدې کاردې،تاسوچه کله صحت یاب شې،

﴿۱﴾ (فتاوئ عالمگيريه ۱:۲۱۵ المتفرقات مطلب بيان الكفارة)

﴿۲﴾ (فتاوئ عالمگيريه ۱:۵۱۳ الباب العاشر فی الكفارة)

نو قضابه کوئ، اوفی الحال په وصیت نامه کښې دَدې ذکر اوکړئ.﴿۱﴾

وهوالموفق.

دَ فدیې وس چه نه لرې هغه سړې دې استغفار وائی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! یو سړې دَلس کالونه بیمار پروت دې، چه هغه (تقریباً) دَ اتیاؤ (۸۰) کالو دې او ډیر سخت غریب دې، دَهغه دَآمدنئ څه مستقل ذریعه نشته، دَهغه یو ځوې روزانه مزدوی کوی او دَخپل بال بچ او دَپلار صاحب کفالت کوی. او دا سړې قرض دارې هم دې، په دې صورت کښې به دَداسې سړې دَ فدیې څه کیږی؟ بینواتوجروا.

المستفتی: محمدریاض جهګړا ایبټ آباد........ ۱۹۷۱ء/۲۰/۱۲

الجواب: که دامریض معمر او معسر دې، دَصحت یاب کیدو نه نااُمیده وی، نو دَهغه دپاره استغفار کافی دې.

یدل علیه مافی الدرالمختار وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا ولو فی اول الشهر وبلاتعدد فقیر کالفطرة لو موسرا والا فیستغفر الله، (وفی ردالمحتار ۲:۱۶۳) المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض انتهیٰ فافهم﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ ګردې مریض چه وس نه لری نو فدیه ورکولئ شی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زما ګرده دَپنځلس

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا) لان عذره لیس بعرضی للزوال حتی یصیر الی القضاء فوجبت الفدیة نهر ثم عبارة الکنز وهو یفدی اشارة الی انه لیس علی غیره الفداء لان نحو المرض والسفر فی عرضة الزوال فیجب القضاء وعند العجز بالموت تجب الوصیة بالفدیة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

شل کالونه خرابه ده، او دویمې ګردې ته هم مرض لګیدلې دې، ما په لندن کښې دَدې اپریشن اوکړو، او دګردې دریمه حصه ئې رانه کټ کړه، اوس زه دَ روژې طاقت نشم لرلئ، ډاکټرانو راته وئیلی دی چه روزانه تاسو کم ازکم دولس ګلاسه اوبه څکئ، نو آیا زه دَرمضان فدیه ورکولئ شم؟ بینواتوجروا.

المستفتی: حاجی محمدرحیم متنی پېښور......یکم ربیع الاول ۱۴۰۲ه.

الجواب: تاسو تجربه اوکړئ چه دَاوبه نه څکلونه ستاسو په تکلیف کښې زیاتوالې کیږی، پس که دَتجربې په طور باندې معلومه شوه چه په ښکاره طور باندې په تکلیف کښې زیاتوالې راځی، نو دا تجربه هم اوکړئ چه په دومره مقدار اوبه دَ شپې په وخت پوره کولو سره کفایت کیدې شی او که نه، که کفایت نه کیږی او ستاسو وس وی، او یخې علاقې ته تلئ شې، او بیا درته تکلیف نه وی، نو تاسو فدیه نشې ورکولئ﴿۱﴾. په صورت دَعکس که استطاعت نه وی نو ورکولئ شې﴿۲﴾. وهوالموفق.

بیمار د پاره دَ روژو فدیه، دَ فدیې مقدار اودَ فدیې دَ وخت مسئله

سوال: دې مسئلې باره کښې علمائې کرام څه فرمائی! په ما باندې تقریباً دَلس کالونه پیریان دی، اول طاقتور ووم، اوس کمزورې شوې یم، دَلوږې تندې په وجه مسلسل را باندې دَپیریانو دورې راځی، او صحت مې خرابیږی. په دې وجه باندې مادې ځل شپږویشت روژې (۲۶) روژې او خوړلې، بیاهم په

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وصحیح خاف المرض بغلبة الظن بامارة او تجربة او باخبار طبیب الخ، قال ابن عابدین: ای بغلبة الظن فما فی شرح المجمع من انه لا یفطر محمول علی ان المراد بالخوف مجرد الوهم کما فی البحر.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۲۶ فصل فی العوارض)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

کټ کښېنې پروت ووم؟ بینوا توجروا.

المستفتي: صاحبزاده سټیشنري کلرک پولیس لائن پېښور......۱۹۷۹ء

الجواب: تاسو به دَبیمارئ نه د صحت یاب کېدو نه روستو قضا کوئ، او دَ قضا نه راؤړلو په صورت کښې به فدیه ورکوئ. دَفدیې مقدار په انګریزی سېر پاؤکم دوه سېره غنم یا دَدې قیمت دې. او دَورکولو وخت دَشیخ فاني کېدو وخت دې. یا دَژوندنه دَناأمیدې وخت دې یا دَمرګ نه پس﴿۱﴾.﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ شل کالو نه روژه او دَ مونځ نه کولو والا دَ قضا او فدیې طریقه

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی ! ما دَ شل کالو نه روژه او مونځ نه دې ادا کړې، دَدې قضا به په څه طریقې سره ادا کوم؟ بینواتوجروا.

المستفتي: حاجی محمدرضا بازار دره ادم خیل کوهاټ....۱۴۰۱ھ/۷/۲۰

الجواب: دا سړې دې توبه او استغفار کوی او دَموځ او روژو قضا دې اوکړی، او څومره روژې چه دَ ده په ذمه باندې باقي پاتې شوې دَهغې متعلق دې دَ فدیې وصیت اوکړی﴿۳﴾. البته دَشیخ فاني په صورت کښې په ژوند کښې هم

﴿۱﴾ قال الشیخ عبد الله الموصلی الحنفی: ومن خاف المرض او زیادته افطر والمسافر صومه افضل ولو افطر جاز فان ماتا علی حالهما لاشیئ علیهما وان صح واقام ثم ماتا لزمهما القضاء بقدره ویوصیان بالاطعام عنهما لکل یوم مسکینا کالفطرة.
(الاختیار لتعلیل المختار ۱۷۳ فصل فی المرض والمسافر)

﴿۲﴾ (قال فی الهندیة: والاصل فیه ان کل صوم اذا کان اصلا بنفسه ولم یکن بدلا عن غیره جاز الاطعام بدلا عنه اذا وقع الیأس عن الصوم الخ.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۰۷ الباب الخامس فی الاعذار التی تبیح الافطار)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولومات وعلیه صلوات فائتة) ای بان کان یقدر علی ادائها ولو بالایماء فلیزمه الایصاء بها والا......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

فدیه ورکولئ شی. (شامی)﴿۱﴾. وهوالموفق.

شیخ فانی دې فدیه ورکوی او دَ وس نه لرلو په وجه دې استغفارکوی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! زما عمر تقریباً سل کاله دې. مالی حالت مې ډیر کمزوې دې. خیرات او صدقاتو سره مې قوت لایموت (ګزاره) کیږی. پخپله هیڅ کارنشم کولئ. بچی مې هم نشته. په تیر کال مې معمولی کار سره دَپنډئ هډوکې مات شو. شپږمیاشتې مسلسل په کټ کښې پروت ووم. اوس دَ ډانګورو په مدد سره ګرځم راګرځم. اوس روژې نیول زما دپاره ډیرې سختې دی. لهذا زما په باره کښې دَشریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتي: ګل رحیم باغ ارم مردان......۱۹۷۵ء/۲/۵

الجواب: که تاسو ته په تجربې سره معلومه وی چه تاسو روژه ترمانښام پورې نشې پوره کولئ نو تاسو دَشیخ فانئ په وجه سره روژه مه نیسئ، او دَ هرې روژې دپاره پاؤکم دوه سېره دَانګریزی سېر په مقدار غنم یا دَدې قیمت ورکوئ. او که دَدې فدیئ وس هم نه وی نو استغفار کوئ. (ماخوذ از ردالمحتار)﴿۲﴾. وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) فلا یلزمه. (ردالمحتار ۱:۵۴۱ مطلب فی اسقاط الصلاة)
وقال الحصکفی: واما من افطر عمدا فوجوبها علیه بالاولیٰ وفدی لزوما عنه ای عن المیت ولیه الذی یتصرف فی ماله کالفطرة قدرا بعد قدرته علیه ای علی قضاء الصوم.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۲۸ فصل فی العوارض)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفتدی وجوبا ولوفی اول الشهر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا ولو فی اول الشهر وبلا تعدد فقیر کالفطرة لوموسرا والا فیستغفر الله.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۳۰ فصل فی العوارض)

ضعيف په مرض کښې پروت بيمار فديه ورکولی شي

سوال: [illegible]

المستفتي: [illegible] ١٤٠١/٧/٢٢هـ

الجواب: [illegible]

---

(١) [illegible]

(٢) [illegible]

(٣) [illegible]

په فديه کښې مسکينانو ته د دوه وخته روټئ [illegible]

سوال: [illegible]

المستفتي: [illegible] (٢٥ شعبان ١٤٠٢هـ)

الجواب: [illegible]

---

(١) [illegible]

(٢) [illegible]

همیشه په مرض کښې پروت بیمار فدیه ورکولئ شی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زما پلارمحترم اپریشن کړې دې چه ددې په وجه هغه مسلسل د سلسل البول مریض جوړ شوې دې، د سترګو نظر ا و حافظه ئې دومره کمزورې شوې ده چه په مانځه کښې د رکعاتو تعدادهم یاد نه شی ساتلې. په دې صورت کښې هغه فدیه ورکولې شی یا نه؟ او د احنافو په مذهب کښې به فدیه څنګه اداکوی او مونځ به څنګه کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: میاں بشیرالدین موسسة الهنون مدینة المنوره ۱۴۰۱/۷/۲۲ھ

الجواب: ستا پلارمحترم که د روژو نیولو طاقت نه لری او ورځ په ورځ کمزورې کیږی نوهغه فدیه ورکولې شی یعنی دهرې روژې بدله احتیاطاً دوه انګریزی سیره غنم یا ددې قیمت مسکین ته ورکوی، (شامی) ﴿۱﴾ اود مونځ کولو په وخت څوک خادم وغیره دده سره کینی او ورته دې یادوی ﴿۲﴾ او فرض دې په شرط دطاقت سره په ولاړه کوی ﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۲۶ فضل فی العوارض)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: مصل اقعد عند نفسه انسانا فیخبره اذا سها عن رکوع او سجود یجزیه اذا لم یمکنه الا بهذا کذا فی القنیة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۳۸ قبیل صلاة المسافر)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وان قدر علی بعض القیام ولو متکئا علی عصا او حائط قام لزوما بقدر مایقدر ولو قدر آیة او تکبیرة علی المذهب لان البعض معتبر بالکل وان تعذرا لا القیام اومأ قاعدا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۵۶۰ باب صلاة المریض)

په فدیه کښې مسکینانو ته د دوه وخته روټئ خوړلو په صورت کښې نقد قیمت کافی نه دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه مانه دوه روژې قضا شوی دی اوس زما خیال دې چه دوه مسکینانوته یوسل شل وخته خوراک اورخروم آیا دا صورت صحیح کیدې شی؟ یا آسان صورت خودلو سره راته د شکریه موقعه راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرشید یو اې ای دوبئ ....۱۲۵ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: په فدیه اداکولو کښې ضروری ده چه یا هرمسکین ته نیمه څتهاکئ دپاسه دوه سیره (انګریزی) غنم یا ددې قیمت ورکړې شی ﴿۱﴾ اود خوراک ورکولو په صورت کښې دوه وخته خوراک ورکول ضروری دی د خوراک نقد قیمت ورکول کافی نه دې ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ککفارة المظاهر) مرتبط بقوله وکفر ای مثلها فی الترتیب فیعتق اولا فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینا لحدیث الاعرابی المعروف فی الکتب الستة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۱۹ مطلب فی الکفارة)

نوټ:.......د فطرانې د مقدار تفصیل ددې فتاوې په دریم جلد ص ۵۰۲ باب صدقة الفطر کښې اوګورئ.


﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فان عجز عن الصوم اطعم ستین مسکینا کالفطرة قدرا ومصرفا او قیمة ذلک من غیر المنصوص اذالعطف للمغائرة وان اراد الاباحة فغداهم وعشاهم. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۳۳ باب الکفارة)

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب الاعتکاف



....

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تبارک وتعالیٰ:

ثم اتموا الصيام الى الليل، ولا تباشروهن وانتم عٰكفون فى المسٰجد.

.......[البقره: ۱۸۷].........

....

باب الاعتکاف

سګریټ یا چیلم څکلو د پاره به معتکف د جمات نه بهرنه وځي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه که معتکف د سګریټ یا چیلم څکلو عادي وي،نو آیا هغه به ددې د پاره د جمات نه بهر وځي؟ بینوا توجرو.

المستفتي: نامعلوم ۱۰/۸/۷۲

الجواب: سګریټ او چیلم څکل د طبعي حاجتونو نه نه دي، ددې وجه نه دې د پاره به د جمات نه بهر نه وځي، البته ددې اجازت دې چه جمات کښې دې اودریږي او سردې بهر وباسي او لوګي د بهر پوک وهي.﴿۱﴾ لان الاعتبار للاقدام دون الراس ﴿۲﴾

﴿۱﴾ سګریټ څکل او چیلم څکل د کراهت نه خالي نه دي، او د بدبو په وجه ددې په جمات کښې څکل هم مکروه دي، لیکن دا ممنوع شرعي دي، ممنوع اعتکاف نه دي.
کما یدل علیه عبارة الهندیة: **واذا سکر المعتکف لیلا لم یفسد اعتکافه لانه تناول محظور الدین لا محظور الاعتکاف کما لو اکل مال الغیر.**(فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۱۳ **باب الاعتکاف**)
لهذا که د عادي سړي حاجت زیات شي، نو د تطبیق هم دا صورت دي، چه د جمات په احاطه کښې دې اودریږي او لوګي د بهر پریږدي، او خولهٔ دې صفا کړي او سر دې دننه کړي،

لان الاعتبار للاقدام دون الراس کما یدل علیه عبارة الهندیة: **ولا بأس ان یخرج رأسه الی بعض اهله لیغسله کذا فی التاتارخانیة.** (فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۱۳ بیان مفسدات الاعتکاف) ......(ازمرتب)

﴿۲﴾**وفی المنهاج: اعلم ان المعتکف لا یخرج من المسجد لشرب الدخان فالالیق ان یمکث فی المسجد ویخرج رأسه منه لان الاعتبار للاقدام دون الراس.**
(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴: ۷۴ **باب المعتکف یخرج لحاجته ام لا**)

د سخت ضرورت په وجه د اعتکاف پریخودلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه که یو سړي د خپل اهل عیال د بیمارۍ په وجه یا ناګهاني حادثې په وجه اعتکاف پریږدي.نو دا جائز دی او که نه؟

المستفتي: عبدالعزیز طوره وړئ کوهاټ

الجواب: د یقیني خطرې په وجه اعتکاف پریخودل جائز دی، پس معتکف چه په داسې حالت کښې د معتکف نه بهر وځي، نو اعتکاف فاسد شو.البته ګناه ګار به نه وي، ماخوذ از ردالمحتار ودر مختار ﴿۱﴾.وهو الموفق.

د محلې په هرجمات کښې د اعتکاف مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په رمضان کښې د محلې په هرجمات کښې اعتکاف مسنون دې، یا صرف په یو کښې؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: اعتکاف په عشره اخیره کښې مسنون علی الکفایه دې،

لکن انه لم یذکر فی روایة الاعتکاف فی سوی المسجد النبوی فی عهده ﷺ وهو یشیر الی انه یکفی اعتکاف شخص واحد من البلدة لکن التشبیه للاعتکاف بالتراویح مشیرا الی انه مسنون لاهل ....

﴿۱﴾**قال العلامة الحصکفی: واما ما لایغلب کانجاء غریق وانهدام مسجد فمسقط للاثم لا للبطلان والا لکان النسیان اولیٰ بعدم الفساد، وقال العلامة ابن عابدین: حیث جعل الخروج لعیادة المریض والجنازة وصلوتها وانجاء الغریق والحریق والجهاد اذا کان النفیر عاما واداء الشهادة مفسدا بخلاف خروجه الی مسجد آخر الخ.**
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۴۵ باب الاعتکاف)

کل مسجد من البلدة فافهم ولیرجع الی ردالمحتار ﴿۱﴾. وهوالموفق

د اعتکاف په دوران کښې په جمات کښې دنیاوی خبرې وغیره کول مکروه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د اعتکاف دوران کښې جمات کښې ګپ شپ لګول او دنیاوی خبرې کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرحمٰن اچهره لاهور شهر ۸/۹/۸۷

الجواب: دا عمل مکروه دې﴿۲﴾، د اعتکاف دوران کښې د عباداتو خاص خیال ساتل ضروری دی﴿۳﴾، وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله سنة علی الکفایة) نظیرها اقامة التراویح بالجماعة فاذا قام بها البعض سقط الطلب عن الباقین.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۱ باب الاعتکاف)

قال العلامة ابن عابدین: وهل المراد انها سنة کفایة لاهل کل مسجد من البلدة او مسجدواحد منها او من المحلة ظاهر کلام الشارح الاول واستظهر الثانی ویظهرلی الثالث لقول المنیة حتی لو ترک اهل محلة کلهم الجماعة فقد ترکوا السنة واساؤا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۵۲۱ مبحث فی التراویح)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: یکره للمعتکف التکلم بالمباح بخلاف غیره ای غیر المعتکف...... والمراد ما یحتاج الیه من امر الدنیا اذا لم یقصد به القربة والا ففیه ثواب...... انه مکروه ای اذا جلس له کما قیده فی الظهیریة ذکره فی البحر وفی المعراج عن شرح الارشاد لا بأس بالحدیث فی المسجد اذا کان قلیلا فاما ان یقصد المسجد للحدیث فلا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۷ قبیل مطلب فی لیلة القدر)

﴿۳﴾ قال العلامة النظام: (المعتکف) یلازم التلاوة والحدیث والعلم وتدریسه وسیرالنبی صلی الله علیه وسلم والانبیاء علیهم السلام واخبار الصالحین......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د دکانونو د پاسه جوړ شوې جمات کښې د اعتکاف مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه کوم جمات په بازار کښې د دکانونو د چت دپاسه جوړ شوې وی. اوخلق په هغې کښې پنځه وخته مونځ کوی. آیا په هغې کښې د اعتکاف دپاره کښیناستل پکار دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: کوم جمات چه مملوک غیر موقوف دکانونو باندې جوړ شوې وی. هغه مسجد عرفی دې. مسجد شرعی نه دې. کما فی وقف البحر﴿۱﴾ پس داسې قسمه جماتونو کښې اعتکاف دپاره کښیناستل صحیح نه دی. لان المسجد له شرط﴿۲﴾ وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) وکتابة امور الدین، فان فیه تسلیم المعتکف کلیته الی عبادة الله تعالیٰ فی طلب الزلفی وتبعید النفس من شغل الدنیا التی هی مانعة عما یستوجب العبد من القربیٰ واستغراق المعتکف اوقاته فی الصلاة اما حقیقة او حکما لان المقصد الاصلی من شرعیته انتظار الصلاة بالجماعات وتشبیه المعتکف نفسه بمن لا یعصون الله ما امرهم ویفعلون ما یؤمرون وبالذین یسبحون اللیل والنهار وهم لا یسأمون.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۱۲ الباب السابع فی الاعتکاف)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: ان شرط کونه مسجدا ان یکون سفله وعلوه مسجدا لینقطع حق العبد عنه لقوله تعالیٰ وان المساجد لله بخلاف ما اذا کان السرداب او العلو موقوفا لمصالح المسجد فانه یجوز اذ لاملک فیه لاحد بل هو من تتمیم مصالح المسجد.

(البحر الرائق ۵: ۲۵۱ فصل فی احکام المساجد کتاب الوقف)

﴿۲﴾ قال فی الهندیة: واما شروطه فمنها النیة...... ومنها مسجدالجماعة الخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۱۱ الباب السابع فی الاعتکاف)

وقال العلامة الحصکفی: والکون فی المسجد ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ښځو لره د اعتکاف د پاره کور کښې ځاني مخصوص کول پکار دي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د ښځو دپاره اعتکاف کول جائز دی او که نه؟ او زمونږ په علاقو کښې په کورونو کښې د مونځ دپاره ځائي یا کمره مخصوص نه وی، نو ښځه په کوم ځائي اعتکاف کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی : نامعلوم

الجواب: ښځې هم اعتکاف کولې شی، کما فی در المختار او لبث امرءة فی مسجد بیتها﴿۱﴾ او کور کښې چه کوم ځائي غواړی پرده د ؤلګوی او د اعتکاف دپاره دې ځائي مخصوص کړی.﴿۲﴾ وهو الموفق

د جمعې مونځ د پاره بل جمات ته تلل د اعتکاف د پاره مفسد نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه که یو عالم یو معتکف ته حکم وکړو، چه د رمضان په آخرکښې معتکف وو، چه د ظهر او عصر دپاره بهرد انسانی حاجت نه فارغیدونه پس هم په هغه بهروالاجمات کښې د جمعې سره مونځ ادا کړه، اوس اګر چه په دې جمات کښې هم د جمعې سره مونځ کیږی، په کوم کښې چه اعتکاف کوی، اوس دې مونځونو دپاره بهر تللو باره کښې په اعتکاف مسنون عشراخیره کښې علماء څه فرمائي، اعتکاف فاسد دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی : مولوی امین الدین بروخیل میرعلی وزیرستان ۲۳/۱۲/۱۹۷۱

(بقیه حاشیه)والنیة من مسلم عاقل طاهر من جنابة وحیض ونفاس شرطان.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۴۱ باب الاعتکاف)

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۴۰ باب الاعتکاف)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو لم یکن فی بیتها مسجد تجعل موضعا منه مسجدا فتعتکف فیه کذا فی الزاهدی. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۱۱ باب الاعتکاف)

الجواب: معتکف د جمعې د مونځ دپاره بهر وتلې شی.

ولم اجده صریحا لکن یدل علیه ما فی ردالمحتار ثم فی الجامع قیل اذا کان یصلی فیه بجماعة فان لم یکن ففیٔ مسجده افضل لئلا یحتاج الی الخروج (۲: ۱۴۲)﴿۱﴾ وجه الدلالة ان الجماعة واجبة علی العین ﴿۲﴾ فلولم یجز الخروج لقال "ففی مسجده واجب" فافهم واعلم ان عند الصاحبین فیه توسعا ﴿۳﴾ فلیراجع. وهوالموفق

معتکف د پاره د سګریټ نوشی او مریضانو له په قیمت بانډې دوائي ورکولو نه بچ کیدل پکاردی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی چه د جامع مسجد امام هم دې، سګریټ څکی او طبیب هم دې، په رمضان کښې اعتکاف دپاره کښیناستل غواړی، د اعتکاف دوران کښې دا امام سګریټ څکلې شی او مریضانو ته دوائي ورکولې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی : محمدعبدالرحیم عزیز کبیروالا ملتان ۱۹/۳/۱۹۶۹

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۰ باب الاعتکاف)

﴿۲﴾ قال الشامی: قال الزاهدی ارادوا بالتاکید الوجوب وفی النهر عن المفید الجماعة واجبة وسنة لوجوبها بالسنة...... وقال فی شرح المنیة والاحکام تدل علی الوجوب من تارکها بلا عذر یعزر وترد شهادته ویأثم الجیران بالسکوت عنه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۴۰۸ باب الامامة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: لو خرج لحاجة الانسان ثم ذهب لعیادة المریض اولصلوة الجنازة من غیر ان یکون لذلک قصد فانه جائز بخلاف ما اذا خرج لحاجة الانسان ومکث بعد فراغه انه ینتقض اعتکافه عند ابی حنیفة قل او کثر وعندهما لا ینتقض مالم یکن اکثر من نصف یوم کذا فی البدائع.

(البحر الرائق ۲: ۳۰۲ بحث فان خرج ساعة بلاعذر)

الجواب: سګریټ څکل او مریضانو ته په قیمت باندې دوائي ورکول د ثواب په کار کښې داخل نه دی، لهذا ددې نه بچ کیدل پکاردی (بحر ۲:۳۰۴)﴿۱﴾.. وهوالموفق

د اعتکاف د پاره د ګرمۍ په موسم کښې یخو علاقو ته د تللو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د ګرمۍ د تکلیف نه بچ کیدلو د پاره د اعتکاف دپاره یخو علاقو ته سفر کولو شرعا اجازت شته او که نه؟ هرکله چه د ګرمۍ د سختۍ په وجه د ژوند معمولات کافی متاثره کیږی، او دې سفر اختیارولو کښې هوټل ته د پیشمنی دپاره او روژه ماتی دپاره د تللو اجازت شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد طیب سخاکوټ ملاکنډ ایجنسی ۱۵/۷/۸۴

الجواب: واضحه خبره داده، چه د روژې یا اعتکاف دپاره یخو علاقو ته سفرکول نه خو مطلوب شرعی دی، او نه ممنوع شرعی، بلکه مباح دی. اذا لم یستطع الصیام الافیه، او کوم معتکف چه خادم نه ساتی نو هغه د خوراک څکاک دپاره کور وغیره ته تللې شی. کما فی ردالمحتار والبحر وغیره﴿۲﴾ لکن

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله وکره احضار المبیع والصمت والتکلم الابخیر)......: ان المراد بالخیر هنا مالا اثم فیه فیشمل المباح وبغیر الخیر ما فیه اثم...... وقال فی الهدایة لکنه یتجانب ما یکون مأثما والظاهر ما ذکرناه کما لا یخفیٰ قالوا ویلازم قراء ة القرآن والحدیث والعلم والتدریس وسیرالنبی ﷺ وقصص الانبیاء وحکایات الصالحین وکتابة امور الدین.

(البحر الرائق ۲: ۳۰۴ باب الاعتکاف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله لعدم الضرورة) ای الی الخروج حیث جازت فی المسجد وفی الظهیریة وقیل یخرج بعد الغروب للاکل والشرب وینبغی حمله علی ما اذا لم یجد من یأتی له به فحینئذ یکون من الحوائج الضروریة کالبول بحر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۶ باب الاعتکاف)

اصل مشهور الضروری یقدر بقدر الضرورة﴿۱﴾. په دې بناء باندې خوراک وغیره جمات ته راوړل او خوړولې شی. وهوالموفق

د معتکف د اخراج ریح د پاره د جمات نه د وتلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه که معتکف ته د اخراج ریح ضرورت راشی، نود جمات نه بهربه ؤځی که نه؟ که بهر لاړو نو اعتکاف ئې فاسد شو او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید رحمن ډګر سوات

الجواب: د اخراج ریح دپاره د جمات نه بهر وتلو باندې اعتکاف نه متاثر کیږی. لانه من ممنوعات المسجد، اګرچه د بعضو په نزد په جمات کښې د اخراج ریح رخصت شته دې، ﴿۲﴾ وهو الموفق

د جمعې د پاره جامع مسجد ته تلل مفسد اعتکاف نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د جمعې د مونځ دپاره جامع مسجد ته تلل اعتکاف لره ماتونکې دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرحمٰن دارالعلوم أیوبیه تجوړی ۷شوال/۱۴۰۱ه

الجواب: د جمعې مونځ دپاره جامع مسجد ته تلل مفسد اعتکاف نه دی، ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الخالد الاتاسی: الضرورات تقدر بقدرها یعنی کل فعل او ترک جوز للضرورة فالتجویز علی قدرها ولا یتجاوز عنها. (شرح المجلة للاتاسی ۱: ۵۶ المادة ۲۲)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: سئل ابو حنیفة رحمه الله عن المعتکف اذا احتاج الی الفصد او الحجامة هل یخرج فقال لا وفی اللآلی واختلف فی الذی یفسو فی المسجد فلم یر بعضهم بأسا وبعضهم قالوا لا یفسو ویخرج اذا احتاج الیه وهو الاصح کذا فی التمرتاشی.

(فتاوٰی عالمگیریة ۵: ۳۲۱ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة)

﴿۳﴾ قال العلامة الموصلی: ولا یخرج من معتکفه......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

معتکف د پاره قرآن مجيد اوريدلو يا اورولو د پاره بل جمات ته تلل

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه که يو حافظ قران سرې اعتکاف وکړی، ليکن په کوم جمات کښې چه معتکف دې، په هغې کښې خلق د ختم فى التراويح د پاره تيار نه دى، نو آيا دا حافظ صاحب د قرآن مجيد اورولو د پاره بل جمات ته تلې شى؟ بينوا توجروا

المستفتى: عبدالرحيم تهانه ملاکنډ

الجواب: که دې حافظ په اعتکاف کښې د ناستلو په وخت کښې د دې استثناء کړې وه، نو صحيح ده، ګنی د احتياط خبره داده، چه نه د ؤځى. ﴿٢﴾ وهو الموفق

(بقيه حاشيه) الا لحاجة الانسان او الجمعة لان الاعتكاف تقرب الى الله تعالىٰ بترك المعاصى وترك الجمعة معصية فينا فيه ويخرج قدر ما يمكنه اداء السنة قبلها وقيل قدرست ركعات يعنى تحية المسجد ايضا ويصلى بعدها اربعا او ستا ولو اطال المكث جاز.

(الاختيار لتعليل المختار ١:١٧٨ باب الاعتكاف)

﴿١﴾ وفى الهندية: ولو شرط وقت النذر والالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلوٰة الجنازة وحضور مجلس العلم يجوزله ذلك.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١:٢١٢ الباب السابع فى الاعتكاف)

﴿٢﴾ قال العلامة المرغينانى: ولو خرج من المسجد ساعة بغير عذر فسد اعتكافه عند ابى حنيفة لوجود المنافى وهو القياس وقالا لا يفسد حتى يكون اكثر من نصف يوم وهو الاستحسان لان فى القليل ضرورة، قال ابن الهمام (وهو الاستحسان) يقتضى ترجيحه لانه ليس من المواضع المعدودة التى رجح فيها القياس على الاستحسان ثم هو من قبيل الاستحسان بالضرورة كما ذكره المصنف الخ.

(هداية مع فتح القدير ٢:١١٣ باب الاعتكاف)

د جمعې د غسل د پاره معتکف لره د جمات نه وتل

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه د اعتکاف دوران کښې د جمعې په ورځ غسل د پاره د جمات نه وتل جائز دى او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: نامعلوم

الجواب: چونکه په بعضې جزئياتو کښې سنت مؤکده اعتکاف لره په نفلى اعتکاف کښې شمار کړې شوې دې، لهذا دې سره اعتکاف نه فاسديږى، فى ردالمحتار واما النفل اى الشامل للسنة المؤكدة ﴿١﴾ البته احتياط په دې کښې دې چه په شروع کښې دې استثناء وکړى، او يا چه کله د طهارت يا قضاء حاجت د پاره ؤځى، نو بالتبع دې په هغې کښې د جمعې غسل وکړى، کمافى البدائع ﴿٢﴾. وهو الموفق

د معتکف د پاره د ګرمى د وجهې نه غسل د پاره وتل

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه معتکف د ګرمى په وجه غسل د پاره وتلې شى، او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: محمد عبدالواحد نقشبندى

الجواب: که دا اعتکاف منذور او واجب نه وى، نو په هغې کښې غسل د پاره وتل مفسد نه دى، کمافى الهندية ١:٢٢٦ هذا كله فى الاعتكاف الواجب اما فى النفل فلا بأس بان ...

﴿١﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:١٤٣ باب الاعتكاف)

﴿٢﴾ قال العلامة الكاسانى: ويجوز ان تحمل الرخصة على ما اذا كان خرج المعتكف لوجه مباح كحاجة الانسان او للجمعة ثم عاد مريضا او صلى على جنازة من غير ان كان خروجه لذلك قصدا وذلك جائز.

(بدائع الصنائع ٢:٢٨٤ فصل ما يفسد الاعتكاف ومالا)

يخرج بعذر وغيره في ظاهر الرواية وفي التحفة فلا بأس فيه بان يعود المريض ويشهد الجنازة كذا في شرح النقاية للشيخ ابي المكارم ﴿۱﴾

او که چري په اعتکاف کښې د دې ځيزونو په وخت د ګرمۍ د غسل د پاره د وتلو استثناء اوکړي، نو د علامه شامي د رائې مطابق به هم مفسد نه وي، ځکه چه دوی د آخري عشري اعتکاف نه د واجب په شان حکم کړی دی ﴿۲﴾

ومسئلة الاستثناء في الهندية ۱: ۲۲۶ فليراجع ﴿۳﴾. وهو الموفق

په اعتکاف کښې د استثناء مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې باره کښې چه که يو سړي په اعتکاف

﴿۱﴾(فتاوی عالمگيرية ۱: ۲۱۳ الباب السابع في الاعتكاف)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامي: والصحيح انه سنة مؤكدة لان النبي ﷺ واظب عليه في العشر الاواخر من رمضان والمواظبة دليل السنة من ان المواظبة بلا ترك دليل الوجوب والجواب كما في العناية انه عليه السلام لم ينكر على من تركه ولو كان واجبا لانكر، وحاصله ان المواظبة انما تفيد الوجوب اذا اقترنت بالانكار على التارك ـــــ وقوله في البحر لا يمكن حمله عليه لتصريحهم بان الصوم انما هو شرط في المنذور فقط دون غيره فيه نظر لانهم انما صرحوا بكونه شرطا في المنذور غير شرط في التطوع وسكتوا عن بيان حكم المسنون لظهور انه لا يكون الا بالصوم عادة ولهذا قسم في متن الدرر ـــــ ثم قال والصوم شرط لصحة الاول لا الثالث ولم يتعرض للثاني لما قلنا ولو كان مرادهم بالتطوع ما يشمل المسنون لكان عليه ان يقول شرط لصحة الاول فقط كما قال المصنف فعبارة صاحب الدرر احسن من عبارة المصنف. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۳۱ باب الاعتكاف)

﴿۳﴾ وفي الهندية: ولو شرط وقت النذر والالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلاة الجنازة وحضور مجلس العلم يجوز له ذلك كذا في التتارخانية ناقلا عن الحجة. (فتاوی عالمگيرية ۱: ۲۱۲ مفسدات الاعتكاف)

کښې کښېناستلو په وخت کښې د جنازې وغيره استثناء وکړي، نو څو مره لرې پورې جنازې د پاره تللې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد سليمان نيکېلا ۱۲/۱۲ اګست ۱۹۸۳ء

الجواب: دا شرط صحيح دې، او هره قريب او بعيد جنازې د پاره تللې شي، ﴿۱﴾ البته که اکثر وخت په شپه او ورځ کښې د جمات نه بهر وو، نو هغه شپه او ورځ به په اعتکاف کښې نه شمار کيږي ﴿۲﴾ وهو الموفق

د معتکف د جنازې د پاره د وتلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې باره کښې چه يو سړي په رمضان المبارک کښې معتکف شو، اود جنازې مونځ د پاره بهر ووتلو آيا په اعتکاف کښې فرق راځي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: پير نجيم علي شاه حقاني ۸۳/۸/۱۲

الجواب: که هغه سړي اعتکاف شروع کولو په وخت کښې استثناء کړي وه، مثلاً دا نيت ئې کړې وي، چه زه به جنازې ادا کولو د پاره بهر ته وځم، نو په دې صورت کښې دا اعتکاف په خپل حالې صحيح دې شرح التنوير ﴿۳﴾. او

﴿۱﴾ قال العلامة النظام: ولو شرط وقت النذر والالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلاة الجنازة وحضور مجلس العلم يجوز له ذلك كذا في التتارخانية

(فتاوی عالمگيرية ۱: ۲۱۲ مفسدات الاعتكاف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: وعلى كل فيظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتكاف المسنون بالشروع وان لزوم قضاء جميعه او باقيه مخرج على قول ابي يوسف اما على قول غيره فيقضي اليوم الذي افسده لاستقلال كل يوم بنفسه ـــــ والحاصل ان الوجه يقتضي لزوم كل يوم شرع فيه عندهما بناء على لزوم صومه بخلاف الباقي لان كل يوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعية وان كان المسنون هو اعتكاف العشر بتمامه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۳۳ باب الاعتكاف)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي: لو شرط وقت النذر ان ـــــ (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

که استثناء ئي نه وه کړې، لیکن د طهارت یا قضاء حاجت دپاره ؤوتلو، او په دې دوران کښې ئي جنازه هم ادا کړه، نو په دې صورت کښې هم اعتکاف صحیح دې، (بدائع الصنائع ج۲ ص۱۱۴)《۱》 او که جنازې دپاره قصدا بالذات وتلې وی، نو د ظاهر روایت په وجه ددۀ اعتکاف فاسد شوې نه دې، البته کښې مسنون د منذور په حکم کښې ؤمنلې شی، نو یوه ؤرځ شپه به قضا راؤړی《۲》. وهوالموفق

د معتکف د پاره په هیره د جمات نه وتلو کښې مفتی به قول

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه که معتکف په هیره د جمات نه ؤځی، نو د امام صاحب رحمه الله په نزد اعتکاف ماتیږی، خلافا لهما کما فی الهدایة، فتوی په کوم مذهب ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مبارک علی شاه مدرسه عربیه تجوری بنوں ۲۳ شوال/۱۴۰۱ھ

الجواب: د قواعدو په اعتبار سره د صاحبینو مذهب قوی دې، لیکن احوط د امام صاحب مذهب دې. اما....

(بقیه حاشیه) یخرج لعیادة مریض وصلاة جنازة وحضور مجلس علم جاز ذلک فلیحفظ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۴۶ باب الاعتکاف)

《۱》 قال العلامة الکاسانی: ویجوز ان تحمل الرخصة علی ما اذا کان خرج المعتکف لوجه مباح کحاجة الانسان او للجمعة ثم عاد مریضا او صلی علی جنازة من غیر ان کان خروجه لذلک قصدا وذلک جائز.

(بدائع الصنائع ۲:۲۸۴ فصل ما یفسده ومالایفسده)

《۲》 قال العلامة الحصکفی: فلو شرع فی نفله ثم قطعه لا یلزمه قضاؤه لانه لا یشترط له الصوم علی الظاهر من المذهب وما فی بعض المعتبرات انه یلزم بالشروع مفرع علی الضعیف قاله المصنف وغیره وحرم علیه ای علی المعتکف اعتکافا واجبا اما النفل فله الخروج لانه منه له لا مبطل کما مر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۴۳ باب الاعتکاف)

الاول فلکونها استحسانا واما الثانی فظاهر《۱》 واما مبحث ابن الهمام فیمکن ان یجاب عنه بان الملحوظ عندهم نفس الخروج لا متعلقاته. وهوالموفق

فساد صوم سره اعتکاف مسنون تطوع جوړیږی، فاسدیږی نه

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د کوم معتکف روژه فاسده شی، آیا په هغې سره اعتکاف هم فاسدیږی؟

المستفتی: محمد خالق عنایت کلې باوجوړ ۱۷/۷/۸۴

الجواب: د اهل تحقیق په نزد په اعتکاف مسنون کښې روژه شرط نه ده. وهذا الراجح عند صاحب البحر《۲》. او د علامه شامی رحمه الله په نزد په دې کښې

《۱》 قال العلامة المرغینانی: ولو خرج من المسجد ساعة بغیر عذر فسد اعتکافه عند ابی حنیفة لوجود المنافی وهو القیاس وقالا لا یفسد حتی یکون اکثر من نصف یوم وهو الاستحسان لان فی القلیل ضرورة، قال ابن الهمام (قوله وهو الاستحسان) یقتضی ترجیحه لانه لیس من المواضع المعدودة التی رجح فیها القیاس علی الاستحسان ثم هو من قبیل الاستحسان بالضرورة کما ذکره المصنف واستنباط من علم امره اذا خرج الی الغائط ان یسرع المشی بل یمشی علی التؤدة وبقدر البطء تتخلل السکنات بین الحرکات علی ما عرف فی فن الطبیعة وبذلک یثبت قدر من الخروج فی غیر محل الحاجة فعلم ان القلیل عفو الخ. (هدایه مع فتح القدیر ۲:۳۱۱ باب الاعتکاف)

《۲》 قال العلامة ابن نجیم: واشار بالمسجد والصوم والنیة الی شرائطه لکن ذکر الصوم معها لا ینبغی لانه لا یمکن حمله علی المنذور لتصریحه بالسنیة ولا علی غیره لتصریحه بعد بان اقله نفلا ساعة فلزم ان الصوم لیس من شرطه ...... بان الصوم انما هو شرط فی المنذور فقط دون غیره الخ. (البحر الرائق ۲:۲۹۹ باب الاعتکاف)

روژه شرط ده، لیکن د روژې د فاسدیدو په وجه دا اعتکاف مسنون خارج کیدلو سره تطوع جوړ شی، باطلیږی نه. کما فی ردالمحتار باب الاعتکاف﴿۱﴾.
وهوالموفق

په حالت اعتکاف کښې اخبار لوستل اور ریډیو باندې خبرونه اوریدل

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو ریټائر استاذ په اعتکاف کښې ناست دې، هغه په اعتکاف کښې اخبار او رسالې ګوری، او خبرونه اوریدلو دپاره ریډیو هم ځان سره ساتی، آیا ددهٔ دپاره دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ....

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: (قوله علی المذهب) وهو روایة الاصل ومقابله روایة الحسن انه شرط للتطوع ایضا وهو مبنی علی اختلاف الروایة فی ان التطوع مقدر بیوم اولا ففی روایة الاصل غیر مقدر فلم یکن الصوم شرطا له وعلی روایة تقدیره بیوم وهی روایة الحسن ایضا یکون الصوم شرطا له کما فی البدائع وغیرها قلت ومقتضی ذلک ان الصوم شرط ایضا فی الاعتکاف المسنون لانه مقدر بالعشر الاخیر حتی لو اعتکفه بلا صوم لمرض او سفر ینبغی ان لا یصح عنه بل یکون نفلا فلا تحصل به اقامة سنة الکفایة ویؤیده قول الکنز سن لبث فی مسجد بصوم ونیة فانه لا یمکن حمله علی المنذور لتصریحه بالسنیة ولا علی التطوع لقوله بعده واقله نفلا ساعة فتعین حمله علی المسنون سنة مؤکدة فیدل علی اشتراط الصوم فیه وقوله فی البحر لا یمکن حمله علیه لتصریحهم بان الصوم انما هو شرط فی المنذور فقط دون غیره فیه نظر لانهم انما صرحوا بکونه شرطا فی المنذور غیر شرط فی التطوع وسکتوا عن بیان حکم المسنون لظهور انه لا یکون الا بالصوم عادة ولهذا قسم فی متن الدرر الاعتکاف الی الاقسام الثلاثة المنذور والمسنون والتطوع ثم قال والصوم شرط لصحة الاول لا الثالث ولم یتعرض للثانی لما قلنا ولو کان مرادهم بالتطوع ما یشمل المسنون لکان علیه ان یقول شرط لصحة الاول فقط الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۱ باب الاعتکاف)

الجواب: دا د مقاصدو او ادابو د اعتکاف نه خلاف کارونه دی﴿۱﴾، معتکف دپاره د تلاوت، د نوافلو کثرت او د دینی مسائلو مطالعه شوق کول پکار دی، کمافی شرح التنویر﴿۲﴾. وهوالموفق

داعتکاف مسنون د قضا صورتونه اوپه جمات کښې ګرزیدل اوغسل کولومسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلو باره کښې چه:
(۱) په آخری عشره د رمضان کښې اعتکاف مسنون که د څه مجبوری مثلا بیماری، یره یا په اهل عیال کښې د چا بیمارې یا د حادثې یا مرګ په وجه پریخودلې شی، نو دهغې قضا کله او څرنګه کیدې شی؟
(۲) آیا په بل رمضان کښې په آخری عشره کښې قضا کیدې شی؟
(۳) که په آتمه یا لسمه ورځ اعتکاف پریخودلې شی، نو آیا قضا به لس ورځې وی، او که باقي پاتې ورځې؟
(۴) آیا د قضا په بدله کښې به صرف اعتکاف کولې شی او که فدیه به ورکولې شی؟
(۵) په اعتکاف کښې د ګرمۍ په وجه غسل کول، او د معتکف ځائي پریخودل او په جمات کښې بل ځائي کښې سملاستل یا ګرزیدل جائز دی او که نه؟

المستفتی: قاری سعید الرحمٰن راولپنډی ۱۷ شوال ۱۴۰۱ھ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واما محاسنه فظاهرة فان فیه تسلیم المعتکف کلیة الی عبادة الله تعالیٰ فی طلب الزلفی وتبعید النفس من شغل الدنیا التی هی مانعة عما یستوجب العبد من القربیٰ واستغراق المعتکف اوقاته فی الصلوٰة اما حقیقة او حکماً.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۲۱۲ الباب السابع فی الاعتکاف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وتکلم الا بخیر وهو ما لا اثم فیه ومنه المباح عند الحاجة الیه لا عند عدمها...... وقراءة قرآن وحدیث وعلم وتدریس فی سیر الرسول علیه السلام وقصص الانبیاء علیهم السلام وحکایات الصالحین وکتابة امور الدین.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۴۷ باب الاعتکاف)

الجواب: (۱، ۲، ۳، ۴) د اعتکاف مسنونه په فاسدولو کښې يوه ورځ او شپه اعتکاف قضا کول دی، وهو قول ابی حنيفة ومحمد، او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد د باقی ورځو قضا راوړل هم ضروری دی، (ماخوذ از شامی)﴿۱﴾ او بهرحال دا قضا علی الاحوط به په غير رمضان کښې کول وی، نه په دې کښې د څه مودې تعين شته، او نه فديه ورکول کافی ده.﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امين: ومقتضى النظر لو شرع فی المسنون اعنی العشر الاواخر بنيته ثم افسده ان يجب قضاءه تخريجا على قول ابی يوسف...... ای يلزمه قضاء العشر كله لو افسد بعضه...... واما على قول غيره فيقضی اليوم الذی افسده لاستقلال كل يوم بنفسه...... والحاصل ان الوجه يقتضی لزوم كل يوم شرع فيه عندهما بناء على لزوم صومه بخلاف الباقی لان كل يوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعية وان كان المسنون هو اعتكاف العشر بتمامه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴۳ باب فی الاعتكاف)

﴿۲﴾ چونکه د علامه شامی رحمه الله په نزد په اعتکاف کښې روژه شرط ده. اګر چه د علامه ابن نجيم په نزد صرف په اعتکاف منذور کښې روژه شرط ده، ليکن د دلائلو په اعتبار سره د علامه شامی رحمه الله قول راجح معلوميږی، نو ګويا چه د هغوی په نزد اعتکاف مسنون د اعتکاف منذور سره نزدې دې.

كما يفهم من عباراته حيث قال: ومقتضى ذلک ان الصوم شرط ايضا فی الاعتكاف المسنون لانه مقدر بالعشر الاخير حتى لو اعتكفه بلا صوم لمرض او سفر ينبغی ان لا يصح عنه بل يكون نفلا فلا تحصل به اقامة سنة الكفاية ويؤيده قول الكنز...... فتعين حمله على المسنون سنة مؤكدة فيدل على اشتراط الصوم فيه الخ (ردالمحتار ۲: ۱۴۱ باب الاعتكاف)

او په دې صفحه کښې فرمائی:

ان المواظبة انما تفيد الوجوب اذا اقترنت بالانكار على التارک، او ۲: ۱۴۳ کی فرمائی: اقول لكن بعد ما صرح صاحب البدائع بلزومه بالشروع ذكر رواية الحسن ووجهها وهو ان الشروع فی التطوع موجب للاتمام على اصل اصحابنا صيانه للمؤدی عن البطلان الخ.

پس د تحقيق په رڼا کښې د حضرت مفتی صاحب رجحان دې طرف ته دې،

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)............

(۵) د ګرمۍ په وجه غسل کول اعتکاف نه فاسد کوی، البته احوط داده، چه په اول کښې دې استثناء وکړی، او مسنون دادی، چه په معتکف کښې دې اوده شی، ليکن په جمات کښې په نورو ځايونو کښې اوده کيدل مفسد نه دی. (شامی)﴿۱﴾. وهوالموفق

د ټولې مياشتې معتکف لره د جمات نه بغير د عذر نه وتلو په صورت کښې د قضا مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه بنده د رمضان په شروع کښې د ټولې مياشتې د اعتکاف نيت وکړو، د اعتکاف دوران کښې بنده يو څو منټو دپاره د جمات حجرې ته، چه په هغې کښې امام صاحب بيمار پروت وو، د عيادت دپاره لاړو، احساس کيدلو سره زر جمات ته واپس راغلو. د شريعت مطابق په اعتکاف کښې نقصان راغلو او که نه؟ واضحه دې وی چه دا اعتکاف د نذر نه وو؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولوی سخی بادشاه حقانی مدرسه تعليم القران کرک ۱۳ اګست ۱۹۸۳ء

الجواب: که دا معتکف په عشره اولی يا وسطی کښې د عيادت دپاره د جمات نه بهر تلې وی، نو په هغه باندې هيڅ قضا نشته، لانه انتهی الاعتكاف بالخروج ثم انشاه بالدخول﴿۲﴾. او که په عشره اخيره کښې بهر ته تلې وو، نو

(بقيه حاشيه)..... د احتياط په وجه ددې قضا په غير رمضان کښې کول پکار دی.

قال العلامة الحصكفی: وان لم يعتكف رمضان المعين قضى شهرا غيره بصوم مقصود لعود شرطه الى الكمال الاصلی (۲: ۱۴۲) ......(ازمرتب)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: وخص المعتكف باكل وشرب ونوم وعقد احتاج اليه لنفسه او عياله فلو لتجارة كره.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۴۶ باب الاعتكاف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: اذا دخل المسجد بنية الاعتكاف فهو معتكف ما اقام تارک له اذا خرج وظاهره ان مستند ظاهر الرواية ما ذكره فی الكتاب ولا يمتنع ان يكون مستنده صريحا آخر بل هو الظاهر لنقل الثقات...... ان ظاهر الرواية .. .(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د امام ابوحنیفه او امام محمد په نزد د یوې ورځې شپې قضا به کوی، لان التحقیق انه کالمنذور《۱》. وهو الموفق

د رمضان اعتکاف ماتیدلو په صورت کښې د قضا مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقه کښې په تیر رمضان کښې د څه وجه نه اعتکاف مات شو، اوس قوم په دې مسئله کښې دوؤ ډلو کښې تقسیم دې، څوک وائي، چه د باقی ورځو قضا کول ضروری دی، او څوک وائي چه د پوره اعتکاف قضا کول ضروری دې، د صحیح مسئلې نه مونږ خبر کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: لعل محمد مرغانی جنرل ټائر سروس پېښاور ۲/۱/۲۹

الجواب: د محقق ابن الهمام ترجیح پوره لسو ورځو طرف ته ده، یعنی آخری عشره او قضا د رمضان نه پس په نورو میاشتو کښې ضرور کوی. قال العلامة الشامی ۲:۱۳۵ ثم

(بقیه حاشیه) مروی لا مستنبط واشار الی انه لو شرع فی النفل ثم قطعه لا یلزمه القضاء فی ظاهر الروایة لانه غیر مقدر فلم یکن قطعه ابطالا.

(البحر الرائق ۲:۳۰۰، ۳۰۱ باب الاعتکاف)

《۱》قال العلامة ابن عابدین: (قوله اما النفل) ای الشامل للسنة المؤکدة...... انها مقدرة بالعشر الاخیر...... ومفاد التقدیر ایضا اللزوم بالشروع تامل ثم رأیت المحقق ابن الهمام قال ومقتضی النظر لو شرع فی المسنون اعنی العشر الاواخر بنیته ثم افسده ان یجب قضاءه تخریجا علی قول ابی یوسف فی الشروع فی نفل الصلاة ناویا اربعا لا علی قولهما...... فیظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتکاف المسنون بالشروع وان لزوم قضاء جمیعه او باقیه مخرج علی قول ابی یوسف اما علی قول غیره فیقضی الیوم الذی افسده لاستقلال کل یوم بنفسه...... والحاصل ان الوجه یقتضی لزوم کل...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

رأیت المحقق ابن الهمام قال ومقتضی النظر لو شرع فی المسنون اعنی العشر الاواخر بنیته ثم افسده ان یجب قضاءه الخ《۱》 ودلیل الثانی ان الشروع فیه ملزم کالنذر وفی صورة النذر یلزم القضاء فی غیر رمضان فکذا ههنا، قال فی الدرالمختار وان لم یعتکف رمضان المعین قضی شهرا غیره بصوم مقصود لعود شرطه الی الکمال انتهیٰ《۲》، قلت ویؤیده ما رواه ابوداؤد عن عائشة فامر ببناءه فقوض وامر ازواجه بابنیتهن فقوضت ثم اخر الاعتکاف الی العشر الاول یعنی من شوال《۳》. وهوالموفق

د عشره آخیره د اعتکاف قضا او عدم قضا مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د عشره اخیره اعتکاف سنت که فاسد شی، نو دهغې قضا لازم ده او که نه؟ که لازم وی، نو د څومره ورځو لزوم به وی؟ په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې ئې د ردالمحتار حواله ورکولو سره لیکلې دی، چه قضا نشته، او په خلاصة الفتاوٰی کښې ئې لیکلې دی، چه قضا لازم ده. په دې کښې به ترجیح کوم قول ته وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مبارک شاه دارالعلوم تجوړی بنوں ۱۸ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: د درالمختار د عبارت نه معلومیږی، چه غیر منذور اعتکاف چه مسنون لره هم شامل دې، په وتلو سره باطل او فاسدیږی نه، لیکن د .....

(بقیه حاشیه) یوم شرع فیه عندهما بناء علی لزوم صومه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۴۳ باب الاعتکاف)

《۱》(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۴۳ باب الاعتکاف)

《۲》(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۴۲ باب الاعتکاف)

《۳》(سنن ابی داؤد ۱:۳۴۱ باب الاعتکاف کتاب الصوم)

ابن الهمام د کلام نه ددې مسنون د شروع نه واجب کیدل معلومیږی.

ملخص کلامه المذکور فی ردالمحتار ۱:۱۸۰ انه اذا افسد المنذور یلزمه قضاء الباقی، واذا افسد المسنون (بالجماع مثلا) یلزمه قضاء الیوم الواحد عند ابی حنیفة ومحمد رحمهم الله وعند ابی یوسف رحمه الله یقضی العشر اوالایام الباقیة ﴿۱﴾.

وهوالموفق

د معتکف په مړ کیدلو سره د اعتکاف پوره کیدلو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید د اعتکاف دپاره کښېنولې شوې وو، لیکن درې ورځې پس وفات شو، اوس د دوؤ سړو جهګړه ده، یو وائي، چه اعتکاف شوې دې، او دویم وائي، چه اوس به دویم سړې کښېنول پکار وی، اوس ددې نزاع حل څه دې؟ او د اهل محله ذمه فارغه ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد نثار کوثر سدو خیل پړانګ چارسده **۵/۵/۲۹**

الجواب: چونکه دې دواړو کښې یو کس هم د عشره اخیره اعتکاف نه دې کړې، او په آخری عشره کښې د پوره لسو ورځو اعتکاف مسنون دې، او دا اعتکاف لسو ته ؤنه رسیدو، لهذا که په ټوله محله کښې بل سړې اعتکاف ؤنه کړو، نو د پوره محلې خلق به تارک السنت وی ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۴۳ باب الاعتکاف)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین: (قوله ای سنة کفایة) نظیرها اقامة التراویح بالجماعة فاذا اقام بها البعض سقط الطلب عن الباقین فلم یأثموا بالمواظبة علی الترک بلا عذر ولو کان سنة عین لا ثموا بترک السنة المؤکدة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۴۱ باب الاعتکاف)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ځلورم جلد

کتاب الحج

باب تفسیر الحج وشرائطه وارکانه

....

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

.....قال الله تعالیٰ:......

ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا.

.....[آل عمران: ۹۷].....

....

كتاب الحج

باب تفسير الحج وشرائطه وار كانه

د سفر حج اسرار او منافع

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې د حج باره کښې وائي چه حج دې دپاره فرض کړې شوې دې، چه سړې خپله بستره په خپلو اوږو باندې واچوی او د سفر د سختو نه خبر شی، او د وخت خوراک بې وخته ؤخوری، دې دپاره چه واپس راشی، او د مسافرۍ احساس ورته وی، ايا واقعی حج دې دپاره فرض کړې شوې دې؟ بينوا توجروا

المستفتی : حاجی عبدالوهاب

الجواب: د حج د فرضيت (راز او) سبب تعظيم د بيت الله دې﴿۱﴾، او په سفر حج کښې ډير منافع او برکات وی، چه په هغې کښې بعضې هغه دی، کوم چه دې صاحب ذکر کړې دی.

يشيرالی الاول ما فی الدرالمختار، فرض مرة لان سببه البيت وهو واحد﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی: المصالح المرعية فی الحج امور منها تعظيم البيت فانه من شعائر الله وتعظيمه هو تعظيم الله تعالیٰ.

(حجة الله البالغة ۲: ۵۶ مبحث من ابواب الحج)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۵۱ كتاب الحج)

حدیث "من لم یحج فلیمت ان شاء یهودیا او نصرانیا"، په تغلیظ باندې محمول دې

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې حدیث د تشریح باره کښې چه چا بغیر د عذر نه حج ؤنکړو، نو که هغه مړ شو، نو یا یهودی مړ شو یا نصرانی مړ شو، حدیث دادې:

وعن امامة رضی الله عنه قال، قال رسول الله ﷺ من لم یمنعه من الحج حاجة ظاهرة او سلطان جابر او مرض...... فمات ولم یحج فلیمت ان شاء یهودیا او ان شاء نصرانیا (رواه الدارمی). بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم............ ۳/۹/۱۹۷۳

الجواب: د خانه کعبې زیارت او تعظیم یهود او نصاری نه کوی، دا مسلمانان کوی، پس چه کوم مسلمان د استطاعت باوجود بغیر د څه عذر نه حج د بیت الله نه کوی، نو هغه د مسلمانانو په لاره باندې تلل ؤنکړل، یعنی په هغه کښې د یهود ونصاری عمل موجود شو، ګنی که اعتقاد ئې صحیح وی، منکر نه وی، نودا سړې به مسلمان وی، او حدیث په تغلیظ باندې محمول دې. ﴿۱﴾ وهو الموفق

صرف نیت کولو سره حج نه فرض کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه څو سړو زید ته ؤوئیل

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: (ان یموت یهودیا او نصرانیا) ای فی الکفر ان اعتقد عدم الوجوب وفی العصیان ان اعتقد الوجوب وقیل هذا من باب التغلیظ الشدید والمبالغة فی الوعید...... والاظهر ان وجه التخصیص کونهما من اهل الکتاب غیر عاملین به فشبه بهما من ترک الحج حیث لم یعمل بکتاب الله تعالیٰ ونبذه وراء ظهره کانه لا یعلمه، قال الطیبی والمعنیٰ ان وفاته علی هذه الحالة ووفاته علی الیهودیة والنصرانیة سواء والمقصود التغلیظ فی الوعید کما فی قوله تعالیٰ ومن کفر.......

(مرقاة المفاتیح شرح المشکوٰة ۵: ۲۷۳ کتاب المناسک الفصل الثانی)

چه مونږ به تا دې کال حج ته لیږو، ته د حج نیت وکړه، بیا هغه د حج درخواست ورکړو منظوری راغله، نو آیا په زید باندې صرف په نیت سره حج فرض شو او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا غلام مجتبی دارالعلوم عثمانیه راول پارک لاهور ۱۰ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: حج صرف نیت کولو سره نه فرض کیږی، ترڅو پورې چه تلبیه ئې نه وی وئیلې. ﴿۱﴾. وهوالموفق

په حج او عمره کښې د نیت الفاظ غلط وئیل

سوال: څه فرمائي علماء دین ددې مسئلې باره کښې چه یو سړې حج تمتع کونکې وو، هغه د ناپوهی په وجه د کراچۍ نه د حج نیت وکړو، یعنی اللهم انی ارید الحج الخ، حالانکه هغه لره اللهم انی ارید العمرة الخ، وئیل پکار وو، هلته کښې حرم ته لاړو او طواف او سعی ئې وکړه، او ویښتهٔ ئې ؤخرول، یعنی د حج نیت کولو سره ئې عمره وکړه، په اتمه ذی الحجه ئې بیا د حج نیت وکړو، دهغه دا حج او عمره اذا شوې دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: زاهد الرحمٰن خانه صواتی کلې کرک ۳۲/۴/۸۴

الجواب: نیت د زړهٔ د ارادې نوم دې، نه د الفاظو ﴿۲﴾، پس په دې سړې باندې

﴿۱﴾ قال العلامة النظام: ولا یصیر شارعا بمجرد النیة مالم یأت بالتلبیة او ما یقوم مقامها من الذکر او سوق الهدی او تقلید البدنة کذا فی المضمرات.

(فتاوٰی عالمگیریة ۱: ۲۲۲ الباب الثالث فی الاحرام)

﴿۲﴾ قال العلامة الشرنبلالی: النیة فی اللغة مطلق القصد وفی الشریعة قصد کون الفعل لما شرع له ......وقال شیخ الاسلام الدیری: النیة هی الارادة الجازمة لان النیة فی اللغة العزم والعزم هو الارادة الجازمة القاطعة، وقال الشیخ الخطابی: معنی النیة قصدک الشیئ بقلبک وتحرک الطلب منک، وقال البیضاوی: النیة عبارة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دم وغیره لازم نه دی، او نه په هغه باندې اعاده د حج یا عمرې شته﴿۱﴾.

وهوالموفق

دبل په مال باندې حج کولو والا دوباره په خپل مال سره حج کولو کښې په نیت څنګه کوی؟:

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ما یو ځل حج د خپل والد صاحب سره ادا کړې دې، خرچه هغه راکړې وه، او هغه وخت کښې زۀ مالدار نه ووم، نن زۀ په خپله غنی یم، ددې وجه نه دوباره د حج کولو اراده ده، لیکن اوس د نیت باره کښې فکر مند یم، چه زۀ د فرض حج نیت وکړم یا د نفل حج نیت وکړم؟ بینوا توجروا

المستفتی: امان الله خان

الجواب: که تا په اول ځل د فرض حج نیت کړې وو، نو ستا ذمه فارغه شوې ده، او که فرض کړه تا د نفل حج نیت کړې وی، نو اوس دوباره فرض حج ادا کړه. (شامی ۱۹۵:۲)﴿۲﴾ـ

ملاحظه:...... زمونږ د علاقو خلق د فرض حج نیت کوی. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) عن انبعاث قلبک نحو ما تراه موافقا لفرض من جلب نفع او دفع ضرحالا او مآلا والشرع خصصها بالارادة للتوجه نحو الفعل ابتغاء لوجه الله تعالیٰ وامتثالا لحکمه ...... وقال الکمال النیة قصد الفعل ...... وقال عبد الواحد: اذا علم ای صلاة یصلی قال محمد بن سلمة هذا القدر نیة والاصح انه لا یکون نیة لان النیة غیر العلم بها الخ.
(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ۲۳۴ باب شروط الصلاة وارکانها)

﴿۱﴾ قال فی الشامیة: فیصح الحج بمطلق النیة ای بالنیة المطلقة عن التقیید بالحج بان نوی النسک من غیر تعیین حج او عمرة ثم ان عین قبل الطواف فبها والاصرف للعمرة، قال فی اللباب وتعیین النسک لیس بشرط فصح مبهما وبما احرم به الغیر ثم قال فی موضع آخر ولو احرم بما احرم به غیره فهو مبهم فلیزمه حجة او عمرة...... وکذا لو اطلق نیة الحج صرف للفرض. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱۶۲:۲ قبیل مطلب فیما یصیر به محرما)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامی: فالتقیید بالفقیر لظهور عجزه ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حاجت اصلی نه زیاته زمکه ساتلو په وجه د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زمکه په حاجت اصلی کښې داخله ده او که نه؟ او په دې کښې د حج کولو څه طریقه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عمرزاده هیډماسټر چمتلی سوات ۱۲/۲/۷۵ ۱۱۲

الجواب: څومره مقدار زمکې سره چه سالانه ضروریات پوره کیږی، هغه په حاجت اصلی کښې داخل ده، او دهغې نه زیاته به د حج دپاره خرڅولې شی. کما فی الهندیة (۲۱۸:۲) وان کان صاحب ضیعة ان کان له من الضیاع ما لو باع مقدار ما یکفی الزاد والراحلة ذاهبا وجائیا ونفقة عیاله واولاده یبقی له من الضیعة قدر ما یعیش بغلة الباقی یفترض علیه الحج والا فلا﴿۱﴾. وهوالموفق

د کورونو او دکانونو په صورت کښې د حج د فرضیت حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړې سره د کروندې د زمکې نه علاوه کورونه او دکانونه هم دی، چه دهغې باقاعده امدن د کرائې په صورت کښې وصولوی، ایا په هغه باندې حج فرض دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......... ۱۹۷۳|۴|۳

الجواب: د کروندې زمکه، کورونه او دکانونه وغیره نور جائداد که ددۀ حاجت

(بقیه حاشیه) عن المرکب ولیفید انه یتعین علیه ان لا ینوی نفلا علی زعم انه لا یجب علیه لفقره لانه ما کان واجبا وهو آفاقی فلما صار کالمکی وجب علیه فلو نواه نفلا لزمه الحج ثانیا. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱۵۵:۲ کتاب الحج قوله للآفاقی لاالمکی)

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۲۱۸:۱ کتاب المناسک بیان شرائط وجوبه)

اصلیه او د حج نه واپس راتلو پورې دۀ د اهل عیال د نفقې نه زیاتی وی، نو په دې باندې حج فرض دې.

وفی الهدایة: اذا قدر علی الزاد والراحلة فاضلا عن المسکن ومالا بد منه وعن نفقة عیاله الی حین عوده ﴿۱﴾. وهوالموفق

قرض اخستلو سره د حج کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې ماته د حج دپاره اوولس زره روپۍ راکړې وې، هغه وخت کښې ورکونکی دا وضاحت نه وو کړې، چه دا قرضه ده، که ماته هغه وخت کښې معلومه وې نو ما به په دې باندې هیچرې هم حج نه وو کړې، ځکه چه قرض اخستل او حج ته تلل بالکل جائز نه دی، اوس سوال دادې، چه آیا قرض اخستل او حج کول جائز دی او که نه؟ اوس زۀ څه وکړم؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی علی محمد هائي سکول رسالپور نوشهره ۱۹/۱۱/۸۴

الجواب: کوم سړې چه پیدل یا په قرض مال باندې حرم ته ؤرسی، او د عام پاکستانیانو پشان عمره کولو نه پس په اتمه ذی الحجه باندې د حج نیت وکړی، نو دهغه سړې ذمه د فریضې نه فارغه کیږی﴿۲﴾، آئنده که دا سړې مالداره هم شی، نو په هغه به دوباره حج فرض نه وی﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (هدایه ۱:۲۱۳ کتاب الحج)

﴿۲﴾قال الملا علی قاری: والفقیر الآفاقی اذا وصل الی میقات فهو کالمکی...... فالتقیید بالفقیر لظهور عجزه عن المرکب ولیفید انه یتعین علیه ان ینوی حج الفرض لیقع عن حجة الاسلام ولا ینوی نفلا علی زعم انه فقیر لا یجب علیه الحج...... ان قولنا الحج لا یجب علی الفقیر انما المراد به الآفاقی قبل وصوله الی المیقات فانه حینئذ اذا اراد دخول الحرم یجب علیه احرام احد النسکین وبدخوله الی مکة ووصوله الی الکعبة تعین علیه فرضیة الحج سواء احرم به ام لا. (ارشاد الساری ۲۸ مبحث فی الفقیر اذا وصل الی مکة اوالمیقات)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: الفقیر اذا حج ماشیا ثم ایسر لاحج علیه هکذا فی فتاویٰ قاضی خان. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۱۷ کتاب المناسک الباب الاول)

د جمات د پاره زمکه ئې خرڅه کړه. په هغې پیسو باندې د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې پخوانی جمات له پوخ جوړولو دپاره زمکه خرڅه کړه، او ډیرې پیسې دهغه لاس ته راغلې، آیا ددې پیسو په وجه په هغه باندې حج فرض شو او که جمات جوړ کړی؟ او ددې پیسو نه کیدلو سره دا سړې مفلس دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: راز محمد وزیر c/o حافظ رب نواز جنوبی وزیرستان ۲/۴/۸۲

الجواب: دا پیسې دهغه سړې ملکیت دې،﴿۱﴾ په هغه باندې باقاعده حج او زکوٰة فرض دې، البته که د حولان حول یا اعلان داخله په وخت کښې دا پیسې پوره نه وې،نو دا فرض به پرې نه وی﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ چونکه دغه پیسې اوسه پورې هغه د جمات جوړولو کښې خرچ کړې نه دی، یعنی باقاعده ئې جمات نه دې جوړ کړې، نودا دهغه د ملکیت نه خارج نه دی، بلکه دده په ملکیت کښې دی، او که چنده ئې جمات ته ورکړې وی، نو بیاهم دا پیسې وقف نه دی، بلکه دده مملوک دی، کما صرح به الشاه اشرف علی تھانوی رحمه الله فی امداد الفتاوی او هم په دې فتاوی کښې ئې د تصحیح الاغلاط په حوالې سره لیکلې دی، چه دامسئله اوسه پورې صفاشوې نه ده، چه چنده د جماتونو او مدرسو وغیره د معطی د ملک نه خارج ده او که نه، که اهل علم غور وکړی نو په دې حوالې باندې بنده په الملتقط فی الفتاوی الحنفیه کښې یوه جزئیه موندلې ده، دهغې جزئیه نه معلومیږی، چه صحیح داده چه خرچ کولو نه مخکښې چنده دمعطی دملک نه نه وځی.

کما فی الملتقط ۲۷ اذا جمع دراهم لکفن میت ففضل او کفنه غیره، یصرف الی المعطین فان لم یوجدوا یصرف الی کفن مثله فان تعذر ذلک یتصدق به انتهیٰ، وفی الهندیة ۲:۴۶۰ رجل اعطی درهما فی عمارة المسجد او نفقة المسجد او مصالح المسجد صح لانه وان کان لا یمکن تصحیحه تملیکا بالهبة للمسجد فاثبات الملک للمسجد علی هذا الوجه صحیح فیتم بالقبض...... (ازمرتب)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: والعبرة لوجوبها وقت خروج اهل بلدها وکذا سائر الشروط قال الشامی ای یعتبر وجودها فی ذلک الوقت. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۵۹ مطلب فی فروض الحج وواجباته)

په مشترک مال کښې د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دځو سړو مشترکه مال وی، نو په هغې کښې به کوم یو شراکت دار حج ادا کوی، او په چاباندې حج فرض دې، په صحیح سند سره ئې ؤلیکئ؟ بینوا توجروا

المستفتی : علی محمد خسروروی ریګی غزا بند کوئټه ۹/۳/۸۲

الجواب: که د هر شریک حصه مقدار فرضیت ته رسی نو هر یو باندې حج فرض دې، ګنی په چا باندې هم فرض نه دې. (معتبرات فقه)﴿۱﴾.وهو الموفق

په مشترک مال کښې د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه مونږ ځلور رونړه یوځائي ؤسیږو، درې وړونړه وادهٔ کړې دی، او یو وادهٔ نه دې کړې، اوس مونږ دومره مال لرو چه یو وړور حج کولې شی، نو په دې باندې مشر وړور حج وکړی او که کشر وړور له وادهٔ وکړو؟ بینوا توجروا

المستفتی : فضل الرحیم لس نائیک دته خیل بنوں ۲۴ رمضان ۱۳۹۹ھ

الجواب: تاسو د ټولو مشترک مال نقد او زر وغیره فرضی تقسیم وکړئ، دهغې نه پس تاسو اندازه ؤلګوئ، چه په هر یو وړور باندې حج فرض دې او که نه؟ د مشترک مال نه د حج د فرضیت اندازه لګولو داسې طریقه ده﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امین الشامی: (قوله ذی زاد وراحلة) افاد انه لا یجب الا بملک الزاد وملک اجرة الراحلة فلا یجب بالاباحة او العاریة کما فی البحر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۵۴ کتاب الحج)

﴿۲﴾ دې فرضی تقسیم سره چه هرکله د یو وړورحصه معلومه شی که د هر یو په حصه کښې دومره رقم راشی چه په دې سره دحج ټول اخراجات پوره کیږی نو په هرحصه دار باندې حج فرض دې......... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مشترک مال نه د حج کونکې فقیر ذمه د فریضه حج نه ساقطیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دمحمد رفیق والد، والده او کشرانو ورونړود مشترکه مال نه حج وکړو، اوس والد محمد رفیق ته ؤوئیل چه دا کال تهٔ حج ته لاړ شه، لیکن محمد رفیق وؤئیل چه زما دا حج د فرض حج بدل نشی کیدې، ځکه چه دا مشترک مال دې، اوس سوال دادې، چه که محمد رفیق ددې اشتراک نه جدا حالت کښې مالدار شی، نو په هغه به دوباره حج لازم وی او که نه؟ یا هم هغه د مشترک مال نه کړې شوې حج کافي دې؟ بینوا توجروا

المستفتی : محمد رفیق مردان ۲۵/۷/۷۵

الجواب: که دمشترک مال نه ستاحصه (دفرضی تقسیم په اعتبارسره) دحج دپاره کافی وی، نو په تا باندې حج فرض دې، تهٔ ددې مشترک مال نه حج کولې شې، او که ستا حصه کمه وی، او د میقات نه دعام حاجیانو شان د عمرې نیت وکړې، او په اتمه ذی الحجه د حج نیت وکړې، نو په دې صورت کښې به هم ستا فریضه ادا شی، په تا باندې به آئنده حج فرض نه وی﴿۲﴾. وهو الموفق

د حج د نصاب په اندازه د مال مالک نه وی، په هغې کښې صرف د تصرف اجازت وی، نو حج به فرض نه وی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوې ښځې ته د والدینو

(بقیه حاشیه) ګنی دمال مشترکه په کل نفع باندې مجموعی طورسره حج نه فرض کیږی. (ازمرتب)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومنها القدرة علی الزاد والراحلة بطریق الملک او الاجارة دون الاعارة والاباحة سواء کانت الاباحة من جهة من لامنة له علیه کالوالدین والمولودین او من غیرهم کالاجانب. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۱۷ کتاب المناسک الباب الاول)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: الفقیر اذا حج ماشیا ثم ایسر لا حج علیه هکذا فی فتاویٰ قاضی خان.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۱۷ کتاب المناسک الباب الاول)

د میراث نه هیڅ ملاؤ نشو، او دهغې خاوند هم وفات شو، البته ددې ښځې زامن ښه پیسې ګټي، او مور ته ورکوي، آیا ددې په وجه په هغې باندې حج فرض دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: خیال حنان اورکزئ ابوظهبی امارات ۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: که هغې ښځې ته خاوند یا اولاد بطور تملیک کافی مال ورکړې وی، نود شرط موجودیدلو په وجه په هغې حج فرض دې، اوکه اولاد صرف اختیار ورکړې وی، نودا په هغې باندې مالداره کیدې نشی ﴿۱﴾ وهو الموفق

د حرامو سره مخلوط مال باندې د حج کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې غلا کولو سره مال جمع کړو، بیا ئې دخپل حلال مال سره ګډ کړو او تجارت ئې شروع کړو، او ډیر مال ئې وګټلو، آیا په دې مال باندې حج کول جائز دی؟

المستفتی: عبد الرحمٰن وزیرستانی

الجواب: چونکه دا مخلوط مال دهغه سړې ملکیت دې، لهذا دطاقت لرلو په صورت کښې هغه باندې حج فرض دې، په مال حرام سره حج ادا کیږی، لیکن د ثواب نه به محرومه وی. ﴿۲﴾ (کمافی الهندیة ۲:۲۲۰) ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امین الشامی: (قوله ذی زاد وراحلة) افاد انه لا یجب الا بملک الزاد وملک اجرة الراحلة فلا یجب بالاباحة او العاریة کما فی البحر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۴ کتاب الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ویجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه لا یقبل بالنفقة الحرام کما ورد فی الحدیث مع انه یسقط الفرض عنه معها ولا تنافی بین سقوطه وعدم قبوله فلا یثاب لعدم القبول ولا یعاقب عقاب تارک الحج.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۲ مطلب فی من حج بمال حرام)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ویجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

قرض اخستلو سره حج ادا کول او بیا د حرام او حلال مخلوط مال نه قرضه ادا کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړې په مال کښې اویا فیصده د حرام مال ګډون دې، ددې وجه نه هغه قرضه واخستله او حج ئې ادا کړو، او د حج کولو نه پس په دې مخلوط مال سره قرضه ادا کوی، آیا دا حج په حلال مال سره شوې دې او که په حرام مال سره؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......... ۲۲ ذی الحجه ۱۴۹۴ھ

الجواب: دې سړې په حلال مال سره حج ادا کړو، او قرضه ئې د خپل پلیت مال نه بالاختلاط ادا کړه ﴿۱﴾، البته په دهٔ باندې د حقوقو ادا کول واجب دی، دې دپاره چه د مال حرام نه ئې ذمه فارغه شی ﴿۲﴾.

نوټ: په خالص مال حرام سره چه په هغې کښې د حلالو ګډون نه وی، نه لږ نه ډیر، دهغې نه قرض ادا کول ناجائز او حرام دی، لیکن داسې مال اقل قلیل وی. وهو الموفق

په مال حرام سره د حج د ادا کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په حرام او ناجائزه

(بقیه حاشیه) لا یقبل الحج بالنفقة الحرام مع انه یسقط الفرض معها وان کانت مغصوبة کذا فی فتح القدیر.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۲۰ الباب الاول فی تفسیر الحج)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: اذا اراد الرجل ان یحج بمال حلال فیه شبهة فانه یستدین للحج ویقضی دینه من ماله کذا فی فتاویٰ قاضی خان فی المقطعات.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۲۰ کتاب المناسک الباب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ان ماوجب التصدق بکله لا یفید التصدق ببعضه لان المغصوب ان علمت اصحابه او ورثتهم وجب رده علیهم والا وجب التصدق به.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۸ مطلب فی التصدق من المال الحرام)

دولت سره حج ادا کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی : مقدس خان کرکله بنوں ۱۳۹۸/۹/۲۸ھ

الجواب: دهغه حج ادا کیږی، لیکن دثواب نه محرومه کیږی. (شامی)﴿۱﴾ وهوالموفق

په حرام مال سره حج کونکی د ذمې نه د حج فریضه ساقطیږی، لیکن ثواب ورته نه حاصلیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د یو سړي افعال او کردار ډیر خراب دي، دهغه جائیداد او زمکه ټوله د دهوکې او د فراډ ده، د یتیمانو مال اخستل، دروغ وئیل، وغیره دا ټول دهغه کسب دې، یعنی ټول مال ئې د حرامو دي، اوس ئې د حج دپاره داخله لیږلې ده، آیا دا حج ادا کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی : محمد رحمن سیر غربی باړیان ۸ شوال ۱۳۹۵ھ

الجواب: کوم سړي چه په مال حرام حج کوی دهغه حج به قبول نه وی، د ثواب نه به محرومه وی، اګر چه د ذمې نه ئې فریضه ساقطه شوه.

کما فی ردالمحتار ۲ : ۱۹۱ وفی البحر ویجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه لا یقبل بالنفقة الحرام کما ورد فی الحدیث مع انه یسقط الفرض عنه معها ولا تنافی بین سقوطه وعدم قبوله فلا یثاب لعدم القبول ولا یعاقب عقاب تارک الحج﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی البحر ویجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه لا یقبل بالنفقة الحرام کما ورد فی الحدیث مع انه یسقط الفرض عنه معها ولا تنا فی بین سقوطه وعدم قبوله فلا یثاب لعدم القبول ولا یعاقب عقاب تارک الحج ای لان عدم الترک یبتنی علی الصحة وهی الاتیان بالشرائط والارکان والقبول المترتب علیه الثواب یبتنی علی اشیاء کحل المال والاخلاص کما لو صلی مرائیا او صام واغتاب فان الفعل صحیح لکنه بلا ثواب. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۱۵۲ مطلب فی من حج بمال حرام)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۱۵۲ مطلب فی من حج بمال حرام)

په سرکاری امداد سره حج کولو سره فریضه ادا کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په یو سړي حج فرض شو، او اوسه پورې ئې ادا کړې نه وی، او حکومت هغه لره د سرکاری ملازمت په وجه حج دپاره ؤلیږی، چه څلورمه حصه خرچ خپله وکړه، او درې حصې به حکومت برداشت کړی، نو آیا په دې طریقې سره به دهغه نه د حج فریضه ساقطه شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی :قاضی سعید احمد چوهړ هریال پنډی، ۲۲ شعبان ۱۴۰۳ ھ

الجواب: ددې ملازم نه به د حج فریضه ساقطه شی، او ذمه به ئې فارغه شی، ځکه چه دا ملازم دچا نه حج بدل نه کوی، تردې پورې چه تبرع ضررسان شی﴿۱﴾ .وهوالموفق

د حکومت په امداد سره نفلی حج دپاره د تللو حکم :

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې حج ادا کړې دې، اوس که حکومت پاکستان داسې سړې د حج دپاره لیږی، او حکومت خرچه برداشت کوی، داسې سړې دپاره د حرمین شریفین د زیارت نه مشرف کیدل شرعا صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد حسن برهانی مدرسه دارالهدیٰ

ټنډوالا یارحیدرآباد ۲۴ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: د چا په امداد سره حج کول ممنوع نه دی﴿۲﴾ په دې کښې څه شرعی

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومنها القدرة علی الزاد والراحلة بطریق الملک او الاجارة دون الاعارة والاباحة سواء کانت الاباحة من جهة من لامنة علیه کالوالدین والمولودین او من غیرهم کالاجانب کذا فی السراج...... الفقیر اذا حج ماشیا ثم ایسر لاحج علیه هکذا فی قاضی خان (فتاویٰ عالمگیریه ۱ : ۲۱۷ کتاب المناسک الفصل الاول)

﴿۲﴾چه داسیاسی رشوت نه وی ګنی بیابه دامداد قبلول جائزنه وی (سیف الله حقانی)

قباحت نشه، حکومت چالره په خوشامد یا مداهنت باندې مجبورولې نه شي﴿۱﴾. وهوالموفق

په سرکاري امداد سره حج نه تلل جائز دی.

هرکله چه دا سیاسی رشوت نه وی

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق په سرکاري امداد سره حج دپاره ځی، آیا شرعا دا جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا ناموس خان باړه ۲۳/۵/۸۷

الجواب: د حکومت په امداد سره حج دپاره تلل ناجائز نه دی﴿۲﴾، که حکومتی خزانه په لهو ولعب اوناجائز عیاشو کښې خرچ کولې شی،نوآیا دا د قوم خوش قسمتی نه ده،چه ددې خزانې نه یوه حصه په اسلامی مدرسو اوحج باندې خرچ شی﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امين: قوله ولو وهب الاب لابنه الخ وكذا عكسه وحيث لا يجب قبوله مع انه لا يمن احدهما على الآخر يعلم حكم الاجنبى بالاولىٰ ومراده افادة ان القدرة على الزاد والراحلة لابد فيها من الملك دون الاباحة والعارية كما قدمناه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۶ كتاب الحج)

﴿۲﴾ وفى الهندية: ومنها القدرة على الزاد والراحلة بطريق الملك او الاجارة دون الاعارة والاباحة سواء كانت الاباحة من جهة من لامنة له عليه كالوالدين والمولودين او من غيرهم كالاجانب كذا فى السراج الوهاج. (فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۲۱۷ كتاب المناسک)

﴿۳﴾ وفى الهندية: مايوضع فى بيت المال اربعة انواع...... الثالث الخراج والجزية وما صولح عليه بنو نجران ...... وما اخذه العاشر من المستأمنين...... وتصرف تلك الى عطايا المقاتلة وسدالثغور...... والى بناء الرباطات والمساجد...... والى ارزاق الولاة واعوانهم والقضاة والمفتين والمحتسبين والمعلمين والمتعلمين ويصرف الى كل من تقلد شيأ من امور المسلمين والىٰ مافيه صلاح المؤمنين كذا فى المحيط.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۱۹۰،۱۹۱ فصل ما يوضع فى بيت المال كتاب الزكوٰة)

په هبې سره د مالداره کیدلو په صورت کښې د حج د ادا کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه زيد صاحب جائيداد او غنی سړې دې، او خپله ئې حج کړې دې، د زيد څلور ځامن بالغ دی، ليکن مفلسان دی، هغه يو ځوی ته پيسې ورکړې او حج دپاره ئې ولیږو، چه کله زيد وفات شو، نو دهغه ځامن دولت مند او مالدار شو، اوس د زيد ځوی چه په حالت د غريبۍ کښې کوم حج ادا کړې وو، ايا اوس په هغه باندې د غنی کیدلو نه پس دوباره حج فرض دې او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمدافضل شاه لکی مروت ۱۰/۱۰/۱۹۷۵

الجواب: دا غريب د پلار د بخشش په وجه مالدار شوې دې، او ميقات پورې رسيدلو نه پس دا سړې په حکم د مکی کښې دې، بهرحال دا سړې به د فرضو نيت وکړي، او دوباره په دهٔ باندې حج اداکول واجب نه دی. (ماخوذ از شامی ج۲ ص۱۹۵)﴿۱﴾. وهوالموفق

په حج بدل کښې بيت الله شريف ليدلوسره په فقيرباندې حج نه فرض کيږی

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه

(۱) که يو فقيرسړې د حج بدل دپاره ولیږلې شی، نو د لیږونکی ذمه خلاصيږی او که نه؟

(۲) که دغې فقير د مخکښې نه حج نه وی کړې نو بيا څه حکم دې؟

(۳) په حج بدل کښې که مامور به تنګدست او غريب وی، چه په هغه باندې خپل حج فرض نه وی، او نه ئې مخکښې حج کړې وی،

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: الفقير الآفاقى اذا وصل الى ميقات فهو كالمكى...... وليفيد انه يتعين عليه ان لاينوى نفلاً على زعم انه لا يجب عليه لفقره لانه ماكان واجبا وهو آفاقى فلما صار كالمكى وجب عليه فلو نواه نفلاً لزمه الحج ثانيا الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۵ كتاب الحج قوله للآفاقى لالمكى)

آیا د بیت الله شریف په لیدلو سره په هغه باندې خپله حج فرض کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبدالرزاق محل سکون ایاز قلعه بنوں ۱/۲/۷۴

الجواب: (۱) داسې سړې لره د حج بدل دپاره لیږل جائز دی. (شامی)

(۲) ذمه ئې فارغه کیږی.﴿۱﴾

(۳) دا مختلف فیه مسئله ده، البته د اکثر اهل تحقیق په نزد په هغه باندې حج نه فرض کیږی. والتفصیل فی الشامیة ﴿۲﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (فجاز حج الصرورة من لم یحج) یراد به الذی لم یحج عن نفسه ای حجة الاسلام. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۱ مطلب فی حج الصرورة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (تنبیه) قال فی نهج النجاة لابن حمزة النقیب بعد ما ذکر کلام البحر المار اقول وظاهره یفید ان الصرورة الفقیر لا یجب علیه الحج بدخول مکة وظاهر کلام البدائع باطلاقه الکراهة ای فی قوله یکره احجاج الصرورة لانه تارک فرض الحج یفید انه یصیر بدخول مکة قادراً علی الحج عن نفسه وان کان وقته مشغولا بالحج عن الآمر وهی واقعة الفتویٰ فلیتأمل، قلت: وقد افتی بالوجوب مفتی دار السلطنة العلامة ابو السعود وتبعه فی سکب الانهر وکذا افتی به السید احمد بادشاه والف فیه رسالة وافتی سیدی عبد الغنی النابلسی بخلافه والف فیه رسالة لانه فی هذا العام لا یمکنه الحج عن نفسه لان سفره بمال الآمر فیحرم عن الآمر ویحج عنه وفی تکلیفه بالاقامة بمکة الی قابل لیحج عن نفسه ویترک عیاله ببلده حرج عظیم وکذا فی تکلیفه بالعود وهو فقیر حرج عظیم ایضا واما ما فی البدائع فاطلاقه الکراهة المنصرفة الی التحریم یقتضی ان کلامه فی الصرورة الذی تحقق الوجوب علیه من قبل کما یفیده ما مر عن الفتح نعم قدمنا اول الحج عن اللباب وشرحه ان الفقیر الآفاقی اذا وصل الی میقات فهو کالمکی فی انه ان قدر علی المشی لزمه الحج ولا ینوی النفل علی زعم انه فقیر لانه ما کان واجبا ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حج د منظورۍ نه مخکښ ایښودلې شوې رقم امانت وی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه کومو خلقو تیرکال د حج دپاره پیسې په بینک یا چا سره جمع کړې وی، او د حج منظوری ئې نه وی شوې، او هم په هغې پیسو ئې آئنده کال د تلو اراده وی، نو په هغې پیسو به سالانه زکوة واجب وی او که نه؟

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: دحج دپاره داخل شوې رقم د منظورۍ نه مخکښ امانت وی، لهذا په دې باندې به باقاعده زکوة واجب وی﴿۱﴾.وهو الموفق

دفاعی فنډ کښ پیسې ورکولو سره د فریضه حج نه ذمه نه خلاصیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه راقم الحروف د دوؤ کالو نه د بیت الله د حج درخواستونه ورکړی دی، لیکن منظور شوې نه دی، او س

(بقیه حاشیه)علیه وهو آفاقی فلما صار کالمکی وجب علیه حتی لو نواه نفلا لزمه الحج ثانیا، لکن هذا لا یدل علی ان الصرورة الفقیر کذلک لان قدرته بقدرة غیره کما قلنا وهی غیر معتبرة بخلاف مالو خرج لیحج عن نفسه وهو فقیر فانه عند وصوله الی المیقات صار قادرا بقدرة نفسه فیجب علیه وان کان سفره تطوعا ابتداء ولو کان الصرورة الفقیر مثله لما صح تقیید ابن الهمام کراهة التحریم بما اذا کان حجه عن الغیر بعد تحقق الوجوب علیه وتعلیله لکراهة بانه تضیق الوجوب علیه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۲ قبیل مطلب العمل علی القیاس دون الاستحسان)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: ویخالفه ما فی معراج الدرایة فی فصل زکاة العروض ان الزکاة تجب فی النقد کیفما امسکه للنماء او للنفقة وکذا فی البدائع فی بحث النماء التقدیری.

(البحر الرائق ۲: ۲۰۶ کتاب الزکوٰة)

دحج پیسې په بېنک کښ جمع دی او بل طرف ته کافرانو سره جنګ هم شروع دي، نو آیا زه دا پیسې د حج په ځائي په دفاعی فنډ کښ ورکړم، یا حج ادا کړم، زما عمر دوه اویا کاله دي، د ژوند بهروسه نشته، چه بل کال ته به ژوندي یم او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد نعیم صاحب لاله رخ واه کینټ ۳۰/۱۲/۷۱

الجواب: په دفاعی فنډ کښ د پیسو ورکولو ډیر لوئي اجر دي، لیکن په دي کښ پیسې ورکولو سره د حج نه ذمه نه خلاصیږی﴿۱﴾. لکه څرنګه چه په دي فنډ کښ پیسې ورکولو سره د سرکاری بل او ټیکس نه ذمه نه فارغه کیږی. لهذا اهم فالاهم لره مقدم کړه﴿۲﴾. وهو الموفق

د بالغ کیدلو نه پس دوباره د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښ چه ما د خپلو والدینو سره تقریبا د پنځو شپږو کالو په عمر کښ حج کړې وو. اوس الحمد لله زۀ بالغ او غنی یم. بعضې خلق وائي چه هغه حج نفل وو. په تا دوباره حج فرض شوي دي، آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: میر هشیم وزیرستانی ۹/۱۲/۱۹۸۲

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: وان ملکه فیه ای فی الوقت فلیس له صرفه الی غیر الحج فلو صرفه لم یسقط الوجوب عنه وهذا تصریح بما علم ضمنا ومنطوق لما عرف مفهوما. (ارشاد الساری ۱:۳۳ باب شرائط الحج.

﴿۲﴾ قال العلامة النووی: (قوله فقال رجل یا رسول الله ﷺ ان امرأتی خرجت حاجة وانی اکتتبت فی غزوة کذا وکذا قال انطلق فحج مع امرأتک) فیه تقدیم الاهم من الامور المتعارضة لانه لما تعارض سفره فی الغزو وفی الحج معها رجح الحج معها لان الغزو یقوم غیره فی مقامه عنه بخلاف الحج معها.

(شرح النووی فی ذیل مسلم ۱:۴۳۴ قبیل باب مایقول اذا رجع من الحج)

الجواب: د فرض حج دپاره بالغ کیدل شرط دی، د بلوغت نه مخکښ حج کولو سره فرض حج نه ساقط کیږی، د صاحب استطاعت دپاره د بلوغت نه پس دوباره حج کول ضروری دی(لباب﴿۱﴾ هدایه﴿۲﴾. وهو الموفق

د فریضه حج د تاخیر دپاره د اولاد لونډان کیدل شرعی عذر نه دي:

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښ چه زۀ د خپل کور والا سره حج دپاره تلل غواړم، لیکن زما کشر ځوی ناوادۀ کړې دي، ددې وجه نه دهغه لونډ کیدل زما په حج کولو کښ حائل کیدې شی؟ زما عمر پنځه اویا کالو نه زیات دي، ددې وجه نه زړۀ د اطمینان دپاره ددې کار پوښتنه کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټر محمد نعیم خان صوبیدار میجر واه کینټ

الجواب: د ستاسو د فریضه حج د ادا کولو دپاره د اولاد لونډ کیدل شرعی

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: الثالث البلوغ وهو شرط الوجوب والوقوع عن الفرض لا عن الجواز او الصحة فلا یجب علی صبی ممیز او غیر ممیز، فلوحج...... فهو نفل لا فرض لکونه غیر مکلف فلو احرم ثم بلغ فلوجدد احرامه یقع عن فرضه والافلا الخ.

(ارشادالساری ۲۵ باب شرائط الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة المرغینانی: وانما شرط الحریة والبلوغ لقوله علیه الصلاة والسلام ایما عبد حج عشر حجج ثم اعتق فعلیه حجة الاسلام وایما صبی حج عشرحجج ثم بلغ فعلیه حجة الاسلام. قال ابن الهمام: روی الحاکم من حدیث محمد بن المنهال حدثنا یزید بن زریع حدثنا شعبة عن الاعمش عن ابی ظبیان عن ابن عباس رضی الله عنهما قال، قال رسول الله ﷺ ایما صبی حج ثم بلغ الحنث فعلیه ان یحج حجة اخری...... وقال صحیح علی شرط الشیخین.

(الهدایة مع فتح القدیر ۲: ۳۲۵ کتاب الحج)

عذر نه دي﴿۱﴾، تاسو ضرور د حج دپاره تیاري وکړئ. وهو الموفق

ورومبي د خوی واده وکړي او که حج ادا کړي

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښې چه زما رور ناواده کړې دي، نو والد صاحب د مشر ورور واده وکړي او که اول حج ادا کړي؟

المستفتي: شاه جهان تبوک سعودی عرب /یکم ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: که په والد صاحب باندې حج فرض شوې وی، نو په دې صورت کښې د ځوی د واده نه مخکښې دې د حج فریضه ادا کړي. (کما فی الدر المختار ج۲ ص۳۳۲)﴿۲﴾.وهو الموفق

د محرم نه بغیر د حج د پاره تللو کراهت کښې عرب او عجم برابر دي

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښې چه د کنډو بوډې ګانو ښځو طبعی حالت د نکاح دپاره قابل نه وی. لهذا که هغه د معتمد سړې سره حج دپاره لاړه شی. نو ولې جائز نه ده؟ او دا د عدم جواز مسئله صرف د عجمو دپاره ده. یا که د عربو دپاره هم ده. ځکه چه په مکه مکرمه کښې به هم کنډې ښځې وی، چه دهغوی به څوک محرم نه وی. هغوی خو هلته حج ادا کوی. آیا دهغوی دپاره هم د محرم نه بغیر حج ادا کول ممنوع دی؟ زمونږ په علاقه کښې دا مشهوره ده، چه د داسې کنډو بوډې ګانو حج قبول نه دې، چه نکاح اونه کړي، یا محرم ورسره نه وی؟ بینوا توجروا

المستفتي :عبد الکریم پیښور

﴿۱﴾ وفی الهندیة: اذا وجد مایحج به وقد قصد التزوج یحج به ولا یتزوج لان الحج فریضة اوجبها الله تعالیٰ علی عبده کذا فی التبیین.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۱۷ بحث ومنها القدرة علی الزاد والراحلة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی الاشباه معه الف وخاف العزوبة ان کان قبل خروج اهل بلده فله التزوج ولو وقته لزمه الحج. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۵۶ کتاب الحج)

الجواب: د ښځې دپاره د خاوند یا محرم نه بغیر حج دپاره تلل مکروه تحریمی دی، په دې حکم کښې د عرب او عجم هیڅ فرق نشته. البته د کومې ښځې چه مقام د مقدار سفر نه کم وی، نو هغې دپاره خاوند یا محرم شرط نه دې.

فی الدر المختار مع زوج او محرم بالغ عاقل غیر مجوسی ولا فاسق...... لامرأة حرة ولو عجوزاً فی سفر...... ولو حجت بلا محرم جاز مع الکراهة (مختصراً)﴿۱﴾. وهو الموفق

بوډۍ ښځه غیر محرم سره حج ته نشی تلې

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښې چه دیوې ښځې نوسې پیدا شوې دی، یعنی د اتیاؤ کالو نزدې ده، آیا دا ښځه د کلي غیر محرم سړې سره حج دپاره تللې شی؟ بینوا توجروا

المستفتي : حاجی مشرف خان سیدو سوات

الجواب: بوډۍ ښځه د غیر محرم سره حج دپاره نشی تللې.

کما فی شرح التنویر ومع زوج او محرم بالغ عاقل غیر مجوسی ولا فاسق...... لامرأة حرة ولو عجوزا فی سفر، وفی ردالمحتار ۲:۱۹۹ (قوله ولو عجوزاً) ای لاطلاق النصوص بحر، وقال الشاعر ؎

لکل ساقطة فی الحی لاقطة

وکل کاسدة یوما لها سوق ﴿۲﴾. وهو الموفق

یو پردي سړي خپل دینی ورور جوړولو سره هغه سره حج دپاره تلل جائز نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښې چه یوه ښځه چه دهغې

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۵۸ کتاب الحج)

﴿۲﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۵۸ کتاب الحج)

خاوند یا محرم نه وی، یو پردی سړي لره خپل دیني ورور جوړولو نه پس هغه سره حج یا عمرې ته تللې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مدرسه اشاعت قران شامي بالا پیښور ۱۶/۸/ ۱۹۷۷

الجواب: د ښځې دپاره د خاوند یا محرم نه بغیر د حج په سفر باندې تلل حرام دي، پردې سړي په زباني ورور خور جوړولو سره محرم نه جوړیږي.

كما في شرح التنوير ومع زوج او محرم بالغ عاقل غير مجوسي ولافاسق مع وجوب النفقة لمحرمها عليها لامرأة حرة ولو عجوزاً (بحذف يسير) هامش ردالمحتار ۲: ۱۹۹ ﴿۱﴾. وهوالموفق

كه په ائر پورټ باندې محرم موجود وي. بیا هم سفر بغیر د محرم نه جائز نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه زید په سعودي عرب مدینه منوره کښې مقیم دې، هغه وائي چه زما ښځه دې خپل پلار د کراچۍ ائرپورټ نه په هوائي جهاز کښې سوره کړي، او زۀ به په مقرره وخت کښې د جدې په هوائي اډه باندې موجود یم، نو ښځه به بوځم، او وائي چه ددې ځائ علماؤ فتوی ورکړې ده، چه د ضرورت په وخت کښې ځوانه ښځه بغیر د محرم نه په هوائي جهاز کښې سفر کولې شي، لیکن دهغه د ښځې پلار وائي چه زما د لورعمر اتلس کاله دې،اود سفر نه واقف نه ده، لهذا شرعا دا بغیر د محرم نه سفر نشي کولې،او بله داچه د زید مجبوری هم نشته،هغه مالدار سړې دې دلته دې راشي او خپله ښځه دې بوځي،او خپل مور پلار سره دې ملاقات هم وکړي، چه اعلی عبادت دې، اوس په دې دواړو کښې د چا قول حق دې؟
بینوا من کتب الحنفیة بیانا شافیا توجروا اجرا وافیاً.

المستفتي: عبد الواحد ملتان

الجواب: د ښځې د پلارخبره حقه ده،دحدیث او فقه سره مطابق ده.........

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۵۸ كتاب الحج)

قال رسول الله ﷺ لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تسافر سفرا فوق ثلثة ايام فصاعداً الا ومعها ابوها او اخوها او زوجها او ابنها او ذومحرم منها (رواه ابوداؤد) ﴿۱﴾. وبمعناه في سائر كتب الاحاديث ﴿۲﴾. وفي الهندية ۵: ۳۶۶ ولا تسافر المرأة بغير محرم ثلثة ايام فما فوقها ﴿۳﴾ وهكذا في سائر كتب الفقه،

البته دضرورت په وخت کښې د امام شافعي رحمه الله او حماد رحمه الله په قول باندې فتوی ورکول جائز دي، امام شافعي رحمه الله فرمائي چه د باوري ښځو سره تلل جائز دي، هرکله چه هغه ښځو سره محارم وغیره موجود وي،﴿۴﴾ او حماد فرمائي چه نیکانو سړو سره تللې شي.

كما في الهندية ۵: ۳۶۶ قال حماد رحمه الله لابأس للمرأة ان تسافر بغير محرم مع الصالحين ﴿۵﴾. وهوالموفق

د حج د پاره بغیر د محرم نه سفر کول ګناه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د سعودي عرب

﴿۱﴾ (سنن ابي داؤد ۱: ۲۴۸ باب في المرأة تحج بغير محرم كتاب الحج)

﴿۲﴾ عن ابن عباس قال سمعت رسول الله ﷺ يخطب يقول: لا يخلون رجل بامرأة الا ومعها ذومحرم ولا تسافر المرأة الا مع ذى محرم فقام رجل فقال يارسول الله، ان امرأتي خرجت حاجة واني اكتتبت في غزوة كذا وكذا فقال انطلق فحج مع امرأتك.

(صحيح مسلم ۱: ۴۳۴ كتاب الحج، صحيح البخارى ۱: ۲۵۰ كتاب الحج)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۵: ۳۶۶ الباب السادس والعشرون من الكراهية)

﴿۴﴾ قالوا الشافعية: ان يكون مع المرأة زوجها او محرمها او نسوة يوثق بهن اثنتان فاكثر، فلو وجدت امرأة واحدة فلا يجب عليها الحج وان جاز لها ان تحج معها حجه الفريضة بل يجوز لها ان تخرج وحدها لاداء الفريضة عند الامن.

(الفقه على المذاهب الاربعة ۱: ۵۵۲ شروط صحة الحج)

﴿۵﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۵: ۳۶۶ قبيل الباب السابع والعشرون في القرض والدين)

نه د خپل مور دپاره څو ځله د حج داخله وکړه، لیکن محرم نه کیدلو په وجه دهغې ښځې حج مؤخر کیدلو، اوس د محلې یو نیک او ایماندار سړې حج دپاره ځی، د ښځې د وارثانو دا اراده ده. چه حاجی کیمپ او جهاز پورې به ورسره اولیاء لاړشی. او په جده ائیرپورټ باندې به دهغې ځوې هغې باندې حج وکړی، لیکن په هوائي جهاز کښ به دا ثلور پنځه ګنټې سفر بغیر د محرم نه وی، شرعا ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید رحمٰن شاه حقانی ۲۴ جمادی الثانی ۱۴۰۲ ه

الجواب: بغیر د محرم یا خاوند نه هر سفر کول معصیت دې. حدیث ورد بذالک﴿۱﴾ وصرح به جمیع ارباب الفتاوی﴿۲﴾. وهو الموفق

د حاجنړې د پاره لیور یا د خاوند تره محارم نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه یوه ښځه حج ته تلل

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضی الله عنهما، قال: سمعت رسول الله ﷺ یخطب یقول: **لا یخلون رجل بامرأة الا ومعها ذومحرم، ولا تسافر المرأة الا مع ذی محرم، فقال رجل، فقال یا رسول الله، ان امرأتی خرجت حاجة، وانی اکتتبت فی غزوة کذا وکذا، فقال انطلق فحج مع امرأتک**، متفق علیه واللفظ لمسلم.

(بلوغ المرام ۲۲۵ کتاب الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة الموصلی: ولا تحج المرأة الا بزوج او محرم اذا کان سفرا، لقوله علیه الصلاة والسلام، لا یحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الآخر ان تسافر ثلاثة ایام فما فوقها الا ومعها زوجها او ذورحم منها، (رواه البخاری ومسلم ومالک وابوداؤد والترمذی واحمد) وقال علیه السلام لا تحج المرأة الا ومعها زوجها او ذورحم محرم منها والمحرم کل من لایحل له نکاحها علی التابید الخ.

(الاختیار لتعلیل المختار ۱:۱۸۲ کتاب الحج)

غواړی، آیا هغه خپل لیور یا د خاوند تره سره تلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نجم الرحمٰن بقلم خود ۲۳/۵/۱۹۷۲

الجواب: دا سړې نه محارم دی، او نه ازواج دی، لهذا دا ښځه ددې سړې سره حج ته نشی تلې﴿۱﴾. وهو الموفق

بغیر د محرم نه حج ناجائز دې. لیکن د حج په صحیح کیدلو او ذمه خلاصیدلو کښ مانع نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه یو سړې د خپلې مور دپاره د حج داخله وکړې، حالانکه ځوی ئې په سعودیه کښ دې، که هغه کراچۍ نه جدې پورې صرف په جهاز کښ بغیر د محرم نه سفر وکړی، نو ددې څه حکم دې. او دا حج ادا کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد نبی ریاض سعودیه ۲۸ سفر ۱۴۰۳ ه

الجواب: د کراچۍ نه جدې پورې دا بغیر د محرم نه سفر ناجائز دې، لیکن د حج په صحیح کیدلو او ذمه فارغه کیدلو کښ مانع نه دې. (ماخوذ ازشامیه﴿۲﴾). وهو الموفق

په پیر حق مهر سره د حج د فرضیت مسئله او د هبې په صورت کښ د حج د فرضیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه شاهد د خپلې لور

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ومع زوج او محرم) ...... والمحرم من لایجوز له مناکحتها علی التأبید بقرابة اورضاع او صهریة کما فی التحفة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۷ کتاب الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو حجت بلا محرم جاز مع الکراهة، قال ابن عابدین: ای التحریمیة للنهی فی حدیث الصحیحین لا تسافر امرأة ثلاثا الا ومعها محرم زاد مسلم فی روایة اوزوج. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۵۹ قبیل مطلب فی فروض الحج وواجباته)

شاهدې نکاح د مشهود سره په یو لاکهـ او اویا زره روپۍ حق مهر باندې وکړه، شاهدې یو لاکهـ اویا زره روپۍ قبضه کړې، او ډیر زر شاهدې دا پیسې خپل پلار ته ؤبخلې، اوس سوال دادې، چه په شاهدې باندې ددې پیسو په وجه حج فرض دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري مولوی محمد زمان خطیب جامع مسجد میران شاه شمالي وزیرستان ۱۹۹۰ء/۱۳/۵

الجواب: که دې جینۍ دا مهر د شوال د میاشتې داخلیدو نه پس یعنی د حج د داخلې ؤرځو نه پس هبه کړې دې نو په پلار او لور دواړو باندې حج فرض شوې دې، او که د شوال یعنی د داخلې ؤرځو نه مخکښې ئې هبه کړې دی، نو صرف په پلار باندې حج فرض دې﴿۱﴾. وهوالموفق

د حج ادا کولو د پاره د خاوند نه اجازت غوښتلو ضرورت نشته

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوه ښځه مالداره شوې ده، او په هغې باندې حج فرض شوې دې، دا ښځه به د حج ادا کولو دپاره د خاوند نه اجازت غواړي او که نه؟

المستفتي: خیال حنان اورکزئ ابوظهبي امارات ۱۲ ربیع اول ۱۴۰۲هـ

الجواب: که په دې ښځې باندې حج فرض وی، او محرم ورسره وی، نو د خاوند نه اجازت اخستل ضروری نه دی، د خاوند د اجازت نه بغیر حج دپاره تلې شی. (ردالمحتار ۲:۲۰۰)﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: و الوقت ایضا فلا یجب قبل اشهر الحج حتی لو ملک مابه الاستطاعة قبلها کان فی سعة من صرفها الی غیره وافاد هذا قیدا فی صیرورته دینا اذا افتقر وهو ان یکون مالکا فی اشهر الحج فلم یحج والاولیٰ ان یقال اذا کان قادرا وقت خروج اهل بلده ان کانوا یخرجون قبل اشهر الحج لبعد المسافة او قادرا فی اشهر الحج ان کانوا یخرجون فیها ولم یحج حتی افتقر تقرر دینا وان ملک فی غیرها وصرفها الی غیره لا شیئ علیه. (فتح القدیر ۲: ۳۲۱ مقدمه یکره الخروج الی الحج اوذکره احد ابویه الخ)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولیس لزوجها منعها) ای اذا کان معها محرم والا فله منعها کما یمنعها عن غیر حجة الاسلام ولو واجبة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د کمپنۍ نه اجازت اخستلو نه بغیر نفلی حج کول

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ما فرض حج ادا کړې دې، او اوس مې د نفلی حج دپاره پخه اراده کړې ده، زهٔ حاضر وخت کښې په مدینه منوره کښې په یوه کمپنۍ کښې کارکوم، اوکمپنې راته اجازت نه راکوی، لهذا که چهټی ملاؤ نشي، او زهٔ د کمپنۍ د اجازت نه بغیر حج وکړم، نو ایا دا حج به صحیح وی؟ بینوا توجروا

المستفتي: صوفي فضل دین مدینه منوره ۲۱ شوال ۱۴۰۳هـ

الجواب: که د کمپنۍ نه د چهټۍ اخستلو کوشش وکړې نو ډیره ښه ده، ګنې د اجازت نه بغیر هم دا نفلی حج کول صحیح دی. وهوالموفق

لیکن د غیر حاضرۍ د ؤرځو د تنخواه به حقدار نه وی. (سیف الله حقانی)

د صحت د امید په صورت کښې حج بدل صحیح نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زما د والدې صحت کمزروې دې، او د زړهٔ مریضه ده، دهغې د حج څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: شاه جهان تبوک سعودی عرب /یکم ربیع الثانی ۱۴۰۲هـ

الجواب: که والده دې د زړهٔ مریضه وی، او د صحت امید ئې نه وی، او خپله حج نشی کولې، او په هغې حج فرض شوې دې، نوهغه به حج بدل کوی، ځکه چه صحتمند کیدل د حج دپاره شرط دې. که د صحت امید وی، نو بیا حج بدل صحیح فه دې. (لما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار. ج۲ ص۱۹۲)

(بقیه حاشیه) بصنعها کالمنذو رة ...... وکذا لو دخلت مکة بعد مجاوزة المیقات غیر محرمة لان حق الزوج لاتقدر علی منعه بفعلها بل بایجاب الله تعالیٰ فی حجة الاسلام رحمتی. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۸ قبیل مطلب فی فروض الحج وواجباته)

مکلف صحیح البدن، وفی الشامیة تحت قوله صحیح البدن فلا یجب علی مقعد ومفلوج وشیخ کبیر﴿۱﴾. وهوالموفق

د عمرې په ادا کولو سره فریضه حج نه ادا کیږي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په یو سړي حج فرض شوې دې .لیکن هغه حج نه کوي، صرف هلته کښې لاړ شي او عمره ادا کړي، او واپس راشي، ددغي سړي څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي : عبدالودود بائمال شریف بټګرام ۱۹ شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: په دغه سړي لازم دی چه حج ادا کړي ګني د وعید مستحق دې﴿۲﴾. وهوالموفق

په زمین حل کښې ؤسیدونکو دپاره د طواف قدوم مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په اهل مکه طواف قدوم نشته، لیکن کوم خلق چه په حل صغیر یعنی د میقات او زمین حرم په مینځ کښې ؤسیږي، په هغوی طواف قدوم شته او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي :مولوی سید کرم شاه صوابی

الجواب: طواف قدوم یعني طواف تحیة الکعبه د آفاقی دپاره چه مفرد بالحج یا قران کونکی وی، دهغوی دپاره سنت دې، او په اهل مکه او افاقی متمتع او معتمر باندې طواف قدوم نشته.(ارشاد الساری)﴿۳﴾ او فقهاؤ حل صغیر

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۵۴ کتاب الحج)

﴿۲﴾عن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من ملک زادا وراحلة تبلغه الی بیت الله ولم یحج فلا علیه ان یموت یهودیا او نصرانیا وذلک ان الله تبارک وتعالیٰ یقول" ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا" رواه الترمذی ومثله رواه الدارمی.
(مشکواة المصابیح ۱: ۲۲۲ الفصل الثانی کتاب المناسک)

﴿۳﴾قال العلامة الملا علی القاری: الاول طواف القدوم ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د اهل مکې په حکم کښې شمار کړې دې. خلافا للقهستانی﴿۱﴾ فلیراجع الی ردالمحتار﴿۲﴾.وهوالموفق

په زمین حل کښې ؤسیدونکو دپاره د طواف وداع مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه په حل صغیر یعنی میقات کښې دننه ؤسیدونکو باندې طواف وداع واجب ده که نه؟بینواتوجروا

المستفتي : مولوی سید کرم شاه صوابی

الجواب: طواف وداع (طواف صدر) د میقات نه بهر آفاقی حاجی باندې واجب دی،او په اهل میقات او اهل مکه او معتمر باندې واجب نه دې. (ردالمحتار)﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه)ویسمی طواف التحیة...... وهو سنة...... للآفاقی دون المیقاتی والمکی المفرد بالحج والقارن...... بخلاف المعتمر ای المفرد بالعمرة والمتمتع ولو آفاقیا والمکی ای وبخلاف المکی اذا کان مفردا بالحج ومن بمعناه ای ومن سکن او اقام من اهل الآفاق بمکة وصار من اهلها فانه لا یسن فی حقهم. (ارشاد الساری ۹۶ باب انواع الاطوفة)

﴿۱﴾ قال العلامة شمس الدین الخراسانی القهستانی: وقد سن هذا الطواف للآفاقی ای الخارجی کما فی المتداولات لکن فی خزانة المفتیین انه واجب علی الاصح فلا یسن للمکی اذ لا قدوم له ویسن لاهل المواقیت وداخلها. (جامع الرموز ۱: ۴۵۵ کتاب الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله للآفاقی) ای لا غیر فتح فلا یسن للمکی ولا لاهل المواقیت ومن دونها الی مکة سراج وشرح اللباب الا ان المکی اذا خرج للآفاق ثم عاد محرما بالحج فعلیه طواف القدوم لباب فهذا خلاف مافی القهستانی من انه یسن لاهل المواقیت وداخلها فافهم.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۸۱ مطلب فی طواف القدوم)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: (ثم اذا اراد السفر طاف للصدر ای الوداع) وهو واجب الا علی اهل مکة) افاد وجوبه علی کل حاج آفاقی مفرد او متمتع او......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حیض په حالت کښې د طواف زیارت او سعي مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوه ښځه د حج د پاره لاړه، د حج په دوران کښې یعنی اتمې ذی الحجې نه اتلسمې ذی الحجې پورې په حیض کښې وه، طواف رکن چه فرض دې په مسجد حرام کښې کولې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: جهانزیب جمال ګړهی مردان ۴/۱/۱۹۸۸

الجواب: داسې حائضه ښځه به ټول افعال د حج ادا کوی، سوا د طواف او سعی نه، او چه کله پاکه شی، نو طواف وغیره به کوی، که په اتلسم تاریخ باندې پاکه شی یا ددې نه مخکښې (شامي وغیره)﴿۱﴾ وهو الموفق

په عرفات کښې د جمع بین الصلاتین مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې په عرفات کښې چه کومه جمع بین الصلاتین کیږی، که دا مونځونه بغیر د جمعې نه په خپل خپل وخت کښې ادا کړې شی، نو په حج کښې به نقصان راځی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی ظفر الحق ۱۱/۱۲/۱۹۸۵

(بقیه حاشیه) قارن...... فلا یجب علی المکی ولا علی المعتمر مطلقا...... **(ومن فی حکمهم)** ای ممن کان داخل المواقیت وکذا من نوی الاستیطان قبل حل النفر کما مر.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۰۲ مطلب فی طواف الصدر)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وحیضها لا یمنع نسکا **(من اعمال الحج) الا الطواف** (والسعی فهو حرام من وجهین دخولها المسجد وترک واجب الطهارة) **ولا شیئ علیها** بتاخیره اذا لم تطهر الا بعد ایام النحر فلو طهرت فیها بقدر اکثر الطواف لزمها الدم بتاخیره لباب. (الدر المختار مع توضیح ردالمحتار ۲:۲۰۶ قبیل باب القران)

الجواب: په دې کښې هیڅ نقصان نشته﴿۱﴾. وهو الموفق

په عرفات یا لاره کښې به د ماښام او ماسخوتن مونځ نه کوی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې که یو حاجی په عرفات کښې د ماښام مونځ وکړی، او مزدلفې ته لاړ شی، یا ئې په لاره کښې په وخت کښې ادا کړی، او د ماسخوتن مونځ هلته کښې ادا کړی، آیا دا طریقه صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرحمٰن مشیط سعودیه

﴿۱﴾ په عرفات کښې د ماسپښین او مازیګر مونځ د جمع کولو بعضې شرطونه متفق علیه دی او بعضې مختلف فیه دی دهغې تفصیل دادې:

(۱) ...... ددې دواړو مونځونو جمع کولو په وخت د حج په احرام کښې کیدل دا امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد شرط دی او د صاحبینو په نزد دواړو جمع کولو د پاره صرف د مازیګر د مونځ په وخت احرام کښې کیدل شرط دی.

(۲) ......دواړه مونځونه جمعې سره اداکول دا امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد شرط دی د صاحبینو په دې کښې اختلاف دې او صحیح د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دې

(۳) ......په دواړو مونځونو کښې د بادشاه وخت (خلیفه) یا دهغه د نائب امام جوړیدل که هغه مقیم وی او که مسافر، پس ددې نه علاوه بل امام سره ددې دواړو مونځونو جمع کول جائز نه دی، د بل چا په امامت کښې د جماعت کولو حکم د ځانله مونځ کونکی په شان دې، د صاحبینو په نزد دا جمع کول جائز دی.

(۴) ......ماسپښین په مازیګر باندې مقدم کول یعنی اول د ماسپښین مونځ کول بیا د مازیګر، پس مازیګر په ماسپښین باندې مقدم کول جائز نه دی دا شرط متفق علیه دې.

(۵) ......د جمع بین الصلاتین وخت کیدل او دا د عرفې په ورځ یعنی په نهم ذی الحجه د آفتاب د زوال نه پس د مازیګر د وخت داخلیدو نه مخکښې دې دا شرط هم متفق علیه دې.

(۶) ......مکان او دا عرفات یا دې سره نزدې ځائې دې دا شرط هم متفق علیه دې.

پس د جمع بین الصلاتین فی العرفات ټول شپږ شرطونه دی که په دې شرطونو کښې یو شرط هم بیا نه موندې شی نو دواړه مونځونه به ځانله ځانله په خپل خپل وخت کښې خپل ځائې کښې لوستلې شی (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

الجواب: حاجی به د ماښام او ماسخوتن مونځ په عرفات کښې یا د مزدلفې په لاره کښې نه ادا کوی، که دا مونځونه ئې هلته ادا کړل، نو په مزدلفه کښې به دوباره ادا کوی، او د ماسخوتن په وخت کښې به دا دواړه مونځونه ادا کولې شی، اګر که د ماښام په وخت کښې مزدلفې ته رسیدلې وی. (شرح لباب﴿۱﴾ شامی﴿۲﴾). وهوالموفق

د رمی جمرات دپاره کوتکانړی د مزدلفې نه او که د لار نه راواخلی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق د شیطان ویشتلو دپاره کوتکانړی هم دغه ځائي نه اوچتوی، ددې څه حکم دې؟ او دا کانړی د کوم ځائي نه راخستل مستحب دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......۱۹۷۳ء

[بقیه حاشیه] که یواځې وی نو ځانله دې اوکړی اوکه دوه یا زیات سړی وی نو ماسپښین او مازیګردې په خپل خپل وخت کښې جماعت سره اداکړی. (عمدة الفقه ۴:۲۱۹)

منهاج السنن شرح جامع السنن کی دی: وقال ابویوسف ومحمد لا یشترط له الامام ولا نائبه وفی البرهان ان قولهما اظهر من حیث الدلیل، وفی عصرنا وقع الاذن العام من السلطان بالجمع فی الخیام فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۴:۱۳۹)...... ازمرتب

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: واما الوقت فوقت العشاء...... فلو وصل الی مزدلفة قبل العشاء لا یصلی المغرب حتی یدخل وقت العشاء. (ارشاد الساری ۱۴۶ باب احکام المزدلفة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وصلی العشاءین باذان واقامة...... ولو صلی المغرب والعشاء فی الطریق او فی عرفات اعاده للحدیث...... والمکان مزدلفة والوقت وقت العشاء حتی لووصل الی مزدلفة قبل العشاء لم یصل المغرب حتی یدخل وقت العشاء.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۹۱،۱۹۲ قبیل مطلب فی الدفع من عرفات)

الجواب: د رمی جمار دپاره د مزدلفې نه یا د لارې نه کانړی راوچتول مستحب دی، او د مزدلفې نه سوا بل ځائي نه اوچتول هم جائز دی (شرح لباب)﴿۱﴾ او کوم ځائي کښې چه شیطانان ویشتلې کیږی، هلته نه راوچتول مکروه تنزیهی دی (هندیه)﴿۲﴾. وهوالموفق

ټول سر یا څلورمه حصه خرول یا کمولو نه بغیر د احرام نه نه وځی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړې ویښته درې یا څلور انچه لوئې وی، اوعمره یا حج کولو نه پس ئې په قینچئ سره د دوه درې ځائي کټ کړی، نوآیا دا سړې په دې باندې د احرام نه وتلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الحق سعودی عرب c/o دفتر اهتمام ۱۳ محرم ۱۴۰۳ ھ

الجواب: د احنافو په نزد ټول سر یا څلورمه حصه خریل یا کمول ضروری دې، ﴿۳﴾ او ددې نه کم خرئیلو یا کمولو والا د احرام نه نه وځی. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: یستحب ان یرفع من المزدلفة سبع حصیات...... او من الطریق ای طریق مزدلفة فهو جائز وقیل مستحب...... ویجوز اخذها من کل موضع ای بلا کراهة الا من عند الجمرة فانه مکروه...... قال فی الفتح وماهی الاکراهة تنزیه.

(ارشاد الساری ۱۴۸ فصل فی رفع الحصی)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ویستحب ان یأخذ حصی الجمار من المزدلفة او من الطریق ولا یرمی بحصاة اخذها من عند الجمرة فان رمیٰ بها جاز وقد اساء کذا فی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۳۳ الکلام فی الرمی)

﴿۳﴾ قال العلامة المودود الموصلی الحنفی: والسنة حلق الجمیع فان نقص من ذلک فقد اساء لمخالفة السنة ولا یجوز اقل من الربع ونظیره مسح الرأس فی الوضوء فی الاختلاف والدلائل والتقصیر ان یأخذ من رؤس شعره واقله مقدار الانملة.

(الاختیار لتعلیل المختار ۱:۱۹۸ فصل فی افعال الحج)

د احرام په حالت کښې دیو بل حلق او قصر کول

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې که حجاج حضرات دیو بل دپاره حلق یا قصر وکړي، نو ددې څه حکم دې، او هغه په خپله احرام کښې وي، آیا په دهٔ باندې د احرام په حالت کښې د بل محرم دپاره حلق یا قصر کولو سره دم لازمیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عنایت الله ریاض سعودی عرب ۳ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: واضحه دې وي چه مناسک ادا کولو نه پس او د مناسکو د رفض د ارادې په وخت کښې محرم خپل سر په خپله او د بل محرم سر هم خرئیلې شي. اما الثانی فلما رواه البخاری ۱: ۳۸۰ فی حدیث عمرة الحدیبیة وجعل بعضهم یحلق بعضا حتی کاد بعضهم یقتل بعضا غما ای ازدحاما ﴿۱﴾، واما الاول فلما فی ارشاد الساری ۱۵۴ الی مناسک الملا علی قاری: واذا حلق ای المحرم راسه ای رأس نفسه او رأس غیره ای ولو کان محرما عند جواز التحلل ای الخروج من الاحرام باداء افعال النسک لم یلزمه شیئ انتهی ﴿۲﴾ قلت ویدل علیه الحدیث لانه لما جاز حلق بعض المحرمین لبعض عند قصد الانتهاء جاز عند حقیقة الانتهاء بطریق اولی فافهم. وهو الموفق

په حج کښې د ښځو او سړي د سر وېښته کټ کولو مقدار

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د حج په

﴿۱﴾ (الصحیح للبخاری ۱: ۳۸۰ باب الشروط فی الجهاد والمصالحة مع اهل الحرب الخ)

﴿۲﴾ (ارشاد الساری الی مناسک القاری ۱۵۴ قبیل فصل فی زمان الحلق ومکانه وشرائط جوازه)

دوران کښې به ښځې او سړي څومره وېښته کټ کوي؟ بینوا توجروا

المستفتی: انیس احمد ۲۴ شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: د سړي دپاره ټول سر خرئیل یا کمول پکار دی، او د ښځې دپاره د ګوتې د یو بند په مقدار کمول (د ټول سر نه) پکار دی﴿۱﴾، د څلورمې حصې نه کم باندې اکتفا کول جنایت دې، د سړي او ښځې دواړو دپاره﴿۲﴾. وهو الموفق

د محرم په حالت د احرام کښې سر خرئیلو کښې د شافعی رحمه الله او د حنفی د مذهبونو تفصیل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه کله یو محرم د احرام په حالت کښې سر ؤخرولو، نو په دې حالق باندې د امام شافعی رحمه الله په نزد صدقه نشته، او د امام اعظم رحمه الله په نزد په حالق باندې صدقه ده، د امام شافعی رحمه الله دپاره دلیل دادې، چه یو ځل ابوطلحه رضی الله عنه د احرام په حالت کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سر مبارک ؤخرولو، او وېښته مبارک دهغه سره وو، نبی کریم صلی الله علیه وسلم ؤفرمائیل: چه ځان سره څه وېښته ؤساته او باقی پاتې په صحابه کرامو باندې د تبرک دپاره تقسیم کړه، او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چه که یو محرم بل محرم لره د احرام په حالت کښې سر ؤخروی، نو په دې حالق باندې صدقه ورکول دی. کما ذکره کنز الدقائق باب الجنایات،

﴿۱﴾ وفی الهندیة: والتقصیر ان یأخذ الرجل والمرأة من رؤس الشعر ربع الرأس مقدار الانملة وفی البدائع قالوا یجب ان یزید فی التقصیر علی قدر الانملة...... وحلق الکل افضل اقتداء بالنبی علیه السلام کذا فی الکافی.

(فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۳۱ الباب الخامس فی کیفیة اداء الحج)

﴿۲﴾ قال العلامة الموصلی: والسنة حلق الجمیع فان نقص من ذلک فقد اساء لمخالفة السنة ولا یجوز اقل من الربع ونظیره مسح الرأس فی الوضوء فی الاختلاف والدلائل.

(الاختیار لتعلیل المختار ۱: ۱۹۸ فصل فی افعال الحج)

که د امام صاحب رحمه الله دپاره په دې مسئله کښې څه دلیل وی نو وضاحت ئې وکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا زاهد الرحمن صورتی کله ضلع کرک ۴/۱۰/۱۹۸۴

الجواب: مناسک ختمیدو په وخت کښې یو محرم د بل محرم سر خرؤلې شی، کما فی حدیث صلح الحدیبیة فی البخاری ۱: ۳۸۰ ﴿۱﴾ وصرح به فی ارشاد الساری ۱۵۴ ﴿۲﴾. وهوالموفق

د حج افعال ختم کیدلو نه پس د خپل او د بل د سر حلق کول جائزدی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د رمی جمره عقبه اونحر نه پس خپله د خپل ځان حلق کول جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا شهزاده صاحب ترنګزئ

الجواب: افعال د حج ختمیدلو نه پس هر محرم خپل سر او د نورو محرمینو سرونه خرؤلې شی.

کما فی ارشاد الساری ۱۵۴ عند الخروج من الاحرام باداء افعال النسک جاز للمحرم حلق رأسه ومحرم آخر انتهی ﴿۳﴾ وبدلیل حدیث عمرة الحدیبیة ﴿۴﴾.
وهوالموفق

﴿۱﴾ (بعد حدیث طویل) فلما راوا ذلک قاموا فنحروا وجعل بعضهم یحلق بعضا حتی کاد بعضهم یقتل بعضا غما. (صحیح البخاری ۱: ۳۸۰ باب الشروط فی الجهاد والمصالحة مع اهل الحرب کتاب الشروط)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: واذا حلق المحرم رأسه او رأس غیره ولو کان محرما عند جواز التحلل ای الخروج من الاحرام باداء افعال النسک لم یلزمه شیئ.
(ارشاد الساری ۱۵۴ قبیل فصل فی زمان الحلق ومکانه)

﴿۳﴾ (ارشاد الساری ۱۵۴ قبیل فصل فی زمان الحلق ومکانه)

﴿۴﴾ (بعد حدیث طویل) فلما راوا ذلک قاموا...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د کمزورو ښځو د پاره یا د بیمار دپاره د رمې جمراتو پریخودل یا وکیل مقررول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د ښځو دپاره د رش د وجه نه رمی جمرات پریخودل جائز دی او که نه؟ او بیمار سړې یا ښځه د رمې دپاره وکیل مقررولې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: رشید ګل سعودیه عربیه ۱۹/۴/۱۹۸۴

الجواب: کمزورې خلق او زنانه د شپې په وخت کښې رمې جمرات کولې شی، تر د سحرختلو پورې، په هغوی نه دم واجب دې، او نه په دې کښې څه کراهیت شته. (مناسک ملا علی قاری ص۱۵۸) ﴿۱﴾ او هر کله چه د ښځې دپاره د رش د ویرې نه رمې جمرات پریخودل جائز دی، او په هغې باندې دم نه لازمیږی، (کما فی ردالمحتار۲ ص۵۱۲) ﴿۲﴾ نو وکیل مقررول ورلره په طریقه اولی جائز دې، او بیمار دپاره هم وکیل مقررول جائز دی. هرکله چه خپله په رمې

(بقیه حاشیه) فنحروا وجعل بعضهم یحلق بعضا حتی کاد بعضهم یقتل بعضا غما. (صحیح البخاری ۱: ۳۸۰ کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد)

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: ووقت الکراهة مع الجواز من الغروب الی طلوع الفجر الثانی من غده ولو اخره الی اللیل کره الا فی حق النساء وکذا حکم الضعفاء ولا یلزمه شیئ ای من الکفارة لکن یلزمه الاساءة لترکه السنة وان کان بعذر لم یکره ای تأخیره ولو اخره ای رمی الیوم الی الغد لزمه الدم والقضاء ای فی ایامه.
(ارشاد الساری ۱۵۸ قبیل فصل فی وقت الرمی فی الیومین)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله کزحمة) عبارة اللباب الا اذا کان لعلة او ضعف او یکون امرأة تخاف الزحام فلا شیئ علیه...... قلت وهو شامل لخوف الزحمة عند الرمی فمقتضاه انه لو دفع لیلا لیرمی قبل دفع الناس وزحمتهم لا شیئ علیه......فالاولی تقیید خوف الزحمة بالمرأة ویحمل اطلاق المحیط علیه لکون ذلک عذرًا ظاهرا فی حقها یسقط به الواجب بخلاف الرجل او یحمل علی ما اذا خاف الزحمة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

باندې قدرت نه لری. (هندیه ۱:۲۳۶)﴿۱﴾. وهوالموفق

يو سړي حرم شريف ته لاړو، او پوليس ونيولو او واپس ئې وليږلو

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې سعودی ته لاړو، بيائې احرام وتړلو او په اشهرالحج کښې حرم شريف ته لاړو، ليکن حکومت هغه لره افعال حج ته پرې نخودو، او دهغه ترحيل ئې وکړو، يعنی واپس پاکستان ته ئې راؤليږه، اوس دهغه سره دومره مال نشته، چه حج وکړی، په هغه حج واجب دې او که نه..؟ بينوا توجروا

المستفتی : فريد الله حقانی ۶/ ربيع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړې محصر دې، که دهٔ لره د احرام تړلو نه پس افعال حج نه منع کړې شوې وی، ﴿۲﴾

وهو کفقير آفاقی وصل الی ميقات فی وجوب الحج ان لم يحرم و کان اشهر الحج .

(ماخوذ از ردالمحتار ۲:۳۳۶)﴿۳﴾. وهوالموفق

(بقيه حاشيه) لنحو مرض ولذاقال فی السراج الا اذا کانت به علة او مرض او ضعف فخاف الزحام فدفع ليلا فلا شيئ عليه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۹۳ مطلب فی الوقوف بمزدلفة)

﴿۱﴾ وفی الهندية: مريض لا يستطيع الرمی توضع الحصاة فی کفه ليرمی به او يرمی عنه غيره بامره کذا فی محيط السرخسی فی صفة الرامی.

(فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲۳۶ فصل فی المتفرقات)

﴿۲﴾ وفی الهندية: المحصر من احرم ثم منع عن مضی فی موجب الاحرام سواء کان المنع من العدو اوالمرض اوالحبس اوالکسر اوالقرح اوغيرها من الموانع من اتمام ما احرم به حقيقة او شرعا کذا فی البدائع. (فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲۵۵ الباب الثانی عشر فی الاحصار)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: وفی اللباب الفقير الآفاقی......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

نفلی حج بهتر دې او که نفلی صدقه

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يوسړې فرض حج کړې دې، اوس نفلی حج کوی، هغه دپاره دا نفلی حج کول بهتردی او که داپيسې په غريبانانو اومسکينانو باندې صدقه کول بهتردی؟ بينوا توجروا

المستفتی : اشرف علی صوابی اډه ۳/۳/۱۹۸۶

الجواب: کومو اهل علمو چه خپل عمر تعليم او تعلم ته وقف کړې دې، په هغوی باندې صدقه کول د بيشميره نفلی حجونو نه بهتر ده، البته هغه حاجت مند چه په رسمونو او رواجونو کښې د مال خرچ کولو ارمان کوی، په هغوی باندې د صدقه کولو نه نفلی حج کول بهتر دی. (ماخوذ از ردالمحتار ۲:۳۴۸)﴿۱﴾. وهوالموفق

د يوم عرفه او يوم جمعه په مطابقت سره د حج اکبر مسئله او په وارد شده حديث کښې کلام

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه کله يوم عرفه

(بقيه حاشيه) اذا وصل الی ميقات فهو کالمکی...... وينبغی ان يکون الغنی الآفاقی کذلک اذا عدم الرکوب بعد وصوله الی احد المواقيت فالتقييد بالفقير لظهور عجزه عن المرکب وليفيد انه يتعين عليه ان لا ينوی نفلا علی زعم انه لا يجب عليه لفقره لانه ماکان واجبا وهو آفاقی فلما صار کالمکی وجب عليه فلو نواه نفلا لزمه الحج ثانيًا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۵ کتاب الحج)

﴿۱﴾ قال العلامة محمد امين الشامی: قال الصدقة افضل من الحج تطوعا کذا روی عن الامام لکنه لما حج وعرف المشقة افتی بان الحج افضل ومراده انه لو حج نفلا وانفق الفا فلو تصدق بهذه الالف علی المحاويج فهو افضل...... قال الرحمتی والحق التفصيل فما کانت الحاجة فيه اکثر والمنفعة فيه اشمل فهو الافضل......واذا کان الفقير مضطرا او من اهل الصلاح او من آل بيت النبی ﷺ فقد يکون اکرامه افضل من حجات وعمر وبناء ربط.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۷۵ مطلب فی تفضيل الحج علی الصدقة)

او یوم جمعه په یوه ورځ واقع شی، نو هغې ته حج اکبر وائي، او دهغې باره کښې یو حدیث هم دی، چه په دغه ورځ باندې حج کول د اویاؤ حجونو برابر ثواب لری، ددې مسئلې تفصیل څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: راجه ګل حسن حقانی بنون لکی مروت ۱۹۸۳/۱۰/۱۳

الجواب: د فقه مطابق ددې حج د اویاؤ حجونو برابر ثواب دې، البته ددې متعلق وارد شده حدیث کښې کلام دې.

كما فى شرح التنوير على هامش الشامية ۲: ۳۴۸ لو قفة الجمعية مزية سبعين حجة، وفى ردالمحتار: وفى الشرنبلالية عن الزيلعى افضل الايام يوم عرفة اذا وافق يوم الجمعة وهو افضل من سبعين حجة فى غير جمعة رواه رزين بن معاوية فى تجريد الصحاح ولكن نقل المناوى عن بعض الحفاظ ان هذا حديث باطل لا اصل له﴿۲﴾﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفى المنهاج: اعلم انه ليس الحج الاكبر فى تعبير القرآن والحديث ما اشتهر على السنة العوام ان الحج الاكبر ماكان فيه يوم عرفة يوم الجمعة بدليل ان الله تعالىٰ طلق الحج الاكبر على حج الصديق الاكبر، فالحج الاكبر هو الحج مطلقا ويقال للعمرة الحج الاصغر، نعم للحج الذى يكون يوم عرفة فيه يوم الجمعة له فضل كبير روى رزين فى تجريد الصحاح عن طلحة بن عبيد الله بن كريز مرسلا افضل الايام يوم عرفة اذا وافق يوم جمعة فهو افضل من سبعين حجة فى غير يوم جمعة كذا فى جمع الفوائد وقالوا لم نقف على اسناده نعم اقره الفقهاء. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذى ۳: ۱۸۲ قبيل باب ماجاء فى الكلام فى الطواف)

﴿۲﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۲۷۵ مطلب فى فضل وقفة الجمعة)

﴿۳﴾ وقال الملا على قارى: رواه رزين بن معاوية فى تجريد الصحاح واما ما ذكره بعض المحدثين فى اسناد هذا الحديث بانه ضعيف فعلى تقدير صحته لا يضر فى المقصود فان الحديث الضعيف معتبر فى فضائل الاعمال عند جميع العلماء من ارباب الكمال، واما قول بعض الجهال بان هذا الحديث موضوع فهو باطل ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د حج په وجه د ګناهونو د معافی مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړي قاتل دې، او حرام خور دې، دحج په ادا کولو سره به ددهٔ دا ټول ګناهونه معاف شي؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد حقانی ۵ ربيع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دې حاجی توبه وويستله، نو هغه ته د حقوق العباد نه علاوه ټول صغائر او کبائر معاف کيږی. لنصوص ورد بذلک، او که توبه ئې نه وی ويستلې، نو د حج په ادا کولو سره صغائر په اتفاق سره معاف کيږی، او په کبائرو کښې اختلاف دې.﴿۱﴾

كما فى شرح التنوير: هل الحج يكفر الكبائر قيل نعم كحربى اسلم وقيل غير المتعلقة بالآدمى كذمى اسلم، وقال عياض اجمع ....

(بقيه حاشيه) مصنوع مردود عليه ومنقلب اليه لان الامام رزين بن معاوية العبدرى من كبراء المحدثين ومن عظماء المخرجين ونقله سند معتمد عند المحققين وقد ذكره فى تجريد صحاح الست فان لم يكن رواية صحيحة فلا اقل من انها ضعيفة كيف وقد اعتضد بما ورد ان العبادة تضاعف فى يوم الجمعة مطلقا بسبعين ضعفا بل بمأة ضعف على ما سيأتى الخ.
(الحظ الاوفر فى الحج الاكبر فى ذيل ارشاد السارى ۳۱۹ باب المتفرقات)

﴿۱﴾ وفى المنهاج: ان الاصل فى تكفير الكبائر التوبة كما صرح به القاضى عياض فلا يقطع بتكفير الحج الكبائر لظاهر الاحاديث ولكن ليس معنى التكفير انه سقط عنه قضاء مافات منه من الصلاة والصوم والزكاة وسقط عنه الدين وحقوق العباد بل معنى التكفير سقوط اثم تاخير العبادات واثم مطل الدين وغيره، وعفو الكبائر التى لا بدل لها كالزنا وشرب الخمر، وعفو حقوق الله تعالىٰ اذا مات قبل القدرة على ادائها، وعفو حقوق العباد بارضاء الخصوم عنه هذا ملخص كلام الفقهاء والمحدثين.
(منهاج السنن شرح الترمذى ۴: ۸۶ باب ثواب الحج والعمرة)

اهل السنة ان الكبائر لا يكفرها الا التوبة (۲: ۳۴۹)﴿۱﴾. وهو الموفق

په حج سره د ګناهونو د معاف کيدلو تفصيل

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه په حديث نبوي ﷺ کښې دی من حج فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته امه، آيا ددې حديث مطلب دادې، چه د حج نه مخکښې ددۀ نه چه کوم عبادات ماليه او بدنيه پاتې شوي دی، هغه معاف کيږي، يا افعال مذمومه معاف کيږي؟ بينوا بالتفصيل توجروا عند الجليل

المستفتي: عبد القدوس ماله ډهيري، رستم مردان ۲۴/۲/۱۹۷۳

الجواب: په حج سره ګناه صغيره او هغه حقوق الله چه دهغې دپاره قضا نه وی، معاف کيږي، او حقوق العباد او هغه عبادتونه چه دهغې دپاره قضا شته، نه معاف کيږي، او دکبيره ګناهونو دمعاف کيدلو هم اميد شته﴿۲﴾ وهو الموفق

په حج سره د حقوق العباد د معاف کيدلو صورت

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه په حج سره

﴿۱﴾ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۷۲ مطلب فی تكفير الحج الكبائر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: هل الحج يكفر الكبائر قيل نعم كحربی اسلم وقيل غير المتعلقة بالآدمی كذمی اسلم وقال عياض اجمع اهل السنة ان الكبائر لا يكفرها الا التوبة ولا قائل بسقوط الدين ولو حقا لله تعالیٰ كدين صلاة وزكاة نعم اثم المطل وتاخير الصلاة ونحوها يسقط وهذا معنى التكفير على القول به.

(الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۷۲ مطلب فی تكفير الحج الكبائر)

(وهكذا فی البحر الرائق ۲: ۳۳۸ باب الاحرام مبحث العرفات كلها موقف)

تول صغيره او كبيره دواړه قسمه ګناهونه معاف کيږي، اوس بعضې عالمان فرمائي چه حقوق العباد نه معاف کيږي، ليکن د احاديثو د عموم په وجه په دې کښې د صغيره او کبيره هيڅ تخصيص نشته، ددې مسئلې وضاحت مطلوب دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: ارشاد الرحمن خميس مشيط ۱۱/۷/۱۹۷۴

الجواب: د بعضو په نزد د ابن ماجه حديث: فاجيب الى ما سال، په بناء باندې په حج سره حقوق العباد هم معاف کيږي، په دې معنى سره چه الله تعالى به دې مظلوم ته يوه لويه درجه ورکولو سره راضي کړي، او دې ظالم له به معاف کړي، والتفصيل فی ردالمحتار ج۲ ص ۳۴۹، ۳۵۱ فليراجع﴿۱﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: لحديث ابن ماجه فی سننه المروی عن عبد الله بن كنانة بن عباس بن مرداس ان اباه اخبره عن ابيه ان رسول الله ﷺ دعا لامته عشية عرفة فاجيب انی غفرت لهم ماخلا المظالم فانی آخذ للمظلوم منه فقال ای رب ان شئت اعطيت المظلوم الجنة وغفرت للظالم فلم يجب عشية عرفة فلما اصبح بالمزدلفة اعاد الدعاء فاجيب الى ما سال. الحديث، وقال ابن حبان ان كنانة روى عنه ابنه منكر الحديث وكلاهما ساقط الاحتجاج وقال البيهقی هذا الحديث له شواهد كثيرة ذكرناها فی كتاب الشعب فان صح بشواهده ففيه الحجة والا فقد قال تعالیٰ ويغفر مادون ذلك لمن يشاء وظلم بعضهم بعضا دون الشرک، وروی ابن المبارک انه ﷺ قال ان الله عز وجل قد غفر لاهل عرفات واهل المشعر وضمن عنهم التبعات فقام عمر فقال يارسول الله هذا لنا خاصة قال هذا لكم ولمن اتى من بعدكم الى يوم القيامة فقال عمر رضی الله عنه كثر خير ربنا وطاب وتمامه فی الفتح وساق فيه احاديث اخر والحاصل ان حديث ابن ماجه وان ضعف فله شواهد تصححه والآية ايضا تؤيده ومما يشهد له ايضا حديث البخاری مرفوعا من حج ولم يرفث ولم يفسق رجع من ذنوبه كيوم ولدته امه وحديث مسلم مرفوعا ان الاسلام يهدم ما كان قبله وان الهجرة تهدم ما كان قبلها وان الحج يهدم ما كان قبله الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۲۷۶ مطلب فی تكفير الحج الكبائر)

چهل مسائل حج

د مسائل حج متعلق مختلف قسم کتابونه لیکلې شوې دی، په پښتو ژبه کښې مفتی صاحب لیکلې شوې رساله (مسائل حج) هم ضروری او په اهمو مسائلو باندې مشتمله ده، په هغې کښې د حج او عمرې هغه مسائل ذکر کړې شوې دی، چه ډیر ضروری دی، او عوام په هغې کښې اکثر غلطی کوی، د هغې رسالې نه یو څو اهم او ضروری مسئلې د عوامو د فائدې دپاره په فتاوی کښې شاملولې شی. از مرتب

مسئله: (۱) **احرام:** د حج یا عمرې نیت کولو ته وائي چه دهغې نه پس تلبیه اووئیلې شی، عوام څادرونو ته احرام وائي، دا غلطه ده، څادرونو ته داحرام څادرونه وئیلې شی. (معتبرات فقه)

مسئله: (۲) **اضطباع:** دې ته وائي چه د طواف په وخت کښې اووه واړه چکرو کښې ښې لاس او اوږه د څادر نه بهر پریخودلې شی.

مسئله: (۳) **رمل:** هغې عمل ته وئیلې شی، چه د طواف په اولنی درې چکرو کښې په ټوپونو سره اوګې خوزولو سره نزدې نزدې قدمونه ایښودلو سره تیز تیز تلل، لیکن منډه به نه وهی.

مسئله: (۴) **هدی:** هغې ګډه، چیلې، غوا، میښه او اوښ ته وئیلې شی، چه په منی او حرم کښې ذبح کولې شی، او په هغې کښې د قربانۍ شرائط موجود وی.

مسئله: (۵) **جنایت:** د احرام یا حرم بې حُرمتی کولو ته وئیلې شی.

مسئله: (۶) **جزا او کفاره:** د جنایت سزا ته وئیلې شی.

مسئله: (۷) **دم:** د ګډه وغیره حلالولو ته وئیلې شی.

مسئله: (۸) **صدقه:** د سرسایه په مقدار غله وغیره خیراتی ورکولو ته وئیلې شی.

مسئله: (۹) **زمین حرم:** مکه معظمه او د مکې معظمې نه څلور واړو طرفونو ته یو معلومې زمکې ته وئیلې شی.

مسئله: (۱۰) **زمین حل:** د حرم د زمکې نه تر بهرمیقاته پورې زمکې ته وئیلې شی.

مسئله: (۱۱) **میقات:** هغې مقام ته وئیلې شی، د کوم ځائي نه چه د حج یا عمرې احرام تړلې شی. (معتبرات فقه)

مسئله: (۱۲) **آفاق:** د میقات نه بهر زمکې ته وئیلې شی.

مسئله: (۱۳).. که یو متمتع عمره ادا کړی، او بیا مکه کښې پاتې شی، نو دا متمتع ددې عمرې او حج په مینځ کښې عمرې کولې شی، او په هغه باندې دم لازم نه دې. (ارشاد الساری، منحة الخالق وغیره)

مسئله: (۱۴) په رمضان کښې عمره مستحب ده، او ددې عمرې ثواب د حجة الوداع برابر دې. (ابوداؤد)

مسئله: (۱۵) چاسره چه دومره مال وی، چه دهغه د حیثیت مطابق د هغه کرایه، نفقه او دهغه د اهل عیال د نفقې دپاره د واپس کیدو پورې کافی وی، نو په هغه باندې حج فرض دې. (شامی)

مسئله: (۱۶) په چا باندې چه قرض وی، لکه مهر وغیره، ددې قرض نه علاوه که مخکښې مقدار مال دهٔ سره وی، نو په دهٔ باندې حج فرض دې. ګنی نه دې. (شامی)

مسئله: (۱۷) که د یو تاجر ذریعه معاش تجارت وی، نو په هغه به حج هغه وخت کښې فرض وی، چه د کرایئ او نفقې نه علاوه دهٔ سره دومره مال باقی وی، چه په هغې باندې د تجارت کاروبار چلیدې شی. (هندیه)

مسئله: (۱۸) د چا سره چه دومره مال وی، چه د حج دپاره کافی وی، لیکن د مدینې منورې ته د تللو او د تبرکاتو وغیره ګنجائش ورسره نه وی، نو په هغه حج فرض دې. (قواعد الفقه)

مسئله: (۱۹) که د چا سره مال وی، لیکن د اوسیدو کور ئې نه وی، نو که هغه د قافلو د روانیدو نه مخکښ یا د.شوال شروع کیدو نه مخکښ کور وانه خستلو، نو په هغه حج فرض شو. (هندیه)

مسئله: (۲۰) که فقیر سړې تکلیف برداشت کړی، او میقات ته خپل ځان ورسوی، او د حج نیت وکړی، یا د فرض حج نیت وکړی، نو د هغه ذمه د حج د فریضې نه خلاصه شوه، که ددې نه پس غنی شو، نو په هغه دوباره حج فرض نه دې، او که دا فقیر په میقات کښې د نفلی حج نیت وکړی، نو دا نفل حج شو، او فرض حج به بیا ادا کوی. (شرح لباب)

مسئله: (۲۱) که ښځه د خاوند یا محرم نه بغیر د حج سفر اختیار کړی، نو حج ادا شو، لیکن دا سفر د ګناه سفر دې، اګر چه په بندرګاه یا ائرپورټ باندې محرم یا خاوند ولاړ وی.

مسئله: (۲۲) محرم هرهغه سړې ته وئیلې شی چه دهغه سره نکاح همیشه دپاره حرام وی، البته ددې فتنې په زمانه کښې رضاعی ورور، دیوث او بې غیرته خاوند اودځوانې ښواخې خپل ځوم سره په هرسفرباندې تلل جائزنه دی (شامی)

مسئله: (۲۳) د حاجیانو سره جلب کول د ثواب کار دې، که د ثواب یا اکرام یا امداد په ارادې سره وی، او که د ریا، فخر یا د حاجیانو د نزدیکت حاصلولو دپاره وی، نو د عذاب کار دې، دغه رنګه د حاجیانو استقبال که د دعا کولو یا اکرام کولو یا امداد کولو دپاره وی نو د ثواب کار دې، او که د نورو غرضونو دپاره وی، نو رسم قبیح او کارعذاب دې. (قواعد شرع)

مسئله: (۲۴) دصلاة احرام په وخت کښې به اوږې او سرپټوی. (شرح لباب، قواعدفقه)

مسئله: (۲۵) د صلاة احرام نه پس متصل نیت کول یا تلبیه وئیل نه فرض دی

او نه شرط دی، لهذا که د موسم د خرابۍ په وجه سره صلاة احرام په ائرپورټ کښې ادا کړی، او نیت او تلبیه د جهاز د روانیدو نه پس وکړی، نو په دې کښې هیڅ ګناه نشته. (قواعد فقه)

مسئله: (۲۶) کوم خلق چه د حج تمتع اراده لری، لکه پاکستانی حاجیان، نو د عمرې احرام وتړی، دهغه دپاره او دغه رنګه د نورو محرمو دپاره د طواف نه مخکښ اضطباع کول خلاف سنت دی. (شرح لباب)

مسئله: (۲۷) چه کله مکې معظمې ته ورسی، نو هغه ته اجازت دې چه اول سامان وغیره مناسب ځائې ته ورسوی، او دهغې نه پس طواف یا عمره وکړی. (شرح لباب)

مسئله: (۲۸) د طواف د نیت کولو نه پس دې د حجر اسود طرف ته لاړ شی، او خوله او دواړه لاسونه او تندې دې په حجر اسود باندې کیږدی، او درې ځله دې ښکل کړی خو چه د چپ چپ آواز رانشی.

مسئله: (۲۹) په حجر اسود خوشبو وغیره وی، ددې وجه نه محرم دپاره احتیاط پکار دې، چه دهغې نه چپه وانخلی. (قواعد فقه)

مسئله: (۳۰) چه کله رکن یمانی ته ورسی، نو دواړه لاسونه یا صرف یو لاس به په هغې ایګدی، نه به هغه ښکلوی او نه به پرې تندې ایږدی، البته د امام محمد رحمه الله په نزد د رکن یمانی ښکلول سنت دی، او که لاس اینبودل مشکل وی، نو اشاره نه دی کول پکار، د اشارې نه بغیره دې روان شی.

مسئله: (۳۱) که د رش د وجه نه رمل نه کیږی، نو طواف لره دې مؤخر کړی، او که د رش د کمیدلو امید نه وی، نو طواف دې شروع کړی، او په اول دریو چکرو کښې که موقع ملاؤشی نو رمل دې وکړی. (شامی)

مسئله: (۳۲) خانه کعبې ته کتل عبادت دې، لیکن د طواف دوران کښې به خانه کعبې ته نه ګوری. (غنیه، ایضاح نووی)

مسئله: (۳۳) که طواف کونکې دمونځ ګزارومخې ته تیریږی، نو جائز دی. (شامی)

مسئله: (۳۴) که چا په ناپاکه کپړه کښې طواف وکړو، نو دا مکروه دی، لیکن په دهٔ باندې نه دم واجب دې، او نه صدقه، که دا طواف فرض وی او که واجب یا سنت یا نفل وی، او که لږه کپړه ناپاکه وی او که ټوله ناپاکه وی.

مسئله: (۳۵) صلاة طواف په مسجد حرام، زمین حرم، او زمین حل هر ځائي کښې کول جائز دی، البته افضل دادی، چه د مقام ابراهیم علیه السلام شاته وی، یا د میزاب رحمت لاندې وی. (شامی) **مسئله:** (۳۶) که چا زیات طوافونه وکړل، او په آخر کښې دهر طواف دپاره دوه دوه رکعته مونځونه ادا کړل نو ذمه ئې فارغه شوه، اګر چه دا طریقه مکروه ده. (شامی، شرح لباب)

مسئله: (۳۷) په آب زمزم سره تبرکا چارانداماو غسل کولې شی، البته په دې باندې استنجاء او د بې اودسه سړې اودس کول، د جنابت غسل کول، او پلیتی وینځل مکروه دی، (شرح لباب) په جمات کښې اودس او غسل کول مکروه دی، ددې وجه نه په آب زمزم د جمات نه بهر په پاک ځائي کښې اودس او غسل کول پکار دی. (بحر، شامی)

مسئله: (۳۸) د آب زمزم په ولاړه څکل بغیر د کراهت نه جائز دی، او داسې نه ده چه ددې په ولاړه باندې څکل مستحب دی. (شامی)


مسئله: (۳۹) که چا د ثلورمې حصې نه کم سر ؤخرؤلو، یا کم ئې کړو، نو دې د احرام نه وتلې نه دې، که کپړې واغوندی یا خوشبو استعمال کړی، نو په دهٔ باندې صدقه یا دم لازم کیږی. (شامی وغیره)

مسئله: (۴۰) چا چه فرض حج نه وی کړې، دهغه دپاره افضل دادی، چه اول حج اداکړی، اودحج نه پس دې د روضې مبارکې زیارت ته لاړشی، اوکه داحج نفلی وی، نوهغه ته اختیاردې، چه اول د زیارت دپاره مدینې منورې ته لاړ دې اول د روضې مطهرې زیارت وکړی، (شرح لباب) په مدینه منوره کښې حجره شریف ښکلول، لاس پرې ایږدل، سجده ورته کول، ټیټیدل او زمکه ښکلول وغیره ټول ناجائز دی. (شرح لباب)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ثلورم جلد

مسائل منثوره



....

بسم الله الرحمن الرحيم

.....قال الله تعالى:.....

ويطوف عليهم ولدان مخلدون، اذا رايتهم حسبتهم لؤلؤا منثورا.

.......[الدهر: ۱۹].......

....

مسائل منثوره

د دارالحرب د اثر لاندې چه کوم ملکونه دی. د هغې نه د حج د پاره تلل ممنوع نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زمونږ د مهمند ايجنسۍ نه خلق د افغانستان په لاره حج د پاره ځي، ځکه چه سهولتونه هم زيات دی، او پيسې هم کمې خرچ کيږی، اوس بعضې خلق وائی، چه په افغانستان باندې د روسيانو د قبضې نه پس د مسلمان د پاره د کابل په لاره باندې حج ته تلل جائز نه دی، دا مسئله کومه حده پورې صحيح ده؟ او زمونږ خلق هم دغسې کابل ته ځی راځی، لکه څرنگه چه مخکښې تلل راتلل؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی نورالرحمٰن يکه غنډ مهمند ايجنسۍ ۲۰ رمضان ۱۴۰۵هـ

الجواب: هرکله چه د روس او چين نه دبيت الله شريف حج ته تلل ممنوع شرعی نه دی، نو دهغوی د اثر لاندې ملکونو نه به څرنگه ممنوع وی(۱)، او چه کوم اسلامی ملکونه د امريکې ذهنی غلامان بلکه محکوم دی، هلته نه به د سفر حج څه حيثيت وی؟ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: كل مصرفيه وال من جهتهم (اى الكفرة) تجوز فيه اقامة الجمع والاعياد واخذالخراج وتقليد القضاة وتزويج الايامى لاستيلاء المسلم عليه...... واما بلاد عليها ولاة كفار فيجوز للمسلمين اقامة الجمع والاعياد ويصير القاضى قاضيا بتراضى المسلمين فيجب عليهم ان يلتمسوا واليا مسلما منهم.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴: ۳۴۲ مطلب فى حكم تولية القضاء فى بلاد تغلب الكفار)

د عمرې په ويزې باندې سعودي عرب ته تلل او هلته کښې مزدوري کول شرعا ممنوع نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې د عمرې دپاره لاړ شي، بيا په هغې ويزې سره هلته کښې مزدوري کوي، هغه دپاره دا مزدوري کول څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمود خان ترناب فارم پشاور ۱۸ ذی قعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: په مسلمان باندې يو اسلامي ملک ته تلل راتلل بندول يو کافرانه نظام دې، چه د بعضې مصلحتونو په وجه مسلمانانو بادشاهانو خپل کړې دې، پس ددې قانون مخالفت کول قانوني جرم دې، اسلامي جرم نه دې، او د جائز ملازمت نفع بهرحال حلاله ده(۱)، او که دا ؤسيدل شرعا ممنوع وي، بياهم په نفع کښې د حرمت هيڅ وجه نشته. وهو الموفق

عمره اداکولونه پس محنت مزدورې د پاره قيام کول اسلامي جرم نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه بنده د عمرې په ويزې باندې سعودي عرب ته تلل او هلته کښې عمره کول غواړي، د عمرې نه پس د بنده اراده هلته کښې د محنت مزدورې ده. آيا په اسلام کښې دا جائز دي، چې سړې د عمرې دپاره لاړ شي. اوهلته کښې د محنت مزدورې دپاره قيام وکړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عطا محمد اضاخيل نوښار ۲۱ رمضان ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا طريقه صرف قانوني جرم دې(۲) اسلامي جرم نه دې، لکه څرنګه

(۱) عن رافع بن خديج قال قيل يا رسول الله اى الكسب اطيب قال عمل الرجل بيده وكل بيع مبرور رواه احمد.
(مشكوٰة المصابيح ۱:۲۴۲ باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث)

(۲) اګرچه دا دسعودي حکومت د قانون خلاف ورزي ده، اودا انتهائي غير مناسب طريقه ده. څکه چه بيا دحکومتي سزاپه وجه تکليف اوچتول وي، اوعزت نفس مجروح کيږي، اود تذليل اوتحقير هر وخت کښې خطره موجوده وي. (از مرتب)

چه د حج او عمرې دپاره تللو کښې د تجارت اراده ساتل اسلامي جرم نه دې.
(۱) وهو الموفق

د حاجي د پاره د سعودي عرب نه سرهٔ زر راوړلو کښې هيڅ ګناه نشته

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه که يو سړې حج ته لاړ شي، او په واپسۍ کښې هغه د ځان سره په پټه سرهٔ زر راوړي، بيا دلته کښې دهغې کاروبار وکړي او نفع وګټي، او په دې نفع باندې لوئي کاروبار شروع کړي، دا حلال دې او که حرام؟ تاسو په دې باندې دلائل پيش کړئ، او په مسئله باندې د دارالعلوم مهر او دستخط کيدل ضروري دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: اشتياق حسين طورو روډ هوتي مردان ۸/۴/۱۹۲۹

الجواب: د سعودي عرب نه د حاجي دپاره سره زر راوړلو کښې هيڅ ګناه نشته، هرکله چه مقصود بالذات حج وي، قال الله تعالى ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلامن ربكم (الاية)(۲) بيشکه که يو کس داسې وي، چه د هغه مقصد په سروزرو کښې وي، يعنی که د سرو زرو راوړلو اميدنه وي نو بيا حج

(۱) عن ابى امامة التيمى قال قلت لابن عمر: انا نكرئ فهل لنا من حج؟ قال اليس تطوفون بالبيت، وتأتون المعرف، وترمون الجمار، وتحلقون رؤوسكم؟ قال قلنا: بلى، فقال ابن عمر: جاء رجل الى النبى ﷺ فسأله عن الذى سألتنى، فلم يجبه، حتى نزل عليه جبريل بهذه الآية "ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلامن ربكم" فدعاه النبى ﷺ فقال: انتم حجاج.
(تفسير ابن كثير ۱:۴۸٦ البقرة آيت: ۱۹۲)

(۲) قال العلامة الخلوتى الصاوى المالكى: فلا بأس بالتجارة بالحج اذا كانت لا تشغله عن افعاله واختلف هل التجارة تنقص ثواب الحج اولا، قال بعضهم ان كانت التجارة اكبرهمه ومبلغ علمه سقط الفرض عنه وليس ثوابه كمن لا قصد له الا الحج، وان استوىٰ الامران فلا يذم ولا يمدح وان كانت التجارة تبعا للحج فقد حاز خير الدنيا والآخرة. (حاشية الصاوى على الجلالين ۱:۱۵۳ سورة البقرة آيت: ۱۹۸)

د عمرې په ویزې باندې سعودی عرب ته تلل او هلته کښې مزدوری کول شرعا ممنوع نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د عمرې دپاره لاړ شی، بیا په هغې ویزې سره هلته کښې مزدوری کوی، هغه دپاره دا مزدوری کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمود خان ترناب فارم پشاور ۱۸ ذی قعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: په مسلمان باندې یو اسلامی ملک ته تلل راتلل بندول یو کافرانه نظام دې، چه د بعضې مصلحتونو په وجه مسلمانانو بادشاهانو خپل کړې دې، پس ددې قانون مخالفت کول قانونی جرم دې، اسلامی جرم نه دې، او د جائز ملازمت نفع بهرحال حلاله ده﴿۱﴾، او که دا ؤسیدل شرعا ممنوع وی، بیاهم په نفع کښې د حرمت هیڅ وجه نشته. وهو الموفق

عمره اداکولونه پس محنت مزدورۍ د پاره قیام کول اسلامی جرم نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه بنده د عمرې په ویزې باندې سعودی عرب ته تلل او هلته کښې عمره کول غواړی، د عمرې نه پس د بنده اراده هلته کښې د محنت مزدورۍ ده. آیا په اسلام کښې دا جائز دی، چې سړې د عمرې دپاره لاړ شی. اوهلته کښې د محنت مزدورۍ دپاره قیام وکړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عطا محمد اضاخیل نوښار ۲۱ رمضان ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا طریقه صرف قانونی جرم دې﴿۲﴾ اسلامی جرم نه دې، لکه څرنګه

﴿۱﴾ عن رافع بن خديج قال قيل يا رسول الله اى الكسب اطيب قال عمل الرجل بيده وكل بيع مبرور رواه احمد.

(مشكواة المصابيح ۱:۲۴۲ باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث)

﴿۲﴾ اګرچه دا د سعودی حکومت د قانون خلاف ورزی ده، اودا انتهائي غیر مناسب طریقه ده، ځکه چه بیا دحکومتی سزاپه وجه تکلیف اوچتول وی، اوعزت نفس مجروح کیږی، اود تذلیل اوتحقیر هر وخت کښې خطره موجوده وی. (از مرتب)

چه د حج او عمرې دپاره تللو کښې د تجارت اراده ساتل اسلامی جرم نه دې.

﴿۱﴾ وهو الموفق

د حاجی د پاره د سعودی عرب نه سره زر راؤړلو کښې هیڅ ګناه نشته

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه که یو سړې حج ته لاړ شی، او په واپسی کښې هغه د ځان سره په پټه سره زر راؤړی، بیا دلته کښې دهغې کاروبار وکړی او نفع وګټی. او په دې نفع باندې لوئې کاروبار شروع کړی. دا حلال دې او که حرام؟ تاسو په دې باندې دلائل پیش کړئ، او په مسئله باندې د دارالعلوم مهر او دستخط کیدل ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اشتیاق حسین طورو روډ هوتی مردان ۱۹۲۹/۴/۸

الجواب: د سعودی عرب نه د حاجی دپاره سره زر راؤړولو کښې هیڅ ګناه نشته، هرکله چه مقصود بالذات حج وی. قال الله تعالی ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلا من ربكم (الاية)﴿۲﴾ بیشکه که یو کس داسی وی، چه د هغه مقصد په سروزرو کښې وی، یعنی که د سرو زرو راؤړولو امیدنه وی نو بیا حج

﴿۱﴾ عن ابى امامة التيمى قال قلت لابن عمر: انا نكرىٰ فهل لنا من حج؟ قال اليس تطوفون بالبيت، وتأتون المعرف، وترمون الجمار، وتحلقون رؤوسكم؟ قال قلنا: بلى، فقال ابن عمر: جاء رجل الى النبىﷺ فسأله عن الذى سألتنى، فلم يجبه، حتى نزل عليه جبريل بهذه الآية "ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلا من ربكم" فدعاه النبىﷺ فقال: انتم حجاج.

(تفسير ابن كثير ۱:۲۸۶ البقرة آيت: ۱۹۲)

﴿۲﴾ قال العلامة الخلوتى الصاوى المالكى: فلا بأس بالتجارة بالحج اذا كانت لا تشغله عن افعاله واختلف هل التجارة تنقص ثواب الحج اولا، قال بعضهم ان كانت التجارة اكبرهمه ومبلغ علمه سقط الفرض عنه وليس ثوابه كمن لا قصد له الا الحج، وان استوىٰ الامران فلا يذم ولا يمدح وان كانت التجارة تبعا للحج فقد حاز خير الدنيا والآخرة. (حاشية الصاوى على الجلالين ۱:۱۵۳ سورة البقرة آيت: ۱۹۸)

دپاره نه ځی. ،په دې صورت کښ به دا سړې د سفر حج د ثواب نه محرومه وی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د مقامات مقدسه په نمونو سره د مناسک حج تعلیم ورکول جائزدی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه د آسانی دپاره که یو سړې د خانه کعبې او نورو مقامات مقدسه د نمونو په ذریعې سره د مناسک حج تعلیم ورکول غواړی. نو ددې شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی : پروفیسر محبوب ګل اکوړه خټک ۲ شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: په دې طریقې سره یعنی طریقه تمثیل سره تعلیم ورکول فائده مند او مؤثر وی،ددې وجه نه په قرآن مجید او حدیث کښ ډیر تمثیل ذکرشوې دې. **کالتمثیل بالکلب ﴿۲﴾ وبیت العنکبوت ﴿۳﴾ وتشبیک الاصابع ﴿۴﴾ والخط المحیط بالخطوط وغیر ذلک ﴿۵﴾. وهو الموفق**

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: وتجرید السفر عن التجارة احسن ولو اتجر لا ینقص ثوابه کالغازی اذا اتجر کما ذکره الشارح فی السیر واما عن الریاء والسمعة والفخر ظاهرا او باطنا ففرض وخلط التجارة بهذا القسم کما فی فتح القدیر مما لا ینبغی.
(البحر الرائق ۲:۳۰۹ کتاب الحج قبیل فرض مرة علی الفور)

﴿۲﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: فمثله کمثل الکلب ان تحمل علیه یلهث او تترکه یلهث.
(سورة الاعراف :پاره: ۹ آیت: ۱۷٦)

﴿۳﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: مثل الذین اتخذوا من دون الله اولیاء کمثل العنکبوت.
(سورة العنکبوت آیت: ۴۱ پاره: ۱۰)

﴿۴﴾ عن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ...... قال فیلتأم علیه حتی یلتقی علیه وتختلف اضلاعه قال قال رسول الله ﷺ باصابعه فادخل بعضها فی جوف بعض الخ. (سنن الترمذی ۲:٦۹ بعید باب ماجاء فی صفة اوانی الحوض)

﴿۵﴾ عن عبد الله قال خط النبی ﷺ خطا مربعا وخط...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د وی سی آر وغیره په ذریعې په جماتونو کښ د مناسک حج او عمرې تعلیم ورکول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه په جماتونو کښ د وی سی آر وغیره د فلم په ذریعې سره د مناسک حج وعمره تربیت ورکول جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټر ریاض الرحمٰن سټیلائټ ټاون راولپنډی ۱۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا بصری تربیت د ساه لرونکی په تصویر اخستلو باندې موقوف دې ﴿۱﴾ لهذا دا د تربیت طریقه بهر حال ناجائز ده، که په جمات کښ وی یا د جمات نه بهرپه کور کښ،د دینی کارونو تعلیم په غیر دینی طریقې سره ورکول جائز نه دی،اود اعتراض قابل دی ﴿۲﴾ تعجب دې چه د تیرې زمانې

(بقیه حاشیه) خطا فی الوسط خارجا منه وخط خططا صغارا الی هذا الذی فی الوسط من جانبه الذی فی الوسط فقال هذا الانسان وهذا اجله محیط به وهذا الذی هو خارج امله وهذ الخطط الصغار الاعراض فان اخطأه هذا نهسه هذا وان اخطأه هذا نهسه هذا، وعن انس قال خط النبی ﷺ خطوطا فقال هذا الامل وهذا اجله فبینما هو کذلک اذ جاءه الخط الاقرب رواهما البخاری. (مشکوٰة المصابیح ۲:۴۴۹ باب الامل والحرص الفصل الاول)

﴿۱﴾ وفی المنهاج: اعلم ان صناعة صور الحیوانات حرام مطلقا صغیرة کانت او کبیرة لورود اللعنة علی المصور رواه البخاری ولورود تعذیبه بنفخ الروح فیها رواه البخاری، وفرق الصورة من العکس واضح لان الصورة تکون باقیة والعکس لا یبقی بعد زوال المحاذاة کعکس الرای فی المرآة والماء وبالصناعة الجدیدة یبقی ویقال له الصورة فحکمه حکم الصورة. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۵:۲۱۵ باب ماجاء فی الصورة)

﴿۲﴾ د حج فلم جوړولو او اورولو کښ چه کومې فائدې بیانولې شی، مثلا د حج شوق پیدا کول، او د حج په طریقه کښ آسانی وغیره، لیکن بل طرف ته ددې ګناه د فائدو نه زیاته ده، مثلا د سا لرونکی تصویرونه، غیر محرمات او شعائر حج لره د تماشې په طور باندې پیش کول، وغیره ټول حرام دی، بلکه دا د پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه ددې قول مصداق دې، (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

بانډیسیانو به په سمعی طریقې سره تربیت حاصلولې شو، او د ننې زمانې هوښیار خلق دا تربیت نشي حاصلولې، بهرحال مناسب داده، چه حکومت د سرکاری ملازمینو نه علاوه د هرو سلو کسانو دپاره یو مستند عالم امیر مقرر کړی، او دهغه د هدایاتو مطابق په هغوی حج کوی. وهو الموفق

د ملازمینو د حج کمیټۍ د پاره شرائط وضوابط او پالیسي

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه ملازمینو یوه حج کمیټی جوړه کړې ده، (۱) د هر خواهشمند ملازم نه به پنځلس روپۍ ماهوار کټوتی کیږی. (۲) ددې پیسو نه به هر کال د جمع شوې پیسو مطابق ملازمینو لره حج ته لیږلې شی.

(۳) د دې سړو انتخاب به قرعه اندازۍ سره کیږی.

(۴) د چا نوم چه په قرعه کښې راؤتو، هغه ته اجازت دې چه هغه خپل پلار یا ښځه وغیره ؤلیږی.

(بقیه حاشیه) قال الشیخ عبد القادر الجیلی: لو قال عادتی انی متی شربت الخمر کففت عن الحرام لم یبح له ولو قال عادتی اذا شهدت المرد والاجنبیات وخلوت بهم اعتبرت فی حسنهم لم یجوز له ذلک واجیب ان الاعتبار بغیر المحرمات اکثر من ذلک وانما هذه طریقة من ارادة الحرام بطریق الله عز وجل فیرکب هواه فلا نسلم لاصحابها ولا نلتفت الیهم. (غنیة الطالبین ۲۵)

بهرحال د حج د فلم جوړولو ضرر عام دې، او د حج د احکاماتو نه د یو حاجی نه خبریدل ضرر خاص دې، چه په ډیرو جائزو طریقو سره لرې کولې شی، او ددې قسمه حالاتو کښې د فقهاؤ مسلمه قاعده ده. چه: یتحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام، وقال الشیخ محمد خالد الآتاسی: وهذه قاعدة مهمة من قواعد الشرع مبنیة علی المقاصد الشرعیة فی مصالح العباد استخرجها المجتهدون من الاجماع ومعقول النصوص، فقد ذکر حجة الاسلام الامام الغزالی فی المستصفیٰ ما ملخصه ان الشرع انما جاء لیحفظ علی الناس دینهم وانفسهم وعقولهم وانسابهم واموالهم فکل ما یکون بعکس هذا فهو مضرة یجب ازالتها ما امکن. (شرح المجله للآتاسی ۱:۶۶ المادة: ۲۶) ...... ازمرتب

(۵) که په قرعه کښې د اداری نه هم نوم راؤوتو، او د ملازمینو د طرف نه هم، نو په دې صورت کښې هم ملازمین د طرف نه خپل پلار یا ښځه حج ته لیږلې شی.

(۶) ریټائرمنټ پورې که د یو ملازم نوم په قرعه کښې راؤنوتۀ، نو په دې صورت کښې که هغه ملازم غواړی نو خپلې پیسې واپس اخستلې شی، په شرط ددې چه دهغې کټوتې پنځو کالو پورې شوې وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مرزا الیاس احمد واه کینټ ورکس راولپنډی. ۹ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: (۱) دا شرط او ضابطه خلاف شرع نه ده.

(۲) دویم شرط هم خلاف شرع نه دې.

(۳) دا قرعه جائز ده په دې کښې ګټل بیلل نشته.

(۴، ۵) دا شرائط هم جائز دی.

(۶) دا خلاف شرع دې، ځکه چه دا کټوتی د ملازم د ملکیت نه خارج (وقف) نه ده، بلکه د کمیټۍ سره امانت دې، د ملازم یا د هغه د وارثانو د اجازت نه بغیره به هیڅ کټوتی اخستلې نشی. وهو الموفق

د حج کمیټۍ شرعی حیثیت

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دلته کښې د غوړو په ملز کښې مزدورانو متفقه طور باندې د حج کمیټۍ په نوم باندې یو تنظیم جوړ کړې دې، چه هر کال د قرعه اندازۍ په ذریعه منتخب شده ملازمینو لره د بیت الله شریف د حج دپاره لیږی، او د غوړو د ملز ملازمینو دپاره دا ضروری مقرر کړې شوې دې، چه هغوی به هره میاشته په خوښه یا په ناخوښه لس روپۍ لازما کمیټۍ کښې جمع کوی، ګنی د حج کمیټۍ په قانون کښې د یونین په بنیاد چنده نه ورکونکی ملازم خلاف تادیبی کاروائۍ کولو سفارش هم شوې دې. او تاسو ته درخواست دې، چه د قرآن و حدیث او فقه او اجماع امت په رڼا کښې په حوالې سره ؤلیکۍ چه دا کار کوم حده

پورې صحیح دې، ایا په دې صورت کښې به دهغه عازم حج حج ادا شی، او دا حج به نفلی وی او که فرضی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حمید الرحمٰن خطیب فضل ویجیټیبل ګهی ملز اسلام اباد.

الجواب: داسې تنظیم جوړول بذات خود نه ممنوع دی، او نه مطلوب، البته په جبرې طریقه سره بغیره د خوښې نه چنده اخستل ممنوع دی. لحدیث لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه. رواه البیهقـی﴿۱﴾. او په اکثرو موقعو کښې قرعه په جوارۍ کښې داخله ده، لیکن د انتظام قائم ساتلو دپاره ممنوع نه ده، کما عند القسم والاقتسام وغیره﴿۲﴾ پس که یو سړې د ټولو شریکانو په خوښې سره ددې فنډ نه باقاعده مجوزه رقم حاصل کړی او حج وکړی نو د نیت مطابق دهغه حج به ادا کیږی. وهو الموفق

د حج کمیټۍ په فنډ کښې د غیر مسلم چنده ورکول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه څه موده مخکښې د ګهی ملز اسلام اباد مسلمانانو مزدورانو د حج کمیټۍ په نوم سره یو تنظیم جوړ کړو، په خپلو کښې ئې دا مقرر کړه، چه هر مسلمان به رضاکارانه طورباندې لس روپۍ د میاشتې د حج کمیټۍ په فنډ کښې ورکوی، دې دپاره چه هر کال د قرعه اندازۍ په ذریعه یو مزدور د حج دپاره ؤلیږلې شی، اوس دلته کښې غیر مسلمه مزوران اصرار کوی، چه مونږ به هم بغیر د څه قید او

﴿۱﴾ رواه البیهقی فی شعب الایمان ٦: ۱۰۰ والدارقطنی فی المجتبیٰ کما فی المشکوٰة ۱: ۲۵۵ وفی روایة ابن حبان رقم: ۵۹۷۸ والحاکم ۳: ٦۳۷ لا یحل لامرئ ان یأخذ عصا اخیه بغیر طیب نفس منه، وفی الباب عن ابن عمر وبلفظ لا یحلبن احد ماشیة احد بغیر اذنه الحدیث متفق علیه. (بلوغ المرام ۱: ۲۸۸ باب الصلح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویکتب اسامیهم ویقرع لتطیب القلوب فمن خرج اسمه اولا فله السهم الاول الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵: ۱۸۴ کتاب القسمة)

شرط نه په خپله خوښه په دې کمیټۍ کښې چنده ورکوؤ، اوس سوال دادې، چه دهغوی نه دا چنده اخستل جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: اصغر علی مغل ویجیټیبل ګهی ملز اسلام آباد ۱۹۸۵/ ۱۲/ ۷

الجواب: د غیر مسلم نه دا امداد حاصلول ناجائز نه دی، په دې کښې د مسلمان یا اسلام هیڅ توهین نشته، لهذا دا امداد به د مسلمان ممبر په چنده کښې لګولې شی. وهو الموفق

په حرم کښې د ښځو د محاذات مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه (۱) په حرمین شریفین کښې که ښځې د سړو صفونو کښې یو ځائې یو مونځ او جمع ادا کوی، نو د سړو مونځ به صحیح وی او که نه؟ او د عام مونځونو او د جمعې د مونځ حکم یو دې، که جدا جدا؟

(۲) په معلم الحجاج کښې ئې لیکلې دی، چه سړې دې په حرم شریف کښې مونځ کوی لیکن ښځې دې په کور کښې مونځ کوی، په حرم شریف کښې به دهغوی د مونځونو په ثواب کښې زیاتوالی نه وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیران تهائي لینډ... ۱۹۹۰ء/ ۸/ ۱۸

الجواب: (۱) دا دهر یوې جمعې د مونځ حکم دې، چه د محاذات په صورت کښې د سړی مونځ فاسد یږی، البته که امام د ښځو د اقتداء نیت ونکړی، او یا سړې په دې ښځې باندې (کومه چه د سړې په برابرۍ کښې ولاړه وی) انکار وکړی، یعنی مونځ شروع کولو نه پس چه کله په دې ښځې باندې په اشارې سره انکار وکړی، نو صرف ددې ښځې مونځ به فاسد وی (شامی باب الامامة)﴿۱﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وان نوی...... امامتها...... والا ینوها فسدت صلاتها کما لو اشاره الیها بالتاخیر فلم تتأخر لترکها فرض المقام فتح، قال ابن عابدین: ای فلو حاذت المقتدی بعد الشروع واشار الیها بالتاخر ولم تتأخر فسدت صلاتها دونه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱: ۴۲٦ قبیل مطلب الواجب کفایة هل یسقط باب الامامة)

(۲) دا مسئله صحیح ده، او ښځو لره په حکیمانه انداز سره پوهول پکار دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د حاجیانو په واپسۍ باندې د دعوت طعام دپاره ګډ وغیره حلالول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه حاجیان کله د حج نه واپس راځی، نو خلق دهغوی دپاره دعوت طعام کوی، او ګډ وغیره حلالوی، آیا دا حلاله کول حلال دی.؟ بینوا توجروا

المستفتی: معین الدین ۱۹۷۴ء|۶|۲۵

الجواب: چه کله د ریا فخر او مباهات نه خالی وی﴿۲﴾، نو په دې ذبح کښې هیڅ خرج نشته، بلکه مسنون دی. ......

﴿۱﴾ په دې باره کښې د علماؤ اختلاف دې، چه په دې دواړو جماتونو کښې د مونځ ثواب څو چنده کېدل صرف فرضو سره خاص دې، او که نوافلو ته هم شامل دې، د احنافو او موالکو په نزد د ثواب څو چنده زیاتېدل صرف د فرضو سره مخصوص دې. او د نوافلو په کور کښې ادا کول د قولی او فعلی نص په وجه افضل دی. شافعیه وائي، چه دا افضلیت نفلو ته هم شامل دې، اګر چه نوافل په کور کښې ادا کول دهغوی په نزد د اتباع سنت په وجه افضل دی، او دغه رنګې دا افضلیت فرضو او نفلو ته شاملېدل صرف د سړو په حق کښې مخصوص دی، د ښځو دپاره دا افضلیت نشته، لکه په فتح القدیر کښې دا تحقیق کړې دې، او وئیلې ئې دی، چه دا ددې وجه نه دی، چه کله یوې ښځې د نبی کریم ﷺ سره په جمعې کښې د شاملېدلو باره کښې تپوس وکړو، نو رسول الله ﷺ هغې ته ؤفرمائیل: چه هغه دې خپل کور کښې مونځ ادا کړی، حالانکه د ښځو دپاره جمات ته تلل جائز وو. (غنیه وفتح ملتقطا)_(عمدة الفقه ۴:۶۶۱ کتاب الحج)

﴿۲﴾قال الملا علی قاری: (ان النبی ﷺ نهی عن طعام المتبارین) ای المتفاخرین وانما کره ذلک لما فیه من المباهاة والریاء وقد دعی بعض العلماء فلم یجب فقیل له ان السلف یدعون فیجیبون قال کان ذلک منهم للموافاة والمواساة وهذا منکم للمکاة والمباهاة وروی ان عمر وعثمان دعیا الی طعام فاجابا فلما خرجا قال عمر لعثمان لقد شهدت طعاما وددت انی لم اشهد قال ما ذاک قال خشیت ان یکون جعل مباهاة رواه ابوداؤد. (مرقاة شرح مشکواة ۶:۲۵۶ قبیل باب القسم کتاب النکاح)

لان النبی ﷺ ذبح حین قدم ﴿۱﴾ وکانت الصحابة رضی الله عنهم یطعمون علی زائریهم عند القدوم ﴿۲﴾. وهو الموفق

د طواف دوران کښې په اردو کښې دعا ګانې غوختل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په حج کښې د طواف په دوران کښې اردو کښې دعاګانې لوستلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: انیس احمد...۱۳ اګست ۱۹۸۳ء

الجواب: لوستلې شی، البته په یادو مختصر دعا ګانې لوستل، (خصوصا هغه دعا ګانې چه دهغې په معنٰی پوهیږی) دا اوفق بالسنّت دی﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (عن جابر ان النبی ﷺ لما قدم المدینة) ای بعدالهجرة او بعد غزوة (نحر جزوراً او بقرة رواه البخاری) ای السنة لمن قدم من السفر ان یضیف بقدر وسعه وقال ابن الملک الضیافة سنة بعد القدوم.

(مرقاة المفاتیح ۷:۳۳۲ باب آداب السفر)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة ...... فقال کلوا من هذه واخذ المدیة فقال رسول الله ﷺ ایاک والحلوب فذبح لهم فاکلوا من الشاة ومن ذلک العذق الخ.

(مشکواة المصابیح ۲:۳۶۸ باب الضیافة)

﴿۳﴾قال الملا علی قاری: قوله داعیا ای بالدعوات المأثورة وغیرها المتعارفة المشهورة فی محالها المسطورة...... ویصحح الفاظ الدعوات خصوصا الماثورات لئلا یلحن فیها...... لکن الاظهر ان اختیار المأثور عنه ﷺ مستحب والمروی عن السلف مستحسن ویجوز الاکتفاء بما یرد علی السالک ان کان اهلا لذلک.

(شرح لباب المناسک ۹۲، ۹۳ قبیل مطلب مهم فی قول العامة اللهم صل)

فصل فی الاحرام

د احرام په څادرونو کښې سپین رنګ مستحب دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه عام طور باندې د احرام څادرونه سپین رنګ وی. آیا سپین څادرونه ضروری دی، یا د بل رنګ هم کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: بشیر احمد چترال...۱۹۸۴ء

الجواب: د سپین رنګ څادرونه مستحب دی، واجب نه دی. (ارشاد الساری)﴿۱﴾ وهو الموفق

احرام تړلو نه پس یو ځل تلبیه وئیل شرط او زیاته وئیل سنت دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د احرام تړلو نه پس څو ځله تلبیه لوستل پکار دی؟ درې ځله لوستل ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۱۹۷۴

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: ویلبس من احسن ثیابه...... ثوبین جدیدین تشبیها بکفن المیت وهو الافضل او غسیلین ای للطهارة والنظافة ابیضین وصف لثوبین وهو الافضل من لون آخر کما هو فی امر الکفن مقرر ولقوله عليه السلام البسوا الثیاب البیض فانها اطهر واطیب وکفنوا فیها موتاکم رواه جماعة.

(ارشاد الساری ۶۸ فصل ثم یتجرد عن الملبوس المحرم)

الجواب: د احرام تړلو نه پس د نیت د پاره یو ځل تلبیه وئیل شرط دې، او درې ځله وئیل مستحب او مسنون دی (شرح اللباب)﴿۱﴾. وهو الموفق

په حالت د احرام کښې د اضطباع مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه مونږ بعضې خلق وینو، چه احرام تړلو په وخت کښې احرام په ښې اوږه باندې نه اچوی، او بعضې خلق مکې معظمې ته داخلیدو نه پس د طواف کولو په وخت کښې احرام د ښې اوږې نه لرې کوی، او طواف شروع کړی، په دې باره کښې صحیح مسئله څه ده.؟ بینوا توجروا

المستفتی: شفیق الرحمٰن خټک وادی بن هیش مشیط سعودیه ۱۹۸۶|۶|۷

الجواب: دا اضطباع صرف په حالت طواف کښې (چه احرام کښې وی او دهغې نه پس سعی وی) سنت ده، نه په مونځ او سعی کښې، (مناسک قاری وغیره) ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: والتلبیة مرة فرض وهو عند الشروع لا غیر وتکرارها سنة ای فی المجلس الاول وکذا فی سائر المجالس اذا ذکرها وعند تغیر الحالات کالاصباح والامساء...... مستحب مؤکد...... والاکثار مطلقا مندوب ای مطلوب شرعا...... ویستحب ان یکرر التلبیة فی کل مرة ای اذا شرعها ثلاثا وان یأتی بها ای بالثلاثة علی الولاء.

(ارشاد الساری ۷۰ فصل شروط التلبیة)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: اذا اراد الشروع فی الطواف ای فی طواف بعده سعی فانه حینئذ یسن الاضطباع والرمل له ینبغی ان یضطبع قبل شروعه فیه بقلیل ولیس کما یتوهمه العوام من ان الاضطباع سنة جمیع احوال الاحرام بل الاضطباع سنة مع دخوله فی الطواف علی ما صرح به الطرابلسی وغیره لکن قال ولو اضطبع قبل شروعه فی الطواف بقلیل فلا بأس به.

(المسلک المتقسط فی المنسک المتوسط ۸۸ فصل فی صفة الشروع فی الطواف)

د احرام ترلو او د هر طواف نه پس د دوؤ رکعتو مونځ حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه د كتاب الحج مطبوعه فيروز سنز د مطالعې نه معلومېږی، چه د حج په موقع يو احرام ترلو نه پس او بل د هرطواف نه پس دوه رکعته کول مستحب دی، ددې نه علاوه څه خاص مونځ په مناسک کښې مقرر نه دې، سوا د پنځه وخته مونځ نه، آيا دا صحيح دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق غفرله راولپنډی

الجواب: په در مختار وغيره (کتاب الحج) کښې مصرح دی، چه دا اول مونځ مستحب دې، او دويم واجب دې﴿۲﴾. وهو الموفق

په حالت د احرام کښې د مونځ په وخت کښې اوږې پټول او د ژوندي سړې دپاره طواف وغيره کول

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه (۱) په حالت د احرام کښې به دمونځ په وخت کښې اوږې پټول وی، او که نه؟ (۲) د ژوندي سړې دپاره د عمرې يا دطواف کولو او ايصال ثواب کولو حيثيت څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالله اکوړه خټک معرفت ناظم صاحب ۱۳ رجب ۱۴۰۱ھ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وصلى ندبا بعد ذلک شفعا يعنى ركعتين فى غير وقت مكروه قال الشامي: اى بعد اللبس والتطييب.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۷۱ فصل فى الاحرام)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصكفى: وختم الطواف باستلام الحجر استنانا ثم صلى شفعا فى وقت مباح يجب على الصحيح بعد كل اسبوع عند المقام.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۸۴ مطلب فى طواف القدوم)

الجواب: (۱) د طواف نه علاوه په مونځ وغيره کښې د اوږو پټول مسنون دی، (ماخوذ از ردالمحتار ۲"۲۱۵)﴿۱﴾

(۲) ددې په مشروعيت کښې هيڅ اختلاف نشته. (شامی باب الحج عن الغير ﴿۲﴾ وهو الموفق

د صلاة احرام او صلاة طواف بعد العصر او بعد الفجر ادا کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه (۱) صلاة الاحرام بعد صلاة العصر او بعد صلاة الفجر کول جائز دی او که نه؟ (۲) په دې وختونو کښې د طواف عمره نه پس د طواف دوه رکعته ادا کول جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: معرفت ناظم اعلی صاحب. ۱۳/ ۷/ ۱۴۰۱ھ

الجواب: (۱) په دې وختونو کښې د احرام دوه رکعته مونځ ادا کول جائز نه دی. (هنديه ۱ | ۲۳۷)﴿۳﴾

(۲) مختلف فيه دہ، جمهور ورته ناجائز وائي، او طحاوی جواز طرف ته ميلان کړې دې﴿۴﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفى شرح اللباب واعلم ان الاضطباع سنة فى جميع اشواط الطواف كما صرح به ابن الضياء فاذا فرغ من الطواف تركه حتى اذا صلى ركعتى الطواف مضطبعا يكره لكشفه منكبه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۸۱ قبيل مطلب فى طواف القدوم)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: الاصل ان كل من اتى بعبادة ما اى سواء كانت صلاة او صوما او صدقة او قرأة او ذكرا او طوافا او حجا او عمرة او غير ذلک...... جميع انواع البر كما فى الهندية. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۵۶ مطلب فى اهداء ثواب الاعمال للغير)

﴿۳﴾ وفى الهندية: ولا يصليهما فى الوقت المكروه وتجزيه المكتوبة كذا فى البحر. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۲۲۳ الباب الثالث فى الاحرام)

﴿۴﴾ قال الملا على قارى: واعلم انه صرح الطحاوى وغيره. (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

که د احرام په حالت کښې څادر جدا شي، نو لنګ کافي دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې که په ايام حج کښې مثلا ډيره سخته ګرمي وي، او دغې په وجه څادر لرې کړي او د هوا خورې دپاره کښيني، يا د خولې لرې کولو دپاره څادر لرې کړي، اګر چه لنګ ئې په خپل حال باندې تړلې وي، آيا دې سره په احرام يا حج باندې څه اثر غورزيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد جميل مردان ۱۹۷۹/۲/۲۲

الجواب: د احرام دپاره دوه څادرونه يو د لنګ دپاره او يو څادر په اوږو باندې اچولو دپاره وي، پس د ستر عورت دپاره لنګ تړل فرض دي، او که د څه عذر په وجه صرف څادر لرې کړي او لنګ باندې اکتفاء وکړي نو جائز دي. (در المختار)﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقيه حاشيه) بكراهة اداء ركعتي الطواف في الاوقات الخمسة المنهي عن الصلاة فيها عند ابي حنيفة وابي يوسف ومحمد ونقل عن مجاهد والنخعي وعطاء جواز ادائها بعد العصر قبل اصفرار الشمس وبعد الصبح قبل طلوع الشمس اى قبل احمرار آثارها قال الطحاوي واليه نذهب، والحاصل انهم فرقوا في المسئلة حيث جوزوها وقت الكراهة التنزيهية دون زمان الكراهة التحريمية الحاقا لصلاة الطواف من حيث انه واجب بالفرائض وسائر الواجبات والمحققون فرقوا بين قضاء الوتر واداء ركعتي الطواف ولو كانا واجبين الخ.
(المسلك المتقسط ۱۰۷ فصل في واجبات الطواف)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: ولبس ازار من السرة الى الركبة ورداء على ظهره ويسن ان يدخله تحت يمينه ويلقيه على كتفه الايسر فان زرره او خلله او عقده اساء ولا دم عليه...... وهذا بيان السنة والافستر العورة كاف، قال ابن عابدين: اى لبس الازار والرداء على هذه الصفة بيان للسنة والا فساتر العورة كاف فيجوز في ثوب واحد او اكثر من ثوبين.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۷۱ فصل في الاحرام)

محرم د پاره په حرم کښې د شپې تيرولو او سر او پښې پټولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه (۱) ما چه کله احرام وتړلو، نو د شپې هم هلته ميقات کښې ووم، چه کله سملاستم، نو د ماشو نه تنګ راغلم نو سر او پښې مې د احرام په څادر کښې پټې کړې، ددې د پټولو څه حکم دې؟

(۲) محرم چه کله احرام وتړي، نو هغه د شپې خانه کعبې ته رسيدلې شي، يا په لاره کښې آرام هم کولې شي، او اوده کيدې هم شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالله بن سالم رسول مشيط سعودي عرب ۸ محرم ۱۴۵۲ھ

الجواب: (۱) که تا ټوله شپه سر پټ کړې وو، نو په تا باندې دم واجب شوې دې.﴿۱﴾

(۲) محرم باندې دا ضروري نه ده، چه په حرم کښې شپه تيره کړي﴿۲﴾. وهو الموفق

د اهل طائف د پاره د احرام تړلو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زۀ په طائف کښې ملازم يم، که زه د جمعي په ورځ حرم شريف ته د جمعې مونځ دپاره لاړ شم، نو آيا زۀ د احرام نه بغير په مکه معظمه کښې داخليدې شم، او که د طائف نه جدې ته د مکې معظمې په لاره څه کار دپاره تلل وغواړم، نو څه صورت به وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عزيز خان جنوبي وزيرستان ۱۹۷۹/۱/۱۷

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: او ستر رأسه بمعتاد اما بحمل اجانة او عدل فلا شيئ عليه يوما كاملا اوليلة كاملة وفي الاقل صدقة.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۲۰ باب الجنايات)

﴿۲﴾ قال العلامة الموصود الموصلي: ولا يضره ليلا دخل مكة او نهارا كغيرها من البلاد فاذا دخلها ابتدأ بالمسجد. (الاختيار لتعليل المختار ۱: ۱۸۹ فصل في افعال الحج)

الجواب: که طائف د قرن ﴿۱﴾ نه مکې طرف ته وی، نو اهل طائف بغیر د احرام نه مکې ته تلې شی، ګنی احرام ضروری دې. وهو الموفق

د مدینې منورې نه جدې ته تلونکي بیا مکې مکرمې ته راتلونکې د پاره احرام د کوم ځائي نه تړل پکاردی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه مونږ د مکې مکرمې نه زر کلومیټره لرې ؤسیږو، زمونږ میقات طائف دې، اوس مثلا مونږ د عمرې نه فارغه شو او مدینې منورې ته لاړو، او بیا جدې ته راغلو، اوس سوال دادې، چه زما دوست په مکه کښې ؤسیږي، آیا زهٔ به اوس د جدې ښار نه د مکې دپاره احرام تړم، یا بغیر د احرام نه تلې شم؟ یا واپس مدینې منورې ته به ځم او هلته نه به احرام تړم؟ بینوا توجروا

المستفتی: حضرت شیر محطة الفلاح خمیس مشیط. ۲/۷/۱۹۸۲

الجواب: مدینې منورې ته روانیدو په وخت که تهٔ د مکې مکرمې قاصد وې،

﴿۱﴾ قرن د قاف زبر او د راء په جزم سره دې ته قرن المنازل، قرن الثعالب او وادی محرم هم وائي، په فقه المغرب لغت کښې دی. چه دا د یو غر نوم دې، چه د میدان عرفات دپاسه دې. اوپه شرح مصابیح کښې دی. چه د هګې په شان یو غوړاوصفا مدور غردې، د عرفات دپاسه راغلي دې. اهل مکه او دهغې د اطرافو خلق دې ته کرا د کاف په زبر سره وائي، او په قاموس کښې دی. چه قرن دهغې غر نوم هم دې. اوهغې ته متصل وادی ته هم قرن وائي، او په دې وادی کښې یو کلي دې، چه د طائف سره نزدې دې، هغې ته هم قرن وائي، دهغې او د مکې مکرمې ترمینځه تقریبا دوه منزله فاصله ده. او باقانی په شرح ملتقی الابحر کښې وئیلي دی، چه د مکې مکرمې نه قرن پورې پنځوس میله دی. دا د نجد په لاره راتلونکو یعنی د یمامه نه عراق پورې د ټولي علاقې والؤ دپاره میقات دې. او د بلوغ المرام په تعلیق کښې شیخ عبدالله البسام السلفی لیکلي دی، چه قرن المنازل ته اوس السیل الکبیر وئیلي شی. او د بطن الوادی نه د مکې مکرمې پورې ددې فاصله اتهٔ اویا کلومیټره ده. او په الفقه الاسلامی وادلته کښې وهبة الزحیلی لیکلي دی، چه قرن المنازل د مقام سیل سره نزدې دې. او په څلور نوی کلومیټره فاصله کښې دې. (از مرتب)

نو تهٔ به د بیرعلی وغیره میقات نه احرام تړې﴿۱﴾. او که تهٔ د جدې قاصد وې، او مکې مکرمې ته اتفاقا روانیدل ؤشو، نو تهٔ به د جدې نه احرام تړې﴿۲﴾. وهو الموفق

د کراچئ نه جدې پورې بغیر د احرام نه د تللو مسئله:

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زهٔ د سعودی عرب نه په چهټئ باندې کراچې ته راغلي ووم، اوس د کراچې نه بغیر د احرام نه جدې ته لاړم، او جدې ته رسیدلو سره سمدستي اقامه لګیدلو نه پس د جدې نه د عمرې دپاره لاړم، اوس په ما باندې څه دم وغیره لازم دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الحق سعودي عرب ۱۳محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: که ستا منزل مقصود جده وه، نو په تا باندې هیڅ دم واجب نه دې، (بحر ﴿۳﴾ شامی ﴿۴﴾)۔

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: والمواقيت ذو الحليفة مكان على ستة اميال من المدينة وعشر مراحل من مكة تسميها العوام آبيار علي رضى الله عنه.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۶۶ مطلب فى المواقيت)

﴿۲﴾ وفي الهندية: ومن جاوز وقته غير محرم ثم اتى وقتا آخر اقرب منه واحرم جاز ولا شيئ عليه ولو جاوز الميقات ويريد بستان بنى عامر دون مكة فلا شيئ عليه. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۵۳ الباب العاشر فى مجاوزة الميقات بغير احرام)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجيم: وقيلنا بقصد مكة لان الآفاقي اذا قصد موضعا من الحل كخليص يجوز له ان يتجاوز الميقات غير محرم واذا وصل اليه التحق باهله.
(البحر الرائق ۲: ۳۱۸ قبيل باب الاحرام)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله اما لو قصد موضعا من الحل كخليص وجدة حل له مجاوزته بلا احرام) اى مما بين الميقات والحرم والمعتبر القصد عند المجاوزة لا عند الخروج من بيته. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۶۷ مطلب فى المواقيت)

د مدينې منورې نه تلونكې د ذوالحليفه نه بغير د احرام نه تجاوز وكړی؟

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښې چه تيره شوې جمعه مونږ مدينې منورې او مكې مكرمې ته د عمرې په غرض تلې وو، مونږ ته د مدينې منورې نه سحر روانيدل پكار وو. چه مونږ د بير على يا ذو الحليفې نه احرام تړلې وې، ليكن د لارې ورکيدو په وجه مونږ د مدينې منورې نه مكې مكرمې په طرف تقريبا اتيا كلوميټره بهر احرام وتړلو، اوس په مونږ باندې دم واجب دې او كه نه؟ او دا قربانى به په حرم كښې كولې شى او كه په خپل مقام؟ او زمونږ د طرف نه بل څوك دا قربانى كولې شى او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: سليم صديقى اكاونټس ډيپارټمنټ رياض سعودى عرب ۳۰|۵|۱۴۰۱هـ

الجواب: كه تاسو د جحفه رابغ نه متجاوز كيدو نه وړاندې احرام تړې وی﴿۱﴾

﴿۱﴾ ذوالحليفه د اسم تصغير صيغه ده. او دا د مكې معظمې نه د ټولو ميقاتونو نه زياته فاصلې والا ميقات دې، او دې ځائې له عوامو په آبار على يا بيرعلى سره موسوم كړې دې. ذوالحليفه د مدينې منورې نه على اختلاف الروايات شپږ يا اووه يا څلور ميله فاصله كښې ده. سيد نور الدين سمهودی په خپل تاريخ مدينه كښې ليكلې دی، چه ما د مسجد نبوی نه مسجد شجرې پورې په لاس سره پيمائش وكړو، نو د مسجد نبوی د دروازې باب السلام نه مسجد شجرې پورې مې فاصله (۱۹۷۳۲) لاسونه ومونډل، او دا د پنځو ميلو نه كم وی. ځكه چه زمونږ په نزد ميل د اوسپنې ذراع (نن صبا چه استعماليږی) سره څلور زره ذراع وی. او د مكې مكرمې نه ذوالحليفه پورې فاصله نهه يا لس مرحلې ده. او په فتح البارى كښې دی، چه د ذوالحليفه نه مكه معظمه يو سل اتۀ نوی (۱۹۸) ميله فاصله كښې ده، وفى تعليق البلوغ المرام للبسام السلفى، چه د مسجد نبوی نه دا په ديارلس كلوميټره كښې ده. او ددې نه مكې مكرمې پورې ۴۲۰ كلوميټره فاصله ده، او وهبة الزحيلى ۴۲۰ كلوميټره ليكلې ده.

جحفه د مكې معظمې نه د شمال مغرب په طرف د تبوك په لاره كښې واقع ده، يو ځلې دلته كښې سيلاب راغلو، چه هغې دا كلې يوړوو، ددې وجه نه ددې نوم جحفه شو، يعنى سيلاب زيلې كلې. دې ځائې له علماؤ په يقين سره متعين نه كړې شو، ددې وجهې نه علماؤ احتياطا د رابغ نه احرام تړل اختيار كړل، رابغ د جحفې نه مخكښې راځی، او رابغ د جحفې نه نيم منزل يا ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

نو په تاسو دم واجب نه دې.

كما فى شرح التنوير وقالوا لو مر بميقاتين فاحرامه من الابعد افضل ولو آخره الى الثانى لا شيئ عليه على المذهب وفى ردالمحتار ۲: ۲۱۱ كالمدنى يمر بذى الحليفه ثم بالجحفة (رابغ)﴿۱﴾

او كه د جحفې نه متجاوز كيدو نه پس مو احرام تړلې وی﴿۲﴾، نو په حرم كښې (يعنى منى كښې مثلا) يو يو ګډه اصالة يا وكالة ذبح كړئ﴿۳﴾.

وهو الموفق

(بقيه حاشيه) دې ته نزدې د مكې معظمې طرف ته واقع دې، او ددې په فاصله كښې شديد اختلاف دې، امام نووی وئيلې دی، چه د جحفې او مكې مكرمې ترمينځه درې منزله فاصله ده، وفيه نظر كما فى فتح البارى، او شيخ عبدالله سالم بصرى په شرح بخارى كښې ليكلې دی، چه د جحفې نه مكې معظمې پورې پنځه منزله فاصله ده، او د جحفې نه مدينې منورې پورې اووه منزله فاصله ده، او په شرح منسك المتوسط كښې دی چه د جحفه او مكې په منځ كښې دوه اتيا ميله فاصله ده او ملاعلى قارى دوه ديرش ميله وئيلى دی: لكنه غيرصحيح، غالبا ددې اختلاف وجه داده، چه د جحفې نه مكې ته مختلفې لارې دی، ددې وجه په دې فاصله كښې اختلاف واقع شوې دې، شيخ بسام السلفى په تعليق بلوغ المرام كښې د رابغ او مكې مكرمې ترمينځه ۱۸۶ كلوميټر فاصله ليكلې ده، او وهبة الزحيلى په الفقه الاسلامى وادلته كښې ۱۸۷ كلوميټر ليكلې ده........ (از مرتب)

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۲۶ مطلب فى المواقيت)

﴿۲﴾ وفى الهندية: اذا دخل الآفاقى مكة بغير احرام وهو لا يريد الحج والعمرة فعليه لدخول مكة اما حجة او عمرة فان احرم بالحج او العمرة من غير ان يرجع الى الميقات فعليه دم لترك حق الميقات.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱: ۲۵۳ باب مجاوزة الميقات بغير احرام)


﴿۳﴾ وفى الهندية: ويجوز ذبح بقية الهدايا (اى هدى المتعة والقران) فى اى وقت شاء ولا يجوز ذبح الهدايا الا فى الحرم كذا فى الهداية.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱: ۲۶۱ باب فى الهدى)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ځلورم جلد

باب القران والتمتع



....

بسم الله الرحمن الرحيم

........قال الله تعالى:........

فمن تمتع بالعمرة الى الحج فما استيسر من الهدى فمن لم يجد فصيام ثلثة ايام فى الحج وسبعة اذا رجعتم.

......[البقرة: ١٩٦]......

....

باب القران والتمتع

د اهل جدې د پاره د تمتع او قران حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په جده کښې وُسیدونکي چه کله د حج دپاره مکې ته تلل غواړي، نو د جدې نه احرام وُتړي او که بغیر د احرام نه لاړشي، یعنی جده د په میقات کښې دننه ده، او که بهر؟ او د جدې خلق قران یا تمتع کولې شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: شائسته خان بلوچ جده. ۱۸|۵|۱۴۰۱ھ

الجواب: کومو علماؤ چه جدې لره د میقات نه بهر شمار کړې ده، وهو الظاهر الراجح ﴿۱﴾ نو دهغې علماؤ په نزد اهل جده تمتع او قران

﴿۱﴾ قال الشیخ المفتی نظام الدین الاعظمی الدیوبندی، خپله جده هم د مکې نه د دوؤ منزلو نه څه زیاته فاصله (تقریبا ۳۲ میله انګریزی) کښې په حل کبیر او آفاق کښې واقع ده، او حد میقات او خط میقاتی د جدې نه تقریبا یو منزل د مکې طرف ته مخکښې په هغې خط مستقیم باندې واقع دې، چه د یلملم نه نیغ رابغ او جحفې ته رسیدلې دې، اوهم هغه خط مستقیم خط میقاتی دې، او محاذاة میقات هم په هغې خط واقع دې.
ځکه چه دهغې خط مقام او ځائي معلوم او متعین نه دې، او مسئله داده، که یو سړې د حدود میقات نه تجاوز کولو نه بغیر مکې مکرمې ته نزدې وُرسیږي، او د میقات یا د محاذات میقات ورته علم او یقین نه وی، نو د کعبة الله نه دې دوه منزله لرې احرام وُتړي، کما فی الدرالمختار... او د جدې نه مخکښې د میقات یا د محاذات میقات نه تجاوز نه کیږي، او نه د دوؤ منزلو نه کم فاصله مکې مکرمې ته د څه ځائي نه وی، ددې وجه نه جدې ته رسیدلو نه مخکښې احرام تړل واجب اولازم نه دی، که د حدود میقات یامحاذات میقات نه څوک دامفهوم واخلی، چه د بیت الله شریف نه خط مستقیم یو میقات باندې تیرولو سره نیغ مخکښې حل کبیر او آفاق کښې په سمندری علاقه کښې اورسولې شی نو هغه ټول خط میقاتی دې، او ددې خط نه بغیر د احرام تړلو مخکښې تلل او... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کولې شی ﴿۱﴾، او بغیر د احرام نه (یعنی بغیرد عمرې د نیت نه) مکې معظمې ته داخلیدې نشی. (شامی). ﴿۲﴾ وهو الموفق

که په میاشتودحج کښې یوحاجی دعمرې نه پس د حج نیت وکړی نو..؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید په جده کښې دې، هغه په اشهر حج کښې عمره هم ادا کړې ده، او د عمرې نه پس حلال شو او دوباره ئې د قران احرام وُتړلو. آیا په زید به دم واجب وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عمردراز تنډو محمد خان سندھ

الجواب: که جده د زمین حل نه بهروی، کماهورأی بعض الاکابر ﴿۳﴾ نو په هغې

(بقیه حاشیه)...... تجاوز کول د حدود میقات نه تجاوز کول شماریږی، نودا مفهوم په یوڅو وجهو سره غلط دې. الخ..... (نظام الفتاوٰی ۲:۱۸۰ کتاب الحج)

(ومثله فی جواهر الفقه للشیخ المفتی محمد شفیع الدیوبندی)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والمکی ومن فی حکمه (ای من اهل داخل المواقیت) یفرد فقط ولو قرن او تمتع جاز واساء وعلیه دم جبر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۱۴ باب التمتع)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وحرم تأخیر الاحرام عنها لمن ای لآفاقی قصد دخول مکة یعنی الحرم ولو لحاجة غیر الحج.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱٦٧ فصل فی المواقیت)

﴿۳﴾ مولانامفتی محمد شفیع رحمة الله علیه فرمائی، چه ترڅو پورې ما غوراو فکرکړې دې، نوترجیح راته ددې معلومه شوې ده، چه بحری مسافرو دپاره جدې پورې احرام مؤخرکول، او د جدې نه تړل، نه څه ګناه ده، او نه په دې دم لازمیږی. مولانا ظفر احمد تهانوی رحمة الله علیه فرمائي، چه حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمة الله علیه به د اهل هند دپاره دبحری جهاز په ذریعه تللو په صورت کښې جدې لره دهغوی میقات ګرځوؤ، اوپه امداد الفتاوٰی تتمه خامسه طبع قدیم کښې دی، چه حضرت سهارنپوری رحمة الله علیه عرض وکړو، چه د مدینې منورې لار بندیدلو په صورت کښې

....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

سړې به دم شکر واجب وی، او د زمین حل یعنی د مواقیت د محاذات نه بهر نه وی، بلکه داخل وی(۱)، نو په هغې سړې به دم......

(بقیه حاشیه) د حج بدل احرام به د جدې نه وی، او دا ظاهره ده، اهل هند د پاره د یلملم محاذات دځه معتبر طریقې د وجه نه دې، لهذا جده دهغوی میقات دې.
(ملخص جواهر الفقه ۴۷۸،۴۸۷: ۱ مواقیت الاحرام)

مولانا مفتی نظام الدین اعظمی فرمائي چه خپله جده هم د مکې نه دوه منزله فاصلې نه زیاته کښې په حل کبیراو آفاق کښې واقع ده. نظام الفتاوی ۲: ۱۸۰ کتاب الحج)

(۱) مولانا محمد یوسف بنوری رحمه الله فرمائي چه صرف دومره خبره د جدې نه د احرام تړلو د پاره کافي نه ده، چه د تجاوز عن المیقات د پاره د جدې او یلملم فاصله برابر ده. زما په نزد فقهی مسئله داده، چه بحری مسافرو لره د یلملم د محاذات نه احرام تړل ضروری دی، گنی دم به لازم راځی، او توبه به هم ؤباسی.
(جواهر الفقه ۱: ۴۸۲ حضرت بنوری رحمه الله کی رائے)

......دحضرت مولانا مفتی رشید احمد لدهیانوی رحمه الله فرمائي نتیجه دا شوه چه د محاذات یلملم علم کیدلو سره جدې پورې بغیرد احرام نه متجاوز کیدل ناجائزدی.
(جواهر الفقه ۱: ۴۸۲ مفتی رشید احمد صاحب کی رائے)

......حضرت سیدی وشیخی واستادی واستاد العلماء حضرت مفتی محمد فرید صاحب دامت برکاتهم په نزد په دې دواړو قولونو کښې راجح دادی، چه جده د میقات نه بهر ده، کما صرح به بعض الفتاوی، دغه رنگې په منهاج السنن شرح جامع السنن الترمذی ۴: ۱۰۴ باب فی مواقیت الاحرام لاهل الافاق، کښې په دې باندې تفصیلی بحث شوې دې، چه د مواقیتو په مینځ کښې د خطوط مستقیمه په صورت کښې جده آفاق او حل کبیر کښې راځی. لیکن په دې کښې ددې قید اضافه شوې ده چه، بان لاتکون المسافة من هذا لخط الی مکه اقل من مرحلتین تقدیما لتصریحات الفقهاء علی تحقیقات العلماء او دویمه رائې چه د دائرې په صورت کښې ده، په هغې باندې فقهی اشکال لره وجه د ضعف جوړه کړې ده،
الوصول الی محیط الدائرة المارة علی المیقات یکون مرکزها مکه وهوتحقیق بعض الشیوخ......ویرد علیه ان الذی یمر بعیدا من المیقات ولم یدر المحاذاة یلزم ان لا یصح احرامه من مرحلتین وهو خلاف تصریحات الفقهاء. (ازمرتب)

جبر واجب وی(۱). وهو الموفق

د حج تمتع په صورت کښې دم شکر واجب دې
او د عمرې نه پس احرام پرانستلو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو څو حاجیان د حج تمتع د پاره د ذی الحجې نه څلور میاشتې مخکښې مکې مکرمې ته ؤرسیدل، او دعمرې نه پس ئې احرام پرانستلو، په شوال کښې یوه میاشت په مدینه منوره کښې تیره کړه، او په ذی قعده کښې په واپسی کښې ئې په ذوالحلیفه کښې د عمرې احرام ؤتړلو، اوس سوال دادې، چه دا خلق د عمرې نه پس احرام پرانستلې شی او که د حج ادا کولو پورې به احرام کښې وی؟ بعضې خلق وائي، چه د مدینې منورې نه واپسی باندې د عمرې نه پس او د حج نه مخکښې احرام پرانستلو باندې دم واجبیږی. او بعضې لا باس به وائي، چه په اووم ذی الحجه یعنی یوم ترویه یا اتم ذی الحجه باندې د حج په نیت سره احرام تړل پکار دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شفیع ۱۹۷۴|۳|۵

الجواب: که دا سړې د تمتع اراده لری، نو د ذوالحلیفه والا عمرې نه به د طواف او سعی نه پس احرام پرانیزی، او دهغې نه پس به د حج احرام تړی، او یو دم شکر به ادا کوی، چه واجب دې، صرح به فی القرآن(۲) وصرح به فی الهدایة والفتح(۳)........

(۱) قال العلامة الحصکفی: (المتمتع) ذبح کالقارن...... والمکی ومن فی حکمه یفرد ولو قرن او تمتع جاز واساء وعلیه دم جبر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۱۳،۲۱۴ باب التمتع)

(۲) قال الله تبارک وتعالی: فاذا امنتم فمن تمتع بالعمرة الی الحج فمااستیسر من الهدی، فمن لم یجد فصیام ثلثة ایام فی الحج وسبعة اذا رجعتم. (البقرة:۱۹۶)

(۳) قال العلامة المرغینانی: وصفة التمتع ان یبتدی...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

والبحر ﴿۱﴾ و ردالمحتار﴿۲﴾ وغیره. وهو الموفق

په مکه کښې د مقیم سړي په شوال کښې عمره کولو په صورت کښې د حج تمتع یا افراد مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د اتلسم رمضان نه په مکه کښې د حج په نیت سره مقیم یم، د شوال په میاشت کښې ما عمره اداکړه، اوس زما دپاره شرعا څه حکم دې؟ آیا زهٔ دم ادا کړم اود حج افراد نیت وکړم، یا زهٔ د حج تمتع نیت وکړم او قرباني وکړم؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالحفیظ بقاله الفضل الزاهرشارع الحج مکه مکرمة ۱۹۸۹|۶|۱۷

الجواب: که تهٔ ددې عمرې نه پس (کومه چه په شوال کښې تا ادا کړې ده) دحج نه مخکښې مدینې ته نه وې تلې، نو تهٔ مفرد یئ متمتع نه یئ، اوکه تهٔ ددې عمرې نه پس دحج نه مخکښې مدینې منورې ته تلې وې، اودمدینې نه واپسی باندې دېد عمرې احرام تړلې وو، او دهغې نه پس دې حج کړې دې، نود امام صاحب رحمه الله په نزد تهٔ مفرد یئ، او که د مدینې منورې نه واپسی په

(بقیه حاشیه)من المیقات فی اشهر الحج فیحرم بالعمرة ویدخل مکة فیطوف لها ویسعی ویحلق او یقصر وقد حل من عمرته وهذا هو تفسیر العمرة، قال ابن الهمام: فتحریر الضابط للمتمتع ان یفعل العمرة او اکثر طوافها فی اشهر الحج عن احرام بها قبلها او فیها ثم حج من عامه بوصف الصحة من غیر ان یلم باهله بینهما الماما صحیحا.

(هدایة مع فتح القدیر ۲: ۴۲۲ باب التمتع)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله وهو ان یحرم بعمرة من المیقات...... ثم یحرم بالحج من الحرم ویحج ویذبح) فقوله من المیقات للاحتراز عن مکة فانه لیس لاهلها تمتع ولاقران الخ. (البحر الرائق ۲: ۳۶۲ باب التمتع)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: هو ان یفعل العمرة او اکثر اشواطها فی اشهر الحج...... واقام بمکة حلالا ثم یحرم للحج فی سفر واحد...... وذبح کالقارن.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۱۱، ۲۱۲ باب التمتع)

وخت باندې تا دحج احرام تړلې وو، نو تهٔ متمتع ئې (هندیه ازمحیط)﴿۱﴾ وهوالموفق

د تمتع درې روژې د لسمې ذی الحجې نه مخکښې د حج په ورځو کښې نیول دي

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید حج ته لاړو، پنځم ذی الحجې باندې مکې ته ورسیدو، او شپږم ذی الحجې باندې ترې هر څه نقد وغیره ورک شو، بیا ئې د خپل استعمال کپړې او غوړې وغیره خرڅ کړل او سل یو نیم سل ریال ئې حاصل کړل، په دې پیسو باندې یو یا دوه قرباني کیدې شوې، لیکن په دې صورت کښې جیب خالي کیدهٔ، او په واپسی کښې به د باقي ورځو خرچه نه وه، په اوومه ذی الحجه د سحرې ئې مسئله معلومه کړه، چه روژې به نیول وی، او په اوومې ذی الحجې باندې روژه نیول ممکن نه وو، البته په اتمه ئې روژه ونیوله، بیا ئې په نهمه او لسمه ذی الحجې باندې د پیدل حج په وجه روژه ونه نیوله، ددې وجه نه دوه روژې ئې په دیارلسم او څوارلسم ذی الحجې باندې ونیولې، او اووه روژې ئې پاکستان کښې ونیوې، اوس سوال دادې، چه ددغې حج تمتع قرباني چه واجب وه، آیا په دې روژو باندې هغه واجب ادا شو، او که ادا شوې نه ده، نو اوس به ددې قرباني څه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد حمزه گورنمنټ کالج گوجره ۱۹۷۴|۳|۲

الجواب: واضحه دې وی چه په دې سړي باندې ذبح متعین شوې ده، په روژو

﴿۱﴾ وفی الهندیة: لو احرم لعمرة قبل اشهر الحج فقضاها وتحلل واقام بمکة فاحرم بعمرة ثم حج من عامه ذلک لم یکن متمتعا فان کان حین فرغ من الاولی خرج فجاوز المیقات قبل اشهر الحج فاهل منه لعمرة فی اشهر الحج وحج من عامه فهو متمتع وان کان جاوز المیقات فی اشهر الحج لم یکن متمتعا الا اذا خرج الی اهله ثم اعتمر ثم حج من عامه عند ابی حنیفه رحمه الله وعندهما هو متمتع جاوز المیقات قبل اشهر الحج او بعدها کذا فی محیط السرخسی.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۴۰ الباب السابع فی القران والتمتع)

سره دهغه ذمه فارغه شوې نه ده. پس دا سړې به دوه قرباني كوى. (بحر ٢: ٣٦٠)﴿١﴾ او دا دوه قرباني به په حرم كښې كوى. اصالة يا وكالة. اګر كه د ذبح ؤرځې نه وى. (شامى ٢: ٣٤٤)﴿٢﴾ او په غوا كښې دوه حصې هم كافى دى. (بحر ٢: ٣٥٩)﴿٣﴾. وهو الموفق

دم شكر صرف په قارن او متمع باندې واجب دې، په مفرد باندې نشته

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښې چه آيا قرباني صرف په قارن او متمع باندې واجبه ده. يا مفرد باندې هم واجبه ده؟ كه مفرد قرباني وكړى نو جائز ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: رشيدګل سعودى عرب ١٩٨٤|٦|١٩

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم: والعبرة لايام النحر فى العجز والقدرة وكذا لو قدر على الهدى قبل ان يكمل صوم الثلاثة ايام او بعد ما اكمل قبل ان يحلق ويحل وهو فى ايام الذبح بطل صومه ولا يحل الا بالهدى...... ان لم يصم الثلاثة حتى دخل يوم النحر لم يجزه الصوم اصلا وصار الدم متعينا لان الصوم بدل والابدال لا تنصب الا شرعا والنص خصه بوقت الحج وجواز الدم على الاصل وعن ابن عمر انه امر فى مثله بذبح الشاة فلو لم يقدر على الهدى تحلل وعليه دمان دم التمتع ودم التحلل قبل الهدى.

(البحر الرائق ٢: ٣٦١ قبيل باب التمتع)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: (ويتعين الحرم لامنى) اى بل يسن لما فى المبسوط من ان السنة فى الهدايا ايام النحرمنى وفى غير ايام النحر فمكة هى الاولىٰ شرح اللباب.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٢٧٢ باب الهدى)

﴿٣﴾ قال العلامة ابن نجيم: (ذبح شاة او بدنة او سبعها) واطلق البدنة فشملت البعير والبقرة والسبع جزء من سبعة اجزاء وانما كان مجزئا لحديث الصحيحين.

(البحر الرائق ٢: ٣٥٩ باب القران)

الجواب: قرباني (دم شكر) صرف په قارن يا متمتع باندې واجب وى. نه په مفرد باندې، كما فى الهداية﴿١﴾ و ردالمحتار﴿٢﴾ والهندية﴿٣﴾ وغيرها. په دې كښې د فرض او نفل هيڅ فرق نشته. او كه مفرد په دې قرباني كښې د كمزورو د ازالې نيت وكړى، نو جائز ده. بخلاف القارن والمتمتع﴿۴﴾. او كه متمتع يا قارن قرباني لره په رمى باندې مقدم كړى. نو په دې كښې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد دم واجب دې، خلافا لمن سواه (هدايه﴿٥﴾ ردالمحتار﴿۶﴾ وهنديه وغيرها) وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة المرغينانى: واذا رمى الجمرة يوم النحر ذبح شاة او بقرة او بدنة او سبع بدنة فهذا دم القران لانه فى معنى المتعة والهدى منصوص عليه فيها.

(هداية ١: ٢۴٠ باب القران)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: وذبح للقران وهو دم شكر اى لما وفقه الله تعالىٰ للجمع بين النسكين فى اشهر الحج بسفر واحد. (ردالمحتار هامش الدر المختار ٢: ٢٠٩ باب القران)

﴿٣﴾ وفى الهندية: اذا رمى جمرة العقبه يوم النحر يذبح دم القران وهذا الدم نسک من المناسک. (فتاوىٰ عالمگيريه ١: ٢٣٨ الباب السابع فى القران والتمتع)

﴿۴﴾ وفى الهندية: ثم يرجع الى منىٰ فان كان معه نسک ذبحه وان لم يكن فلا يضره لانه مفرد بالحج ولو كان قارنا او متمعا فلا بدله من الذبح.

(فتاوىٰ عالمگيريه ١: ٢٣١ باب فى كيفية اداء الحج)

﴿٥﴾ قال العلامة المرغينانى: ومن اخر الحلق حتى مضت ايام النحر فعليه دم عند ابى حنيفة وكذا اذا اخر طواف الزيارة وقالا لا شيئ عليه فى الوجهين وكذا الخلاف فى تاخير الرمى وفى تقديم نسک على نسک كالحلق قبل الرمى ونحر القارن قبل الرمى.

(هداية ١: ٢٨٧ باب الجنايات)

﴿۶﴾ قال العلامة الحصكفى: او قدم نسكا على آخر فيجب فى يوم النحر اربعة اشياء الرمى ثم الذبح لغير المفرد ثم الحلق ثم الطواف لكن لا شيئ ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د قرباني طاقت لرلو باوجود روژې نيول كافى نه دى

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښې چه يو حاجى هلته كښې قرباني ؤنكړي، او لس روژې متواتر ؤنيسي، آيا په هغه دم واجب دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجى عبد المجيد پيښور ښار ۱۴ صفر ۱۳۹۵ھ

الجواب: كوم حاجى چه متمتع يا قارن وى، په هغه قربانى لازم ده، او د عدم قدرت په وجه لس روژې نيول كافى دى. ليكن د قدرت باوجود روژې نيول كافى نه دى، قربانى كول ضرورى دى. ماخوذ از ردالمحتار﴿۱﴾. وهو الموفق

په حاجى باندې د لوئي اختر قرباني واجب نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښې چه په دوؤ رونړو كښې يو د حج دپاره لاړو، په كور چه كوم ورور پاتې دې، په هغه باندې د خپل حاجى ورور د طرف نه قرباني واجب ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مختار سيد بنوى......۱۹۸۳ء/۱/۱۲

الجواب: په حاجى قرباني واجب نه ده. نه په منى كښې نه په وطن كښې. كما فى

(بقيه حاشيه)على من طاف قبل الرمى والحلق، قال ابن عابدين: قوله فيجب الخ لما كان قوله او قدم الخ بيانا لوجوب الدم بعكس الترتيب فرع عليه ان الترتيب واجب مع بيان مايجب ترتيبه ومالا يجب فافهم.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۲۲۶ باب الجنايات)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وذبح للقران وهو دم شكر ...... وان عجز صام ثلاثة ايام ...... آخرها يوم عرفة...... وسبعة بعد تمام ايام حجه فرضا او واجبا وهو بمعنى ايام التشريق.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۲۰۹ باب القران)

البدائع ۵:۶۳ وذكر فى الاصل وقال ولا تجب الاضحية على الحاج واراد بالحاج المسافر الخ﴿۱﴾ وتمام الكلام فى السارى﴿۲﴾. وهو الموفق

په حرمين كښې مقيم حاجى دپاره د اضحيې مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښې چه زما والد صاحب دې كال حج ته روانيدو نه مخكښې ماته ؤوئيل. چه تۀ زما د طرف نه يوه چيلى حلاله كړه، كومه چه دم اضحيه ده. او ما باندې واجب ده. باقى د دم شكر قربانې به زۀ په خپله وكړم. ما د مقامى علماؤ نه پوښتنه وكړه، هغوى ؤوئيل چه دوه قربانى نشته، ددې وجه نه ما د والد صاحب د طرف نه قربانې ونكړه، چه كله هغه واپس راغلو. او هغه ته معلومه شوه، نو ډير خفه شو، اوس د شريعت مطابق ددې قربانى څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: سردار على خان....۱۹۷۴/۲/۲۴

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ۴:۱۹۵ كتاب التضحية فصل شرائط الوجوب)

﴿۲﴾ قال العلامة ملا على قارى: اعلم ان الاضحية واجبة على كل مسلم حر مقيم موسر ويستوى فيه المقيم بالامصار والقرىٰ والبوادى فلا تجب على المسافرين ولا على الحاج اذا كان محرما وان كان من اهل مكة كذا فى الخزانة ولعل وجهه انه يجب على الحاج دم القران او متعة ويستحب لهم دم افراد فيسقط عنهم دم الاضحية تخفيفا عليهم كما سقط عنهم صلاة العيد اجماعا وكذا صلاة الجمعة بمنىٰ عند بعضهم قال السنجارى فى منسكه ولا تجب الاضحية على المسافر والحاج لان فيه الحاق المشقة بالمشقة وتجب على اهل مكة لعدم المشقة فيهم ولعله اراد باهل مكة من لم يحج منهم ولا يبعد انه اذا اراد عمومهم فقد قال الحدادى واما اهل مكة فتجب عليهم وان كانوا حجوا كذا فى الكرخى وذكر فى الخجندى انها لا تجب على الحاج اذا كان محرما وان كان من اهل مكة، والله اعلم.

(ارشاد السارى ۲۶۳ مطلب فى التحقيق فى اضحية اهل مكة اذا حجوا)

الجواب: محترم! وعلیکم السلام نه پس دا خبره دې واضحه وي، چه که ستا والد صاحب په رمضان کښې مدینې ته تلې وي، او دهلته نه په شوال کښې د عمرې په نیت مکې مکرمې ته واپس شو. نو ستا والد متمتع وو، په هغه دم تمتع واجب دې. کوم چه هغه ادا کړو، او چونکه ستاسو والد په حرمین کښې مقیم وو، کما هو الظاهر لانه نوی اکثر من خمسة عشر یوما لهذا په هغه اضحیه واجبه وه﴿۱﴾. او چه کله تا دهغه د طرف نه اضحیه ذبح نه کړه. نو اوس یو متوسط ګډ. چه د شپږو میاشتو نه زیات عمر ئې وي، او دومر خورب وي. چه د کال معلومیږي. دهغې قیمت په مسکینانو کښې تقسیم کړه. کما فی ردالمحتار ۵: ۲۸۰﴿۲﴾. وهو الموفق

په ایام نحر کښې دم نه کولو والا حاجی به اوس څه کوي

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه کله یو حاجي

﴿۱﴾ قال العلامة الكاساني: وذكر في الاصل وقال: ولا تجب الاضحية على الحاج واراد بالحاج المسافر فاما اهل مكة فتجب عليهم الاضحية وان حجوا لما روى نافع عن ابن سيدنا عمر رضى الله عنهما انه كان يخلف لمن لم يحج من اهله اثمان الضحايا ليضحوا عنه تطوعا. (بدائع الصنائع ۴: ۱۹۵ كتاب التضحية فصل شرائط الوجوب) ومثله في ارشاد الساري ۱: ۲۶۳ مطلب في التحقيق في اضحية اهل مكة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله وتصدق بقيمتها غنى شراها اولا) وتعقبه الشيخ شاهين بان وجوب التصدق بالقيمة مقيد بما اذا لم يشتر اما اذا اشترى فهو مخير بين التصديق بالقيمة او التصدق بها حية كما في الزيلعي ابوالسعود...... فبين ان المراد اذا لم يشترها قيمة شاة تجزئ في الاضحية كما في الخلاصة وغيرها قال القهستاني او قيمة شاة وسط كما في الزاهدي والنظم وغيرهما.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵: ۲۲۶ كتاب الاضحية

په ایام نحر کښې د لاعلمۍ. هیره یا بل څه وجه نه دم ادا نه کړي، او د حج نه مخکښې د زیارت مدینة الرسول د پاره تلې وي. اوس به دا حاجی یو دم ادا کوي او که دوه؟ او په ایام نحر کښې یا په نورو ؤرځو کښې هم ادا کولې شي؟ او په زمین حرم کښې که په زمین حل کښې هم کیدې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل هادی حقانی خرکی ضلع مردان ۱۹۷۴|۹|۸

الجواب: که دا حاجی د مدینې منورې نه په رمضان کښې واپس شوې وو. نو په دۀ دم تمتع نشته. البته که دۀ عامه قرباني په ایام نحر کښې نه وه کړې. نو دیو ګډ قیمت دې د صدقې په طور په مسکینانو کښې تقسیم کړي﴿۱﴾. او که د مدینې منورې نه په شوال کښې د عمرې په احرام کښې راغلې وو. نو په دۀ دم تمتع واجب ده﴿۲﴾. او د تاخیر په وجه به دم جنایت هم واجب وي. او د زمین حرم سره به مختص وي. (هندیه)﴿۳﴾ او که دا حاجی د وقوف عرفات نه مخکښې وفات شوې وي. نو په هغه نه قربانی واجب ده. او نه دم تمتع وغیره. پس که دې حاجی حج مکمل کړې وي. لیکن دم تمتع ئې ذبح کړې نه وي. نو چالره دې وکیل جوړ کړي او په حرم کښې دې دوه ګډان وغیره ذبح کړي. که د حج په ؤرځو کښې وي. او که مخکښې وي. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وتصدق بقيمتها غنى شراها اولا لتعلقها بذمته بشرائها اولا فالمراد بالقيمة قيمة شاة تجزى فيها.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵: ۲۲۶ قبيل فروع كتاب الاضحية)

﴿۲﴾ وفي الهندية: والمتمتع من يأتي باعمال العمرة في اشهر الحج اويطوف اكثر طوافها في اشهر الحج ثم يحرم بالحج ويحج من عامه ذلك قبل ان يلم باهله بينهما الماما صحيحا. (فتاوى عالمگيريه ۱: ۲۳۸ باب القران والتمتع)

﴿۳﴾ وفي الهندية: لا يجوز ذبح هدى المتعة والقران الا في يوم النحر حتى لو ذبح قبله لا يجوز اجماعا وبعده كان تاركا للواجب عند الامام فيلزمه دم ويجوز ذبح بقية الهدايا في اى وقت شاء ولا يجوز ذبح الهدايا الافي الحرم.

(فتاوى عالمگيريه ۱: ۲۶۱ الباب السادس عشر في الهدى)

د حج د قربانۍ نه خوړل ضروري نه دي.

وینې تویولو سره ثواب ملاویږي

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په حج کښې په لکهونو قربانۍ کیدلو نه پس په آخر کښې هغه سوزولې شي، خلق لږه شان غوښه ؤخوري، باقي پریږدي، او ضائع شي، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: لیفټننټ محمد دین جده سعودیه. ۱۹۸۳|۸|۱۰

الجواب: د قربانۍ د غوښې نه خوړل ضروري نه دي، وینې تویولو سره ثواب ملاویږي﴿۱﴾، وهو الموفق.


﴿۱﴾ قال العلامة ابی بکر بن علی الحداد الیمنی: **الاضحیة اراقة الدم من النعم دون سائر الحیوان** والدلیل علی انها الاراقة انه لو تصدق بعین الحیوان لم یجز **والصدقة بلحمها بعد الذبح مستحب** ولیس بواجب حتی لولم یتصدق به جا ز قال فی **الواقعات شراء الاضحیة** بعشرة دراهم خیر من التصدق بالف درهم لان القربة التی تحصل باراقة الدم **لا تحصل** بالصدقة. (الجوهرة النیرة ۲: ۲۸۱ کتاب الاضحیة)

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب الحج عن الغیر



....

بسم الله الرحمن الرحيم

........عن ابن عباس:........

ان امراة سالت النبى صلى الله عليه وسلم فقالت: ان ابى شيخ لايستوى على البعير ادركته فريضة الله؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم حجى عنه.

بخاری، مسلم، ابوداؤد، ترمذی، موطا، نسائی، ابن ماجه، دارمی

....

باب الحج عن الغير

په حج عن الغير کښې حج تمتع کول جائز دی:

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو څو سړو د حج بدل اراده کړې ده. په معلم الحجاج ملقب په اشرف المناسک کښې ئې ليکلي دي، چه حج عن الغير والا تمتع نشي کولې. او تمتع په اجازت سره هم جائز نه ده، مولانا خليل احمد مهاجر مدنی شارح سنن ابی داؤد هم د عدم جواز فتوی ورکړې ده. اوس سوال دادې، چه په حج عن الغير کښې تمتع کيدې شی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبد الجليل کربوغه شريف.۱۹۷۸/ ۸/ ۹

الجواب: په حج بدل کښې چه کله د آمر په اجازت سره قران او تمتع وکړی شی، نو په دې کښې اختلاف دې، ملا علی قاری رحمه الله ﴿۱﴾ او حضرت گنگوهی رحمه الله ﴿۲﴾ وغيره عدم جواز لره مختار کړې دې،او ارشاد الساری ۳۰۴ په

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: ان هذا القيد سهو ظاهر اذ التفويض المذكور فى كلام المشائخ مقيد بالافراد والقران لاغير...... واما ما فى قاضى خان من التخيير بحجة او عمرة وحجة او بالقران فلا دلالة على جواز التمتع اذالواو لا تفيد الترتيب فيحمل على حج وعمرة بان يحج اولا عنه ثم يأتى بعمرة له ايضا.

(ارشاد السارى الى مناسک القارى ۳۰۴ قبيل فصل ولوصى الميت او وارثه......)

﴿۲﴾ قال الشيخ الجنجوهی: پس که آمر حج دپاره اووئيل او مامور تمتع اوکړو نو ضمان به ورکوی اوحج به د مامور وی د آمربه نه وی علیٰ هذا. اوتمتع کول په هيڅ حال کښې صحيح نه ده اګرچه آمر اجازت کړې وی.الخ.

(تاليفات رشيديه رساله زبدة المناسك ۲۴۷ باب الحج عن الغير)

ملاعلی قاری رحمه الله باندې رد کړې دې او جواز لره ئې راجح ګرځولې دې(۱).

قلت وهو الاقوىٰ لان كلام ابى بكر محمد بن الفضل لغير الجواز حيث قال اذا امر غيره بان يحج عنه ينبغى ان يفوض الامر الى المأمور فيقول حج عنى بهذا المال كيف شئت ان شئت حجة وان شئت حجة وعمرة وان شئت قرانا كذا فى الخانية على هامش الهندية ۱ : ۲۸۱ ﴿۲﴾ وكذا يقتضيه كلام غاية البيان حيث قال فى شرح قوله الهداية فان امره غيره ان يقرن عنه فالدم على من احرم واراد بالقران الجمع بين النسكين قرانا كان او تمتعا فافهم ﴿۳﴾، واستدلال المخالف بعبارات الفقهاء لا يصح لانها وردت عند الامر بالافراد وعللوها بعدم الاذن، وفى الصورة المسؤلة يأمره الآمر بالحج وهو فى عرفنا شامل للاقسام الثلاثة وكذا لاريب فى الاذن لا سيما عند الاستيذان ومزيد التفصيل فى جواهر الفقه ۱ : ۵۰۸ فليراجع ﴿۴﴾. وهو الموفق

په حج بدل کښې درې واړه قسمه حج د آمر نه واقع کيږی

سوال: په حج بدل کښې يعنې حج عن الغير کښې که مامور د ميقات نه احرام

﴿۱﴾ قال الشيخ حسين بن محمد سعيد المكى: قوله فيه ان هذا القيد سهو ظاهر قال القاضى عيد فى شرحه لهذا الكتاب ولا يخفى ان هذا سهو منه لان الميت لو امره بالتمتع فتمتع المأمور صح ولا يكون مخالفا بلا خلاف بين الائمة الاسلاف فتدبر.

(ارشاد السارى الى مناسک القارى ۲۰۴ قبيل فصل ولوصى الميت)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ۱ : ۳۰۷ فصل فى الحج عن الميت)

﴿۳﴾ (هداية ۱ : ۲۷۸ باب الحج عن الغير)

﴿۴﴾ (جواهر الفقه ۱ : ۵۰۸ رساله منهج الخير فى الحج عن الغير)

....

وتړو او اول ئې عمره ادا کړه. که د خپل ځان دپاره وی، يا د آمر دپاره، او بيا روستو ئې حج ادا کړو د مکې مکرمې نه، نو آيا دا حج د آمر دپاره شو او که نه؟ په بعضو کتابونو کښې لايجوز مذکور دې. دهغې عبارات دادی.

ان من شروط الحج عن الآمر ان يحرم من الميقات فلو اعتمر وقد امره بالحج ثم حج من مكة يضمن فى قولهم جميعا ولا يجوز ذلک عن حجة الاسلام، الثالث عشر عدم المخالفة فلو امره بالافراد فقرن او تمتع ولو للميت لم يقع حجه عن الآمر ويضمن النفقة الخ،

په دې مسئله کښې ددې ځائې علماؤ کښې ډير زيات اختلاف دې، بعض د وقوع اوجواز قائل دی. او بعضې د عدم وقوع او عدم جواز قائل دی، براه مهربانی وضاحت وفرمايئ؟ بينوا توجروا

المستفتی: جاجی نوراجان

الجواب عن عبد الله جان ناصر دکی: دلته کښې د تفصيل ضرورت دې، دهغې نه پس صراحة به معلومه شی چه دا حج د آمر دپاره واقع او جائز دې. تفصيل ئې دادې. عبارت د بحرالرائق:

بحر الرائق ۲ : ۳۱۸ لان الافاقى اذا قصد موضعا من الحل كخليص يجوز له ان يتجاوز الميقات غير محرم واذا وصل اليه التحق باهله، ومن كان داخل الميقات فله ان يدخل مكة بغير احرام اذا لم يقصد الحج او العمرة وهى الحيلة لمن اراد ان يدخل مكة بغير احرام وينبغى ان لا تجوز هذه الحيلة للمامور بالحج (لانه حينئذ لم يكن سفره للحج) ولانه مامور بحجة آفاقية واذا دخل مكة بغير احرام صارت حجته مكية فكان مخالفا وهذه المسئلة يكثر وقوعها فيمن يسافر فى البحر الملح وهو مامور بالحج ويكون ذلک فى وسط السنة فهل له ان يقصد البندر المعروف بجدة ليدخل مكة بغير احرام حتى لا يطول الاحرام عليه لو احرم بالحج فان المامور بالحج ليس له ان يحرم بالعمرة،

بيا اوګورئ جلد ۲ ص۳۱۸ باندې عبارت:

منحة الخالق على البحر لابن عابدين تحت قوله لانه حينئذ لم يكن سفره للحج،

هذا التعليل يفيد انه لا ترتفع المخالفة بخروجه بعد الى احد المواقيت واحرامه منه، ونقل كلام المولف هنا الشيخ حنيف الدين المرشدى فى شرح منسكه واقره ونقله عنه القاضى محمد عيد فى شرح منسكه كما فى حاشية المدنى على الدرالمختار، ثم قال فيها ونقل الملا على قارى فى رسالته المسماة. (بيان فعل الخير اذا دخل مكة من حج عن الغير)انه وقعت مسئلة اضطرب فيها فقهاء العصر وهى ان الآفاقى الحاج عن الغير اذ انفصل عن الميقات بغير احرام للحج هل هو مخالف ام لا؟ فقيل نعم فيبطل حجه عن الآمر وان عاد الى الميقات، واحرم وقيل لا بل عليه ان يرجع الى الميقات ويحرم عن الآمر واعتمد الاولون على ظاهر ما فى المنسک الكبير للسندى ان من شروط صحة الحج عن الآمر ان يحرم من الميقات فلو اعتمر وقد امره بالحج ثم حج من مكة يضمن فى قولهم جميعا ولا يجوز ذلک عن حجة الاسلام، لانه مامور بحجة ميقاتيته الخ...... ولا يصح الاعتماد عليه لان الشرط فرض لا يثبت الا بدليل قطعى فمجرد قوله من غير نقله عن مجتهد او اسناده الى دليل غير مقبول، واطال الى ان قال وبما ذكرناه افتى الشيخ قطب الدين وشيخنا سنان الرومى فى منسكه وافتى به الشيخ على المقدسى ونقل فتواه فراجعها الخ ما فى الحاشية ملخصا اقول وفى رده ما ذكره السندى نظر، لان المسئلة منقولة والمقلد متبع للمجتهد وان لم يظهر دليله ففى التتارخانية عن المحيط ولو امره بالحج فاعتمر ثم حج من مكة فهو مخالف فى قولهم وفى الخانية ولا يجوز ذلک عن حجة الاسلام عن نفسه وكذا لوحج ثم اعتمر كان مخالفا عند العامة، وفى المحيط ولو امره بالعمرة فاعتمر اولا ثم حج عن نفسه لم يكن مخالفا وان حج اولا ثم اعتمر فهو مخالف الخ

فليتأمل وفى قول ابن عابدين فليتأمل اشارة الى جواب نظره وهو ان نقل الدليل عن مجتهد او اسناده الى دليل لا ينافى التقليد والاتباع وايضا قال ملا على قارى فى كتاب المناسک ۲۵۳ وايضا فيه اشكال آخر حيث ان الميقات من اصله ليس شرطا لمطلق الحج واصالته بل انه من واجباته فكيف يكون شرطا وقت نيابته فان وجد نقل صريح او دليل صحيح فالامر مسلم والا فلا.

حاصل ما قال الملا على قارى فى المنحة وفى كتاب المناسک ان الميقات اما ان يكون شرطا اولا، فان كان شرطا فالشرط فرض لا يثبت الخ ولم يأت احد بدليل قطعى الى الآن ولم يوجد، وان لم يكن شرطا بل من واجبات الحج فكيف يكون شرطا وقت نيابته فان وجد نقل صريح ودليل صريح فالامر مسلم والا فلا.

وبقوله ان الشرط فرض الخ وان الميقات من اصله ليس شرطا الخ اندفع ما قال فى ردالمحتار فى باب الحج عن الغير ۲۱۱، ۲۱۲ وهذا يفيد جواز الحيلة المذكورة اذا عادل الميقات واحرم على ان البحر الرائق علل بعلتين احدهما قوله لانه حينئذ لم يكن سفره للحج وثانيهما لانه مامور بحجة افاقية وبينهما تناقض كما يظهر بادنى تامل، وهو ان قوله لانه حينئذ تعليل يفيد انه لا ترتفع المخالفة بخروجه بعد الى احد المواقيت واحرامه منه كما ذكرناه آنفا، وقوله لانه مامور بحجة آفاقية تعليل يفيد ويفهم منه انه لو خرج الى الميقات واحرم منه انه يصح ولعل البحر لهذا التناقض اتى وجاء بلفظ ينبغى وهو غير صريح فى اشتراط الاحرام من الميقات وعلل الشيخ السندى بعلة واحدة وهى قوله لانه مامور بحجة ميقاتية وهى ايضا منقوضة بما قال فى المنحة على البحر۳: ۶۳ وهو (قول السندى لانه مامور بحجة ميقاتية) يفهم منه انه لو

خرج الی المیقات واحرم منه انه یصح لکن یرد علیه انه لما اعتمر جعل سفره للعمرة ولم یؤمر به فیکون مخالفا کما یفیده قوله الآتی (لانه جعل المسافة) والقول الآتی من آخر صفحة ٦٣ الی نصف سطری ثانیة ٦٤.

وایضا قال ملا علی قاری فی کتاب المناسک ۱۵۳ تحت قوله فلو امره بالافراد فقرن او تمتع به ولعل وجهه انه مامور بتجرید السفر للحج فانه المفروض علیه وینصرف مطلق الامر الیه الا انه یشکل علیه اذا امره بافراد العمرة ثم اتیان الحج بعده او صرح بالتمتع فی سفره او بتفویض الامر الیه.

ددې تفصیل نه معلومه شوه چه دا حج د آمر دطرفه واقع او جائزدې.

المجیب: عبدالله ناصر دکی لورآلائي.

الجواب عن مفتی صاحب دامت برکاتهم: ددې عباراتو نه دا نه ثابتیږی، چه دا حج د آمر نه واقع کیږی، البته د عوامو په عرف کښې د حج اطلاق په درې وارو قسمونو افراد، تمتع او قران باندې کیږی، لهذا په دې بناء باندې دا حج د آمر د طرف نه واقع کیږی فافهم ﴿۱﴾. وهو الموفق

محمد فرید عفی عنه..... ۲۸ ذی الحجه ۱۳۹۴هـ

﴿۱﴾ په دې کښې اصل او قاعده داده، چه د میقات د ذکر نه بغیر امر کولو په صورت کښې د آفاقی چه د میقات نه احرام تړل شرط دی، هغه د میقات نه دا حکم دلالة ثابتیدلو په وجه دې. پس هرکله چه د آمر اجازت ددې نه خلاف واقع شو، مثلا دهٔ ته ئې د قران حکم اوکړو، یا دا معامله ئې دهغهٔ په اختیار پرېخودله، نو دا شرط به هم ساقطیږی، تردې پورې که هغه د میقات نه د عمرې احرام ؤتړلو، بیا ئې د مکې مکرمې نه دهغې سره دهغه د طرف نه د حج احرام یوځائې کړو، تردې پورې چه دهغه حج، حج قران شو، نو دا جائز دی، ځکه چه دهٔ دهغه د حکم مطابق ادا کړې ده، او اوس به هغه د مکې مکرمې نه ددهٔ د حج احرام تړلو په وجه مخالف نه وی، ځکه چه دهٔ ته دهغه اجازت حاصل دې، دغه رنګې که آمر د تمتع حکم وکړو، نو په تمتع کښې د نیابت جائز کیدلو د قول په بناء باندې به د مامور تمتع کول هم جائز شی. پس دا د میقات نه د احرام ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د یو حاجی د طرف نه د حج بدل کولو حکم:

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې مخکښې حج ادا کړې دې، آیا د هغه د طرف نه حج بدل کول صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی ظفر الحق ۲۷ ربیع الاول ۱۴۰۵هـ

الجواب: چاچه فریضه حج ادا کړې وی، نو دهغه د طرف نه دوباره حج ادا کول جائز دی﴿۱﴾، او کوم سړې چه فریضه حج ادا کړی وی، نو هغه د بل د طرف نه بلاکراهت حج بدل کولې شی﴿۲﴾. وهو الموفق.

(بقیه حاشیه)... شرط د نیابت حج دپاره فی نفسه شرط نه دې، بلکه د آمر د امر نه دلالة ثابتیدو په وجه دې، (عمدة الفقه ٤: ٢٥٤) ددې قول نه معلومه شوه، چه زمونږ په عرف کښې حج هم ددې مشهور قسم یعنی د حج تمتع نوم دې، او عوام په دې کښې فرق نه کوی، بلکه د مطلق حج حکم کوی، او د هرقسم حج اجازت وی، نو دلالة ددې نه هم دا حج تمتع مراد وی، او په نظام الفتاوی ۱: ۱۵۱ کښې دی، "او که آمر د قران او تمتع اجازت ورکړو، اګر که مجملا ئې ورکړې وی، مثلا په دې شان سره چه تاته اختیار دې، چه زما د طرف نه څرنګه غواړې حج بدل وکړه، نو په دې صورت کښې مامور ته حج تمتع او قران دواړه کول جائز دی. کما فی ردالمحتار ودم القران والتمتع والجنایة علی الحاج ان اذن له الآمر والا فیصیر مخالفا فیضمن. معلومه شوه، چه د آمر د اجازت او غیر اجازت د دواړو حکم یوشان نه دې، بلکه فرق پکښې شته، انتهی. پس معلومه شوه، چه زمونږ په عرف کښې د حج تمتع اجازت مجملا دلالة وی، اوپه فتاوی قاضی خان کښې دی.

اذا امر غیره بان یحج عنه ینبغی ان یفوض الامر الی المأمور فیقول حج عنی بهذا المال کیف شئت ان شئت حجة وان شئت حجة وعمرة وان شئت قرانا.

(فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ۳۰۷ حج عن الغیر)...... از مرتب

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ففی الحج النفل تجوز النیابة حالة القدرة لان باب النفل اوسع کذا فی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۵۷ باب الحج عن الغیر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: والافضل للانسان اذا اراد ان یحج ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په حج بدل کښې نفقه د آمر په ذمه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه مور خپل ځوی ته د نورو وړونړو نه څه پیسې زیاتې ورکړې وې. اوس دا هلک حج بدل کول غواړی؟ آیا د والدې د طرف نه به په دې مال باندې حج بدل کولې شی. یا د نور مال ضرورت به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مختار احمد غازی هری پور

الجواب: په حج بدل کښې دا ضروری ده، چه خرچه به د آمر د مال نه کولې شی. کما فی ردالمحتار ۲: ۳۲۸)﴿۱﴾ وهو الموفق

د ښځې د پار محرم نه ملاویدو په صورت کښې د حج بدل مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یوه ښځه مالداره ده، او د محرم خرچه هم ادا کولې شی، لیکن هغې ته یو محرم داسې نه ملاویږی، چه دهغه سره حج کول جائز وی. آیا دا ښځه حج بدل کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: ښځه بغیردمحرم شرعی نه حج ته نشی تلې. اودمحرم یاخاوند موجود

(بقیه حاشیه) رجلا عن نفسه ان یحج رجلا قد حج عن نفسه ومع هذا لو احج رجلا لم یحج عن نفسه حجة الاسلام یجوز عندنا وسقط الحج عن الآمر کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۵۷ باب الحج عن الغیر)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: النفقة من مال الآمر ای المحجوج عنه ومحترزه قوله الآتی ولو انفق من مال نفسه الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۵۹ قبیل مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

کیدل هر وخت کښې ممکن کیدې شی، ددې وجه نه چا لره د حج بدل دپاره مقرر کولې نشی. البته که دا عدم محرم داسې همیشوالې اختیارکړی چه تر مرګه پورې ددې امید نه وی. نو د مریض دائم پشان بیا حج بدل کولې شی، وفی ردالمحتار فیجوز کالمریض اذا احج رجلا ودام المرض الخ﴿۱﴾. وهو الموفق

حج بدل کولو سره په فقیر سړي باندې حج نه فرض کیږی:

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید یو فقیر سړی دې، او عمر هغه لره د خپلې والدې د حج بدل دپاره لیږی. اوس بعضې خلق وائي، چه فقیر او غریب سړي د حج بدل دپاره نشي تلې، ځکه چه بیا خپله په هغه حج فرض کیږی؟ که هغه زمین حرم پورې ؤرسی، ایا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حضرت سید شوداګئ تالاش دیر ۱۹۷۲|۸|۲۸

الجواب: بهتر داده چه د حج بدل دپاره داسې سړي ؤلیږلې شی، چه هغه حج ادا کړې وی، لیکن باوجود ددې نه که غریب سړي ؤلیږلې شی، نو هغه باندې حج نه فرض کیږی. (والتفصیل فی ردالمحتار ۲: ۲۳۲)﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ومن العجز الذی یرجی زواله عدم وجود المرأة محرما فتقعد الی ان تبلغ وقتا تعجز عن الحج فیه ای لکبر او عمی او زمانة فحینئذ تبعث من یحج عنها اما لو بعث قبل ذلک لا یجوز لتوهم وجود المحرم الا ان دام عدم المحرم الی ان ماتت فیجوز کالمریض اذا احج رجلا ودام المرض الی ان مات کما فی البحر وغیره.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۵۹ قبیل مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: جاز حج الصرورة من لم یحج...... وغیرهم اولیٰ لعدم الخلاف، قال ابن عابدین فی التنبیه: ان الفقیر الآفاقی اذا وصل الی میقات فهو کالمکی...... لکن هذا لا یدل علی ان الصرورة الفقیر کذلک لان قدرته بقدرة غیره کما قلنا وهی غیر معتبرة بخلاف ما لو خرج لیحج عن نفسه وهو فقیر فانه......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ایام حج نه مخکښ د مدینې منورې نه واپسی باندې په ایکسیډنټ کښ شهید شوې د پاره د حج مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه دې کال دوه سړې زمونږ د کلي نه حج د پاره لاړل، عمره ادا کولو نه پس د زیارت نبوی ﷺ د پاره مدینې منورې ته لاړل، په واپسی کښ بس کښ سوارهٔ شو او مکې ته روان شو، چه په ایکسیډنټ کښ دواړه شهیدان شو، اوس دهغوی په وارثانو د هغوی د طرف نه حج بدل لازمی دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی امیر احمد تجوړی لکی مروت. ۱۹ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دا مرحومین په دې کال د وفات نه مخکښ کال کښ صاحب استطاعت وو، او هغوی د حج کولو متعلق وصیت کړې وو، نو په وارثانو باندې دهغوی د طرف نه حج بدل کول ضروری دی، او که په دې کال کښ صاحب استطاعت شوې وو، او یا ئې وصیت نه وی کړې، نو په وارثانو حج کول ضروری نه دې. (ارشاد الساری وغیره)﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) عند وصوله الی المیقات صار قادرا بقدرة نفسه فیجب علیه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۶۱، ۲۶۲ مطلب فی حج الصرورة)

﴿۱﴾ قال العلامة الملا علی قاری: اعلم ان کل من وجب علیه الحج...... وهو قادر علی الاداء بنفسه وحضره الموت او خافه یجب علیه الوصیة بالاحجاج عنه بعد موته فان قدر علیه اولا وعجز عن الاداء بنفسه ای بعده یجب علیه الاحجاج...... ان فرط ای قصر فی التأخیر بان وجب علیه فلم یخرج الیه فی عامه وفیه الایماء الی ان وجوب الایصاء انما یتعلق بمن لم یحج بعد الوجوب اذا لم یخرج الی الحج حتی مات فاما من وجب علیه الحج فحج من عامه فمات فی الطریق لا یجب علیه الایصاء بالحج لانه لم یؤخر بعد الایجاب...... وان مات قبل التمکن من ادائه سقط عنه الحج...... ولا تجب علیه الوصیة به ......ای من لزمه الحج فلم یحج حتی مات قبل التمکن من ادائه......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حج بدل د پاره تللو والا دې خپل حج وکړی او د بدل د پاره دې په حرمین کښ څوک مقرر کړی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه زید د خپلې والدې د پاره عمر لره په حج بدل باندې ؤلیږلو، لیکن عمر وائي، چه زهٔ به خپل حج کوم، او ستا د والدې د پاره به په حرمین شریفینو کښ څوک د حج بدل د پاره منتخب کړم، نو ماته به د خپل حج د پاره او دغه رنګې د حج بدل کونکې د پاره خرچه راکوې، آیا دا طریقه د حج بدل صحیح ده او ذمه په دې سره فارغیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: روئیداد خان نخونسون بنکاک ۱۹۹۷| ۹| ۳۰

الجواب: دا طریقه مذکوره مشروع نه ده، او نه په دې سره د زید د والدې ذمه فارغه کیږی.

اما الاول فلان عمرا لم یحج ام زید، واما الثانی فلما فی ردالمحتار ۲: ۳۲۹ الحادی عشر ان یحج عنه من وطنه ان اتسع الثلث والا فمن حیث یبلغ کما سیأتی بیانه ﴿۱﴾. وهوالموفق

د پاکستانی د پاره د ابوظهبی نه د حج بدل کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه (۱) زمونږ د یو ملګری والده د ضعیف العمری او کمزورې په وجه مناسک د حج نشی ادا کولې، ددې وجه نه هغې خوې ددې ځائې نه د خپلې والدې د پاره حج بدل ادا کولې شی او که د پاکستان نه به ادا کوی؟

(۲) که یو سړې د وفات شوې والدینو یاد یو رشته دار د طرف نه حج بدل کول غواړی، هرکله چه هغوی وصیت نه وی کړې، نو هغه دلته د ابوظهبی نه حج بدل کولې شی او که د پاکستان نه حج بدل کول ضروری دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اکبر ابوظهبی متحده عرب امارات. ۲۲ شعبان ۱۴۰۳ھ

(بقیه حاشیه) سقط عنه الفرص بالاتفاق وان مات بعد التمکن لم یسقط عند الشافعی واحمد هذا الخ. (ارشاد الساری ۲۸۷ باب الحج عن الغیر)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۰ مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

الجواب: (۱) که ددغي سړي په مور حج فرض وی. نو حج بدل کونکي به د والدي په نفقي باندې د والدې د وطن یعنی پاکستاني میقات (یلملم) نه احرام تړي (شامی)﴿۱﴾ او د والدې په اجازت سره به حج بدل کوی، او که والده دا ؤوائي، چه هلته د ابوظهبی نه زما دپاره حج وکړه، نو پاکستان راتلو ته به ضرورت نه وی (ارشاد الساری ۲۹۱)﴿۲﴾.

(۲) د تبرع په صورت کښ توسع ده. او دا تنګی د حج بدل او وصیت په صورت کښ ده﴿۳﴾، وهو الموفق

د حج بدل د پاره تللو والا د حرم شریف نه د حج بدل احرام وتړلو

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښ چه یو سړي د حج بدل دپاره ځی. لیکن د میقات نه ئې د حج بدل دپاره احرام ؤنه تړو، صرف د عمرې احرام ئې ؤتړو، آیا د حرم شریف نه د حج بدل احرام تړلو سره به حج بدل ادا شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی دل محمد محلات افغان ابوظهبی. ۱۳/۵/۱۴۱۵ھ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله النفقة من مال الآمر الخ) ای المحجوج عنه...... ان یحج عنه من وطنه ان اتسع الثلث والا فمن حیث یبلغ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۵۹، ۲۶۰ مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

﴿۲﴾ قال العلامة الملا علی القاری: ولو اوصی ای من له وطن ان یحج عنه من غیر بلده یحج عنه کما اوصیٰ به قرب ذلک المکان الموصیٰ به من مکة او بعد.

(ارشاد الساری الی مناسک الملا علی قاری ۲۹۱ قبیل مطلب جواز اخراج البدل من مکة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: وانما شرط غیر المنوب للحج الفرض لا النفل لجواز الانابة مع القدرة فی حج النفل لان المقصود منه الثواب.

(البحرا لرائق ۳: ۶۲ باب الحج عن الغیر)

الجواب: که آمر د تمتع اجازت ورکړې وی. نو د تحقیق په بنا به د آمر ذمه فارغه شی.﴿۱﴾ وهو الموفق

که حج فرض نه وی. نو د ایصال ثواب د پاره په حرمین کښ یو سړي د حج بدل د پاره مقرر کولې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښ چه یو سړي د پاکستان نه د حج دپاره لاړو، دهغه والدین معذور دی. خپله دحج دپار تلي نشی، ددې وجه نه هغه سړي په حرم شریف کښ دوؤ سړو ته مثلا دوه دوه سوه روپۍ ورکړې، چه زما د مور او پلار د طرف نه حج بدل وکړئ، هغوی دا حج بدل اداکړو، آیا دا فریضه حج دهغوی د طرف نه اداشوه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالودود مدرس مدرسه شمس المدارس لنډیواکرک

الجواب: محترم المقام مولانا عبدالودود سلمه الرحمٰن السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته اما بعد، په صورت مسئوله کښ که د زید په والدینو حج فرض نه وی، نو په دې طریقه کښ هیڅ حرج نشته. لان ایصال الثواب لا یشترط فیه الامر وغیره بخلاف فراغ الذمة عن الواجب﴿۲﴾ او که په والدینو باندې حج فرض وی، نو دې طریقې سره دهغوی ذمه نه فارغیږی.

کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ﴿۳﴾ والظاهر ان ههنا النفقة من مال الولد وکذا الظاهر ان الوالدین ....

﴿۱﴾ قال الفرغانی: اذا امر غیره بان یحج عنه ینبغی ان یفوض الامر الی المأمور فیقول حج عنی بهذا المال کیف شئت ان شئت حجة وان شئت حجة وعمرة وان شئت قرانا.

(فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ۳۰۷ فصل فی الحج عن الغیر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: لو اهل بحج عن ابویه او غیرهما من الاجانب حال کونه متبرعا فعین بعد ذلک جاز لانه متبرع بالثواب فله جعله لاحدهما اولهما. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۶۶ قبیل فروع وباب الهدی)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وبشرط الامر بالحج عنه ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لم یأمراه وهذا بخلاف ما اذا ماتا فلیراجع الی باب الحج من الغیر. وهو الموفق

د ضعیف پلار د پاره په سعودی عرب کښ د مقیم ځوی حج بدل کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه که یو سړې بوډا او ضعیف شوې وی، او په هغه حج فرض شوې وی، لیکن خپله د ضعف او بیماری په وجه حج نشی کولې، دهغه ځوې یا نوسې چه په سعودیه یا امارات کښ د مزدوری دپاره مقیم وی، اوخپله ئې حج کړی وی، آیا هغه د والد دپاره حج بدل کولې شی او که نه؟ او دحج نه پس دهغه دلته پاکستان ته راتلل ضروری دی او که نه؟ او یا د حج نه مخکښ پاکستان ته کور ته راتلل او د والد نه اجازت اخستل ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: انجنئر عارف الله الیکټریکل کالج آف ټیکنالوجی پېښور ۱۸\۱\۱۹۸۶

الجواب: که ستا په والد صاحب حج فرض وی، نو د خپل وطن نه یو رشته دار یا پردې سړې دپاره د خپل مملوکه مال نه د حج بدل داخله وکړی، البته افضل داده، چه د مسائل حج نه واقف سړې لره، چا چه یو ځل حج کړی وی، د حج دپاره ؤلیږی، (ماخوذ از مسلک المتقسط)﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه لوجود الامر دلالة وبقی من الشرائط النفقة من مال الآمر کلها او اکثرها وحج المأمور بنفسه وتعینه ان عینه الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۵۹ قبیل مطلب شروط الحج عن الغیر)

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: اعلم ان کل من وجب علیه الحج...... وعجز عن الاداء بنفسه...... یجب علیه الاحجاج بان یحج عنه فی حال حیاته او بعد مماته ...... ویتحقق العجز بالموت والحبس والمنع ...... والعرج والهرم...... والسادس ان یحج بمال المحجوج عنه...... والثامن ان یحج عنه من وطنه...... ولا یشترط لجواز الاحجاج ان یکون الحاج المامور قد حج عن نفسه...... الا ان الافضل کما فی البدائع ان یکون قد حج عن نفسه ای للخروج عن الخلاف الذی هو مستحب بالاجماع.

(المسلک المتقسط. ۲۸۷ تا ۳۰۰ باب الحج عن الغیر)

د ښځې د سړې د طرف نه حج بدل د پاره تلل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه ښځه د سړې د طرف نه حج بدل دپاره تلې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ندیم رستم ضلع مردان

الجواب: د سړې د طرف نه ښځه (د محرم سره) د حج بدل دپاره تلې شی، البته د کراهت نه خالی نه ده. کما صرح به الفقهاء﴿۱﴾. وهو الموفق

د مړې د طرف نه حج کولو سره به ذمه فارغه شی. ان شاء الله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه په یو سړې

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: ویجوز احجاج المرأة باذن زوج لها ووجود محرم معها والعبد والامة باذن المولی مع الکراهة فیه انه لا یظهر وجه الکراهة لا سیما فی احجاج المرأة عن المرأة فان الظاهر ان یکون اولیٰ وانسب ویدل علیه اطلاق الفتاویٰ السراجیة حیث قال وسواء کان عبدا او امة من غیر ذکر امرأة.

(ارشاد الساری ۳۰۱ قبیل فصل ولو اوصیٰ ان یحج عنه)

قال العلامة ابن الهمام: ویجوز احجاج الحر والعبد والامة والحرة وفی الاصل نص علی کراهة المرأة فی المبسوط فان احج امرأته جاز مع الکراهة لان حج المرأة نقص فانه لیس علیها رمل ولا سعی فی بطن الوادی ولا رفع صوت بالتلبیة ولا الحلق.

(فتح القدیر ۳: ۷۲ باب الحج عن الغیر)

وفی الهندیة: ولو احج عنه امرأة او عبدا او امة باذن السید جاز ویکره هکذا فی محیط السرخسی.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۵۷ الباب الرابع عشر فی الحج عن الغیر)

حج فرض وو، لیکن په ژوند کښې ئې ادا نه کړو، او د حج وصیت ئې هم ونکړو، اوس دهغه وارثان د هغه د طرف نه حج کولې شی، او د هغه ذمه به خلاصیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مفقو د العنوان. ۲۵\۸\۱۹۸۴

الجواب: اولاد وغیره د مړی د طرف نه حج کولې شی، په دې سره به ان شاء الله دهغه ذمه فارغه شی، اګرکه هغه وصیت نه وی کړې. (شامی)《۱》 وهوالموفق

وصی خپله هم حج بدل کولې شی، او په بل چا باندې هم کولې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید د مرګ په وخت کښې د خپل ځان دپاره څلور وصیان مقرر کړل، چه په هغې کښې دوه د مړی ځامن او دوه پردی سړې وو، او د مړی په وارثانو کښې نابالغه افراد هم شته، وصیت ئې دا کړې وو، چه زما د جائیداد په دریمه حصه کښې زما دپاره حج او خیرات وغیره وکړئ، اوس د مړی دوه وراثان چه وصیان هم دی، حج کولې شی او که نه؟ او غیر وارثان چه وصیان دی، حج ادا کولې شی او که نه؟ یا ددې څلورو نه علاوه بل پردې سړې حج بدل ادا کولې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالستار حقانی

الجواب: دا اوصیاء خپله هم حج بدل کولې شی، او بل سړې لره هم لیږلې شی. لکون الایصاء مطلقا ویدل علیه ما فی الهندیة ۱:۲۷۶ ولو اوصیٰ المیت ان یحج عنه ولم یزد کان للوصی ان یحج بنفسه فان کان الوصی وارث المیت او دفع المال الی وارث المیت لیحج عن المیت الخ《۲》. وهوالموفق

《۱》 قال العلامة محمد امین ابن عابدین: (قوله الا اذا حج او احج الوارث) ای فیجزئه ان شاء الله تعالیٰ کما فی البدائع واللباب وهذا اذا لم یوص المورث. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۵۹ قبیل مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

《۲》 (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۵۹ الباب الخامس عشر فی الوصیة بالحج)

د وصی د حج بدل باره کښې دوباره پوښتنه

سوال: جناب مفتی صاحب! ستاسو فتوی ملاؤ شوه، لیکن د نظرثانی دپاره دوباره په خدمت کښې درلیږم. لهذا تاسو په تسلی بخش وضاحت سره ؤلیکئ او بنده ته ئې راؤلیږئ. مهربانی به وی؟

المستفتی: عبدالستار حقانی

الجواب بالوضاحة: دا اوصیاء خپله هم حج بدل کولې شی، البته په دې کښې څه تفصیل دې، کوم چه په دې عبارت مذکوره او ردالمحتار ۲:۳۴۱ قبیل باب الهدی کښې لیکلې شوې دې، او هغه دادې، چه وصی غیر وارث د اجازت محتاجه نه دې، (او وصی وارث د اجازت محتاج دې) او وصی وارث بالغ د باقاعده اجازت ورکولو اهل دې، او نابالغ وارث د اجازت ورکولو اهل نه دې《۱》. وهو الموفق

په حج بدل سره د مړی د ذمې د خلاصیدو امید دې، که وصیت ئې نه وی کړې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړې والد د حج فریضه ادا کولو نه بغیر وفات شو، او وصیت ئې هم نه دې کړې، اوس دهغه وارث ځوی یو غیر وارث سړې لره د حج بدل دپاره مقرر کوی، آیا دا جائز دې، او مسقط الفرض دې؟ که دې نو حج افراد به کوی که تمتع؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید جلال الدین مهتمم زرګری. ۲۵\۹\۱۹۷۵

الجواب: په کوم سړې چه حج فرض وی، نو هغه چه افراد، تمتع او قران کښې کوم یو هم ادا کړی، جائز او مشروع دې، لهذا مامور هم په اجازت سره هریو کولې شی《۲》 او هم په دې سره به دهغه غیر ذمه فارغه شی، پس په صورت

《۱》 قال العلامة ابن عابدین: لو اوصی ان یحج عنه ولم یزد علی ذلک کان للوصی ان یحج عنه بنفسه الا ان یکون وارثا او دفعه لوارث لیحج فانه لا یجوز الا ان تجیز الورثة وهم کبار. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۶۹ قبیل باب الهدی فی الفروع)

《۲》 قال العلامة فخر الدین الفرغانی: اذا امر غیره بان......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مسئوله کښ دا سړې اصالة یا وکالة د خپل پلار ذمه فارغه کولې شی، د افراد تمتع او قران نه منع نه دې، او عدم وصیت هم سبب د منع نه دې.

کما فی الدرالمختار وبشرط الامر به ای بالحج عنه فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه، وفی ردالمحتار ۲:۳۲۸ هذا اذا لم یوص المورث﴿۱﴾. وهوالموفق

که وصیت ئې کړې نه وی، نو د وارث په حج بدل سره به ان شاء الله ذمه فارغه شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ که یو سړې د حج د وصیت نه بغیر وفات شو، او وارث په خپله خوښه حج بدل ادا کړی، نو دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی صالح موسی زئي ۲۹ ربیع الاوّل ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښ به ان شاء الله د پلار ذمه فارغه شی.

کما فی ردالمحتار ۲:۳۲۷ وان لم یوص به ای بالاحجاج فتبرع عنه الوارث فحج بنفسه او احج عنه غیره جاز والمعنی جاز عن حجة الاسلام ان شاء الله تعالیٰ ﴿۲﴾.

وهوالموفق

د حج بدل تفصیلی مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه ما خپله فریضه د حج ادا کړې ده، دې کال مې اراده ده چه د والدمرحوم دپاره حج بدل اداکړم، آیا داسې کیدې شی، او زما والده ژوندی ده، او زما نیکه هم وفات

(بقیه حاشیه) یحج عنه ینبغی ان یفوض الامر الی المأمور فیقول حج عنی بهذا المال کیف شئت ان شئت حجة وان شئت حجة وعمرة وان شئت قرانا.

(فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱:۳۰۷ فصل فی الحج عن المیت)

﴿۱﴾ الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۲۵۹ قبیل مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۵۹ مطلب شروط الحج عن الغیر عشرون)

شوې دې، دهغه دپاره هم حج بدل کول غواړم، یعنی بل سړې ته به ټوله خرچه ورکړم، او حج بدل به پرې وکړم، آیا دا صحیح دی؟ او حج بدل صرف رشته دار کولې شی او که غیر رشته دار هم کولې شی؟ او زما نیا بوډۍ ده، ډیره زیاته کمزورې ده، آیا په بل سړې دهغې دپاره حج بدل کولې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: جلال الدین تبوک سعودی عرب

الجواب: السلام علیکم. ستا په والد، والده او نیکه باندې حج فرض وو او که نه؟ او د فرض کیدلو په صورت کښ هغوی وصیت کړې وو او که نه؟

(الف) بهرحال، که په هغوی حج فرض شوې نه وو، نو تهٔ دهغوی د طرف نه حج کولې شې، او په بل چا هم کولې شی، که پخپله رشته دار مامور ئې کوی او که غیر رشته دار، او بغیر د څه قید نه کولې شې، او په بل چاځ هم کولې شې. ﴿۱﴾

(ب) او که په هغوی حج فرض وو، او هغوی وفات شوې دی، نو د وصیت نه کولو په وجه هم پابندی نشته، او د وصیت په صورت کښ شرط دادې، چه نفقه به دهغوی خرچ کولې شی، او د یلملم نه به احرام تړلې شی، او په هغوی کښ چه کوم غنی ژوندې وی، نو د عجز په صورت کښ تهٔ دهغوی دپاره حج کولې شې، او بل چا باندې ئې هم کولې شی، (بغیرد شرط د رشته دار نه) البته نفقه او میقات د مخکښ شان واجب الرعایت دې. (ماخوذ ازشامی)﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: بخلاف ما لو اهل بحج عن ابویه او غیرهما من الاجانب حال کونه متبرعا فعین بعد ذلک جاز لانه متبرع بالثواب فله جعله لاحدهما اولهما وفی الحدیث من حج عن ابویه فقد قضی عنه حجته وکان له فضل عشر حجج وبعث من الابرار.

(الدرا مختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۶۵،۲۶۶ باب الحج عن الغیر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وبشرط الامر به ای بالحج عنه فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه لوجود الامر دلالة وبقی من الشرائط النفقة من مال الآمر الخ.

قال العلامة ابن عابدین: الرابع الامر ای بالحج ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

والدینو ته د ایصال ثواب دپاره هر قسمه حج او هر ځائي نه کولې شي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زۀ د والدينو د طرف نه حج کول غواړم، آيا زۀ دهغوی دپاره حج قران کولې شم؟ او زۀ په سعودی کښې يم، زۀ اوس د سعودی نه دا فريضه ادا کولې شم، يا وطن ته راتلل لازمی دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: رسول خان مشيط سعودی عرب ۱۸ محرم الحرام ۱۴۰۲ھ

الجواب: چونکه والد يا والدې وصيت نه دې کړې. لهذا د هر ځائي نه د هغوی دپاره حج ادا کولې شې. که قران وی او که تمتع وی او که افراد وی﴿۱﴾، ځکه چه دا صرف د ايصال ثواب دپاره دې﴿۲﴾. وهو الموفق

د والدینو د پاره حج کولو کښې پلار لره مقدم کړی او که مور؟

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه ما فريضه حج

(بقيه حاشيه)فلا يجوز حج غيره بغير امره ان اوصىٰ به اى بالحج عنه فانه ان اوصى بان يحج عنه فتطوع عنه اجنبى او وارث لم يجز وان لم يوص به اى بالاحجاج فتبرع عنه الوارث وكذا من هم اهل التبرع فحج اى الوارث ونحوه بنفسه اى عنه او احج عنه غيره جاز والمعنى جاز عن حجة الاسلام ان شاء الله تعالىٰ كما قاله فى الكبير الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۵۹ قبيل مطلب شروط الحج عن الغير عشرون)

﴿۱﴾ قال الملا على قارى: وان لم يوص بالاحجاج فتبرع عنه الوارث وكذا من هم اهل التبرع ونحوه فحج الوارث ونحوه بنفسه او احج عنه غيره جاز ذلک التبرع او الحج اوالاحجاج والمعنىٰ جاز عن حجة الاسلام ان شاء الله تعالىٰ الخ.

(ارشاد السارى ۲۸۸ باب الحج عن الغير)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (وشرط العجز المذكور للحج الفرض) دون النفل فلا يشترط فى النفل شيئ منها الا الاسلام والعقل ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

ادا کړې ده، اوس د والدينو دېو دپاره د نفلی حج اراده ده، ما دچا نه اوريدلې دی، چه د والد دپاره حج کولو کښې د لس حجونو ثواب ملاويږی، ليکن ما خيال کړې دې، چه د والدې حق زيات دې، اوس تاسو ؤليکی چه په والد او والده کښې دچا دپاره حج کولو کښې ثواب زيات دې، او که زۀ هلته مکه کښې چا لره د حج بدل دپاره مقرر کړم، نو صحيح به وی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: حاجی رحمت الله سنګاپور. ۱۱\۹\۱۹۷۵

الجواب: محترم المقام السلام عليکم که ستا په والدينو کښې په يو باندې هم حج فرض نه وو، نو تۀ دهغوی دپاره اصالة هم حج کولې شې، او په بل چا ئې هم کولې شې، البته دا عمل احسان او نيکی ده، نه تعظيم او توقير، لهذا والدې لره مقدم کول افضل دی﴿۱﴾، او که ستا په والدينو کښې په يو يا دواړو باندې حج فرض وو، نو په هغوی کښې که يو وصيت کړې وو، نو هغه لره مقدم کړه، او که وصيت يو هم نه وو کړې، او په دواړو حج فرض وو، نو والدې لره مقدم کول افضل دی، او د والدينو د طرف نه نفلی حج کولو کښې لس چنده ثواب زيات دې. (شامی)﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقيه حاشيه)والتميز...... لانه يتسامح فى النفل ما لا يتسامح فى الفرض الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۶۱ قبيل مطلب فى حج الصرورة)

﴿۱﴾وفى الهندية: اذا تعذر جمع مراعاة حق الوالدين بان يتأذى احدهما بمراعاة الاخر يرجح حق الاب فيما يرجع الى التعظيم والاحترام وحق الام فيما يرجع الى الخدمة والانعام وعن علاء الائمة الحمامى قال مشائخنا رحمهم الله تعالىٰ الاب يقدم على الام فى الاحترام والام فى الخدمة حتى لو دخلا عليه فى البيت يقوم للاب ولو سألا منه ماء ولم يأخذ من يده احدهما فيبدأ بالام كذا فى القنية.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۳۶۵ كتاب الكراهية الباب السادس والعشرون)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: لو اهل بحج عن ابويه......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

والدين د صحت مند سړي او نابالغه ماشومانو د طرف نه حج يا عمره كول

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلي باره کښې چه (۱) زما پلار ضعيف العمر دي، آيا زهٔ د خپل حج په ځائي دهغه دپاره حج کولې شم؟

(۲) په والدينو کښې اول حق دچا دې د والد که د والدې؟

(۳) ديو مړي د طرف نه حج کولې شی؟

(۴) آيا د صحت مند سړي د طرف نه عمره کولې شی؟

(۵) آيا د ښځې د طرف نه خاوند عمره کولې شی؟

(۶) د نابالغه ماشومانو د طرف نه د عمرې کولو څه حکم دي؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد ازرم تبوک سعودی عرب. ۱۴۰۱/۷/۱۷ھ

الجواب: (۱، ۲) بهتره داده چه اول د خپل طرف نه حج ادا کړي، او ثانيا د

(بقيه حاشيه) او غيرهما من الاجانب حال كونه متبرعا فعين بعد ذلك جاز لانه متبرع بالثواب فله جعله لاحدهما اولهما وفى الحديث من حج عن ابويه فقد قضى عنه حجته وكان له فضل عشر حجج وبعث من الابرار، قال ابن عابدين: وكذا لو احرم عن احدهما مبهما يصح تعيينه بعد ذلك بالاولىٰ كما فى الفتح قال ومبناه على ان نيته لهما تلغو لعدم الامر فهو متبرع فتقع الاعمال عنه البتة وانما يجعل لهما الثواب وترتبه بعد الاداء فتلغو نيته قبله فيصح جعله بعد ذلك لاحدهما اولهما ولا اشكال فى ذلك اذا كان متنفلا عنهما فان كان على احدهما حج الفرض واوصى به لا يسقط عنه بتبرع الوارث عنه بمال نفسه وان لم يوص به فتبرع الوارث عنه بالاحجاج او الحج بنفسه قال ابوحنيفة يجزيه ان شاء الله تعالىٰ لقوله ﷺ للخثعمية ارأيت لو كان على ابيك دين الحديث الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۶۵ باب الحج عن الغير)

والدينو د طرف نه. (شامی(۱) مشکوٰة(۲)) او چونکه دا عمل د باب د ترحم نه دي، نه د باب اکرام نه. لهذا په دې کښې د قواعدو په اعتبار سره د والدې تقديم مناسب دې(۳).

(۳) د مرحومينو د طرف نه عمره او حج ادا کولې شی. او دا په ايصال ثواب کښې داخل دی. (۴)

(۴، ۵) عمره او نفلی حج د صحت مند او ښځې د طرف نه ادا کولې شی. (۵)

(۶) نه ممنوع دی او نه مندوب، دنابالغه د نفل ادا کولو پشان دی، وهو الموفق

(۱) قال العلامة الشامى: والافضل ان يكون قد حج عن نفسه حجة الاسلام خروجا عن الخلاف ثم قال والافضل احجاج الحر العالم بالمناسك الذى حج عن نفسه وذكر فى البدائع كراهة احجاج الصرورة لانه تارك فرض الحج الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۲ قبيل مطلب العمل على القياس دون الاستحسان)

(۲) عن ابن عباس قال ان رسول الله ﷺ سمع رجلا يقول لبيك عن شبرمة قال من شبرمة قال اخ لى او قريب لى قال احججت عن نفسك قال لا قال حج عن نفسك ثم حج عن شبرمة رواه الشافعى وابوداؤد وابن ماجة.

(مشكوٰة المصابيح ۱: ۲۲۲ كتاب المناسك الفصل الثانى)

(۳) قال الفقيه محمد عبد الحئى اللكهنوى: اذا تعذر مراعاة جمع حقوق الوالدين رجح جانب الاب فيما يرجع الى التعظيم والاحترام وحق الام فيما يرجع الى الخدمة والانعام حتى لو دخلا عليه فى البيت يقوم للاب ولوسئل ما لايبتدئ بالام واذا خالف امره امرها يطيعه فيما يرجع الى التعظيم ويطيع امرها فيما يتعلق بالانعام كذا فى مطالب المؤمنين عن القنية.

(نفع المفتى والسائل ۲۲۲ ما يتعلق من خفض الجناح للوالدين)

(۴) قال العلامة الحصكفى: لو اهل بحج عن ابويه او غيرهما من الاجانب حال كونه متبرعا فعين بعد ذلك جاز لانه متبرع بالثواب فله جعله لاحدهما اولهما.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۶۵ باب الحج عن الغير)

(۵) قال العلامة الحصكفى: وشرط العجز المذكور...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د رواجی شرکت په صورت کښ د شرکاؤ د اجازت نه بغیر د ځپلې ګټې نه حج ادا کول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه د زید والدین ژوندی دی، او رونړه ئې هم ژوندی دی، او ټول مال شریک دې، زید مزدوری کوی، او ګټی، په سعودی عرب کښ مقیم دې، آیا د والدینو او رونړو د اجازت نه بغیر زید نفلی حج ادا کولې شی؟ او آیا د خپل نیکه پلار او مور وغیره دپاره حج بدل دهغوی د اجازت نه بغیر کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عزیز الرحمٰن ریاض سعودی عرب. ۱۴۰۱/۷/۴هـ

الجواب: د زید والدینو سره او رونړو سره شراکت رواجی شراکت دې، شرعی شراکت نه دې، دا شرکت د فقهاؤ په ذکر کړې شوې قسمونو کښ داخل نه دې، پس بهرحال زید په زکواة، خیرات او حج کولو کښ خود مختار دې﴿۱﴾ البته د بل سړې (والد وغیره) دپاره حج بدل کول بغیر دهغه د اجازت نه بې

(بقیه حاشیه) للحج الفرض لا النفل لا تساع بابه، قال ابن عابدین: ای لانه یتسامح فی النفل ما لایتسامح فی الفرض قال فی الفتح اما الحج النفل فلا یشترط فیه العجز لانه لم یجب علیه واحده من المشقتین ای مشقة البدن ومشقة المال فاذا کان له ترکهما کان له ان یتحمل احداهما تقربا الی ربه عزوجل فله الاستنابة فیه صحیحا.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۶۱ قبیل مطلب فی حج الصرورة)

﴿۱﴾ زمونږ په وطن کښې چه کوم شرکت اموال او کمائی وغیره رائج ده چه د کور په افرادو کښې بعضې ګټه کوی او بعضې د کور کار او خدمت کوی او رونړو سره یوځائې اوسیږی او پلار یا مشر رور سرپرستی کوی. اوس په دې صورت کښې چه کله اختلاف پیداشی نو عام طور باندې داسې کیږی چه ټوله سرمایه خپل مینځ کښې تقسیموی او هر یو رور خپله خپله حصه اخلی، لیکن که یو رور کوم چه محنت مزدوری کوی یا بهرملك کښې ملازمت کوی او ګټه کوی او هغه دعوٰی اوکړی چه دا ګټه زما ده. لهٰذا دا مال ټول په ټوله زما دې نو په دې صورت کښې به د ټولو رونړو په حق کښې فیصله کولې شی لیکن دا په هغه صورت کښې چه پلار او ځامنو یا د رونړو کاروبار یو نه وی..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

فائده دې، ﴿۱﴾ او هغه لره د نفلی حج ایصال ثواب مشروع دې﴿۲﴾.

وهو الموفق

په حج بدل کښ د خپل نذر عمره ادا کول:

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه زید د عمرې

(بقیه حاشیه)... او د دوارو مخکښې مال نه وی. او دا ځوئې د پلار په عیالداری کښې نه وی.

کما صرح به فی فتاویٰ الخیریة ۲: ۹۲ (سئل) فی ابن کبیر ذی زوجة وعیال له کسب مستقل حصل بسببه اموالا ومات هل هی لوالده خاصة ام تقسم بین ورثته (اجاب) هی للابن تقسم بین ورثته علی فرائض الله تعالیٰ حیث کان له کسب مستقل بنفسه واما قول علمائنا اب وابن یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شیئ ثم اجتمع لهما مال یکون کله للاب اذا کان الابن فی عیاله فهو مشروط کما یعلم من عبارتهم بشروط منها اتحاد الصنعة وعدم مال سابق لهما وکون الابن فی عیال ابیه فاذا عدم واحد منها لا یکون کسب الابن للاب وانظر الی ما عللوا به المسئلة من قولهم لان الابن اذا کان فی عیال الاب یکون معینا له فیما یصنع فمدار الحکم علی ثبوت کونه معینا له فیه. (فتاویٰ خیریه علی هامش تنقیح الحامدیة ۲: ۹۲)...... (ازمرتب)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وبشرط الامر به ای بالحج عنه فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه لوجود الامر دلالة.

(الدرالمحتار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۵۹ قبیل شروط الحج عن الغیر عشرون)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: فلا یشترط فی النفل شیئ منها (ای من الشروط) الا الاسلام والعقل والتمیز وکذا عدم الاستئجار لا تساع باب النفل انه یتسامح فی النفل ما لا یتسامح فی الفرض قال فی الفتح اما الحج النفل فلا یشترط فیه العجز لانه لم یجب علیه واحدة من المشقتین ای مشقة البدن ومشقة المال فاذا کان له ترکهما کان له ان یتحمل احداهما تقربا الی ربه عزوجل فله الاستنابة فیه صحیحا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۱ قبیل مطلب فی حج الصرورة)

نذر منلي وو، په دې دوران کښې زید دچا دپاره حج بدل له لاړو، د حج نه فارغیدو نه پس زید په خپلې خرچې عمره منذوره ادا کړه، د زید ذمه فارغه شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالباقی ګندف ضلع صوابی.... ۱۴۱۲ ۱ ۱۴۰۱ هـ

الجواب: بظاهر هغه اداء کما التزم کړې ده، او ذمه فارغه شوې ده، ځکه چه هغه اولا حج بدل کړې دې، او د آمر نه ئې څه مخالفت نه دې کړې، او ثانیا ئې خپل نذر ادا کړې دې. ﴿۱﴾ وهو الموفق

مامور خپل حج نه دې کړې هغه حج بدل کولې شي؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې خپله حج نه دې کړې، لیکن د بل سړې د حج دپاره لاړو، آیا غیر حاجی سړې حج بدل کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ انداز ګل سکنه جمرود

الجواب: دا حج د آمر د طرف نه ادا کیږي، اګر که مامور حج نه وی کړې.

فی الهندیة، لو احج رجلا لم یحج عن نفسه حجة الاسلام یجوز عندنا و سقط الحج عن الآمر کذا فی المحیط (هندیة ۱: ۲۷۴) ﴿۲﴾. وهوالموفق

کوم سړې چه حج نه دې کړې، په هغه حج بدل کول خلاف افضل دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید د خپل

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: بخلاف ما اذا امره بالعمرة فاعتمر ثم حج عن نفسه لم یکن مخالفا والنفقة فی مدة اقامته للحج فی ماله لانه اقام فی منفعة نفسه بخلاف ما اذا حج اولا ثم اعتمر للآمر فانه یکون مخالفا لانه جعل المسافة للحج وانه لم یؤمر به.
(البحر الرائق ۳: ۶۳ باب الحج عن الغیر)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۵۷ باب الحج عن الغیر)

متوفی والد د طرف نه حج بدل کول غواړي، او خپله په هغه حج فرض دې، او هغه او سه پورې ادا کړې نه دې، دې کال هغه ددې مقدسې فریضې دپاره د والد د طرف نه منتخب شوې دې، اوس هغه دا حج د چا د طرف نه ادا کړي؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فلائیټ لفټیننټ ولایت حسین پی اې ایف پیښور

الجواب: کوم سړې چه د خپل طرف نه حج نه وی کړې، هغه دپاره د حج بدل دپاره منتخب کول جائز دی، البته افضل نه دې.

کما فی شرح التنویر جاز حج الصرورة (باب الحج عن الغیر) وتمام الکلام فی ردالمحتار ۳: ۲۰۳ فلیراجع ﴿۱﴾. وهوالموفق

په حج بدل کښې به د نوافلو او مونځونو ثواب چاته ملاویږي؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د بل دپاره حج بدل کوی، اوس په حرم شریف کښې د مونځ ثواب یو په لاکهه دې، دغه شان دا سړې نوافل وغیره کوی، نو دا ثواب به چاته ملاویږي، امر ته یا مامور ته؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل منان قطر

الجواب: په کومو امورو کښې چه دا مامور نائب نه وی، نو دهغې ثواب به مامور ته ملاویږي، نه آمر ته ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: فجاز حج الصرورة بمهملة من لم یحج، وقال ابن عابدین: والصرورة یراد به الذی لم یحج عن نفسه ای حجة الاسلام (الی ان قال) وفی الفتح والافضل ان یکون قد حج عن نفسه حجة الاسلام خروجا عن الخلاف، والافضل احجاج الحر العالم بالمناسک الذی حج عن نفسه. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۶۱، ۲۶۲ مطلب فی حج الصرورة)

﴿۲﴾ قال الشیخ المفتی الاعظم محمدشفیع دیوبندی: حج فرض (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(بقیه حاشیه) چه د چا د طرف نه کړې شوې دې، نو صحیح او راجح د فقهاؤ په نزد دادی، چه دا حج او عمره په د آمر یعنی د حج دپاره حکم کونکي دپاره وی، او حج او عمره کونکی ته به دهغه امداد کولو په وجه ثواب ملاویږی، او که د حج نه پس زیاتی طواف یا عمرې کوی، نو دا به خپله د هغه وی، په عمره یا حج نفلی کښې هم، هرکله چه د امر د خرچې نه شوې وی، هم دا حکم دې، چه د آمر به وی، مامور ته به دهغه د عمل ثواب ملاویږی.

(کذا فی کافی الحاکم، ارشاد الساری)

(جواهر الفقه ۱: ۵۰۶ حج بدل او اسکې احکام)

....

....

باب العمرة

په رمضان کښې د عمرې فضیلت مروی دې:

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه نبی کریم ﷺ په رمضان المبارک کښې عمره ادا کړې ده او که نه؟ که ادا کړې ئې نه ده، نو بیا په رمضان کښې د عمرې فضیلت مروی دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نصیر احمد جده..... ۲۹|۳|۱۹۷۹

الجواب: نبی کریم ﷺ د څلورو عمرو دپاره احرام تړلې دې، (۱) او په رمضان کښې ئې عمره نه ده ادا کړې، البته په رمضان کښې د عمرې کولو فضیلت د احادیثونه مروی دې، فلیراجع الی ردالمحتار ۲: ۴۷۳)(۲) وهو الموفق

---

(۱) وفی المنهاج: قوله اعتمر اربع عمر ای احرم بالاربع وکان احرامها فی ذی القعدة واعمالها ایضا کانت فی ذی القعدة الا اللتی کانت مع حجة الوداع والا عمرة الحدیبیة فانها رفضت قبل التمام. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴: ۹۰ باب ماجاء کم اعتمر النبی ﷺ)

(۲) عن ابی بکر بن عبد الرحمن...... فقالت یارسول الله انی امرأة قد کبرت وسقمت فهل من عمل یجزئ عنی من حجتی قال عمرة فی رمضان تجزئ حجة.

(سنن ابی داؤد ۱: ۲۷۹ کتاب الحج باب العمرة)

(۳) قال العلامة ابن عابدین: قوله وندبت فی رمضان...... ای انها فیه افضل منها فی غیره واستدل له فی الفتح بما عن ابن عباس عمرة فی رمضان تعدل حجة وفی طریق لمسلم تقضی حجة اوحجة معی قال وکان السلف رحمنا الله تعالیٰ بهم یسمونها الحج الاصغر وقد اعتمر النبی ﷺ اربع عمرات کلهن بعد الهجرة فی ذی القعدة علی ما هو الحق وتمامه فیه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۶۴ مطلب احکام العمرة)

د متمتع حاجي ډيرې عمرې کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې د حج دپاره روان دې، چه کله يو عمره ادا کړي نو بيا ئې د حج هم اراده ده، آيا دې ددې عمرې نه حج پورې نورې عمرې ادا کولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي دل محمد محلات افغان ابوظهبي... ۱۴۰۱/۵/۳هـ

الجواب: راجح داده چه دا سړې څومره عمرې ادا کول غواړي ادا کولې شي.﴿۱﴾ وهو الموفق

د عمرې د پاره ممنوع ورځې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه ما اوريدلي دي، چه په رمضان المبارک کښې عمره کول پکار دي. او په شوال او ذی قعده کښې عمره کول ممنوع دي. ځکه په اشهر حج کښې د حج احرام تړل او حج کول پکار دي. صحيح مسئله څه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: ليفټنيټ محمد دين جده سعوديه. ۱۳۰ شوال ۱۴۰۳هـ

الجواب: د ايام تشريق، عرفه او اختر د ورځې نه علاوه په ټول کال کښې عمره کول جائز ده.﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الشامي: فالحاصل ان من اراد الاتيان بالعمرة على وجه افضل فيه فبأن يقرن معه عمرة فتح فلا يكره الاكثار منها خلافا لمالک بل يستحب على ماعليه الجمهور وقد قيل سبع اسابيع من الاطوفة كعمرة شرح اللباب. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۶۴ قبيل مطلب فى المواقيت)

وقال الملا على قاري: وهذا المتمتع آفاقى غير ممنوع من العمرة فجاز له تكرارها لانها عبادة مستقلة ايضا كالطواف.

(ارشاد السارى ۱۹۳ مطلب مهم فى ان المتمتع الآفاقى غير ممنوع من العمرة الخ)

﴿۲﴾ وفى الهندية: ووقت العمرة جميع السنة الا خمسة ايام تكره فيها العمرة لغير القارن وهى يوم عرفة ويوم النحر وايام التشريق. (فتاوىٰ عالمگيريه ۱: ۲۳۷ الباب السادس فى العمرة)

د تندرست سړي دپاره عمره بدل کول جائز دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو تندرست سړې دې، خپله عمره نه کوي، بلکه په بل سړي عمره کوي، آيا دا دويم سړي دهغه د طرف نه عمره ادا کولې شي او هغه دويم سړي ته به ددې ثواب ملاويږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالله..... ۲۹/۷/۱۹۷۹

الجواب: د حج بدل پشان عمره بدل هم صحيح ده.

لان هذا الباب بناء على ايصال الثواب﴿۱﴾ وهو صحيح فى العمرة كما فى ردالمحتار ۲: ۵۹۵ طبع مصطفى الحلبى قوله لعبادة ما اى سواء كانت صلاة او صوما او صدقة او قراءة او ذكرا او طوافا او حجا او عمرة او غير ذلک﴿۲﴾ ويقتضيه ما فى الخانية على هامش الهندية ۱: ۳۱۰ ولو امر غيره بالعمرة فاعتمر ثم حج بمال نفسه لايكون مخالفا فافهم﴿۳﴾. وهو الموفق

که فقيرسړي عمره ادا کولو نه پس واپس راشي. نود حج څه حکم دي؟

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه په يو سړي

﴿۱﴾ ويدل عليها ما فى ردالمحتار: (قوله وشرط العجز) قد علمت مما قدمناه عن اللباب ان الشروط كلها شروط للحج الفرض دون النفل فلا يشترط فى النفل شيئ منها الا الاسلام والعقل والتميز...... لاتساع بابه اى انه يتسامح فى النفل مالايتسامح فى الفرض قال فى الفتح اماالحج النفل فلا يشترط فيه العجز الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶۱ قبيل مطلب فى حج الصرورة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۵۶ مطلب فى اهداء ثواب الاعمال للغير)

﴿۳﴾ (فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ۱: ۳۱۰ قبيل فصل فى محظورات الحرم)

عمره ادا کړی، حج فرض نه دي، او دعمرې دپاره بيت الله شريف ته لاړ شی عمره ادا کړی،
او واپس راشی،آيا په دې سړې به اوس حج فرض وی او که نه؟ بينوا توجروا
المستفتی : عبدالودود پائمال شريف هزاره.....۱۹\۱ شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: د قواعدو په اعتبار سره په دې سړی باندې حج هغه وخت کښې فرض دې، کله چه دا عمره په هغې ؤرځو کښې ادا کړې وی، کله چه دا ميقاتی خلق (د مکې مکرمې وغيره خلق) د حج دپاره تياری کوی.
يدل عليه ما فی شرح التنوير: والعبرة لوجوبها ای العدة المانعة من سفرها وقت خروج اهل بلدها وكذا سائر الشرائط﴿۱﴾ (فافهم ولم اجده صريحا). وهوالموفق

په عمرې ادا کولو سره د حج د فرض کيدلو شبه

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې چه صاحب استطاعت نه وی، هغه سعودی عرب ته لاړشی،او عمره ادا کړی، که د عمرې په غرض سره تلې وی، يا د عمرې په غرض نه وی تلې، آيا په هغه عمرې په وجه حج فرض شوې دې او که نه؟ برائ مهربانی د قرآن مجيد او سنت اوفقه حنفی په رڼا کښې مو د صحيح مسئلې نه خبر کړئ؟ بينوا توجروا
المستفتی : (مفتی) مختارالله جهانګيروی کان الله له
(مرتب فتاوئ حقانيه) ۱۷/۸/۱۹۸۹

الجواب: کوم سړې چه شوال داخليدو نه پس د عمرې دپاره لاړ شی، نو په هغه حج فرض شو، او هغه وخت کښې هم حج فرض دې، کوم چه د وجوب حج دپاره شرط دې، يا د استطاعت او نورو شرطونو وخت دې، يا د قافلو د روانيدو وخت دې، (د کومو لرې وطنونو نه چه د شوال نه مخکښې قافلې روانيږی) د د اشهر حج د داخليدو وخت دې. فليراجع الی شرح اللباب﴿۲﴾

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۵۹ قبيل مطلب فی فروض الحج وواجباته)
﴿۲﴾قال الملا علی قاری: ومن شرائط الوجوب الوقت وهو اشهر الحج او وقت خروج اهل بلده ان كانوا يخرجون قبلها فلا يجب الا علی القادر فيها او فی وقت خروجهم فان ملكه المال قبل الوقت ای قبل الاشهر او قبل ان يتأهب اهل...(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

وغيره﴿۱﴾. وهو الموفق

په عمره کونکې باندې د حج دعدم فرضيت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې سعودی عرب ته تلې وو هغه په شوال کښې څو عمرې هم وکړې، پنځلسم شوال باندې د کاغذونو په وجه حکومت سعوديه هغه ګرفتارکړو او واپس ئې وطن ته راؤليږو اودحج د سعادت نه محرومه شو ،آيا اوس په دې سړې باندې حج باقی دې،يعنی په دې سړی باندې فرضيت راغلې دې؟ بينوا توجروا
المستفتی : سلطان محمود غفرله. ۲۵ذی قعده ۱۳۹۷ ھ

(بقيه حاشيه) بلده فله صرفه حيث شاء ولا حج عليه ای وجوبا لانه لا يلزمه التأهب فی الحال...... واقتصر فی الينا بيع علی الاول وما ذكرناه اولیٰ لان هذا ای ماذكر فی الينا بيع يقتضی انه لو ملک فی اوائل الاشهر وهم يخرجون فی اواخرها جازله اخراجها ولا يجب عليه الحج الخ. (ارشاد الساری ۳۳مبحث فی تحقيق الراحلة وكونها علی الآفاقی وغيره)
﴿۱﴾وفی الهندية: ومن الشرائط لوجوب الحج من الزاد والراحلة وغيرذلک يعتبر وجودها وقت خروج اهل بلده الی مكة. (فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲۱۹ كتاب المناسک)
وقال العلامة علاء الدين السمرقندی: ثم هذه الشرائط التی ذكرنا انما تعتبر عند خروج اهل بلدة الی الحج لان ذلک وقت الوجوب فی حقه حتی انه اذا كان عنده دراهم قبل خروج اهل بلده واشتری بها المسكن والخادم واثاث البيت ونحو ذلک فعند خروج اهل بلده لا يجب عليه ان يبيع ذلک ولايجب الحج عليه فاما اذا كان له دراهم وقت الخروج مقدار الزاد والراحلة ولم يكن له مسكن ولا خادم ولا زوجة فاراد ان يصرفها الی هذه الاشياء فانه يأثم ويجب عليه الحج ويلزمه الخروج معهم.
(تحفة الفقهاء ۱:۵۹۲ كتاب الحج)

الجواب: چونکه نه دي سړي احرام تړلي دي، او نه د اهل جدي د روانيدو وخت پورې وو، لهذا په دي سړي حج فرض نه دي.

كما فى الهندية ١:٢٣٣ ثم ما ذكر من الشرائط لوجوب الحج من الزاد والراحلة وغير ذلك يعتبر وجودها وقت خروج اهل بلده الى مكة حتى الخ ﴿١﴾. وهو الموفق

آيا د حج عن الغير په صورت كښې حج تمتع كولې شي؟

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلي باره كښې چه بعضي علماء وائي، چه په حج بدل كښې د عمرې نيت صحيح نه دي، صرف د حج نيت كول پكار دي، او صرف د حج نيت كولو په صورت كښې طوالت د احرام هم مشكل دي، لهذا كه په حج بدل كښې د عمرې نيت صحيح وي، نو تحرير ؤفرمايئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی شير على جمال گرهی مردان. ٢١ شعبان ١٤٠٢هـ

الجواب: داحكم هله دي، چه كله دا حاجى په حج بدل افراد باندې مامور وي، اوزمونږ په علاقو كښې چونكه افراد تمتع اوقران دري واړو ته حج وئيلي شي، او د آمر د طرف نه هم د دريو واړو اجازت وي، لهذا دا مامور تمتع كولي شي ﴿٢﴾ خصوصا كله چه په افراد كښې داحرج مذكورهم دي. وهو الموفق

د عمر نه پس باقاعده حلق يا قصر واجب دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلي باره كښې چه يو سړي عمره

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيريه ١:٢١٩ بحث ومنها عدم قيام العدة فى حق المرأة

﴿٢﴾ قال العلامة فخر الدين الاوزجندى الفرغانى: اذا امر غيره بان يحج عنه ينبغى ان يفوض الامر الى المأمور فيقول حج عنى بهذا المال كيف شئت ان شئت حجة وان شئت حجة وعمرة وان شئت قراناً.

(فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ١:٣٠٧ فصل فى الحج عن الغير)

وكړه، نو چه كله عمره ختمه كړي نو دهغه دپاره سر خرول ضروري دي؟ كه سر ؤنه خرائي، نو گناه گار به وي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم......١٢٢ جولائى ١٩٩ء

الجواب: په عمره كښې باقاعده حلق يا قصر واجب دي، دي لره پريخودل يا د حرم نه بهر ادا كول، د دم دپاره باعث دي.

قال فى الخانية واجبها شيئآن السعى بين الصفا والمروة والحلق (هامش هندية ١:٣٠١) ﴿١﴾ وفى الهندية (١:٢٤٧) وتجب شاة بتاخير المناسك عن مكانه كما اذا خرج من الحرم وحلق رأسه سواء كان الحلق للحج او العمرة ﴿٢﴾.

وهو الموفق

﴿١﴾ (فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ١:٣٠١ فصل فى العمرة)


﴿٢﴾ (فتاوىٰ عالمگيريه ١:٢٤٧ قبيل الباب التاسع فى الصيد

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب الجنایات



....

بسم الله الرحمن الرحيم

........قال الله تعالی:........

اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ
حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ
مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ
مِّنْكُمْ هَدْيًۢا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ
مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ
وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ

......[المائده: ۵۹]...........

....

باب الـــجنايات

دم جنايت په حرم کښې ادا کول ضروري دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه په ايام حج کښې چه کوم دم په عرفات، منى، مزدلفه. مکه معظمه يا حدود حرم کښې واجب شي، دهغې ادا کول صرف په حرم کښې کيدې شي، يا پاکستان کښې هم اداکيدې شي؟ په دې مسئله کښې زمونږ اختلاف دې، لهذا د مسئلې صحيح صورت واضحه کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتى: مهمان از دفتر اهتمام دارالعلوم حقانيه. ٢٧محرم ١٤٠٢هـ

الجواب: ټولو فقهاء کرامو ليکلي دى، چه ددې دم په حرم کښې ادا کول ضروري دې، که اصالة وى او که وکالة وى، پس پاکستان ته راتلونکې سړې دپاره چالره وکيل جوړول پکار دى چه هغه دم ادا کړى. ﴿١﴾ وهو الموفق

د ميقات نه بهر ترې تلبيه هيره شوه او ميقات کښې دننه ئې تلبيه شروع کړه نودم واجب دې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې د

﴿١﴾ قال الامام ابى بكر الحداد اليمنى: الدماء فى المناسک على ثلاثة اوجه فى وجه يجوز تقديمه على يوم النحر بالاجماع بعد ان حصل الذبح فى الحرم وهو دم الكفارات والنذور وهدى التطوع...... ولا يجوز ذبح الهدايا الا فى الحرم قال الله تعالىٰ ثم محلها الى البيت العتيق...... وان كان واجبا فعليه ان يقيم غيره مقامه لان الوجوب باق فى ذمته.

(الجوهرة النيرة على القدورى ١: ٢٢٤ باب الهدى)

ميقات نه د حج يا د عمرې نيت وکړى، او تلبيه ترې هيره شى، نيغ ګاډى کښې سور شى، او ميقات ته داخليدو نه پس يعنى د مکې معظمې په لار کښې تلبيه شروع کړى، په دې جنايت سره څه دم وغيره لازم دې او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: حاجى جمال خان وزيرستان. ١٤٠١/٧/١٣هـ

الجواب: د قاعدې مطابق په دې سړې دم لازم او واجب دې، ځکه چه صرف په نيت سره بغير د تلبيې نه احرام کښې داخليدل غير ظاهرالروايت دې، کمافى البدائع﴿١﴾ پس په دې سړى ضرورى ده، چه د چا په ذريعه په حرم کښې ذبح وکړى. ﴿٢﴾ وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة الكاسانى: هذا الذى ذكرنا فى ان الاحرام لا يثبت بمجرد النية مالم يقترن بها قول او فعل هو من خصائص الاحرام او دلائله ظاهر مذهب اصحابنا، وروى عن ابى يوسف انه يصير محرما بمجرد النية وبه اخذالشافعى وهذا يناقض قوله ان الاحرام ركن لانه جعل نية الاحرام احراما والنية ليست بركن بل هى شرط لانها عزم على الفعل والعزم على فعل ليس ذلک الفعل بل هو عقد على ادائه...... ثم جعل الاحرام عبارة عن مجرد النية مخالف للغة فان الاحرام فى اللغة هو الاهلال يقال احرم اى اهل بالحج...... فدل قوله قولى ما يقول الناس فى حجهم على لزوم التلبية لان الناس يقولونها وفيه اشارة الى ان اجماع المسلمين حجة يجب اتباعها حيث امرها باتباعهم بقوله قولى ما يقول الناس فى حجهم، وروينا عن عائشة رضى الله عنها انها قالت لا يحرم الا من اهل ولبى ولم يروعن غيرها خلافه فيكون اجماعا ولان مجرد النية لا عبرة به فى احكام الشرع عرفنا ذلک بالنص والمعقول.

(بدائع الصنائع ٢: ٣٦٩ كتاب الحج بيان مايصير به محرما)

وفى الهندية: ولا يصير شارعا بمجرد النية مالم يأت بالتلبية او ما يقوم مقامها من الذكر او سوق الهدى او تقليد البدنة. (فتاوىٰ عالمگيريه ١: ٢٢٢ الباب الثالث فى الاحرام)

﴿٢﴾ قال العلامة المودود الموصلى: ولا يجوز للآفاقى ان يتجاوزها الا محرما اذا اراد دخول مكة فان جاوزها الآفاقى بغير احرام فعليه شاة لانه منهى عنه لما فى الحديث وقال عليه السلام: لا يتجاوز احد الميقات الا محرما.

(الاختيار لتعليل المختار ١: ١٨٣ كتاب الحج)

په حالت د احرام کښې چشمې لګولو سره دم یا صدقه لازمیږي نه

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې که د یو سړي نظر کمزوري وي، او هغه په حالت احرام کښې چشمې ولګوي، چه هغې سره د مخ څه حصه پټیږي، نو په دهٔ دم یا صدقه وغیره راځي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: شاهد نواز خان افریدی

الجواب: د عذر په وجه چشمې لګول او حج کول جائز دی، او په دې څه نه لازمیږي، ددې مقصد مخ پټول نه وي. (ارشاد الساری ۲۰۶) ﴿۱﴾ وهو الموفق

په حالت د احرام کښې زخمي کیدل موجب دم نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د حج د دوران کښې په عرفات کښې د نلکې نه مې د اوبو اخستلو په انتظار کښې قطار کښې ولاړ ووم، چه کله زما نمبر راغلو، نو یو حاجي صاحب څه روستو دیکه کړم، په دې دیکه کښې زما لاس زخمي شو، او وینه ترې روانه شوه، چونکه په دې صورت کښې زهٔ په احرام کښې ووم، ددې وجه نه زما په حج کښې څه نقصان راغلي دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: الحاج ولی محمد نصرت زئي شبقدر فورټ چارسده ۲۹/۹/۱۹۸۶

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: وان کان مما لا یقصد به ذلک ای التغطی کاء جانة ای مرکن او عدل ای احد شقی حمل الدابة او جوالق ای خیشن اوخیشة او مکتل ای ما یکتال فیه مما یصنع من خوص او طاسة وهی اناء یشرب منه والمعروف انها ظرف خاص من نحاس او صفر او طست او حجر او مدر او صفر او حدید او زجاج او خشب ونحوها ای من فضة وذهب وورق مما یغطی کل رأسه او بعضه فلا بأس به لکن ترکه افضل للمخالفة ظاهر السنة.

(ارشاد الساری ۲۰۶ فصل فی تغطیة الرأس والوجه)

الجواب: د محرم زخمي کیدل یا د هغه د بدن نه وینه بهیدل جنایت نه دي، ﴿۱﴾ البته کښې وینبته کټ شوې وي، نو په پاکستان کښې دې چاته مناسب صدقه (دوه درې روپۍ) ورکړي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د محرم د حلالې په وخت کښې ځان زخمي کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه محرم ځاروي حلال کړو، د حلالې دوران کښې هغه په چاړې سره زخمي شو، او وینه ترې جاري شوه، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: رسول خان مشیط سعودی عرب ۸ محرم ۱۴۰۲ھ

الجواب: زخمي کیدل جنایت نه دې، البته که وینبته کټ شوې وي، نو صدقه به ورکول وي. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: (والجنایات) وهو ما یکون حرمته بسبب الاحرام والحرم وحاصل الاول انه الطیب ولبس المخیط وتغطیة الرأس او الوجه وازالة الشعر من البدن وقص الاظفار والجماع صورة ومعنی او معنی فقط وترک واجب من واجبات الحج والتعریض للصید وحاصل الثانی التعرض لصید الحرم وشجره.

(البحر الرائق ۳:۲ باب الجنایات)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وان نتف من رأسه او من انفه اولحیته شعرات ففی کل شعرة کف من الطعام کذا فی قاضی خان، واذا حک المحرم رأسه او لحیته فانتثر منها شعر فعلیه صدقة کذا فی السراج الوهاج ...... والافضل ان یتصدق علی فقراء مکة ولو تصدق علی غیر فقراء مکة جاز کذا فی المحیط.

(فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۴۳ کتاب الجنایات الفصل الثالث)

وقال القاری: فی سقوط الشعر ...... حین مسه وحکه فعلیه کف من طعام کما روی عن محمد او کسرة من خبز او تمرة لکل شعرة.

(ارشاد الساری ۱: ۲۲۰ فصل فی سقوط الشعر)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: وان نتف من رأسه اومن انفه او لحیته ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د وړوکی ماشومې د حج دوران کښې متیازې کولو او د دم جنایت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زۀ دې کال د حج سعادت حاصلول غواړم، ما سره به زما وړه لور چه پنځلس میاشتې عمر ئې دې، هم وی، اوس که دا ماشومه متیازې وغیره وکړی، نو د حج دوران کښې څه کول پکار دی، او د ماشومې دپاره به د قربانۍ ضرورت وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: انیس احمد c/o دفتر اهتمام. ۱۰/۸/۱۹۸۳

الجواب: تاسو ددې ماشومې د طرف نه احرام کولې شئ، او که دا ماشومه څه جنایت وکړی، نو په دې به هیڅ دم واجب نه وی﴿۱﴾، او په مقامات مقدسه کښې متیازې کول موجب دم نه دی، که دا متیازې بالغ وکړی یا نابالغ، خو قصدا په مقامات مقدسه کښې متیازې کول ګناه ده. وهو الموفق

د بینک په ذریعه قربانۍ او په حلق کښې د تقدیم مسئله :

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دا کال سعودی حکومت په منی کښې یو نوې قربان ګاه جوړه کړې ده، چه دهغې مقصد غوښې لره محفوظ ساتل او بهر ملکونو ته ئې د غریبانانو دپاره لیږل

(بقیه حاشیه)شعرات ففی کل شعرة کف من الطعام کذا فی فتاویٰ قاضی خان...... واذا خبز المحرم فاحترق بعض شعره تصدق له واذا حک المحرم رأسه او لحیته فانتثر منها شعر فعلیه صدقة کذا فی السراج الوهاج.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۴۳ الفصل الثالث فی حلق الشعر وقلم الاظفار)

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: قوله فلو احرم صبی او احرم عنه ابوه صار محرما، قال فی اللباب وشرحه وینبغی لولیه ان یجنبه من محظورات الاحرام کلبس المخیط والطیب وان ارتکبها الصبی لا شیئ علیهما.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۵۹ قبیل مطلب فی فروض الحج وواجباته)

دی، لیکن په دې طریقه کښې د احنافو دپاره یو څو مسئلې دی، مثلا حاجی په بینک کښې مقرره رقم جمع کړو، او رسید ئې واخستلو، د بینک عملې ورته یقین ورکړو، چه په لسم ذی الحجه به قربانی ؤشی، اوس پته نه لګی چه دا قربانی به څه وخت کیږی، ددې وجه نه حاجی بغیر د تحقیق او انتظار نه حلق کوی، او بیا معلومه شی چه په قربان ګاه کښې قربانی ناوخته شوې ده، او هم داسې حلق قبل د ذبح نه واقع شی، ددې متعلق د شریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیق طارق الخمیس مشیط مملکت سعودی عرب ۵/۸/۱۹۸۲

الجواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ذبح تقدیم په حلق واجب دې.

لما رواه ابن ابی شیبة عن ابن عباس رضی الله عنه انه افتی بوجوب الدم علی من قدم الحلق، واما ما روی عنه وعن غیره مرفوعا من عدم الحرج معناه عدم الاثم لا عدم الدم او عدم الدم مخصوص بهذا الحج لکونه اول حج﴿۱﴾

پس په دې مذکوره بینک کښې د ذبح واجب (قران او تمتع) دپاره داخله

﴿۱﴾ وفی المنهاج: احتج الجمهور بحدیث الباب (باب ماجاء ان عرفة کلها موقف) وغیره، واحتج ابوحنیفة بما رواه ابن ابی شیبة عن ابن عباس موقوفا وهو احد رواة حدیث "لا حرج من قدم شیئا من حجه او اخره فلیهرق لذلک دما" وفی اسناده ابراهیم بن مهاجر وفیه مقال، قلنا رواه الطحاوی باسناد صحیح فعلم منه ان المراد من رفع الحرج رفع الاثم لا رفع الدم والجزاء، کما ارید هذا المعنی فی الحدیث الذی رواه ابوداؤد من حدیث اسامة بن شریک،، قال: خرجت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم حاجا فکان الناس یأتونه فمن قائل یا رسول الله! سعیت قبل ان اطوف او اخرت شیئا او قدمت شیئا فکان یقول لا حرج الا علی رجل افترض عرض مسلم وهو ظالم فذلک الذی حرج وهلک، وبالجملة ان حجة الجمهور ساکتة عن رفع الجزاء، وکم من فرق بین عدم الذکر وبین ذکر العدم، ولو سلم ان مراد الحدیث نفی الجزاء لجاز لنا ان نقول انما عذرهم بالجهل......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کول جائز نه دی، په دې سره ترتیب او تقدیم خو لا څه کوئ، نفس ذبح هم شکمنه کیږی، پس که حکومت د مسکینانو امداد کول غواړی، نو د حاجیانو د حلال شوې حیواناتو غوښه او څرمن دې په مسکینانو کښې د استعمالولو انتظام وکړی، د ذبح وغیره انتظام دې نه کوی ﴿۱﴾. وهو الموفق

د سرکاری ډیوټۍ په وجه د یوولسم تاریخ رمی او طواف صدر پریخودلو سره هم دم واجبیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې په محکمه حج واوقاف کښې د حاجیانو په خدمت مامور وو، دهغې په وجه هغه د یولسمې رمې ؤنکړه، آیا په دې دم واجب دې؟ دغه رنګې یو سړی په مدینه منوره کښې د ډیوټۍ د وجه نه طواف وداع پریخوده او لاړو، او دا سړې متمتع وو، په هغه دم واجب شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرحمٰن جده سعودی عرب ۱۴۰۱/۵/۱۲ھ

(بقیه حاشیه) لان الحال اذ ذاک فی ابتداء ه.

فـائـدة: ...... اربـاب الحکومة فی عهدنا یأخذون من الحجاج قیمة الشاة یشتروابها الشـاة ویـذبحوها فی وقت معین ویعینوا المساکین باللحم الطیب الطری وهذه مظنة ترک الواجب او السنه المؤکدة نعم لاحرج فیه لمن لم یکن قارنا ولا متمتعا.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴:۱۳۷ باب ماجاء ان عرفة کلها موقف)

﴿۱﴾ قال الشیخ عبد الرحیم لاجپوری : قربانی د اراقة الدم نوم دې، او هم په دې سره عبادت ادا کیږی، ددې نه پس دغوښې انتظام کول د حاجیانو ذمه واری نه ده، دا انتظام د حکومت ذمه داری ده، که دا ؤوئیلې شی.چه حکومت ددې انتظام نه قاصر دې، نو دا خبره په پوهه کښې نه راځی.کوم حکومت چه په یو شپه ؤرځ کښې د زرګونو خیمو انتظام کولې شی، (لکه په منی کښې... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: دا سړې دې په زمین حرم کښې دوه ګډان حلال کړی. یا دې په چا حلال کړی، یو ګډ د ترک رمې په وجه ﴿۱﴾او دویم د ترک طواف صدر په وجه، البته طواف صدر اوس هم.کیدې شی، یعنی د عمرې نیت دې وکړی او عمره د ادا کړی،نودې طواف عمرې سره به طواف صدر ادا شی، او د ګډ ذبح به ساقطه شی. (ماخوذ از ردالمحتار ۳: ۲۸۴)﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه)..... د اور په حادثه کښې شوې وو) آیا هغه حکومت ددې څاروو د غوښې انتظام نشی کولې؟ ملخصاً۔

(فتاوٰی رحیمیه ۸:۱۱۶ باب الجنایات والدم)

قال الشیخ نظام الدین الاعظمـی: د مناسک حج اضحیه د خالص او اعلی شعائرو اسلامیه نه ده،اوپه دې کښې اظهار تعبد صرف په شکل د اراقة الدم سره دې،او دا اسکیمونه (د بینک پـه ذریعـه قربانی، دې دپاره چه غوښـه د مسکینانو دپاره محفوظ شی) اګرچه په ظاهر کښې ډیر خائسته او فائده مند معلومیږی، لیکن د اظهارتعبد سره منافی دی،اوهغې مقصد لره فوت کوی. کوم چه د رسول الله ﷺ د طرزعمل نه ظاهریږی، ځکه چه په داسې طریقې سره کار کولو نه پس به دا عمل (اراقة الدم) صرف یوسیاسی،تجارتی،اومعاشی مقصدپاتې شی،اواظهار تعبدبه فناه شی اودمسخ مذهب ذریعه به جوړه شی.(نظام الفتاوی ۱:۱۴۹ کتاب الحج)

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: (قوله اوالرمی کله) انما وجب بترکه کله دم واحد لان الجنس متحد کما فی الحلق(قوله او فی یوم واحد) ولو یوم النحر لانه نسک تام بحر (اوالرمی الاول) داخل فیما قبله کما علمت الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۲۵ باب الجنایات)

﴿۲﴾قال العلامة محمد امین ابن عابدین: (قوله او ترک طواف الصدر او اربعة منه ولا یتحقق الترک الا بالخروج من مکة) لانه ما دام فیها لم یطالب به مالم یرد السفر قال فی البحر واشار بالترک الی انه لو اتی بما ترکه لا یلزمه شیئ مطلقا لانه لیس بمؤقت ای لیس له وقت یفوت بفوته وقدمنا...... انه لو نفر ویطف وجب علیه الرجوع لیطوف مالم یجاوز المیقات فخیر بین اراقة الدم والرجوع باحرام جدید بعمرة ولا شیئ علیه لتاخیره.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۲۴ باب الجنایات)

د جمره عقبه نه پس څلورمې حصې نه کم ویښته کټ کول او واپس راتلل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه کوم حاجی د رمی جمره عقبه نه پس د څلورمې حصې نه کم ویښته کټ کړل، او واپس وطن ته راغلو، اوس په هغه به د نوکونو یا ویښته کټ کولو وغیره سره دم لازمیږی، او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الجلیل ریاض سعودی عرب ۷/۲/۱۹۸۶

الجواب: چونکه د غلبه جهل په وجه په دې تقصیر کښې ابتلاء عامه ده، حالانکه دا د شوافع وغیرهم رحمهم الله مذهب دې، د احنافو مذهب نه دې، ﴿۱﴾ لهذا ددې متعلق په یسروا ولا تعسروا ﴿۲﴾ باندې عمل کول مناسب دی.

لا سیما اذا روی عن مشائخنا فی غیر المشهور عنهم کما فی شرح المبسوط لخواهر زاده وفی شرح الجامع الصغیر لقاضی خان وقد صرحوا انه جاز الافتاء بالقول الضعیف عند الضرورة، فافهم﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: والرأس یقع علی جمیعه فان حلق بعض الرأس لم یجزه عند الحنفیة اقل من الربع وان حلق ربع الرأس اجزأه مع الکراهة لان ربع الرأس یقوم مقام کله کمسح ربع الرأس فی الوضوء...... وقال الشافعیة: اقل ازالة شعر الرأس او التقصیر ثلاث شعرات لقوله تعالیٰ محلقین رؤوسکم (الفتح) ای شعر رؤوسکم، والشعر جمع واقله ثلاث. (الفقه الاسلامی وادلته ۳: ۲۲۶۹ المطلب الثالث الحلق والتقصیر)

﴿۲﴾ (اخرجه البخاری: ۶۹، ومسلم: ۱۷۳۳، ۱۷۳۴، واحمد: ۳: ۱۳۱، وابویعلی: ۴۱۷۲، وابن حبان: ۵۳۷۳)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقد ذکر صاحب البحر فی الحیض فی بحث الوان الدماء اقوالاً ضعیفة ثم قال وفی المعراج عن فخر الائمة لو افتی مفت بشیئ من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا لتیسیر کان حسناء، وبه علم ان المضطر له العمل بذلک لنفسه کما قلنا وان المفتی له الافتاء به للمضطر فما مر من انه لیس له العمل بالضعیف ولا الافتاء به محمول علی غیر موضع الضرورة. (شرح عقود رسم المفتی ۱۰۲ شعر ولا یجوز بالضعیف العمل)

د باقاعده تحلیل نه مخکښې د عمرې احرام تړل او ګنډلې شوې جامې اغوستل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه یو سړې احرام وتړو او طواف او سعی ئې وکړه، په ختمیدلو باندې ئې څلورمه حصه ویښته کټ نه کړل، او بیا ئې ګنډلې شوې جامې واغوستلې او د میقات نه ئې د بلې عمرې احرام وتړو، او عمره ئې ادا کړه، د سعې په ختمیدو سره ئې بیا هغه کار وکړو، دغه رنګې ئې اووه عمرې وکړې، د ګنډلې شوې جامو په بدن پورې درې ګنټې او د بعضو اته او لس ګنټې وخت شوې وو، بیا ئې آخری عمره وکړه او جامې ئې واغوستلې، بیا جدې ته لاړو او ټول سر ئې وخروؤ، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد نبی ریاض سعودی عرب

الجواب: واضحه دې وی چه باقاعده د تحلیق یا تقصیر نه مخکښې د عمرې احرام تړلو باندې دم واجبیږی، یعنی یو قربانی واجب ده، (هندیه ۱: ۲۷۱)﴿۱﴾ د ورځ یا شپې نه کم ګنډلې شوې جامې اغوستلو باندې صدقه ده، او د شپې یا ورځې نه زیات اغوستلو باندې دم واجبیږی. (شرح تنویر)﴿۲﴾ وهو الموفق

په رمی جمار کښې بغیر د وجه شرعی نه توکیل صحیح نه دې، او دم واجب دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه ښځه او خاوند حج ته لاړل، خاوند چه کله منی ته راغلو نو خپله خیمه ترې هیره شوه، هغه نیغ مکې ته لاړو، او هلته کښې دوه ورځې ایسار وو، تندرست دې ګرځیدې راګرځیدې شی، لیکن د بدن نه ډیر دروند دې، په منی کښې ئې

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومن فرغ من عمرته الا التقصیر فاحرم باخریٰ فعلیه دم لاحرامه قبل الوقت وهو دم جبر وکفارة کذافی الهدایة.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۵۴ الباب الحادی عشر فی اضافة الاحرام الی الاحرام)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی: او لبس مخیطا لبسا معتادا او ستر رأسه یوما کاملا او لیلة کاملة وفی الاقل صدقة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۲۰ باب الجنایات)

ښځه پاتې شوه، ښځه ئې ځوانه او تندرسته ده، لیکن د رش د وجه نه ئې شیطان په کانړو ونه ویشتلو، هغې د خپل طرف نه او د خاوند د طرف نه بل چاته کانړي ورکړل، هغه هلته کښې شیطان په کانړو ویشتلو، آیا دا صحیح ده؟ د ښځې خاوند رشته قائمه پاتې ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبد المجید پیښور ښار ۲۲/۲/۱۹۷۵

الجواب: واضحه دې وی چه د ښځې دپاره د شپې په وخت کښې رمی کول بلا کراهت جائز دی. او د سړې دپاره سره د کراهت نه د فراغت ذریعه ده، لهذا په دې ښځې ضروری ده، چه یو ګړ د چا په ذریعې په منی کښې ذبح کړي، او که دا سړې دومره معذور وی، چه په ولاړه مونځ نشی کولې، نو دهغه ذمه فارغه شوې ده، ګنې په دهٔ به ذبح باقاعده لازم وی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د ۱۲ ذی الحجه رمی جمار پریښودل او په ۱۳ ذی الحجه ئې کولو سره په وجوب د دم کښې اختلاف دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په دولسم ذی الحجې باندې د رمی جمرات په وخت کښې مونږ اتهٔ ملګری راپریوتو، او زمونږ حالت ډیر خراب شو، مونږه رمې ونکړې شوه، په بله ورځ یعنی دیارلسم ذی الحجه مو د مسئلې تپوس وکړو، بعضې علماؤ راته ووئیل چه دم واجب

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: الخامس ان یرمی بنفسه فلا تجوز النیابة عند القدرة وتجوز عند العذر فلو رمی عن مریض لا یستطیع الرمی بامره...... جاز...... لان الرمی عن المریض بغیر امره لا یجوز...... قیل فی حد المریض ان یصیر بحیث یصلی جالسا...... والرجل والمرأة فی الرمی سواء الا ان رمیها فی اللیل افضل وفیه ایماء الی انه لا تجوز النیابة عن المرأة بغیر عذر...... والحاصل ان الرمی هو من واجبات الحج اما اداء او قضاء فاذا فات وقتهما تعین الدم لترک الرمی اتفاقا.

(شرح لباب المناسک ۱۶۶، ۱۶۷ فصل فی احکام الرمی وشرائطه)

دې، او بعضو ووئیل چه نن دهغې قضا وکړئ، د دم ضرورت نشته، مونږ په دویم قول باندې عمل وکړو، او په دیارلسم تاریخ مو رمی جمار وکړه، اوس سوال دادې، په دې دیارلسم تاریخ د رمی څه حیثیت دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فیض محمد بورې والا ضلع وهاړی. ۱۵/۷/۱۹۸۴

الجواب: په دې صورت کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دم واجب دې، او د صاحبینو په نزد واجب نه دې، کما فی مسلک المتوسط للقاری ۱۶۱. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د واجب سعی پریښودل موجب دم دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په حج کښې سعی واجبه پریښودلې شوې ده، اوس کورته راتلو نه پس ددې څه وکړې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد اسلم صوابی ضلع مردان. ۲ ذی قعده ۱۳۹۲هـ

الجواب: تهٔ یو حاجی ته پیسې ورکړه او په منی کښې قربانی پرې وکړه، دا قربانی هر وخت کښې جائز ده د ایام نحر سره مخصوصه نه ده.

کما فی الهدایة، ومن ترک السعی بین الصفا والمروة فعلیه دم وحجته تام ﴿۲﴾ وفیها ایضا یجوز ذبح بقیة الهدایا فی ای وقت شاء ولا یجوز ذبح الهدایا الا فی الحرم ﴿۳﴾.

وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة القاری: واذا طلع الفجر ای صبح الرابع فقد فات وقت الاداء ای عند الامام خلافا لهما وبقی وقت القضاء ای اتفاقا الی آخر ایام التشریق فلو اخره ای الرمی عن وقته المعین له فی کل یوم فعلیه القضاء والجزاء وهو لزوم الدم.

(ارشاد الساری ۱۶۱ قبیل فصل فی وقت الرمی فی الیوم الرابع)

﴿۲﴾ (هدایة ۱: ۲۵۶ باب الجنایات)

﴿۳﴾ (هدایة ۱: ۲۸۱ باب الهدی)

په غلطۍ سره د احرام څادر لرې کول اوجامې اچول او حج کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زۀ يو پاکستاني يم، اوپه مدينه منوره کښې ؤسيږم، تير کال ما د حج او عمرې نيت وکړو اواحرام مې ؤتړو، عمره ختمولو نه پس يو بانډيسی زما د سر نه لږ شان وينبته کټ کړل، د لاعلمۍ په وجه ما سمدستی احرام لرې کړو، او جامې مې واغوستلې، او د حج اراده مې وکړه، آيا زما د حج وشو؟ بينوا توجروا

المستفتي: مرزاخان حطة النخيل طريقه مدينه منوره سعودی عرب ۲۱/۴/۱۹۸۴

الجواب: تۀ يو دم (گډ) ذبح کړه، نو ذمه به دې فارغه شی، او عمره او حج دواړه به دې صحيح شی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

په منی کښې شپه نه کولو سره دم نه لازميږی

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه دې کال د رمی په دوران کښې چه کله مونږ رمی وکړه، اود طواف زيارت دپاره روان شو، نو مونږ سره ښځې او کمزوری خلق هم وو، د طواف دوران کښې مونږ نه بعض ملگری ؤرک هم شو، مونږ طواف پوره کړو، نود سترې کيدلو او ملگرو تلاش کولو په وجه مونږ شپه په مکه کښې تيره کړه، او سحر مو سعی وکړه، او د جمعې د مونځ نه پس منې ته روان شو، اوس مونږ چه کومه شپه په مکه معظمه کښې تيره کړې ده، او منې ته تلي نه وو، په مونږ دهغې په وجه دم لازم دې او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حکيم حميد الدين دهلوی دواخانه راولپنډی ۱۷ جمادی الاول ۱۴۰۲ هـ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: او لبس مخيطا او ستر رأسه يوما كاملا او ليلة كاملة وفي الاقل صدقة، قال ابن عابدين: الظاهر ان المراد مقدار احدهما فلو لبس من نصف النهار الى نصف الليل من غير انفصال او بالعكس لزمه دم كما يشير اليه قوله وفي الاقل صدقة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۲۰ باب الجنايات)

الجواب: تاسو د سنت د پريخودلو مرتکب شوې يئ، د واجب د پريخودلو نه، لهذا په تاسو دم لازم نه دې.

كما في الشامية ۲: ۲۵۲ قوله فيبيت بها للرمي اى ليالي ايام الرمي هو السنة فلو بات بغيرها كره ولا يلزمه شيئ (لباب) ﴿۱﴾. وهو الموفق

ډيرې عمرې کونکې ښځه که قصر ؤنکړی
نو کفاره او يو دم واجب دې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يوې ښځې ډيرې عمرې وکړې، او وينښته ئې کټ نه کړل، آيا دا به يو جنايت شمارلې شی، او يو دم به واجب وی، که ډير جنايات؟ بينوا توجروا

المستفتي: دلاور شاه ټل کوهاټ ۲۵ شوال ۱۴۰۲ هـ

الجواب: په دې ښځې باندې د احرام قبل از وخت د وجه نه کفاره او يو دم واجب دې.

كما يدل عليه مافي الهندية ۱: ۲۵۴ ومن فرغ من عمرته الا التقصير فاحرم باخرى فعليه دم لاحرامه قبل الوقت وهو دم جبر وكفارة كذا في الهداية ﴿۲﴾. وهو الموفق

د قربانی نه مخکښې حلق، د رمی قضا، په طواف زيارت کښې د سعی پريخودل، او په مزدلفه کښې شپه نه تيرول وغيره مسئلې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه (۱) د رمی نه پس اود قربانۍ نه مخکښې د وينښتو کټ کولو څه حکم دې؟

۲) په منیٰ کښې دشپې نه تيرولو څه حکم دې؟

۳) چه کومه يوه ؤرځ جمرات ؤولی، نو آيا د نورو ؤرځو جمرات يو ځائې ويشتلې شی؟

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۲۰۰ قبيل مطلب في حكم صلاة العيد والجمعة في منىٰ)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيريه ۱: ۲۵۴ باب اضافة الاحرام الى الاحرام)

۴) په طواف زیارت کښې که طواف وکړی او سعی پریږدی، بیا به د قضا په صورت کښې صرف سعی کوی، یا طواف او سعی دواړه به کوی؟

۵) په مزدلفه کښې د شپې نه ایساریدلو څه حکم دې؟

۶) که غلطی سره سړې د میقات نه لرې مخکښې لاړو، نو دد دې څه حکم دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد ابراهیم سکنه سلیم خان صوابی. ۷/۱۰/۱۹۸۴

الجواب: (۱) د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دا جنایت دې او دم پرې واجب دې، (شامی باب الجنایات)﴿۱﴾

۲) په منی کښې شپه نه کول، خلاف سنت دی، لیکن دم پرې نشته. (شامی ۲۵۲\۲)﴿۲﴾

۳) په ایام منی کښې کله چه د یوې ورځې رمی پریږدی، نو دم واجب دې، که باقاعده قضا وکړی او که نه. (ارشاد الساری ۲۴۰) ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: (قوله او قدم نسکا علی آخر فیجب) لما کان قوله او قدم الخ بیانا لوجوب الدم بعکس الترتیب فرع علیه ان الترتیب واجب الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۲۶ باب الجنایات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (ثم اتی منیٰ فیبیت بها للرمی) ای لیالی ایام الرمی هو السنة فلوبات بغیرها کره ولا یلزمه شیئ لباب.

(فتاویٰ الشامیة ۲:۲۰۰ قبیل مطلب حکم صلاة العید والجمعة فی منیٰ)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری: ولو ترک رمی یوم من ایام النحر کله او اکثره کاربع حصیات فما فوقها فی یوم النحر او احد عشرة حصاة فیما بعده او آخره الی یوم آخر فعلیه دم ای لترکه او تاخیره. (ارشاد الساری ۱:۲۴۰ فصل فی الجنایة فی رمی الجمرات)

۴) که دې سړې د طواف قدوم یا طواف تطوع نه پس سعی نه وی کړې، نو ترخوپورې چه د میقات نه بهر شوې نه وی، صرف سعی سره دهغه ذمه فارغه کیږی، اګر که دا تاخیر څو میاشتې وی، او که د میقات نه بهر شوې وی، نو بهترداده چه دم ذبح کړی، اوکه د عمرې یا د حج احرام وتړی او واپس راشی، او دا مناسک ادا کړی، نو دا هم جائز دی. (ارشاد الساری ۲۴۰)﴿۱﴾

۵) په مزدلفه کښې شپه تیرول مسنون دی، لیکن د سحر ختلو نه پس ایساریدل واجب دی، او دم پرې واجب دې. (شامی)﴿۲﴾

۶) چه کله واپس شی او احرام وتړی نو دم واجب نه دې. (هندیه ۱:۲۵۳)﴿۳﴾

که د تفصیل ضرورت وی نو یو یا دوه سوالونه راولیږه. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری: ولو ترک السعی کله او اکثر فعلیه دم وحجه تام...... وان ترکه لعذر فلا شیئ علیه...... ولو سعی قبل الطواف...... لم یعتدبه...... فان لم یعده فعلیه دم اتفاقا ولوترک السعی من اصله ورجع الی اهله بان خرج من المیقات فاراد العود الی مکة یعود باحرام جدید...... واذا اعاده سقط الدم قال فی الاصل والدم احب الی من الرجوع لان فیه منفعة الفقراء. (ارشاد الساری ۲۳۸ فصل فی الجنایة فی السعی)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین: (ثم وقف بمزدلفة) هذا الوقوف واجب عندنا لاسنة والبیتوتة بمزدلفة سنة مؤکدة الی الفجر لا واجبة...... واول وقته طلوع الفجر الثانی من یوم النحر وآخره طلوع الشمس منه فمن وقف بها قبل طلوع الفجر او بعد طلوع الشمس لا یعتد به وقدر الواجب منه ساعة ولو لطیفة الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۹۳ مطلب فی الوقوف بمزدلفة)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: وان عاد الی المیقات واحرم فهذا علی وجهین فان احرم بحجة او عمرة عما لزمه خرج عن العهدة وان احرم بحجة الاسلام او عمرة کانت علیه ان کان ذلک فی عامه اجزأه عما لزمه لدخول مکة بغیر احرام استحسانا کذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۵۳ الباب العاشر فی مجاوزة المیقات بغیر احرام)

د ضعیف او کمزوری په رمی جمار کښې توکیل او د دم وغیره مسائل

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې حج ته لاړو او ټول افعال ئې په خپله ادا کړل، ليکن د کمزورۍ او بوډا والی په وجه ئې رمی جمار په بل چا وکړل، اوس:

(۱) په دې سړي دم وغيره واجب دی؟

۲) که واجب دی نو يو که دري؟

۳) ددې دم ذبح کول کوم ځائي ضروري دی؟

۴) که په منی کښې ضروري وي، او هغه سړې واپس راغلې دې، نو ددې به څه صورت وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: حبيب الله نعماني جامعه مدنيه کريم پارک راوی روډ لاهور

الجواب: (۱) کوم سړې چه په خپله د ضعف يا مرض په وجه په رمی باندې قادر نه وي، نه د ورځې او نه د شپې، نو هغه په بل سړي رمی کولې شي. (هنديه)﴿۱﴾

۲) کوم سړې چه د قدرت باوجود ټولې رميات پريږدي، په هغه يو دم واجب دې. (شامي)﴿۲﴾

﴿۱﴾ وفي الهندية: مريض لا يستطيع الرمي توضع الحصاة في كفه ليرمي به او يرمي عنه غيره بامره كذا في محيط السرخسي في صفة الرامي.

(فتاوی عالمگیریه ۱: ۲۳۶ فصل فی المتفرقات)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (او الرمي كله) انما وجب بتركه كله دم واحد لان الجنس متحد كما في الحلق والترک انما يتحقق بغروب الشمس من آخر ايام الرمي وهو الرابع الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۲۵ باب الجنايات)

۳) دم جنايت د زمين حرم سره مخصوص دې، که په منی کښې وي، يا مکه کښې، په دې کښې هرځائي ددې ذبح کافي ده. (بحر﴿۱﴾ شامي﴿۲﴾)

۴) بل سړې لره دې وکيل او مامور جوړ کړي او حرم کښې دې ذبح وکړي.﴿۳﴾

وهو الموفق

د حائضې ښځې طواف زيارت او طواف وداع پريښودل

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه د زيد د ښځې حيض هميشه دپاره لس ورځې وي، کله چه د منی او عرفات په مينځ ئې وقفه کښې حيض راغلو، دهغې نه پس مونږ جدې ته تللو والا وو، او اوسه پورې د زيد د ښځې په حيض کښې شپږ ورځې باقي پاتې وې، اوس سوال دادې، چه ددې ښځې په ذمه يو طواف زيارت باقي وو، او بل طواف وداع هم، اوس مونږ څه وکړو؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... ۱۰/۴/۱۹۷۴

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: (وخص ذبح هدى المتعة والقران بيوم النحر والكل بالحرم لا بفقيره) بيان لكون الهدى موقتا بالمكان سواء كان دم شكر او جناية...... واما توقيته بالزمان فمخصوص بهدى المتعة والقران واما بقية الهدايا فلا تتقيد بزمان.

(البحر الرائق ۲: ۷۲ باب الهدى)

﴿۲﴾ قال في الشامية: (ذبح في الحرم) فلو ذبح في غيره لم يجز.

(فتاویٰ الشامية ۲: ۲۲۸ باب الجنايات)

﴿۳﴾ قال العلامة المودود الموصلي: ولا يذبح الجميع الا في الحرم قال تعالىٰ في جزاء الصيد (هديا بالغ الكعبة) وفي دم الاحصار (حتى يبلغ الهدى محله) ولان الهدى ما عرف قربة الا في مكان معلوم وهو الحرم، قال عليه السلام منى كلها منحر وفجاج مكة كلها منحر رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي واحمد.

(الاختيار لتعليل المختار ۱: ۲۲۱ باب الهدى)

الجواب: که دې ښځه په حیض کښې طواف زیارت کړې وی، نو د حرمت باوجود به فریضه حج ادا شوې وه. او یوه بدنه ذبح کولو سره به دجنایت نه بری شوې وه. (شامی ۲:۲۵۹)﴿۱﴾ لیکن په ظاهر کښې دا معلومیږی، چه دا ښځه وطن ته واپس راغلې ده. ددې وجه دې دپاره دوباره مکې ته تلل ضروری دی، چه طواف زیارت وکړی، او دهغې دپاره جماع کول ممنوع دی، اګر که ډیر کلونه تیر شی. (هندیه ۱:۲٤٦)﴿۲﴾ او د حائضې دپاره طواف صدر پریخودلو کښې هیڅ ګناه نشته. (شامی ۲:۲۵۵)﴿۳﴾ وهو الموفق

په حج کښې د حاملې ښځې دپاره د واجباتو پریخودلو مسائل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دیو سړې ښځه حامله وه، ددې مجبورۍ په وجه ئې مختصر حج وکړو، اګر چه په معلم الحجاج کښې جوابات ذکر دی. بیاهم د زیاتې تسلۍ دپاره لیکم، مسئله داده، چه ډاکټر هم د حاملې کیدلو په صورت حج ته د تللو نه منع کړه، لیکن دهغې باوجود دواړه په نهمې ذی الحجې باندې سپیشل موټر کښې مکې معظمې ته ؤرسیدل، هلته کښې ئې طواف قدوم وکړو، او بیا د زوال نه پس عرفات ته ؤسیدل، د غروب نه پس هلته نه ؤوتل او مزدلفې نه د شپې شپې

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: لوهم الرکب علی القفول ولم تطهر فاستفتت هل تطوف ام لا قالوا یقال لها لا یحل لک دخول المسجد وان دخلت وطفت اثمت وصح طوافک وعلیک ذبح بدنة.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۹۹ مطلب فی طواف الزیارة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وان ترک کلا الطوافین فهو حرام علی النساء ابدا وعلیه ان یرجع ویطوف طواف الزیارة وطواف الصدر.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۴۶ الفصل الخامس فی الطواف والسعی)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: (وطواف الصدر واجب الا علی اهل مکة) ای فلا یجب علی المکی ولا علی المعتمر مطلقا والمجنون والصبی والحائض والنفساء کما فی اللباب وغیره.

(فتاویٰ الشامیة ۲:۲۰۲ مطلب فی طواف الصدر)

حرم شریف ته ؤرسیدل، په لسم تاریخ ئې د صبح صادق نه پس طواف زیارت وکړو، دغه رنګې وقوف مزدلفه او رمې ئې ونکړې شوه، په معلم الحجاج کښې ئې لیکلې دی، که واجبات دحج د شرعی عذر په وجه فوت شی، نو دم نه لازمیږی، اوس دې باره کښې تاسو څه فرمایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید خان ریاض سعودی عرب ۸/۲/۱۹۷۲

الجواب: چونکه ددې سړی نه ټول واجبات بغیر د عذر شرعی نه فوت شوی دی، لهذا په هغه د ټولو واجباتو دم ورکول ضروری دی﴿۱﴾، لیکن په ښځه ئې د وقوف مزدلفه په وجه دم نشته.﴿۲﴾ وهو الموفق

د طواف زیارت ادا کولو نه مخکښې د ښځې سره جماع کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې که د چا نه طواف زیارت پاتې شی، نو آیا د طواف زیارت ادا کولو نه مخکښې د ښځې سره جماع کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی ظفر الحق. ۱۱/۱۲/۱۹۸۵

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولو ترک الجمار کلها او رمی واحدة او جمرة العقبة یوم النحر فعلیه شاة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۴۷ قبیل الباب التاسع فی الصید)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ثم وقف بمزدلفة ووقته من طلوع الفجر الی طلوع الشمس ولو مارا کما فی عرفة لکن لو ترکه بعذر کزحمة بمزدلفة فلا شیئ علیه، قال ابن عابدین: الا اذا کان لعلة او ضعف او یکون امرأة تخاف الزحام فلا شیئ علیه...... فالاولیٰ تقیید خوف الزحمة بالمرأة ویحمل اطلاق المحیط علیه لکون ذلک عذرا ظاهرا فی حقها یسقط به الواجب بخلاف الرجل او یحمل علی ما اذا خاف الزحمة لنحو مرض ولذا قال فی السراج الا اذا کانت به علة او مرض او ضعف فخاف الزحام فدفع لیلا فلاشیئ علیه.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۹۳ مطلب فی الوقوف بمزدلفة)

الجواب: د رفض حج د ارادې نه مخکښې په دهٔ باندې ښځه حرامه وی.﴿۱﴾

وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وبترک اکثره بقى محرما ابدا فى حق النساء حتى يطوف فكلما جامع لزمه دم اذا تعدد المجلس الا ان يقصد الرفض فتح.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۲۴ باب الجنايات)


....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب زیارة

قبر النبی صلی اللہ علیہ وسلم



....

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

......قال الله تعالى:......

وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ
جَآءُوۡكَ فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ
وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ
تَوَّابًا رَّحِيۡمًا﴿۶۴﴾.... [النساء: ۶۴].......

....

......عن ابن عمر قال:......

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

من زار قبري وجبت له شفاعتي.

رواه البزار والدارقطني، قاله النووي وقال القاري
في شرح الشفاء صححه جماعة من ائمة الحديث

باب زيارة قبر النبي صلى الله عليه وسلم

په زیارت د روضې مبارکې کښې وړاندې والې افضل دې که په حج کښې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق وائي، چه د حج کولو نه مخکښې د روضې مبارکې زیارت کول افضل دی. او بعضې روستو ته افضل وائي، صحیح مسئله څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: زرباز خان صوابی..... ۲۸\۴\۱۹۷۴

الجواب: کوم سړي چه فرض حج نه وی کړې، دهغه دپاره افضل دادی، چه اول حج وکړی، او د حج نه پس د مدینې منورې زیارت دپاره لاړ شی، او که دا حج نفلی وی، نو هغه ته اختیار دې، چه هر یو اول کوی یا روستو کوی، او د کوم حاجی لاره چه په مدینه منوره وی، نو دې به اول زیارت کوی. (شرح لباب)﴿۱﴾ وهو الموفق

په حج یا عمره کښې روضه نبوی دپاره د تللو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه کوم سړې حج یا عمرې دپاره مکې مکرمې ته لاړ شی، دهغه دپاره مدینې منورې ته د روضې مبارکې دپاره تلل لازمی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۱۳/۳/۱۹۷۴

﴿۱﴾قال العلى بن سلطان محمد: ان كان الحج فرضا عليه فيبدأ بالحج ثم بالزيارة اى ابتدأ بالاهم فالاهم ولان الحج حق الله تبارك وتعالىٰ وهو مقدم على حق رسوله...... لكنه مقيد بما قاله ان لم يمر بالمدينة فى طريقه اى كاهل الشام وان مربها بدأ بالزيارة لا محالة لان تركها مع قربها يعد من القساوة والشقاوة...... وان كان الحج عليه نفلا فهو بالخيار اى اذا كان آفاقيا بين البداءة بالمختار اى بزيارته عليه السلام الخ.

(مناسک لملا علی قاری ۳۳۴ باب زیارة سید المرسلین علیه السلام)

الجواب: مدیني منورې ته د زیارت روضه رسول الله ﷺ دپاره تللو کښې دري اقواله دی. مندوب، قریب الوجوب، او واجب (علامه شامی (۱) او مولانا تهانوی رحمه الله (۲) دویم قول ته ترجیح ورکړې ده. خلافا لابن تیمیه ومن دان دینهم (۳). وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین :(بل قیل واجبة) ذکره فی شرح اللباب وقال بینته فی الدرة المضیة فی الزیارة المصطفویة وذکره ایضا الخیر الرملی فی حاشیة المنح عن ابن حجر وقال وانتصرله نعم عبارة اللباب والفتح وشرح المختار انها قریبة من الوجوب لمن له سعة الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۷۹ قبیل مطلب فی المجاورة بالمدینة ومکة المکرمة)

(۲) قال الشاه اشرف علی التهانوی: وفی ردالمحتار عن اللباب والفتح وشرح المختار انها قریبة من الوجوب لمن له سعة ،
ددې قول نه د بالوجوب معنی واضح شوه، یعنی دې خو مندوب، لیکن د نورو مندوباتو نه زیات مهتم بالشان دې، چه هغې لره قرب وجوب سره تعبیر شوې دې، پس دواړه قولونه مطابق شو.
(امدادالفتاوی ۲:۱۲۹ مسائل منثوره متعلقه بالحج)

(۳) قال فی رسالة حج:ابن تیمیه،امام جوینی،اوامام الحرمین وائی،چه د رسول الله ﷺ د روضې دپاره سفرکول ممنوع دی،حدیث: (لا تشدّالرحال) په وجه چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه صرف مسجد حرام،مسجدنبوی اومسجد اقصیٰ طرف ته به سفرکولې شی، لیکن دا خلق خطا شوی دی،ځکه که دحدیث: لا تشد الرحال دامعنی وې،نود نبی کریم ﷺ په حیات کښې د نبی کریم ﷺ د ملاقات او زیارت دپاره سفرکول به ناجائزوو ،بلکه دتجارت،علم اوجهاد دپاره به سفرکول هم ناجائز وو ،ددې حدیث معنی د حدیث مسند امام احمدبن حنبل نه معلومیږي، چه سوا ددې دریوجماتونو نه بل جمات ته د مونځ دپاره سفرکول مناسب او افضل نه دی،دزیارت القبور وغیره متعلق داحدیث ساکت دې.(شامی وغیره)انتهیٰ(مسائل حج ۲۶)
قلت: علاوه ددې نه د زیارت قبرنبوی د مشروعیت او استحباب دپاره خصوصی روایات وارد دی، چه په بیهقی، دارمی، مسندابوداؤد طیالسی، عقیلی، وفاء الوفاء او موطا امام محمد کښې مروی دی، ددې په بعضو اسنادو کښې اګر چه محدثینو کلام کړې دې،لیکن د کثرت ....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

که په ویزه کښې ورځې لږې وی، او حاجی مدینې منورې ته لاړ نشی، نو حج نه متاثر کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه که د سعودی عرب د قانون په وجه د حج په ویزه کښې ورځې کمې وی، او حاجی مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ د قبر مبارک زیارت ته لاړ نشی، نو آیا دده حج پوره شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: سمیع الرحمٰن بټ خیله ملاکنډ ایجنیسی

الجواب: د روضې مبارکې زیارت کول د حج د ارکانو نه نه دی، البته مدینې منورې ته د زیارت دپاره تلل قریب الی الوجوب دی، که د قانونی مشکلاتو او شرعی عذرونو په وجه لاړ نشی، نو دا وجوب ساقط دې، بهرحال په دې سره حج نه متاثر کیږی. (قواعد فقه)(۱) وهو الموفق

(بقیه حاشیه).... روایات او کثرت طرق په وجه دهغې ضعف ختم شوې دې، او په هغې کښې دوه روایات صاحب مشکوة هم روایت کړی دی، او شارح مشکوة ملا علی قاری رحمه الله فرمائی، والاحادیث فی هذا الباب کثیرة وفضائل الزیارة شهیرة ومن انکرها انما انکرما فیها من بدع نکیرة غالبها کبیرة. مرقاة المفاتیح ۵:۶۳۲
اوعبدالوهاب الازهری د موطا امام محمد په تعلیق کښې فرمائی:
والاحادیث فی فضل زیارة القبر النبوی کثیرة وصحیحة والضعیف منها یرتقی الی درجة المقبول لتعدد طرقه وکثرة شواهده کما ذکره ابن حجر فی التلخیص الحبیر وما ذکره ابن الجوزی فی التحقیق من ان حدیث (من حج فلم یزرنی فقد جفانی) موضوع وتابعه ابن تیمیة فی ذلک غیر صحیح بل هو اما حسن عند بعض المحدثین واما ضعیف کما هو عند بعضهم وانظر فی ذلک شفاء السقام للسبکی والجوهر المنظم لابن حجر الهیثمی ورسائل اللکنوی صاحب التعلیق الممجد. ....(ازمرتب)

(۱) **قال الملا علی قاری: ان زیارة سید المرسلین علیه السلام باجماع المسلمین ای من غیر عبرة بما ذکره بعض المخالفین من اعظم القربات**......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حرم نبوی ﷺ د زیارت په وخت کښې افعال

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د روضه مبارک د زیارت دپاره مسجد نبوی ته چه کله داخل شی نو څه کول پکار دی؟ بینوا توجروا

المستفتی : نامعلوم......

الجواب: (۱) مسجد نبوی ته د باب السلام یا باب جبرائیل نه داخلیدل مستحب دی﴿۱﴾. لیکن که د رش د وجه نه نورو ته د تکلیف رسولو یا خپله تکلیف کښې د مبتلاء کیدلو خطره وی. نو په دې دروازو سره داخلیدل ممنوع دی، په نورو دروازو سره دې داخل شی. (قواعد الشرع)

(۲) چه کله جمات ته داخل شی، نو اول دې باقاعده تحیة المسجد ادا کړی، که وخت مکروه نه وی. بیا د روضه شریفې ته لاړ شی، او په نبی کریم ﷺ د صلاة وسلام ؤوائي، بیا دې یو ګز (شرعی) ګس طرف ته شی، او په حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه دې سلام ؤوائي، او بیا دې یو ګز نور هم ګس طرف ته شی، اوپه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دې سلام ؤوائی. (شرح لباب)﴿۲﴾

(بقیه حاشیه) وافضل الطاعات وانجح المساعی لنیل الدرجات قریبة من درجة الواجبات بل قیل انها من الواجبات کما بینته فی الدرة المضیة فی الزیارة المصطفویة لمن له سعة ای وسعة واستطاعة وترکها غفلة عظیمة.

(ارشاد الساری ۳۳۴ باب زیارت سید المرسلین ﷺ)

﴿۱﴾قال الملا علی قاری: ویدخل من باب جبریل او غیره کباب السلام کما علیه العمل والافضل افضل لعل وجهه دخول جبریل علیه من ذلک الباب اولانه کان الی الحجرات من اقرب الابواب فاذا دخله قصد الروضة المقدسة الخ. (ارشاد الساری ۳۳۷ باب زیارة سید المرسلین ﷺ)

﴿۲﴾.قال الملا علی قاری: ثم یبدأ بتحیة المسجد رکعتین...... فاذا فرغ من ذلک قصد التوجه الی القبر المقدس...... ثم توجه مع رعایة غایة الادب......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۳) د حجرې مبارکې ښکلول، لاس لګول، زیات نزدې کیدل، سجده کول، ټیټیدل، او زمکه ښکلول، وغیره ټول ناجائز دی. (شرح لباب)﴿۱﴾ وهو الموفق

مسجد نبوی ته داخلیدو نه پس دې تحیة المسجد ادا کړی او بیا دې زیارت وکړی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه کوم سړی د زیارت روضه رسول ﷺ دپاره مسجدنبوی ته داخل شی، نوهغه به مخکښې دوه رکعته تحیة المسجد ادا کوی، او که اول به زیارت کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی : سید رزاق هنګو کوهاټ

الجواب: چه کله د زیارت دپاره مسجد نبوی ته داخل شی، نو اول دې دوه رکعته تحیة المسجد ادا کړی، بیا دې روضه مبارکې ته لاړ شی، او باقاعده دې صلاة او سلام ادا کړی. (شرح لباب)﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) فقام تجاه الوجه الشریف...... مستقبلا للوجه الکریم...... مستدبرا للقبلة...... ممثلا صورته الکریمة فی خیالک...... مستشعرا بانه علیه الصلاة والسلام عالم بحضورک وقیامک وسلامک...... مسلما...... مقتصدا من غیر رفع صوت ولا اخفاء بحضور وحیاء السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته...... ثم یتأخر...... الی صوب یمینه ای متوجها الی جانب یساره قدر ذراع فیسلم علی خلیفة رسول الله ﷺ ابی بکر الصدیق...... ثم یتأخر الی یمینه قدر ذراع فیسلم علی خلیفة رسول الله ﷺ عمربن الخطاب الخ.

(المسلک المتقسط ۳۳۸ باب زیارة سید المرسلین ﷺ)

﴿۱﴾ قال العلامة علی بن سلطان محمد: ولا یمس عند الزیارة الجدار لانه خلاف الادب فی مقام الوقار وکذا لا یقبله لان الاستلام والقبلة من خواص بعض ارکان الکعبة والقبلة ولا یلتصق به ای بالتزامه ولصوق بطنه لعدم وروده ولا یطوف...... ولا ینحنی ولا یقبل الارض فانه کل واحد بدعة ای غیر مستحسنة فتکون مکروهة واما السجدة فلاشک انها حرام الخ.

(المسلک المتقسط فی المنسک المتوسط ۳۴۲ باب زیارة سید المرسلین ﷺ)

﴿۲﴾ قال العلامة القاری: ثم یبدا بتحیة المسجد رکعتین......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د قبراطهر د زیارت په وخت کښې د خطاب صیغه اوحروف ندا ذکرکول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید وائي، چه د روضه مبارکې زیارت سره د درود شریف صیغې "الصلاة والسلام علیک یا رسول الله" وغیره یعنی د خطاب صیغې او حروف ندا وئیل، ددې ثبوت په احادیثو کښې نشته. آیا دزید دا وئیل صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا غلام مجتبیٰ دارالعلوم عثمانیه راول پارک لاهور ۱۰ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: دا د خطاب صیغې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د اثر نه مروی دی، رواه ابو حنیفه وایضا ان الخطاب جاز من البعید فی بعض الاحوال﴿۲﴾فکیف لا یجوز

(بقیه حاشیه) تعظیما وتقدیما لحقه علی حق رسوله کما یقتضی ترتیب حقوق الربوبیة والعبودیة والافضل ان تکون ای تلک الصلاة بمصلاه ﷺ ای فی مقامه بمحرابه...... فاذا فرغ من ذلک قصد التوجه الی القبر المقدس...... ثم توجه ای بالقلب والقالب مع رعایة غایة الادب فقام تجاه الوجه الشریف الخ.

(ارشاد الساری ۳۳۷ باب زیارة سید المرسلین ﷺ

﴿۱﴾ ابوحنیفة عن نافع عن ابن عمر قال من السنة ان تأتی قبر النبی ﷺ من قبل القبلة ویجعل ظهرک الی القبلة وتستقبل القبر بوجهک ثم تقول السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته، قال الشیخ محمد حسن السنبلی فی شرحه: وفی روایة عبد الرزاق ان ابن عمر کان اذا قدم من سفر اتی قبر النبی ﷺ فقال السلام علیک یا رسول الله.

(مسند امام ابی حنیفة مع شرحه تنسیق النظام ۱۲۶ قبیل کتاب النکاح)

﴿۲﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: (یارسول الله گفتن) باراده استعانت واستغاثه یا باعتقاد حاضر وناظر کیدوسره منهی عنه دی اوددې اعتقاد نه بغیر صرف شوقاً او استلذاذاً ماذون فیه دی.

(امداد الفتاویٰ ۵:۳۸۵ کتاب العقائد والکلام)

......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

من القریب لان سماع الموتی حق﴿۱﴾. وهو الموفق

د اسطوانه ابو لبابه سره دوه رکعته ادا کول مستحب دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د زیارت روضه مقدسې نه پس اسطوانه ابولبابه سره دوه رکعته ادا کول لازمی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: خیر محمد ډی آئي خان. ۲۵/۲/۱۹۸۱

الجواب: مستحب دادی، چه د زیارت نه فارغیدو نه پس اسطوانه ابو لبابه سره دوه رکعته مونځ ادا کړي، په شرط ددې چه وخت مکروه نه وی، او نه چا ته تکلیف رسولو او نه خپله تکلیف کښې پریوتلو خطره وی، او د مغفرت دعا دې وکړي. (هندیه وغیره)﴿۲﴾، ﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) وقال العلامة ابن عابدین: یستحب ان یقال عند سماع الاولیٰ من الشهادة صلی الله علیک یا رسول الله وعند الثانیة منها قرت عینی بک یارسول الله.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۲۹۳ قبیل باب شروط الصلاة

﴿۱﴾قال الشیخ خلیل احمد السهارنفوری: فان قلت ماوجه الجواب بقوله ان الله حرم علی الارض اجساد الانبیاء فان المانع من العرض والسماع هو الموت، وهو قائم قلت لاشک ان حفظ اجسادهم من ان ترم خرق للعادة المستمرة فکما ان الله تعالیٰ یحفظها منه فکذلک یمکن من العرض علیهم ومن الاستماع منهم صلوات الامة ویؤیده حدیث نبی الله حیٌّ یرزق. (بذل المجهود فی حل ابی داؤد ۲:۱۶۰ باب تفریع ابواب الجمعة)

﴿۲﴾ قال فی الهندیة: ثم یأتی اسطوانة ابی لبابة التی ربط نفسه فیها حتی تاب الله علیه وهی بین القبر والمنبر فیصلی رکعتین ویتوب الی الله ویدعو بماشاء.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۶۶ خاتمة فی زیارة قبر النبی ﷺ)

﴿۳﴾قال العلامة عبد الله بن مودود الموصلی: ثم یأتی اسطوانة ابی لبابة التی ربط نفسه فیها حتی تاب الله علیه وهی بین القبر والمنبر ویصلی

......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مساجد خمسه او څلوېښت مونځونه په مسجد نبوی کښې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه مساجد خمسه چه په سرزمين عرب کښې دی، کوم ځائي دی، او په کوم کتاب کښې ددې ذکر دې، اوپه مسجد نبوی کښې د څلوېښتو مونځونو مسئله په کوم کتاب کښې ذکر ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد قاسم جلال اباد افغانستان. ۱۱۴ رمضان ۱۴۰۸ھ

الجواب: حواله د مساجد خمسه مې وُنه موندله ﴿۱﴾ او حواله د څلوېښتو

(بقيه حاشيه) رکعتين ويتوب الی الله تعالیٰ ويدعو بما شاء. (الاختيار لتعليل المختار ۱:۲۲۶ فصل فی زيارة قبر النبیﷺ)

قال الملا علی قاری: وجميع سواری المسجد ای المصطفوی فی اصل بنائها يستحب الصلاة عندها لانها لا تخلو عن النظر النبوی اليها ای الی ما کان فی موضعها والا فهی ليست عينها بل غيرها وصلاة الصحابة عندها ای فی اماکنها وقربها.

(ارشاد الساری ۳۴۴ قبيل فصل فی زيارة اهل البيقع)

﴿۱﴾ مسجد فتح يا مسجد احزاب دا جمات د جبل سلع د مغربی غاړې په اوچتې حصې واقع دې، اود خندق جنوب مغرب طرف ته قدرې جنوب طرف ته واقع دې، د عزوه خندق دوران کښې په دغه مقام کښې، کوم ځائي چه اوس مسجد الفتح دې، نبی کريم ﷺ مونځ ادا کړې وو، او درې وُرځې ئې مسلسل يعنی د ګل، نخې، او چهارشنبې په ورځ د فتح اونصرت دعا فرمائيلې وه. پس د چهارشنبې په وُرځ د دوؤ مونځونو په وخت کښې د نبی کريم ﷺ دعا قبوله شوه، او د طوفان او سيلی په وجه په حمله کونکې لښکر کښې غوغا خوره شوه، او هغوی بې اميده او بې طمعې واپس شول. په دغه مقام جمات جوړ کړې شو. د فتح او نصرت د دعا ګانو د قبوليت په وجه دا جمات په مسجد الفتح سره مشهور شو، او د عزوه احزاب په وجه مسجد الاحزاب او د اوچتوالی په وجه ورته مسجد الاعلی هم وئيلې شی.

د مسجد فتح جنوب طرف ته څلور جماتونه لږې لږې فاصلې سره نور هم شته دا جماتونه هم د مسجد فتح سره مساجد فتح نوميږی. او دې ته مساجد خمسه هم وئيلې شی، په هغو کښې د دريو جماتونو دا نومونه مشهور دی. مسجد سلمان الفارسی رضی الله عنه، مسجد علی بن ابی طالب رضی الله عنه ... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

مونځونو په طبرانی اوسط او مسند امام احمد بن حنبل کښې د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې ﴿۱﴾. وهو الموفق

د مسجد قبا زيارت د هفتې په وُرځ مستحب او په هغې کښې مونځ د عمرې برابر دې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه بعضې خلق وائي، چه کله حاجی مدينه منورې ته لاړشی، نو د هفتې په ورځ د مسجد قبا زيارت اوپه هغې کښې مونځ کول ضروری دی، او په هغې کښې دوه رکعته نفل مونځ د عمرې برابر ثواب لری، آيا واقعی دا ضروری ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: ګل شير داوړ وزيرستان

(بقيه حاشيه)... مسجد ابو بکر صديق رضی الله عنه د څلورم جمات نوم مسجد فاطمه رضی الله عنها دې، او ددې مذکوره نومونو د وجه تسميه هم څه سند نشته. اکثر زيارت کونکی مزدوران حاجيانو ته د زيارت کولو په وخت کښې ددې جماتونو تعارف په دې نومونو سره کوی، ځکه چه هغوی ددې جماتونو تاريخی نوم نه پيژنی. بيا هم مشهوره داده چه د غزوه خندق په وخت کښې د مسلمانانو لښکر په دې ځائي کښې خيمه زن وو، او دهغوی دپاره په دې ځائي کښې د مونځ دپاره څو ځايونه جوړ کړې شوی وو، اوپه دې څلورو ځايونو کښې رسول الله ﷺ دخندق په جنګ کښې مونځونه اداکړی دی. مسجد سلمان الفارسی رضی الله عنه د مسجد الفتح سره نزدې جنوب طرف ته واقع دې، مسجد علی ابن ابی طالب رضی الله عنه د مسجد سلمان الفارسی سره نزدې جنوب کښې واقع دې، مسجد ابوبکر صديق رضی الله عنه د مسجد علی سره نزدې ددې په جنوب کښې لږ مشرق ته مائل واقع دې، ليکن ددې جماتونو په دې نومونو سره د منسوب کيدلو څه وجه متحقق شوې نه ده. او ددې جماتونو موجوده عمارتونه د عثمانی ترکی عهد دی. هغوی کيدې شی، چه سردوباره جوړ کړی وی، يا ئې په کښې ترميم وغيره کړی وی. والله اعلم. (ماخوذ از زيارة الحرمين فصول وآثار وغيرها عمدة الفقه) اوس وئيلې شی. چه دې ټولو جماتونو لره ختم کړې شوې دی، او په دې ځائي يو لوئي جمات جوړ کړې شوې دې. از مرتب.

﴿۱﴾ قال النبیﷺ: من صلی فی مسجدی اربعين صلاة لا تفوته صلاة کتبت له براءة من النار ونجاة يوم القيامة، رواه الطبرانی فی الاوسط عن انس بن مالک، ولم يروه عن انس الا نبيط تفرد به ابن ابی الرجال. (الفقه الاسلامی وادلته ۳:۲۳۹۷) وفی عمدة الفقه للزوار حسين رواه احمد فی مسنده والطبرانی فی معجمه الاوسط ورجاله ثقات.

(عمدة الفقه ۴:۷۰۰ کتاب الحج)

الجواب: د مسجد قبا زیارت هره ورځ جائز دي، او د هفتې په ورځ مستحب دي، (هندیه)﴿۱﴾ او په دې کښې دوه رکعته نفل مونځ د عمرې برابر ثواب لري. (رواه الترمذی)﴿۲﴾،﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ویستحب ان یأتی مسجد قباء یوم السبت کذا ورد عنه علیه السلام ویدعو یا صریخ المستصرخین ویاغیاث المستغثین یا مفرج کرب المکروبین یا مجیب دعوة المضطرین صل علی محمد وآله واکشف کربی وحزنی کما کشفت عن رسولک کربه وحزنه فی هذا المقام...... قالوا لیس فی هذه المواقف دعاء مؤقت فبأی دعاء دعا جاز کذا فی قاضی خان.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۶۷ قبیل کتاب النکاح)

﴿۲﴾ عن ابو الابرد مولی بنی خطمة انه سمع اسید بن ظهیر الانصاری وکان من اصحاب النبی ﷺ قال الصلوة فی مسجد قبا کعمرة وفی الباب عن سهل بن حنیف.

(جامع الترمذی ۱:۴۳ باب ماجاء فی الصلوة فی مسجد قباء)

﴿۳﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: یستحب زیارة المساجد الاخریٰ مثل مسجد قباء وهو فی الجنوب الغربی من المدینة وهو اول مسجد اسس فی المدینة وذلک یوم السبت ناویا التقرب بزیارته والصلاة فیه لحدیث الترمذی (صلاة فی مسجد قباء کعمرة) وفی الصحیحین عن ابن عمر قال کان رسول الله ﷺ یأتی مسجد قباء راکبا وماشیا فیصلی فیه رکعتین، وفی روایة صحیحة کان یأتیه کل سبت ویدعو بما شاء من کشف الکرب والحزن الخ. (الفقه الاسلامی وادلته ۳:۲۴۰۵ زیارة اهم المعالم الاثریة فی المدینة)

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه ځلورم جلد

کتاب النکاح

باب رسم النکاح وشرائطه وآدابه

....

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

......: قال الله تعالیٰ:......

فانکحوا ماطاب لکم من النساء

.....[النساء: ۳].......

....

.....قال الله تعالیٰ:......

وانکحوا الایامی منکم والصالحین

من عبادکم وامائکم.

.....[النور: ۲۳].....

کتاب النکاح

باب رسم النکاح وشرائطه وآدابه

په کویژدن او باقاعده نکاح کښې فرق

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دهغې تفصیل لاندې لیکلې شوې دې.

چه زما د لور وادهٔ د زید سره ؤشو، چه دهغې باقاعده د عائلی قوانینو مطابق رجسټری وشوه، او سرکاری کاغذونه موجود دی. د نکاح نه څو ؤرځې پس مخالفینو دروغ پروپګنډه شروع کړه. چه زما د لور عقد نکاح د سکندر سره شوې وه، په دې دعوه باندې هغوی اتهٔ دروغژن ګواهان هم پیش کړل، په دې ما د خپل کلي د مولوی صاحب په مشورې سره خپله لور د وادهٔ نه نهه ؤرځې پس کور ته راوستله. مولوی صاحب مشوره راکړه، چه معامله جرګې ته پیش شوې ده، ددې وجه نه بهتره داده چه د معاملې فیصلې کیدلو پورې خپله جینۍ کور ته راوله. دهغې نه پس د خاندان درې افراد د جرګې دپاره مقرر شو، دریمګرو بیانونه واخستل، بیا سکندر دریمګرو ته ووئیل، چه که دا سړې ماته دوه زره روپۍ راکړی، نو زهٔ د خپل دعوی نه دستبرداره کیږم، دریمګرو دې لره زیاتې ؤګڼړو، او فیصله ئې منظوره کړه، اخلاقی جرم دا وو، چه ما اقرار وکړو، او اوس هم کووم، چه زما لور د شپږو کالو وه او سکندر د یو کال وو، او دسکندر پلار زما لور د منسوب کولو خواهش کړې وو، او دا خواهش ما په واضحه لفظونو سره نه قبول کړې وو، او نه مې انکار کړې وو، اونه باقاعده کویژدن شوې وه. او نه څهٔ رواج شوې وو، بلکه د وخت تیریدو سره ماته معلومه شوه، چه دهغه اراده نشته. ددې وجه نه ما

مناسب رشته ملاویدو سره د زید سره نکاح وکړه. او باقاعده نکاح وشوه، اوس سوال دادې، چه آیا د زید سره دا نکاح صحیح شوې ده، یا دا د سکندر حق دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: انار ګل پنډۍ ګیپ کیملپور. ۲۹/۲/۱۹۷۲

الجواب: که تا د ګواهانو په مخکښې ایجاب او قبول نه وی کړې، نو دا معامله خطبه ده، نکاح نه ده. لهذا ددې جینۍ نکاح د زید سره بیشکه او بې شبهې صحیح ده.

قال فی المرقاة لاکن ان تزوج الثانی تلک المرأة بغیر اذن الاول صح النکاح الخ (۶: ۲۱۱) ﴿۱﴾ وفی تنقیح فتاویٰ الحامدیة (۱: ۳۱) لا تکون الخطبة واقعة موقع عقد النکاح اصلا ﴿۲﴾.

که تا د ګواهانو په مخکښې دا الفاظ وئیلې وی، چه ما فلانکۍ فلانکی ته په نکاح سره ورکړه، او په دې مجلس کښې بل طرف نه وئیلې شوې وی، چه مونږ د فلانکی دپاره قبوله کړه، نو دا نکاح شرعی ده، ددې جینۍ بل ځائې کښې نکاح کالعدم ده. ﴿۳﴾ وهو الموفق

د نکاح دپاره د وصفدارې ښځې انتخاب او د وادهٔ شرعی طریقه

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په یوه ښځه کښې کوم صفتونه او خوبۍ پکار دی، چه دهغې په وجه سړې دهغې سره د نکاح کولو خواهش وکړی، او د وادهٔ شرعی حنفی طریقه څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: شهزاد ګل شیوه. ۸/۴/۱۹۷۵

﴿۱﴾ (مرقاة المفاتیح ۶: ۲۱۱ باب اعلان النکاح والخطبة والشرط الفصل الاول)

﴿۲﴾ (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱: ۳۱ قبیل فوائد ذکرها المؤلف مفرقة)

﴿۳﴾ قال عبد الله بن مودود الموصلی: ورکن النکاح الایجاب والقبول وینعقد بلفظین ماضیین...... ولا ینعقدنکاح المسلمین الا بحضور رجلین او رجل وامرأتین الخ. (الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۰۹ کتاب النکاح)

الجواب: په حدیث شریف کښې راغلی دی، چه د ښځې سره د جمال، مال، حسب او دین په وجه نکاح کولې شی، لیکن د مسلمان دپاره مناسب دادی، چه د دینداری لحاظ وساتی. (متفق علیه) ﴿۱﴾ او د باکرې ﴿۲﴾، د خاوند سره مینه کونکی او زیات اولاد راوړونکی ښځې سره نکاح کول پکار دی ﴿۳﴾ نکاح د وادهٔ نه مخکښې کول پکار ده. د بلوغ نه پس دې وادهٔ وکړی، د رسم رواج نه بچ کیدل پکاردی، او د وادهٔ نه پس دې ولیمه وکړی ﴿۴﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: تنکح المرأة لاربع: لمالها، ولحسبها، ولجمالها، ولدینها، فاظفر بذات الدین تربت یداک متفق علیه. رواه البخاری (۵۰۹۰) ومسلم (الرضاع ۵۳،۵۳) وابوداؤد (۲: ۴۷) والنسائی (۶: ۶۸) وابن ماجه (۱۸۵۸) والبیهقی (۷: ۷۹) واحمد (۲: ۴۲۸) والدارقطنی (۳: ۳۰۳). (بلوغ المرام ۳۲۵ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ قال رسول الله ﷺ علیکم بالابکار فانهن اعذب افواها وانتق ارحاما وارضی بالیسیر رواه ابن ماجة مرسلا. (مشکواة المصابیح ۲: ۲۶۸ کتاب النکاح الفصل الثانی)

﴿۳﴾ عن معقل بن یسار قال قال رسول الله ﷺ تزوجوا الودود الولود فانی مکاثر بکم الامم رواه ابوداؤد والنسائی. (مشکواة المصابیح ۲: ۲۶۷ کتاب النکاح الفصل الثانی)

﴿۴﴾ وفی الهندیة: وولیمة العرس سنة وفیها مثوبة عظیمة وهی اذا بنی الرجل بامرأته ینبغی ان یدعو الجیران والاقرباء والاصدقاء ویذبح لهم ویصنع لهم طعاما واذا اتخذ ینبغی لهم ان یجیبوا. (فتاویٰ عالمگیریه ۵: ۳۴۳ الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات)

وقال الملا علی قاری: (قال رسول الله ﷺ شر الطعام طعام الولیمة) لانه کان من عادتهم مراعاة الاغنیاء فیها وتخصیصهم بالدعوة وایثارهم وتطییب الطعام لهم ورفع مجالسهم وتقدیمهم وغیر ذلک مما هوالغالب فی الولائم...... والحاصل انه لیس شرالطعام لذاته بل لما یعرض له غالبا من سوء حالاته وصفاته.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکوٰة ۶: ۲۵۳ باب الولیمة)

بغیر د څه وجه نه لونړو لره په کور کښې ساتل او نه ورکولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه بغیر د څه وجه شرعی نه کوم خلق چه خپلې لونړه یا خویندې په کور کښې ساتی او د میراث په وجه ئې نه واده کوی، دهغوی ګناه کبیره او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عزیز الرحمٰن بازارګی بنیر. ۳ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړي ظالم دي او ډیر زر په فتنه کښې مبتلاء کیدونکی دي.《۱》 قال رسول اللهﷺ: من ولد له ولد فلیحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فلیزوجه فان بلغ ولم یزوجه فاصاب اثما فانما اثمه علی ابیه، رواه البیهقی فی شعب الایمان《۲》. وهو الموفق

جینۍ ته جامې اغوستل او خپلو کښې ډوډۍ ورکول او دعا کول نکاح نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړي رشته ؤغوختله، د جینۍ والد ؤوئیل چه زۀ به ستاسو نه دوه کناله زمکه لیکلې اخلم، که دا شرط منظور وی، نو د رواج مطابق کویژدن وکړه، دهغې نه پس غوختونکی یوه جامه راؤړه او جینۍ ته ئې واغوستوله، او دې سره د دواړو طرف نه رشته دار هم یوځائي شو، او ډوډۍ ئې وخوړله او دعائې وکړه، دهغې وخت د دوؤ ګواهانو بیان دې، چه زمونږ په مخکښې صرف دومره خبره شوې وه، چه د مشرې جینۍ رشته به تاته درکړو، اوس په طرفینو کښې ؤرانې پیدا شوې دي، او جینۍ والو انکار کړې دې، او د هلک پلار وائي، چه نکاح شوې وه، مهربانی وکړئ، راته ؤوایئ چه دا نکاح شوې ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: چوهدری علی مرد کوهاله ایبټ آباد.

《۱》عن ابی هریرة قال: قال رسول اللهﷺ اذا خطب الیکم من ترضون دینه وخلقه فزوجوه ان لا تفعلوه تکن فتنة فی الارض وفساد عریض، رواه الترمذی. (مشکوٰة المصابیح ۲:۲۶۷ کتاب النکاح الفصل الاول)

《۲》(مشکوٰة المصابیح ۱:۲۷۱ باب الولی فی النکاح الفصل الثالث)

الجواب: په دې صورت کښې صرف خطبه موجوده شوې ده، کومه چه نکاح شرعی نه ده، لهذا دې جینۍ لره بل ځائي په نکاح سره ورکول جائز دی، اګر چه مکروه دی.

فی المرقاة: لکن ان تزوج الثانی تلک المرأة بغیر اذن الاول صح النکاح ولکن یأثم (۶:۲۱۱)《۱》وفی تنقیح الفتاوی الحامدیة لا تکون الخطبة واقعة موقع النکاح اصلا (۱:۳۱)《۲》. وهو الموفق

په نکاح کښې څه نیت کول پکار دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په نکاح کښې څه نیت کول پکار دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مفقود الخبر

الجواب: ینوی اتباع السنة وتحصین الفرج وتکثیر الامة.《۳》وهو الموفق

دنکاح نه مخکښې ایمان مفصل اومجمل اوروؤل نه مطلوب دی اونه ممنوع

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د نکاح نه

《۱》(مرقاة شرح المشکوٰة ۶:۲۱۱ باب اعلان النکاح الفصل الاول)

《۲》تنقیح الفتاوی الحامدیة ۱:۳۱ قبیل فوائد ذکرها المؤلف مفرقة)

《۳》عن انس بن مالک ان النبیﷺ حمد الله واثنیٰ علیه وقال: لکنی انا اصلی، وانام، واصوم وافطروا تزوج النساء، فمن رغب عن سنتی فلیس منی، (متفق علیه) وعن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: قال لنا رسول اللهﷺ یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه اغض للبصر واحصن للفرج، ومن لم یستطیع فعلیه بالصوم فانه له وجاء (متفق علیه) وعن انس بن مالک قال: کان رسول اللهﷺ یقول: تزوجوا الولود الودود، فانی مکاثر بکم الانبیاء یوم القیامة (رواه احمد وصححه ابن حبان).

(بلوغ المرام من ادلة الاحکام ۳۲۵ کتاب النکاح)

مخکښې تجدید ایمان کول او ایمان مجمل او مفصل اورؤلو وغیره څه حکم لری؟ بدعت خو نه دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغنی ډوبل سنی بنګ راولپنډی. ۲۳ ذی الحجة ۱۳۹۶ھ

الجواب: د نکاح نه مخکښې قرآن مجید اورؤل یا ایمان مجمل وغیره اورؤل نه مطلوب دی او نه ممنوع، لهذا دې ته به مباح وئیلې شی، نه بدعت یا سنت، البته د نکاح نه مخکښې د ایمان تلقین د مصلحت نه خالی نه دې. وهو تیقن الشرط من الایمان فافهم ﴿۱﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الشیخ العلامه عبد العزیز المحدث دهلوی: شرعا د مومن او کافر په مینځ کښې نکاح نه منعقد کیږی، او دا ظاهره ده چه په ناپوهۍ کښې یا په خطا سره د کفر کلمه اکثر صادریږی، او خلقو ته ددې خبرې پته نه وی، ددې وجه علماء متاخرین چه محتاط دی، احتیاطا داسې کوی، چه د ایمان مجمل او ایمان مفصل صفت د زوجینو په مخکښې وائې، او په هغوی باندې وائی. دې د پاره چه نکاح په حالت د اسلام کښې منعقد شی، علماء متاخرین چه احتیاطا دا کار په عقد نکاح کښې زیات کړې دې، دا فی الواقع د برکت نه خالی نه دې، کومو خلقو ته چه د اسلام پته نشته. هغه خلق ددې د مزې نه څه خبر دی، آیا دا معلومه نه ده، چه مړو ته تلقین کول. د اکثرو علماؤ په نزد جائز دی، ددې کار سبب د هغې خلقو په نزد څه دې، ځکه چه د ټولو ډلو د اسلام په دې اتفاق دې، چه ایمان بعد البعث صحیح نه دې. د بعث نه مراد انتقال روحانی دې، (فتاوی عزیزی ۵٤۲ مسائل نکاح)

وقال الشیخ عزیز الرحمن الدیوبندی: د اسلام او ایمان نه ناواقفه خلقو ته صرف دا تعلیم ورکولې شی، چه ؤوایه الله یو دې، محمد ﷺ د الله تعالی رشتونې رسول دې، اودې لره په زړهٔ کښې رښتیا ؤګڼره، پس په دې سره سړې مومن او مسلمان کیږی، ددې اقرار اخستلونه پس هغه سره نکاح صحیح ده، او دا ظاهره ده، چه د تصدیق قلبی نه بغیر ایمان نه حاصلیږی، لیکن ناپوهو او جاهلانو باندې صرف دا وئیل پکار دی، کوم چه مخکښې تیر شو، دهغه نه دا تپوس پکار نه دې، چه ایمان څه څیز دې، او تصدیق څه څیز دې، او ایمان مفصل کوم یو دې، او ایمان مجمل کوم یو دې، غرض دا چه داسې خبره وکړې شی، چه هغې سره هغه مسلمان جوړ کړې شی، نه دا چه دهغه نه تحقیقات کولو سره کافر جوړ کړې شی، (بهرحال چه کله هنده خپل ځان ته مسلمانه وائي، او په حقیقت کښې ده هم مسلمانه نو هغې سره نکاح صحیح ده، د تعلیم کمې دې، لهذا هغې باندې کلمه وغیره احتیاطا وئیل پکاردی. (فتاوی دارالعلوم دیوبند ۷:۱٤۷ دوسرا باب متعلقات نکاح وغیره)

د نکاح په وخت د هلک اوجینۍ نه شپږ کلمې او ایمان مجمل وغیره اورول

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د نکاح تړلو په وخت کښې نکاح خوان د هلک او جینۍ نه شپږ کلمې او ایمان مجمل او ایمان مفصل وغیره اوروی، بعضې کندذهنه خلق هغه الفاظ په ښه طریقې سره نشی ادا کولې، آیا دا نکاح شرعا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرشید جهلم. ۳/۱۱/۱۹۷۴

الجواب: د نکاح دارومدار د ګواهانو په مخکښې په ایجاب او قبول دې﴿۱﴾ نهٔ په شپږو کلمو وئیلو باندې، لهذا داسې نکاح جائز ده. وهو الموفق

د نکاح خطبه نه وئیلو سره په نکاح کښې فساد نه راځی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې که په یو نکاح کښې ایجاب او قبول ؤشی، او ټول کارونه پوره شی، البته خطبه د نکاح ؤنه وئیلې شی، ایا دا نکاح فاسده ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نور الحسن موهړه بیروت هزاره.

الجواب: د نکاح نه مخکښې خطبه وئیل مستحب دی﴿۲﴾، ددې وجه نه ددې په نشتوالی سره فساد د نکاح لازم نه راځی. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابوالبركات عبد الله النسفی: النكاح هو عقد...... ينعقد بايجاب وقبول...... عند حرين او حر وحرتين عاقلين بالغين مسلمين.

(كنز الدقائق ۱:۹۷ كتاب النكاح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: ويندب اعلانه وتقديم خطبة وكونه فی مسجد يوم جمعة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۸۴ كتاب النكاح)

د نکاح خطبه په مخکښې لوستلې کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زمونږ علاقه کښې د نکاح او ايجاب وقبول نه پس خطبه لوستلې شی، او بعضې علماء مخکښې خطبه لولی او بيا ايجاب او قبول کوی. په دې کښې کوم عمل صحيح دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: گوهررحمن کاتيلی سوات ۳/۱۰/۱۹۷۴

الجواب: د نکاح خطبه د عقد نه مخکښې لوستل مستحب دی.

لما رواه الدارمی﴿۱﴾ وفی الدرالمختار ويندب اعلانه وتقديم خطبة﴿۲﴾ فتاخيرها عن العقد مخالفة الحديث والفقه. وهو الموفق

عقد نکاح په جمات کښې افضل دی

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه نکاح په جمات کښې ترل بهتر دی، او که کور کښې؟ هرکله چه بعضې خلق جمات ته تللو نه انکار کوی، دې باره کښې د شريعت محمدی څه حکم دې؟

المستفتی: عبدالرشيد جهلم ۸ ذی قعده ۱۳۹۴ھ

الجواب: که د منکراتو خطره نه وی، نو په جمات کښې عقدنکاح افضله ده﴿۳﴾

﴿۱﴾ عن عبد الله قال علمنا رسول الله ﷺ خطبة الحاجة الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره...... ثم يتكلم بحاجته.

(سنن الدارمی ۲:۱۹۱ باب فی خطبة النكاح)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۲۸۴ كتاب النكاح)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری: قوله (واجعلوه فی المساجد) وهو اما لانه ادعى الى الاعلان او لحصول بركة المكان وينبغی ان يراعی فيه ايضا فضيلة......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

لحديث رواه الترمذی، اعلنوا هذا النكاح واجعلوه فی المساجد واضربوا عليه بالدفوف.﴿۱﴾

حديث ''لا نکاح بين العيدين،، ثابت نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه د عامو خلقو خيال دې، چه د اخترونو مينځ کښې نکاح صحيح نه ده، اوپه دې داحديث: لا نکاح بين العيدين پيش کوی. ددې مسئله اوحديث حقيقت څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالقيوم کامونکی گوجرانواله ۲۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: د دوؤ اخترونو مينځ کښې نکاح بغير د شک او شبهې نه او بغير د کراهت نه جائزده. د نبی کريم ﷺ نکاح مبارک د حضرت عائشې رضی الله عنها سره هم په دې مياشت کښې شوې وه، او (لا نکاح بين العيدين) اول خو حديث نه دې، يا ددې نه مراد جمعه او صلاة العيد دې، او دا واقعه جزئيه ده، نه کليه. كما فی الشامية ۲:۲۸۴ وتاويل قوله عليه السلام لا نكاح بين العيدين ان صح انه عليه السلام كان رجع عن صلوٰة العيد فی اقصر ايام الشتاء يوم الجمعة فقاله حتى لا يفوته الرواح فی الوقت الافضل الى الجمعة﴿۲﴾. وهو الموفق

(بقيه حاشيه) الزمان ليكون نورا على نور وسرورا على سرور قال ابن الهمام يستحب مباشرة عقد النكاح فی المسجد لكونه عبادة وكونه فی يوم الجمعة وهو اما تفاؤلا للاجتماع او توقع زيادة الثواب اولانه يحصل به كمال الاعلان.

(مرقاة المفاتيح ۶:۲۱۷ باب اعلان النكاح الفصل الثانی)

﴿۱﴾ (سنن الترمذی ۱:۱۲۹ باب ماجاء فی اعلان النكاح)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۸۴ كتاب النكاح تحت قوله فی مسجد يوم جمعة)

د نکاح تړلو حقدار څوک دي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه په يو کلي کښې امام او قاضي مقرر وي، ددې امام په موجودګۍ کښې دهغه داجازت نه بغير بل سړي نکاح تړلې شي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد يعقوب آزاد کشمير ۲/۷/۱۹۷۴

الجواب: د طرفينو په اجازت سره هر سړې نکاح تړلې شي، شرعا په دې کښې څه ممانعت نشته، البته د امام د اجازت نه بغير نکاح تړلو کښې د بې انتظامۍ خطره موجوده ده.﴿۱﴾ وهو الموفق

د زانی او مزنيه نکاح تړلو والا عالم حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه يو امام په ناخبرۍ کښې د زانی او مزنيې نکاح وتړله، روستو بيا معلومه شوه. اوس بعضې خلق دهغه نه خفه دی، چه هغه د زانی او مزنيه نکاح تړلې ده، او امام صاحب وائي، چه ماته ددې څه خبر نه وو، آيا په دې نکاح خوان څه زورنه شته؟ بينوا توجروا

المستفتی: سيدرحيم خان هزار مری. ۳۱/۱۲/۱۹۸۴

الجواب: د زانی او مزنيه چه هرکله خپلو کښې نکاح صحيح ده، نو تړلو والا باندې د زورنې څه وجه نشته.

فی الدرالمختار وصح نکاح حبلی من زنا...... **ولو نکحها الزانی حل له﴿۲﴾.**

وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الشيخ عزيز الرحمٰن الديوبندی: نکاح خوانی د يو خاص خاندان يا د يو خاص سړي حق شرعا نه دې، څوک چه هم نکاح وتړی نو نکاح منعقد کيږی، انتظامی خبره بله ده، څنګه چه حاکمان مصلحت ګڼړی نو انتظام د کوی. (فتاوی دارالعلوم ديوبند ۱۶۳\۷ مسائل متعلقات نکاح)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۱۷ قبيل مطلب فيما لو زوج المولیٰ امته)

د شيعه نکاح خوان کيدل او روستو بيا د تجديد نکاح کولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه زيد کله د خپل ځوی د نکاح دپاره د بکر کلي ته سره د ملګرو لاړو، نو د نکاح په وخت معلومه شوه چه نکاح خوان مولوی شيعه دې، هلک چه کله اعتراض وکړو، نوجينۍ والو ؤوئيل چه تاسوکله خپل کورته لاړشئ،نوپه سنی مولانا باندې د نکاح تجديد وکړئ، ځکه چه دلته دا مسئله اوچتول، د مصلحت نه خلاف دی. ددې وجه زيد چه کله واپس راغلو، نو دخپل جمات امام چه سنی دې، ئې راؤغوختلو او د نکاح تجديد ئې وکړه. په تجديد کښې حق مهر وغيره ټول هرڅه د مخکښې پشان کيخودلې شو، اوس که يو سړې په دې تجديد نکاح کونکی باندې دا اعتراض وکړی، چه دا نکاح دې ولې ؤتړله، نو ددې شرعی حيثيت څه دې؟ او دا تجديد نکاح کول څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: حافظ بشيراحمد نعمانی ګوجرانواله. ۱۹رمضان ۱۴۰۲هـ

الجواب: د نکاح خوان حيثيت صرف د معلم دې، نه د شاهد، لهذا دا اوله نکاح په حقيقت کښې هم نکاح ده، او دويمه نکاح افضل او مستحب ده، ناجائز نه ده.

کما فی الدرالمختار ۳:۲۰ ولذا استحسنوا التجديد عند الزفاف﴿۱﴾ وبمعناه فی الهندية فليراجع﴿۲﴾. وهوالموفق

په نکاح تړلو د اجرت اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دي مسئلې باره کښې چه په نکاح تړلو باندې اجرت اخستل جائز دی او که؟ او په قرون ثلاثه کښې په نکاح تړلو باندې اجرت اخستلې کيدو او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: ګل زمان. ۲۹/۱۲/۱۹۷۵

﴿۱﴾ (الدرالمختار هامش ردالمحتار ۲:۳۲۴ باب الولی)

﴿۲﴾ وفی الهندية: واذا زوج غير الاب والجد الصغيرة...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

الجواب: د نکاح خوان اجرت انعام دي، كما لا يخفى على من راجع الى العرف او که اجرت وی بیاهم جائز دی، لكونها اجرة على تعليم الايجاب والقبول وتلقينها(۱). وهو الموفق

(بقيه حاشيه) **فالاحتياط ان يعقد مرتين مرة بمهر مسمى ومرة بغير مهر مسمى لامرين احدهما الخ. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۵ الباب الرابع فى الاولياء)**

(۱) شاه اشرف علی تهانوی رحمه الله په بوادر النوادر کښې د الصراح فی اجرة النكاح په نوم سره یوه مقاله لیکلې ده، چه په هغې کښې ئې په حواله د مسائل اربعين از مولانا محمد اسحاق دهلوی رحمه الله یوه فتوی نقل کړې ده. فرمائی:

مسئله: بعد نکاح بقاضی ووکیل وشاهدان که از طرف عروس مې آیند بخوشی خود بدون مطالبه شان چیزې دادن جائز است که نه؟ جواب یعنی دادن این مرد مان بدون مطالبه و جبراز طرف ایشان مباح است واگر جبر کنند وخواه مخواه بکد واصرار طلب نمایند بگیر ند پس مباح نیست چنانچه در کتاب خزانة الروايات مرقوم است.

ومما سنه القضاة فى دار الاسلام ظلم صريح وهو ان يأخذوا من الانكحة شيئا ثم يجيزون اولياء الزوج والزوجة بالمناكحة فانهم مالم يرضوا بشيئ من اولياء هما لم يجيز وبذلك فانه حرام للقاضى والمناكح.

ددې فتوې نقل کولو نه پس حضرت تهانوی رحمه الله ددې څلور قسمونه جوړ کړې دی، چه کوم څیز چاته ورکولې شی، هغه یا په عوض کښې ورکولې شی یا بغیر د عوض نه، که په عوض کښې ورکولې شی، نو هغه به شرعا د مال متقوم په بدله کښې ورکولې شی، یا غیر متقوم او غیر قابل عوض په مقابله کښې به ورکولې شی. پس که اول وی نو هغې ته اجر او ثمن وئیلې شی، او که دویم دې، نو دا رشوت یا سود دې، او که بغیر د عوض نه ورکولې شی، نو هغه هم د دوؤ حالتونو نه خالی نه دې، یا خوبه په خوښه سره ورکولې شی، نو دا هدیه او تحفه ده، او یابه په ناخوښه سره ورکولې شی، نو دا ظلم او جبر فی التبرع کښې داخل دې.

دا د حضرت تهانوی رحمه الله د تقسیم خلاصه ده. او که غور وکړې شی، نو زمونږ په وطن کښې چه کوم عرف دې، او د جماتونو امامانو ته په نکاح تړلو کښې چه څه ورکولې شی، نو ظاهره داده چه دا اعطاء بلا عوض ده، او بیا عوام هم د خپل خپل حیثیت مطابق کم او زیات ورکوی، ددې نه معلومه شوه چه دا هدیه، عطیه او انعام دې، نه په دې کښې جبر وی، او نه د زوج یا زوجې اولیاء په دې کښې څه تنګی محسوسوی، او که دې لره د نکاح خوان ددې عمل اجرت وګڼلې شی. اګرچه په دې د اجارې د صحت لوازم صادق نه راځی، ....

(بقيه حاشيه په راروانه حصه)

که باقاعده ایجاب او قبول نه وی او شهادت نه وی نو دا نکاح شوې نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متین دې مسئلې باره کښې چه نیکه د نابالغه نوسې د نکاح پروګرام د یو سړې سره جوړ کړو. دې سړې لره مخکښې کښینولې شو، او یوه ښځه په مجلس کښې موجوده وه، نیکه د نابالغې د طرف نه ایجاب وکړو، لیکن دې سړی قبول و کړو، اوس نیکه مړ شوې دې، او جینۍ هم بالغه شوې ده، او د نیکه په نکاح راضی نه ده، او قبلونکی هم قبوله کړې نه ده، اوس شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبد الحق برهان کیمل پور

(بقيه حاشيه).... لیکن که بالفرض کوم خلق چه دې ته اجاره وائي، نو بیاهم جائز ده، چه دا د ایجاب او قبول په تعلیم او تلقین باندې اجرت دې.

ويجوز بالاتفاق الاستئجار على تعليم اللغة والادب والحساب والخط والفقه والحديث ونحوها وبناء المساجد والقناطر والرباطات لانها ليست بفرض ولا بواجب وقد تقع قربة تارة وتارة غير قربة،

او د "الصراح فی اجرة النكاح" د تحقیق نه معلومیږی، چه کوم قاضی وغیره چه ددې دپاره مقرر دی، او باقاعده تنخواه دار دی. که هغه ته څه ورنکړې شی، نو بیا هغه د نکاح دا کار ددوی ذمه واری ده، او باوجود ددې نه په ظلم سره وصولی کوی. لهذا د خزانة الروايات قول په عام امامانو د جماتونو باندې صادق نه راځی. چه هغوی نه ددې تنخواه اخلی، او نه د حکومت نه څه معاوضه ملاویږی، په خلاف د قاضی نه، او فقهاؤ تصریح کړې ده، چه په کوم قاضی د نکاح مباشرت لازم وی، لکه نکاح د وړوکو هلکانو یا جینکو، نو هغه لره په دې نکاح څه اخستل جائز نه دی. او دهغې نه علاوه ورله جائز دی. **كما قال القاضى محمد بن الحسينى: ولا يحل للقاضى اخذ شيئ على النكاح ان كان نكاحا يجب عليه مباشرته كنكاح الصغائر وفى غيره يحل.**

(فتاویٰ انقرويه ۱: ۳۵۱ فصل فى اجرة المشخص الخ)

وقال العلامه مفتى كفايت الله الدهلوى: نکاح تړونکی ته د نکاح خوانۍ اجرت ورکول جائز دی، او که نکاح خوان د مخکښې نه اجرت مقرر کړی او نکاح ؤتړی، نو دا هم جائز ده، او هغه لره د مقرر شوې اجرت جبرا وصولولو حق دې. (كفايت المفتى ۵: ۱۵۴ کتاب النکاح)............ ازمرتب

الجواب: بشرط صدق و ثبوت دا معامله د نکاح صحیح نه ده، دې جينۍ لره بل ځائي کښې په نکاح سره ورکول صحیح دی.

لان ركن النكاح هو الايجاب والقبول والشرط هى الشهادة ﴿١﴾ وفى الصورة المسئولة لا يوجد القبول ولا الشرط ولان عقد الابعد يتوقف على اجازة الاقرب ولم توجد. (ماخوذ از هنديه ١: ٢٨٤ ﴿٢﴾ والدر المختار على هامش ردالمحتار ٢: ٣٣٢ فليراجع) ﴿٣﴾. وهو الموفق

نكاح باقاعده د ايجاب او قبول نوم دې، نه د شهرت

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه ديو سړي سره ايجاب او قبول نه دې شوې، صرف د نکاح مشهورتيا په کلي کښې شوې ده، آيا په دې سره نکاح منعقد کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد رسول محکمه زراعت کوهاټ. ٧/١١/١٩٧٤

الجواب: هرکله چه د ګواهانو په مخکښې باقاعده ايجاب او قبول نه وی شوې نو نکاح شرعی به موجوده نه وی، اګر که شهرت شوې وی. لعدم الركن والشرط ﴿٤﴾. وهو الموفق

﴿١﴾ قال الشيخ عبد الغنى الغنيمى الميدانى: وهو ينعقد بالايجاب من احد المتعاقدين والقبول من الآخر...... ولا ينعقد نكاح المسلمين بصيغة المثنى الا بحضور شاهدين حرين بالغين الخ. (اللباب فى شرح الكتاب ٣: ١٤٠ كتاب النكاح)

﴿٢﴾ وفى الهندية: ولو زوجها الا بعد حال قيام الاقرب حتى توقف على اجازة الاقرب. (فتاوىٰ عالمگيريه ١: ٢٨٥ الباب الرابع فى الاولياء)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصكفى: فلو زوج الا بعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته، قال ابن عابدين: اى حضوره وهو من اهل الولاية الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ٢: ٣٤١ باب الولى)

﴿٤﴾ قال الدكتور وهبة الزحيلى: وركن الزواج عند الحنفية الايجاب والقبول فقط...... واما الشهود فشرط ايضا الخ. (الفقه الاسلامى وادلته ٩: ٦٥٢١ المبحث الثانى اركان الزواج)

د نابالغ او نابالغې د ايجاب او قبول مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه نابالغ هلک او نابالغه جينۍ، هرکله چه د والد اجازت دلالة موجود وی، نکاح کولې شی؟ بينوا توجروا

المستفتي: عمران الله چارسده. ١٩ رجب ١٣٩٧هـ

الجواب: د نابالغ او نابالغې په خپله ايجاب او قبول کولو سره نکاح منعقد کيږي، هرکله چه مخکښې اجازت وی. يا ددې نه پس ورنته اجازت وشی.

كما فى تنقيح الفتاوىٰ ٢: ١٦٦ ان الصبى المحجور لو تصرف تصرفا يجوز عليه لو فعله وليه فى صغره كبيع وشراء وتزوج وتزويج امته وكتابة قنه ونحوه فاذا فعله الصبى بنفسه يتوقف على اجازة وليه مادام صبيا ﴿١﴾ وفى الهداية ٣: ٣٧١ واذا اذن ولى الصبى للصبى فى التجارة فهو فى البيع والشراء وكذا كل ما هو دائر بين النفع والضرر كالتزوج كالعبد الماذون ﴿٢﴾ وبمعناه فى ردالمحتار ﴿٣﴾، وفى الهداية ٣: ٣٧٢ ويصير (الصبى) ماذونا بالسكوت كما فى العبد ﴿٤﴾

﴿١﴾ (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ٢: ١٦٦ كتاب الوديعة ومطالبه)

﴿٢﴾ (هدايه ٣: ٣٧١ كتاب الماذون فصل واذا اذن ولى الخ)

﴿٣﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله يدور بين نفع وضر) اما النفع المحض فيصح كقبوله الهبة والصدقة وكذا اذا آجر نفسه ومضى على ذلك العمل وجبت الاجرة استحسانا ويصح قبول بدل الخلع من العبد المحجور بغير اذن المولىٰ لانه نفع محض وتصح عبارة الصبى فى مال غيره وطلاقه وعتاقه اذا كان وكيلا.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ٥: ١٠١ كتاب الحجر)

﴿٤﴾ (هدايه ٣: ٣٧٢ قبيل كتاب الغصب)

وبمعناه فی ردالمحتار ۵:۱۲۵ ﴿۱﴾ وشرح المجلة ۵۴۳ ﴿۲﴾. وهوالموفق

مجنون د ایجاب او قبول د پاره اهل نه دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د زید دماغی توازن خراب دې، او اخوا دیخوا ګرځی راګرځی. او د بې حیایۍ وغیره خبرې کوی، تردې پورې چه وائي، چه زهٔ خدائي یم. او زمکه اسمان ما پیدا کړی دی. په دې حالت کښې زید یو څو کسانو لره راجمع کړل. او د خپلې لور چه نابالغه وه، نکاح ئې وکړه. اوس زید صحت مند شوې دې. او د خپلې لور په نکاح باندې پښیمانه دې. آیا د لیونتوب په وجه دغه دا نکاح منعقد شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ظاهر شاه دارالعلوم قاسمیه شعبه پیښور

الجواب: که د عقد نکاح په وخت د والد دماغی توازن خراب کیدل یقینی او مبرهن وو، نو دا نکاح به کالعدم او باطل شمارلې شی. کما فی التنویر بشرط حریة وتکلیف واسلام ﴿۴﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو اشتریٰ العبد وباع ساکتا عن اذنه وحجره کان ماذونا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵:۱۲۱ کتاب الماذون)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد خالد الآتاسی: فان اذن لهما الولی فهما فی شراء وبیع کعبد ماذون فی کل احکامه فیصیر ماذونا بالسکوت. (شرح المجلة للآتاسی ۳:۵۳۰ الماده : ۹۷۲)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله ولا ولایة لعبد وصغیر ومجنون) لانه لا ولایة لهم علی انفسهم فاولیٰ ان لا یثبت علی غیرهم ولان هذه ولایة نظریة ولا نظر فی التفویض الی هؤلاء...... واراد بالمجنون المطبق وهو شهر وعلیه الفتویٰ وفی فتح القدیر لا یحتاج الی تقییده به لانه لا یزوج حال جنونه مطبقا او غیر مطبق ویزوج حالة افاقته عن جنون مطبق او غیر مطبق لکن المعنی انه اذا کان مطبقا تسلب ولایته فتزوج ولا ینتظر افاقته وغیر المطبق الولایة ثابتة له فلا تزوج وتنتظر افاقته کالنائم الخ. (البحر الرائق ۳:۱۲۳ باب الاولیاء والاکفاء)

﴿۴﴾ الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۳۸ باب الولی)

ګواهان په مجلس کښې حاضر نه دی. بلکه د دیوال نه اخوا اوریدونکی دی. ددې نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی او ښځه په خپله نکاح تړی، او ایجاب او قبول هم خپله کوی، او دوۀ سړو لره د دیوال نه شاته کښینوی، چه مجلس کښې حاضر نه وی، البته ددوی دا خبری ضرور اوری، دا نکاح صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا ظفر الحق ازاد ناظم دارالعلوم حقانیه. ۲۷|۱۱|۱۹۸۶

الجواب: که په دې کور کښې صرف دا دوه کسان موجود وی، نو د شهادت د تحمل د صحیح کیدلو په وجه نکاح صحیح ده. (ماخوذ از ردالمحتار ۲:۳۷۴)﴿۱﴾. وهو الموفق

د جهیز معامله کول ایجاب او قبول نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه دیوې ځوانې جینۍ والدینو د جینۍ په مخکښې او د ګواهانو په مخامخ د جهیز وغیره معامله وکړه، لیکن دوه میاشتې پس والدین دغې جینۍ لره بل ځائي کښې ورکول غواړی، آیا دا نکاح صحیح کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: همیش ګل توره‌هیر صوابی. ۱۳/۳/۱۹۸۵

الجواب: که ددې جینۍ په اجازت سره د ګواهانو په مخکښې ایجاب وقبول یا په شهادت شرعیه سره ثابت شی ﴿۲﴾ نو دا معامله د نکاح ده ګنی نکاح نه ده.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ولا بد من تمییز المنکوحة عند الشاهدین لتنتفی الجهالة فان کانت حاضرة منتقبة کفی الاشارة الیها والاحتیاط کشف وجهها فان لم یروا شخصها وسمعوا کلامها من البیت ان کانت وحدها فیه جاز ولو معها اخریٰ فلا لعدم زوال الجهالة. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۲۹۵ مطلب الخصاف کبیر فی العلم)

﴿۱﴾ قال الفقیه عبید الله بن تاج الشریعة: النکاح ینعقد......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(قواعد فقه)﴿۱﴾. وهو الموفق

د نکاح وکیل دا وئیل " ما قبوله کړه" صحیح دي

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه یو سړی په مجلس نکاح کښې خپل وکیل مقرر کړو، مولوی صاحب وکیل ته ؤوئیل چه فلانۍ بنت فلانکي تا د زید دپاره قبوله کړه؟ وکیل په جواب کښې ؤوئیل چه آو ماته قبول ده، دري ځله ئې داسې ؤوئیل، مولوی صاحب ؤوئیل چه نا داسې ؤوایه چه ما دغه سړي دپاره قبوله کړې ده، وکیل بیا هغه الفاظ ووئیل. آیا په مخکښنو الفاظو سره نکاح منعقد کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوی سید محمد کوئټه بلوچستان

الجواب: دوکیل داجواب صحیح دي﴿۲﴾ لان الوکیل لم یقل لنفسی بل اراد النکاح

(بقیه حاشیه) بایجاب وقبول لفظهما ماض...... عند الشهود الخ.

(شرح الوقایة ۲: ۹،۶ کتاب النکاح)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (فلا ینعقد بقبول بالفعل کقبض مهر ولا بتعاط) قال فی البحر وهل یکون القبول بالفعل کالقبول باللفظ کما فی البیع قال فی البزازیة اجاب صاحب البدایة فی امرأة زوجت نفسها بالف من رجل عند الشهود فلم یقل الزوج شیئا لکن اعطاها المهر فی المجلس انه یکون قبولا وانکر صاحب المحیط وقال الامام مالم یقل بلسانه قبلت بخلاف البیع لانه ینعقد بالتعاطی والنکاح لخطره لا ینعقد حتی یتوقف علی الشهود.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۲۸۷ قبیل مطلب التزوج بارسال کتاب)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وینعقد ملتبسا بایجاب من احدهما وقبول من الآخر وضعا للمضی کزوجت نفسی او بنتی او موکلتی منک وبقول الآخر تزوجت، قال ابن عابدین: قوله کزوجت نفسی، اشارة الی عدم الفرق بین ان یکون الموجب اصیلا اوولیا او وکیلا...... ویقول الآخر تزوجت ای او قبلت لنفسی او لموکلی او ابنی او مؤکلتی.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۲۸۵ کتاب النکاح)

للموکل ولو سلم انه اراد النکاح لنفسه فکلامه ایجاب ولم یتحقق القبول فانعدم رکن النکاح فی حقه نعم وجد الایجاب للموکل وتحقق القبول له وکالة فی ذلک المجلس فوجد الرکن فی حق الموکل، والامر واضح﴿۱﴾. وهو الموفق

"د فلانکی لور فلانکي ته وئیلې ده" خطبه ده نکاح نه ده؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه یو سړی خپله لور یو هلک ته ؤبخله. نکاح ئې ؤنه تړله. بلکه دا ئې ؤوئیل "چه د فلانکئي لور مې فلانی ته وئیلې ده" اوس نکاح شوې ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... ۲۷/۱۲/۱۹۸۳

الجواب: بشرط صدق وثبوت دا معامله خطبه ده نکاح شرعی نه ده. لعدم وجود الرکن وهو الایجاب والقبول ولعدم وجود الشرط وهی الشهادة﴿۲﴾. وهو الموفق

د ایجاب او قبول الفاظ دري ځله وئیل ضروری نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین شرع متین دي مسئلې باره کښې چه نکاح خوان د

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واما اذا قال الوکیل هب ابنتک من فلان فقال الاب وهبت لا ینعقد النکاح مالم یقل الوکیل قبلت فاذا قال قبلت لفلان او قال قبلت مطلقا ففی الوجهین ینعقد العقد للموکل هکذا فی المحیط.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۹۸ الباب السادس فی الوکالة بالنکاح)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: واما رکن النکاح فالایجاب والقبول کذا فی الکافی...... واما شروطه فمنها الشهادة قال عامة العلماء انها شرط جواز النکاح هکذا فی البدائع.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۶۷ کتاب النکاح الباب الاول)

....

ایجاب او قبول الفاظ دري ځله وائي. آیا په یو کتاب کښ ددي استحباب یا سنت کیدل مذکور دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی اعظم خان جنوبی وزیرستان

الجواب: ددي الفاظو دري ځله تکرار نه ضروری دي او نه مستحب دي. بــل موهم لکون النکاح قبل المرة الثالثة ضعیفا ذا و هن کا لطلاق﴿۱﴾. وهو الموفق

د جینئ د پاره صرف جامو لیږلو سره نکاح نه کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلي باره کښ چه زید ناصر ته ؤوئیل چه خپله لور ماته راکړه. ناصر ؤوئیل چه د خپلوانو سره مشوره کولو نه پس به ئي درکړم. اوس زید بازار ته لاړو او د جینئ د پاره ئي جامي وغیره واخستلي. او د ناصر کور ته ئي ؤلیږلي. ناصر جامي واپس کړي لیکن زید ؤوئیل چه که مشوره ؤنشوه. نو زۀ به جامي واپس یوسم، چه کله ناصر مشوره وکړه، نو خپلوانو انکار وکړو. او د خپلوی ختمولو زورنه ئي ورکړه، ددي وجه نه ناصر د خپلي لور نکاح د بل سړي سره وکړه، او اوس وادۀ هم شوي دي، اوس بعضي خلق وائي، چه دا رشته صحیح نه ده، او اولاد ئي هم حرامی دي، اوس سوال دادي چه په دي کښ کومه یوه نکاح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا نور رحمٰن لانڈهی کراچی. ۲۹/۹/۱۹۸۵

الجواب: په دي صورت کښ ددي جینئ دا نکاح صحیح ده، حرامه او مکروه نه ده﴿۲﴾.

﴿۱﴾ وفی المنهاج: وائمة المساجد یؤخرون (الخطبة) عن العقد ویخالفون الحدیث والفقه، وکذا یکررون الایجاب والقبول من عند انفسهم وهذا موهم لکون النکاح قبل المرة الثالثة ضعیفا ذا وهن کالطلاق وکذا یعبرون عن الماضی المطلق بلفظ الماض البعید والماض القریب، ویعبرون عن اللفظ الواحد بالمعنیین وهذا احتیاط بارد.
(منهاج السنن شرح ترمذی ۴: ۲۶۳ باب ماجاء فی الخطبة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الشحنه: وینعقد بالایجاب والقبول ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لعدم النکاح والرضاء بالخطبة﴿۱﴾. ټول اولاد ئي حلالی دي. وهو الموفق

ناکح (نکاح تړونکې) ګواه جوړیدي شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دي مسئلي باره کښ چه د زید او هندي په مینځ کښ دهغوی مور پلار د ګواهانو په مخکښ عقد نکاح وکړه، د نکاح په وخت کښ دواړه بالغ وو. او رخصتی ؤنشوه، تقریبا اووه کاله پس د زید کشر ورور او هنده چرته لاړل. او چرته په یو ښار کښ ئي نکاح وکړه، چه په هغي کښ دا کشر ورور او هنده خپله شریک وو، او یو ګواه او یو ناکح یعنی نکاح تړونکې وو، آیا دا نکاح صحیح ده؟ آیا ناکح ګواه جوړیدي شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد حلیم شاه ګجرات مردان. ۱۱/۷/۱۹۸۵

الجواب: که د زید او هنده په مینځ کښ نکاح شوي وی، او یقینی یا شهادت شرعیه سره ثابته وی، نو دا دویمه نکاح کالعدم ده. لقوله تعالی (والمحصنٰت من النساء)﴿۲﴾ او که دا عقد نکاح ثابت نه وی، نو دا دویم عقد صحیح دي، ځکه چه نکاح خوان صرف معلم وی، عاقد یا وکیل نه وی، فیصیر الشاهد. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) بلفظین یعبر بهما عن الماضی...... ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین مسلمین الخ.
(لسان الحکام فی معرفة الاحکام ۳۱۵ الفصل الثالث عشر فی النکاح)

﴿۱﴾ قال الوهبة الزحیلی: الخطبة مجرد وعد بالزواج ولیست زواجا، فان الزواج لا یتم الا بانعقاد المعروف، فیظل کل من الخاطبین اجنبیا عن الآخر، ونص قانون الاحوال الشخصیة السوری: الخطبة والوعد بالزواج وقرأة الفاتحة وقبض المهر وقبول الهدیة لا تکون زواجا.
(الفقه الاسلامی وادلته ۹: ۶۴۹۳ مقدمات الزواج)

﴿۲﴾ قال الجلال السیوطی: وحرمت علیکم (المحصنت).. (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په نکاح کښې یو سړې د طرفینو قائمقام کیدې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید خپله نابالغه لور د ګواهانو په مخکښې عمرو ته د بکر دپاره په دې الفاظو ایجاب وکړو. چه ما خپله لور فاطمه لره بکر ته په نکاح سره ورکړه. عمرو ؤوئیل چه ما فاطمې لره د بکر دپاره په اتۀ سوه مهر مقررولو سره قبوله کړه، اوس څه حکم دې؟ چه دا نکاح په دې الفاظو سره د بکر دپاره منعقد کیږی؟ که عند الشرع دا نکاح منعقد شوې وی، نو بغیر د شرعی جدایئ نه د بکر نه سوا د بل چا سره ئې نکاح کیدې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الله. ۱۲/۳/۱۹۷۵

الجواب: واضحه دې وی چه د زید کلام توکیل دې، ایجاب نه دې، پس که عمرو دا وائي، چه ما دا فلانکۍ فلانې ته په نکاح کړه، نو دا کلام به د ایجاب او قبول دواړو قائمقام وو، او نکاح به صحیح وې، دغه رنګې دا کلام چه فلانکۍ مې د فلانې دپاره قبوله کړه، نو دا هم د ایجاب او قبول دپاره قائمقام دې. او دا نکاح به منعقد وی.

کما فی الدر المختار: وینعقد ایضا بما ای بلفظین وضع احدهما له للمضی والآخر للاستقبال او للحال فالاول الامر کزوجنی اوزوجینی نفسک او کونی امرءتی فانه لیس بایجاب بل هو توکیل ضمنی فاذا قال فی المجلس زوجت او قبلت او بالسمع والطاعة بزازية قام مقام الطرفین. (هامش ردالمحتار ۲:۱۱ ۳، ۳۱۲)﴿۱﴾

پس ددې ښځې بل ځائې نکاح کول حرامه ده. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) ای ذوات الازواج (من النساء) ان تنکحوهن قبل مفارقة ازواجهن حرائر مسلمات کن اولا.

(التفسیر الجلالین ۱:۸۲ پاره: ۵ سورة النساء آیت: ۲۴)

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۸۵، ۲۸۶ کتاب النکاح)

په خطبه او نکاح کښې د ایجاب عرفی مطلب او د هغې نه پس د دویم عقد حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید خپله نابالغه لور د بکر نابالغ ځوی ته په دې الفاظو ایجاب کولو سره ورکړه، چه زما نابالغه لور فلانۍ د بکر نابالغ ځوی فلانې ته ورکړه. او بکر دخپل ځوی دپاره د عامو خلقو په مخکښې قبول کړه. او دا کار د جمات د امام په مشرۍ کښې ؤشو، د قانون مطابق رجستری ؤنشوه، او د جمات امام ته تحفه هم پیش کړې شوه، دوه کاله پس دا جینۍ ؤتښتولې شوه، او د یوې میاشتې نه ئې هیڅ پته نه لګی، آیا شرعا ایجاب او قبول سره نکاح منعقد کیږی؟ که دې الفاظو سره نکاح صحیح کیږی، نو دې جینۍ سره نکاح ثانی کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۲۶/۹/۱۹۷۲

الجواب: که ستاسو په اصطلاح او رواج کښې د ایجاب نه مراد خطبه او رضامندی وی، نو دا معامله د نکاح شرعی نه ده او که د ایجاب نه مراد نکاح وی، نو دا معامله د نکاح ده﴿۱﴾، او ددې جینۍ سره دویم عقد باطل او کالعدم دې. وفی الهندية اما رکنه فالایجاب والقبول واما شروطه فمنها العقل والبلوغ. ومنها الشهادة باختصار. (۱:۲۸۴)﴿۲﴾ وهو الموفق

وړوکی جینۍ د نکاح شهرت او دعوی او د مدعا علیها د انکار مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې مړشو

﴿۱﴾ قال القاضی القضاة محمد بن الحسینی: ولو قال بزنی داری فبعض مشائخ بلخ جعلوه استفهاما وبعضهم امراء قال عمر النسفی ومعنی الامر راجح فی العرف قلت فهذا یدل علی ان بالاستفهام لا ینعقد وفی شط قال له هل اعطیتها فقال اعطیت فان کان المجلس للوعد فوعدوان کان لعقد النکاح فنکاح. (فتاویٰ انقرویه ۱:۳۳ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۶۷ کتاب النکاح الباب الاول)

او د لسو کالولور او ښځه ئې پریخودل، چه جینۍ بالغه شوه نو یو سړي دعوی وکړه، چه دا جینۍ زما د ځوی ښځه ده، ځکه چه د دې پلار په ژوند کښ د دوؤ ګواهانو په مخکښ زما ځوی ته په نکاح راکړې وه، او ګواهان اشرف او شبیر د جینۍ پلار سره بُغض ساتلو، او جینۍ وائي، چه نه ماته ددې نکاح علم شته، او نه ئې منم، او نه زما پلار وصیت کړې وو، لهذا زۀ دا دروغ دعوی نه منم، اوس سوال دادې چه:

۱) د جینۍ دا انکار به منظور وی او که نه؟

۲) که منظور وی، نو آیا په اخوا دیخوا خبرو سره یا په مشهور ګواهانو سره به نکاح ثابتیږی که نه؟

۳) ددې دوؤ مذکوره ګواهانو تکذیب نور دوه ګواهان کولې شی او که نه؟

۴) آیا جینۍ په دې مقدمه کښ خپلې مورلره یا بل چالره وکیل جوړولې شی؟

۵) د ګواه نه موجودیدلو په صورت کښ جینۍ قسم خوړولې شی او که نه؟

المستفتی: مولانا عبد الرشید راولپنډی

الجواب: ۱) جینۍ د نکاح نه انکار کوی، او دا شرعی مدعی علیها ده، پس که مدعی د شرع مطابق خپله دعوی ثابته کړی، نو د جینۍ انکار به قضاءً رد کړی شی، او نکاح به ثابته شی، ګنی نکاح نه ثابتیږی﴿۱﴾.

۲) د نکاح د اثبات دپاره دوه ګواهان داسې پکار دی، چه هغوی د نکاح په مجلس کښ حاضر وو، یا په مجلس کښ حاضر خو نه وو لیکن په خپلو غوږونو ئې د مجلس ایجاب او قبول اوریدلې وی، یا د حاضر کسانو نه ئې اوریدلې وی، هسې د عام مشهورتیا او افواګانو هیڅ اعتبار نشته.

قال الشامی ناقلا عن جامع الفصولین الشهادة بالسماع من الخارجين من بين جماعة حاضرين فی بيت عقد النكاح بان المهر كذايقبل لا ممن ....

﴿۱﴾ قال الفقيه ابو الليث السمرقندی: لوادعی رجل علی امرأة نكاحا وهی تجحده واقام الرجل بينة عليها يقضی له بالنكاح. (فتاوی النوازل ۱۸۹ مسائل متفرقة كتاب النكاح)

سمع من غيرهم ﴿۱﴾.

۳) څه وجه به پیش کوی، یا به داسې جرح بیانوی چه هغې سره د ګواهانو تکذیب ثابت شی، نو کیدې شی چه دهغوی ګواهی قاضی واپس کړی، دا خبره هم دهغې موقع او مجلس سره تعلق ساتی، د قاضی په مخکښ چه کوم شهادت پیش کولې شی، دهغې د واپس کولو او قبلولو به هم هغه وخت کښ پته لګی.

۴) جینۍ خپلې مقدمې چلولو دپاره هرچا لره وکیل جوړولې شی.

۵) خوړلې شی. وهو الموفق

مفرور او مجرم سړې په نکاح کښ ګواه جوړیدلې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښ چه د انعام او روخانئۍ په مینځ کښ نکاح وشوه، مالره جینۍ وکیل جوړ کړې وو. مولوی صاحب چه کله نکاح ؤتړله، نو روستو ماته پته ؤلګیدله، چه په ګواهانو کښ یو سړې مفرور او مجرم دې، ددې وجه نه ما نکاح ناجائز کړه، دا نکاح شوې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی شائسته خان ګاړو نوشهره. ۱۹/۹/۱۹۸۵

الجواب: مفرور ګواه جوړیدلې شی﴿۲﴾. ددې په وجه نکاح لره ناجائز کول او کالعدم کول غلط او بې فائدې دی. وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۴۱۷ قبيل باب القبول وعدمه)

﴿۲﴾ وفی الهندية: ويصح بشهادة الفاسقين والاعميين كذا فی فتاویٰ قاضی خان وكذا بشهادة المحدودين فی القذف وان لم يتوبا كذا فی البحر الرائق وكذا يصح بشهادة المحدود فی الزنا كذا فی الخلاصة الخ.

(فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲۶۷ كتاب النكاح الباب الاول)

د بالغې جينۍ نه اجازت غوختل اوپه توكيل باندې د ګواه مقررولو معروفه طريقه

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه د پلار دپاره د بالغې لور نه د نكاح اجازت غوختل ضروری دی او که نه؟ که ضروری وی نو ددې طريقه به څنګه وی. يوه طريقه خو داده، چه بعضې علماء دوه ګواهان جينۍ ته ؤليږی. او د ګواهانو په مخکښې جينۍ بهر يو سړې دخپل نفس باره کښې د ايجاب او قبول دپاره وكيل مقرر کړی. بيا دوه ګواهان بهر راشی او ګواهی ورکوی. د محلې د امام په مخکښې آيا ددې وکيل ايجاب او قبول صحيح دې، هرکله چه دننه دغې دوؤ ګواهانو د دې موکله ښځې سره مخامخ خبرې نه وی کړې؟ يا بله څه طريقه هم شته؟ بينوا توجروا جزاكم الله احسن الجزاء فى الدارين وعم فيوضاتكم

المستفتى : عبدالله

الجواب: چونکه عاقله بالغه مجبوروليې نشی. لهذا د نكاح نه مخکښې اجازت غوختل يا روستو خبرول ضروری دی﴿۱﴾، او په دې اجازت باندې ګواهان جوړول مستحب دی. دې دپاره چه د ضرورت په وخت کښې پريشانی نه وی﴿۲﴾، او هم دا ښه طريقه ده. وهو الموفق

د شرعی مجبورئ نه بغير د جينئ نكاح كولونه پس نه وادهٔ كول مكروه دی

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زيد ځوانه

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: ولا تجبر البالغة البكر على النكاح لانقطاع الولاية بالبلوغ فان استأذنها هو اى الولى وهو السنة او وكيله اورسوله او زوجها وليها واخبرها رسوله او فضولى عدل الخ. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۴ باب الولى)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: واعلم انه لا تشترط الشهادة على الوكالة بالنكاح بل على عقد الوكيل وانما ينبغى ان يشهد على الوكالة اذا خيف جحد الموكل اياها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۵۲ مطلب فى الوكيل والفضولى فى النكاح)

جينۍ د ځلورو پنځو كالو نه کښينولې ده، او نكاح كولو نه پس رخصتی نه ورکوی، ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى : محمد نواز كرنالوى بهكر ميانوالى

الجواب: د شرعی مجبورې نه بغير دا عمل مكروه دې.

كما يقتضيه قوله عليه السلام فان بلغ ولم يزوجه فاصاب اثما فانما اثمه على ابيه، ومن بلغت ابنته اثنتى عشرة سنة ولم يزوجها فاصابت اثما فاثم ذلک عليه (مشكواة شريف ۲: ۲۷۱ باب الولى)﴿۱﴾

ليکن دا په حقيقت کښې ارشاد دې چه ددې پريخودونکې فاسق نشی کيدې.

وهو الموفق

د نكاح شغار حكم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه (۱) يو سړې بل ته ؤوئيل چه ته خپله لور زما ځوی ته راکړه، او زهٔ به خپله لور ستا ځوی ته درکړم، او دا معامله د مهر د ذکر نه بغير وی، صرف دا ؤوائي، چه دا جينۍ به ستا د لور په بدله کښې درکړم، ددې څه حکم دې؟

(۲) او که په دې صورت کښې دا ؤوائي، چه زما د لور مهر مثل دوه زره روپۍ دې، او ستا د لور مهر هم دوه زره روپې دې، بيا خپلو کښې يو بل ته دوه زره روپۍ ورنکړی، ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى : قاضى محمد بلوچستانى. ۵/۱۱/۱۹۸۵

الجواب: (۱) دا نكاح شغار ده، او نكاح شغار منعقد ده، او شرط باطل دې، او مهرمثل واجب دې (هنديه) ﴿۲﴾.

(۲) دا نكاح ، نكاح شغار نه دې، لوجود الامهار. وهو الموفق

﴿۱﴾ رواهما البيهقى فى شعب الايمان.

(مشكواة المصابيح ۲: ۲۷۱ باب اعلان النكاح والخطبة والشرط)

﴿۲﴾ وفى الهندية: وقد قالوا ان نكاح الشغار منعقد...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د نکاح شغار حکم او د مهر مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه پښتنانۀ خلق چه په بدل نکاح کوی، آیا دا صحیح ده؟ او په دې صورت کښې د مهر څه حکم دې؟ ځکه چه اکثر مهر نه مقرروی، او د اختلاف په صورت کښې د طلاق څه مسئله ده، که یوې ته طلاق ورکړې شی، نو آیا بله به خود بخود طلاقیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: متعلم دار العلوم حقانیه. ۱۸/۱۲/۱۹۸۳

الجواب: د نکاح په بدل کښې نکاح صحیح ده، او د بدل په ځائي به مهر مثل یا مهر مسمی لازم وی﴿۱﴾، او که په دې دواړو کښې یوه ناشزه وی، یا یوې ته طلاق ورکړې شی، نو دا لازم نه راځی، چه دویمه ښځه هم طلاقه شی، دا د ناپوهی کارونه دی.﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) والشرط باطل ولکل واحدة من المرأتین مهر مثلها وهو ان یزوج الرجل ابنته علی ان یزوجه الزوج اخته او امه علی ان یکون بضع کل واحدة منها صداق الاخریٰ کذا فی الجوهرة النیرة. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۳۰۳ الباب السابع فی المهر)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: قد قالوا ان نکاح الشغار منعقد والشرط باطل ولکل واحدة من المرأتین مهر مثلها وهو ان یزوج الرجل ابنته علی ان یزوجه الزوج اخته اوامه علی ان یکون بضع کل واحدة منهما صداق الاخریٰ.

(فتاوی عالمگیریه ۱: ۳۰۳ قبیل الفصل الثانی فیما یتأکد به المهر والمتعة)

﴿۲﴾ قال الشیخ محمد خالد الآتاسی: عن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله ﷺ لا ضرر ولا ضرار، وهو من جوامع الکلم وفی الفرق بین الضرر والضرار اقوال قیل: الضرر الحاق مفسدة بالغیر مطلقا، والضرار الحاق مفسدة بالغیر علی وجه المقابلة ای کل منهما یقصد اضرار صاحبه من غیر جهة الاعتداء بالمثل الخ. (شرح المجله ۱: ۲۴ الماده: ۷ الضرر لا یکون قدیما)

"یوه لور ستا او یوه ستا" نه نکاح ده نه خطبه

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې په مرض الموت کښې خپلو دوؤ لونړو لره د ترۀ ځامنو ته داسې وئیلو سره ورکړې چه یوه ستا او یوه ستا. چه دې ته په پښتو کښې بخنه وائي. اوس جینکی د پلار ددې وینا باوجود بل ځائي کښې نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد امین چهوټا لاهور صوابی ۱/۳/۱۹۸۴

الجواب: په ظاهر کښې دا معامله نه د نکاح ده او نه خطبه﴿۱﴾. دا جینکی آزادې او خودمختارې دی. وهو الموفق

دروغو سره جینی د چا په نوم کولو سره نکاح نه کیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د زید لور د زید نه په نکاح سره ؤغوختله. زید ؤوئیل چه ما دا د بکر ورور ته ورکړې ده، بلکه یو ځل ئې ؤوئیل چه ما هم د بکر ورور ته ورکړې ده، ورکړې ده، ورکړې ده، بیا یو ځل زید مونږ ته ؤوئیل چه ما لور د بکر ورور ته نه ده ورکړې، بلکه په اصل کښې ما ستاسو نه پټوله، ددې وجه نه که اوس تاسو غواړئ، نو زۀ درکولو ته تیار یم. آیا ددې اقرار نه پس دا جینی به زمونږ هلک دپاره جائز وی، چه اول ئې د بکر ورور ته ورکړې وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله مسلم دوست شموزی مردان ۱۲ رمضان ۱۴۱۵ هـ

الجواب: په دې صورت کښې د زید دا الفاظ ایجاب نه دې، بلکه دروغ دی، ستاسو د هلک دپاره جائز ده﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۸۷ قبیل مطلب التزویج بارسال کتاب)

﴿۲﴾ یدل علیه ما قال الشیخ طاهر بن عبد الرشید: رجل خطب بنتا صغیرة لرجل منه لاجل ابنه الصغیر وقال ابو البنت زوجتها من فلان قبل هذا ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په نکاح کښې د جینۍ د طرف نه د ګیرې خرڅولو شرط لګولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه بعضو ځايونو کښې ښځې د نکاح دپاره دا شرط لګوی. چه ګيره دې ؤخرائي، په شريعت کښې ددې شرط څه حيثيت دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: مفقود العنوان ۱۹۷۸/۱۰/۹

الجواب: دا هغه خلق دی. چه شهوت لره په شريعت باندې فوقيت ورکوی، او د اعذارباره په ذريعې سره په خپلو نفسونو پرده اچوی، اعاذنا الله منها، په نيک خاندانونو او نيکو ښځو سره نکاح کولو کښې دا خطرات نه وی.﴿۱﴾ وهو الموفق

د نکاح ثبوت په شهادت شرعی باندې دې. د نکاح خوان انکار نامنظوردې

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه د ډيرو خلقو په قسم سره دا بيان دې، چه د کفرۍ نکاح مولوی رحمت د اسلام نومې سړې

(بقيه حاشيه)فلم يصدقه الخاطب فقال ان لم اكن زوجتها من فلان فقد زوجتها ابنك فلان وقبل ابوالابن بمحضر من الشهود ان لم يكن زوجها من احد قبل هذا صح النكاح.

(خلاصة الفتاوىٰ ۲:۳ کتاب النکاح)

﴿۱﴾ قال الملا على قارى: (قوله فاظفر بذات الدين) اى فز بنكاحها قال القاضى رحمه الله من عادة الناس ان يرغبوا فى النساء ويختاروها لاحدى اربع خصال عدها (المال، والحسب، والجمال، والدين) واللائق بذوى المروات وارباب الديانات ان يكون الدين من مطمح نظرهم فيما يأتون ويذرون لا سيما فيما يدوم امره ويعظم خطره.

(مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ۶:۱۸۸ کتاب النکاح الفصل الاول)

...... په نکاح کښې داسې قسم شرائط باطل اوناجائز وی بلکه بعضې ځل د (استخفاف) په صورت کښې د کفر خطره هم وی، بهرحال دا شرط باطل او نکاح صحيح ده خوچه د نکاح لوازمات پوره کړې شوی وی........(از مرتب)

سره ترلې ده، د کفرۍ پلار هم دا خبره کوی، ليکن نکاح خوان مولوی رحمت ددې نکاح نه منکر دې، په آخر کښې د کفرۍ نکاح بل ځائي کښې وکړې شوه. اوس څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: معززين موچی ګړهی.

الجواب: طرفين دې باقاعده يو مستند عالم سره ملاؤشی اوتصفيه دې وکړی، يعنی اسلام به د نکاح دعوی وکړی، او په هغې باندې ګواهی قائمولو نه پس به دا جينۍ اسلام ته حواله کړې شی﴿۱﴾. اګر که نکاح خوان انکاری وی، دهغه انکار به نامنظور اوګرځولې شی. وهو الموفق

په نکاح باندې د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يوسړې د خپلې نابالغې لور نکاح خپله د دوؤ ګواهانو مخکښې په دې الفاظو ؤتړله، چه ما د زرو روپو په بدله کښې د خپلې لور نکاح د فلانی سړې سره وکړه، رواجی رجسټريشن ئې ونکړو، يو کاله پورې ښځه خاوند ؤسيدل، ددې نه پس جينۍ مروره شوه او کراچۍ ته ؤتښتيدله، پلار ئې هم کراچۍ ته لاړوو او د جينۍ نکاح چه اوس بالغه شوې ده، د باقاعده رجسټريشن په ذريعه ئې د بل سړې سره وکړه، اوس سوال دادې، چه:

(۱) ؤرومبۍ نکاح صحيح وه او که نه؟ (۲) دويمه نکاح شوې ده او که نه؟

﴿۱﴾ قال القاضى القضاة محمد بن الحسينى: لو ادعى النكاح بمحضر من الشهود لابة وان يذكر سماع الشهود كلام المتعاقدين اذالعلماء اختلفوا فى ان سماع الشهود كلامهما هل هو شرط والاصح انه شرط فلا بد من ذكره لتصح الدعوىٰ.

(الفتاوىٰ انقروية ۲:۱۱۴ العاشر فى دعوى النكاح وفساده)

وقال : واذا ادعت المرأة على رجل نكاحا فجحد فاقامت البينة يقضى لها ولا يفسد النكاح بجحوده. (فتاوىٰ انقروية ۱:۳۷ الباب الثانى فى الوكالة فى النكاح والفضولى)

(۳) که ؤرومبی نکاح صحیح وی، او دویمه صحیح نه وی، نو د دویمې نکاح د مهر به څه کیږی؟

(۴) د جینۍ د والد متعلق څه حکم دی؟ هغه وائي چه زما لور ده ما صحیح کار کړې دی.

(۵) ددې دویم ناکح (نکاح کونکي) څه حکم دی، هرکله چه هغه ته معلومه وه، چه دا منکوحه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: بخشش الهی کیمل پور اټک. ۲۷/۴/۱۹۷۰

الجواب: (۱) که د ګواهانو په مخامخ هم په هغه مجلس کښې قبول هم شوی وی نوؤرومبې نکاح بغیرد شک اوشبهې نه صحیح ده لوجود الرکن والشرط﴿۱﴾

۲) که اوله نکاح باقی وی، د طلاق په ذریعې یا د حاکم د تنسیخ په ذریعې نه وی ختم شوې، نو دویمه نکاح نه ده شوې﴿۲﴾.

۳) د امام اعظم رحمه الله په نزد د شبهة العقد په وجه سره حد ساقط دی، لهذا مال به په هغه واجب وی﴿۳﴾.

۴) د نکاح اول په وجه دا سړې (پلار) فاسق دی، په شرط ددې چه حلال ئې نه ګنړی ګنی کافر دی.

۵) که حلال ئې نه ګنړی نو فاسق دې ګنی کافر دی، په شرط ددې چه اوله نکاح باقی وی﴿۴﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال عبد الله بن مودود الموصلی: ورکنه الایجاب والقبول ...... ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور رجلین او رجل وامرأتین فالشهود شرط لقوله علیه السلام لانکاح الا بشهود. (الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۰۹ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذلک المعتدة. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات التی یتعلق بها حق الغیر)

﴿۳﴾ قال فی الشامیة: وفی الخانیة لو تزوج محرمه لاحد علیه عند الامام وعلیه مهر مثلها بالغا مابلغ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۸۱ مطلب فی النکاح الفاسد)

﴿۴﴾ قال الملا علی قاری: ان استحلال المعصیة ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په نکاح باندې نکاح کول حرام او خطبه باندې خطبه کول مکروه تحریمی دی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د خپلې خور نکاح د قرآن مجید په وعدې سره وکړه، او په مهر کښې ئې پنځه کناله زمکه د خور په اجازت سره واخستله. اوس ددې سړې کشر ورور ددې جینۍ رشته بل ځائي کښې وکړه. اوس کومه یوه نکاح باقی ده او کومه باطل ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: قمر علی کوهاله راولپنډی. ۲۶/۸/۱۹۷۵

الجواب: که د اول خاطب سره باقاعده د نکاح عقد شوې وی، نو بل ځائي په نکاح ورکول به حرام وی، قال الله تعالی (والمحصنت من النساء)﴿۱﴾ او که نکاح نه وی شوې، نو بل ځائي کښې نکاح کول مکروه تحریمی ده.

لحدیث لا یخطب الرجل علی خطبة اخیه﴿۲﴾ وفی الخیریة علی ......

(بقیه حاشیه) صغیرة کانت او کبیرة کفر، اذا ثبت کونها معصیة بدلالة قطعیة وکذا الاستهانة بها کفر بان یعدها هینة سهلة ویرتکبها من غیر مبالاة بها ویجریها مجری المباحات فی ارتکابها.

(شرح فقه الاکبر للقاری ۱۵۲ ومنها استحلال المعصیة)

﴿۱﴾ (سورة النساء پاره: ۵ آیت: ۲۴)

﴿۲﴾ رواه البخاری فی کتاب النکاح باب لا یخطب علی خطبة اخیه حتی ینکح او یدع (حدیث رقم: ۵۱۴۴) ومسلم فی باب تحریم الجمع بین المرأة وعمتها فی النکاح (حدیث رقم ۱۴۰۸) وفی باب تحریم الخطبة علی خطبة اخیه حتی یأذن او یترک (۱۴۱۳) وابوداؤد فی باب کراهة ان یخطب الرجل علی خطبة اخیه (۲۰۸۰) والترمذی فی باب ماجاء ان لا یخطب الرجل علی خطبة اخیه (۱۱۳۴) والنسائی فی باب النهی ان یخطب الرجل علی خطبة اخیه (۶: ۷۱) وابن ماجة فی باب لا یخطب الرجل علی خطبة اخیه (۱۸۶۷) ومالک فی باب لا یخطب علی خطبة اخیه (۲: ۵۲۳) واحمد فی مسنده (۲: ۴۲)

هامش تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱ : ۴۱ قال فی الذخیرة کما نهی النبی صلی الله علیه وسلم عن الاستیام علی سوم الغیر نهی عن الخطبة علی خطبة الغیر وان من ارتکب محرما لم یرد فیه حد مقرر یعزر و کما تحرم الخطبة تحرم اجابتها لانه اعانة علی المعصیة فیعزر المجیب القادر علی المنع﴿۱﴾. وهوالموفق

زمونږ په عرف کښې د "درمې کړه" الفاظ کنائي دي.
او د نکاح او خطبه دواړو احتمال لري

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه نیکه د خپلې نوسې نکاح د خپل نوسې سره په دې الفاظو سره وکړه، چه ماد فلانې لور د فلانې ځوی واقف خان ته وکړه. په دې مجلس کښې دهغه ځامن هم موجود وو. او د جینۍ والد هم دا اقرارکوی، چه نیکه دا الفاظ وئیلې وو، نور رشته دار هم موجود وو. او ټولو وئیلې وو، چه ډیره ښه ده، او یو بل ته ئې مبارکی ورکړه، په دې طریقې سره د شریعت مطابق نکاح منعقد کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل مست خان مانکی صوابی ۸/۱/۱۹۶۹

الجواب: که د نیکه مراد نکاح وی، چه دا جینۍ به بغیر د طلاق وغیره نه بل چاته نشی ورکولې، او دا جینۍ به د مهرمثل حقداره وی، او نیکه په خپل مراد باندې گواهان خبر کړې وو، یا نورې نښې د نکاح موجود وې، نو په دې صورت کښې دا جینۍ ددې هلک په نکاح کښې داخل شوې ده، او که د نیکه مراد او مقصد دا وو، چه دې جینۍ لره ما ددې هلک په نوم کړه، او دهٔ دپاره مې متعین کړه، دې دپاره چه نور رشته دار وغیره ددې په طمع او امید نه وی، نو په دې صورت کښې دا نکاح نه ده، وجه داده، چه "ورمې کړه" الفاظ د کنایه دی، او د نکاح او خطبه دواړو احتمال لری، پس بغیر ددې شرطونو نه په دې لفظ سره نکاح نه کیږی. فی الدر المختار: .....

﴿۱﴾ (الفتاویٰ الخیریة علی هامش تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱ : ۴۱ کتاب النکاح)

وانما یصح بلفظ تزویج ونکاح لانهما صریح وما عداهما کنایة وهو کل لفظ وضع لتملیک عین﴿۱﴾ وقال الشامی فی ردالمحتار ۲ : ۲۷۰ هذا حاصل ما فی الفتح وملخصه: انه لا بد فی کنایات النکاح من النیة قرینة او تصدیق القابل للموجب وفهم الشهود المراد واعلامهم به انتهیٰ﴿۲﴾ ویدل علی کونه محتملا ما فی الهندیة ۱ : ۲۸۸ وفی مجموع النوازل عن الشیخ الامام نجم الدین النسفی ان فی قوله "دختر خویش مراده" لا بد ان یقول "بزنی" ویقول الآخر "بزنی دادم" فاما بدون ذلک فلا ینعقد النکاح عند بعض المشائخ وعند بعضهم ینعقد فلا بد من هذه الزیادة لتصیر المسئلة متفقا علیها کذا فی المحیط انتهیٰ﴿۳﴾

او زمونږ په عرف کښې وئیلې کیږی چه فلانئ فلانی ته ورکړې شوې ده لیکن نکاح ئې نه ده شوې. وهوالموفق

په خطبه او وعده کښې ئې د یو نوم واخستلو.
او په نکاح کښې دویم نوم...؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې خپله نابالغه لور ورکولو وعده وکړه، او بل طرف ته هلک هم نابالغ وو، او دواړو ته منظوره وه، لیکن چه کله نکاح د گواهانو په مخکښې تړلې کیده، نو د جینۍ پلار د مشرې نابالغې جینۍ نوم واخستلو، د هلک پلار هم د خپل مشر ځوی دپاره منظور کړه، ځکه چه هغه هم نابالغ وو، په دې خبره مونږ په بله ورځ خبر شو، اوس سوال دادې، چه ددې مشرې نابالغې جینۍ نکاح وشوه که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: میاں اشتیاق احمد تله کنگ چکوال. ۲۲ شعبان ۱۴۰۲ھ

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۲۹۰ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۲۹۲ قبیل مطلب هل ینعقد النکاح بالالفاظ المصحفة)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱ : ۲۷۱ الباب الثانی فیما ینعقد به النکاح ومالا)

الجواب: د کومې جینۍ نوم چه اخستلې شوې دې، دهغې سره نکاح منعقد شوې ده. (هندیه ۲۸۷/۱)﴿۱﴾. وهو الموفق

په نکاح کښې د جینۍ په ځائې د جینۍ د مور نوم اخستل

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د نکاح په وخت د جینۍ د نوم په ځائې د مور نوم اخستلې شوې دې، آیا دا نکاح صحیح شوه او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سعدالله جلبئ صوابی ۲۳ ذی قعده ۱۳۹۴ھ

الجواب: بشرط صدق و ثبوت که ددې عقد نه مخکښې یا روستو په صحیح نوم سره نکاح اونه شی. نو دا عقد کالعدم او واجب الاعاده دې.

کما فی شرح التنویر : وکذا لو غلط فی اسم بنته (هامش ردالمحتار ۲: ۳۷۸)﴿۲﴾

قلت: والعقد علی ام المخطوبة لم یصح لعدم الاصالة ولا الوکالة ولعدم الاجازة. فافهم

په نکاح کښې ئې نیم نوم صحیح واخستلو او نیم نوم ئې غلط. ددې نکاح څه حکم دې؟

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د یوې جینۍ نیکه چه د نکاح دپاره وکیل وو، د نکاح کړې شوې جینۍ اصل نوم جمال بانو دې، او نیکه ئې واحد سړې دې، چه هغې ته جمال آراء وائي، او خپله جینۍ او مور او پلار ئې د جمال آراء د نوم نه انکار کوی، د نکاح په وخت

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولو کان لرجل بنتان کبریٰ اسمها عائشة وصغریٰ اسمهافاطمة واراد ان یزوج الکبریٰ وعقد باسم فاطمة ینعقد علی الصغریٰ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۰ قبیل الباب الثانی فیما ینعقد به النکاح ومالا)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۹۸ قبیل فصل فی المحرمات)

کښې ئې جمال آراء ؤلیکلو، اوس دا نکاح به دوباره کیږی او که نه؟ او که ؤړومبې نکاح شرعا منعقد شوې نه وی نو ګناه د چا ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الاحد میاں مردان ۲۴/۸/۱۹۷۲

الجواب: که دا جینۍ د "جماله" په نوم سره مشهوره وی، او اختلاف په تتمه کښې وی، نو یقینی طور باندې د فساد نکاح فیصله کول صحیح نه دی. البته احتیاطا تجدید نکاح ضروری ده، او که دا جینۍ د جمال بانو په نوم سره مشهوره وی، او نیکه ئې په غلط فهمئ کښې مبتلاء وی، نو اوله نکاح کالعدم ده، او دویمه نکاح ضروری ده، (لعدم رفع الجهالة)﴿۱﴾ او د لاعلمئ په وجه فساد سره ګناه نه کیږی. وهو الموفق

په لور سره د نیولې شوی جینۍ دپاره د پلار د نوم مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زیب النساء لره د پیدائش نه لس ؤرځې پس چا واخستله، او هغه ئې ؤساتله، د جینۍ د اصل پلار نوم اسلام او د مور نوم ئې خدیجه دې، د پالونکی نوم هاشم دې،

﴿۱﴾ وفی الهندیة: جاریة سمیت فی صغرها باسم فلما کبرت سمیت باسم آخر قال تزوج باسمها الاخر اذا صارت معروفة باسمها الآخر والاصح عندی ان یجمع بین الاسمین کذافی الظهیریة رجل له بنت واحدة اسمها فاطمة قال لرجل زوجت منک ابنتی عائشة ولم تقع الاشارة الی شخصها ذکر فی فتاویٰ الفضلی انه لا ینعقد النکاح الخ.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۰ قبیل الباب الثانی فیما ینعقد به النکاح ومالا)

وقال العلامة الافندی: وظاهره انها لو جرت المقدمات ای مقدمات الخطبة علی معینة وتمیزت عند الشهود ایضا یصح العقد وهی واقعة الفتویٰ لان المقصود نفی الجهالة وذلک حاصل بتعینها عند العاقدین والشهود وان لم یصرح باسمها کما اذا کانت احداهما متزوجة ویؤیده ماسیأتی من انها لو کانت غائبة وزوجها وکیلها فان عرفها الشهود علموا انه ارادها کفی ذکر اسمها والا لا بد من ذکر الاب والجد.

(ردالمحتار ۲: ۳۶۷ کتاب النکاح قوله ولا المنکوحة مجهولة)

چه کله جینۍ د شلو کالو شوه، نو د نکاح په وخت د اصل پلار نوم په ځائي د پالونکي نوم هاشم واخستلې شو، اوس سوال دادې، چه دا نکاح صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نور محمد ګلبرګ نمبر ۲۰ پشاور ۲۸ شعبان ۱۴۰۸ھ

الجواب: که دا جینۍ په دې مجلس کښې موجوده نه وه، نو دا نکاح صحیح نه ده، ﴿۱﴾

كما فى فتاوىٰ قاضى خان: امرأة وكلت رجلا بان يزوجها فزوجها وغلط فى اسم ابيها لا ينعقد النكاح اذا كانت غائبة (هامش الهندية ۱: ۳۲۴)﴿۲﴾، ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: لو كانت غائبة وزوجها وكيلها فان عرفها الشهود علموا انه ارادها كفى ذكر اسمها والا لابد من ذكر الاب والجد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۶۷ كتاب النكاح ولا المنكوحة مجهولة)

﴿۲﴾(فتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ۱: ۳۲۴ الفصل الاول فيما يتعلق به انعقاد)

﴿۳﴾ په فتاوٰی دارالعلوم دیوبند کښې دی، **سوال:** د نکاح په وخت کښې عمرو د شرم په وجه د حبیبې د پلار نوم د بکر په ځائي زید ؤښودلو، حبیبه د نکاح په مجلس کښې حاضره نه وه، او ګواهانو کښې اکثرو خلقو ته علم وو، چه منکوحه د زید لور نه ده، بلکه د بکر لورده، اوناکح ته مطلقا علم نه وو، څه حکم دې، نکاح جائزده او که نه؟

الجواب: چونکه د شاهدانو په نزد حبیبه مجهوله نه ده، او د عمرو د علم سره حبیبې لره د زید لور ښودل د مجاز قرینه ده، ددې وجه نه نکاح صحیح شوه، لکه چه شامی کښې دی.....د ولا المنكوحة په شرح کښې لیکلی دی:

فلو زوج بنته منه وله بنتان لا يصح الا اذا كانت احدهما متزوجة فينصرف الى الفارعة الخ وفى معناه ما اذا كانت احداهما محرمة عليه قلت وظاهره انها لو جرت مقدمات الخطبة على معينة وتميزت عند الشهود ايضا يصح العقد وهى واقعة الفتوىٰ لان المقصود نفى الجهالة وذلك حاصل بتعينها عند العاقدين والشهود الخ. (فتاوىٰ دار العلوم ديوبند ۷: ۱۱۶)

او په فتاوٰی دارالعلوم دیوبند کښې دی، چه د پیژندګلو ښځو د پلار نوم که بدل هم کړې شی، نو نکاح جائز ده.

سوال: د یوې جینۍ پلار مړ شو، د هغې مور د خپل خاوند حقیقی ورور سره نکاح وکړه، ددې جینۍ نکاح ددې د تره یعنی............(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د کنډې ایجاب او قبول او شرط نه پوره کیدلو په وجه د انکار مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه هنده کنډه او د بچو مور ده، زید د هندې رور خالد ته ؤوئیل چه خپله خور ماته راکړه، خالد د هندې نه تپوس وکړو. هندې ؤوئیل چه زۀ به په دې شرط د زید سره

(بقیه حاشیه) ...میرنیزې پلار په اجازت سره وشوه، او د نکاح په وخت کښې د اصل پلار د نوم په ځائي د میرنیزې پلار نوم واخستلې شو، پس په دې صورت کښې دا نکاح صحیح شوه او که نه؟

الجواب: ظاهره داده چه نکاح صحیح شوه، اګر چه د در مختار د یو عبارت نه داسې معلومیږی، چه داسې غلطۍ سره نکاح نه صحیح کیږی. هغه عبارت دادې.

غلط وكيلها بالنكاح فى اسم ابيها بغير حضورها لم يصح للجهالة الخ،

په دې باندې علامه شامی لیکلی دی:

قوله لم يصح لان الغائبة يشترط ذكر اسمها واسم ابيها وجدها وتقدم انه اذا عرفها الشهود يكفى ذكر اسمها فقط خلافا لابن الفضل وعند الخصاف يكفى مطلقا والظاهر انه فى مسئلتنا لا يصح عند الكل لان ذكر الاسم وحده لايصرفها عن المراد الى غيره بخلاف ذكر الاسم منسوبا الى اب آخر فان فاطمة بنت احمد لا تصدق على فاطمة بنت محمد تامل وكذا يقال فيما لو غلط فى اسمها الخ.

لیکن ددې جواب دادې، چه اول خو ددرمختارددې قول "للجهالة" نه معلومیږی، چه علت د عدم جواز په دې غلطۍ کښې جهالت دې، چه په دې صورت کښې نشته، دویم د در مختار مسئله د غلطۍ په صورت کښې فرض کړې شوې ده، چه وکیل په غلطۍ سره نوم بدل کړې وی، او په دې مسئله کښې غلطې سره داسې نه دی شوې، بلکه د معروف او شهرت په وجه داسې کړې شوې دی، ځکه چه په عرف کښې د مور دویم خاوند ته پلار وئیلې کیږی، غرض دا چه کوم رفع دجهالت ده هغه دلته کښې حاصل ده، ځکه چه مطلب ددې نسبت دادې، چه فلانۍ جینۍ چه د فلانې په تربیت کښې ده، او فلانې هلک چه د فلانې سړې په تربیت کښې دې، ددوی عقد شوې دې، بلکه دا د حیرانتیا خبره نه ده، چه اصل پلار طرف ته نسبت کولو سره هغومره شهرت نه وی، کوم چه په دې نسبت کښې حاصل دې، او مقصود اصلی رفع د جهالت ده، لکه چه په شامی کښې د درمختار ددې قول: ولا المنكوحة مجهولة لاندې ئې لیکلی دی:

قلت وظاهره انها لوجرت المقدمات على معينة وتميزت عند الشهود ايضا يصح العقد وهى واقعة الفتوىٰ ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

واده كوم، چه زما ماشومانو لونړو لره زما د خاوند رور ما سره زيد كره پريږدي، زيد ؤوئيل چه دا اجازت ما اخستلي دي، اوس د خالد او زيد په مينځ كښ ايجاب او قبول ؤشو، زيد يوه جوړه جامې هندې ته وركړې، او هندې هغه واغوستلې، څو هفتې پس د واده تيارې شروع شوې، چه اچانك د خاوند ورور راغلو او د هندې نه ئې ماشومان بوتلل، او وې وئيل چه نه زه د خپل ورور يتيمان بچي د زيد سره پريږدم، او نه ما زيد ته داسې اجازت وركړې دې، هندې چه كله دا حالت ؤليدو نو د زيد جامې ئې ؤويستلې، او وې وئيل چه اوس زه د زيد سره واده نه كوم، ځكه چه شرط پوره نه شو، اوس زيد وائي چه هنده زما په نكاح كښ ده. ايجاب او قبول شوي دي، حالانكه خپله د زيد او خالد په عرف اورواج كښ داسې قسمه ايجاب او قبول ته نكاح نه وئيلي كيږي، اوس كه خدائې مه كړه دي رسمي ايجاب او قبول نه پس كه خاطب په دې مخطوبې بد نظر سره لاس واچوي، نو معامله به قتل او قتال ته ؤرسي، اوس سوال دادې، چه آيا هنده آزاده ده او كه د زيد په نكاح كښ ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: احمدميمن دارالتوحيد شهداد پورسانگهړ ۱۰ربيع الثاني ۱۳۹۲ھ

الجواب: كه دا ايجاب او قبول د دوؤ سړو يا يو سړي او دوؤ ښځو په مخامخ شوې وي، نو دا معامله دنكاح شرعي ده، خطبه نه ده.

في الدرالمختار: وينعقد ملتبسا بايجاب من احدهما وقبول الخ وفيه ايضا وما يصح ولا يبطل بالشرط الفاسد لعدم المعاوضة المالية القرض والهبة والصدقة والنكاح الخ. وهوالموفق

(بقيه حاشيه)**لان المقصود نفى الجهالة وذلک حاصل بتعينها عند العاقدين والشهود وان لم يصرح باسمها كما اذا كانت احداهما متزوجة ويؤيده ماسيأتى من انها لوكانت غائبة وزوجها وكيلها فان عرفها الشهود وعلمه انه ارادها كفى ذكر اسمها والا لابد من ذكر الاب والجد ايضا الخ**

دفتاوىٰ فريديه اوفتاوىٰ ديوبند په دې فتاوو كښ په ظاهره تعارض معلوميږي، ليكن په واقع كښ نشته،ځكه چه دفتاوى فريديه فتوى محموله ده په مجهوله باندې،او د فتاوى ديوبندفتوىٰ محمول ده په معروفه اومشهوره او پيژندلې شوې باندې.(سيف الله حقاني)

د ښځې دا قول چه زه طلاقه كړې شوې يم. باندې اعتماد كول او نكاح ورسره كول

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښ چه يوې منكوحې ښځې يو سړي ته ؤوئيل چه زه طلاقه كړې شوې يم، او اول خاوند ماته طلاق راكړې دې، آيا د ښځې په دې زبانې وينا سره هغې سره نكاح صحيح ده؟آيا په دې كښ مولوى صاحب نكاح خوان او گواهان يو شان مجرمان دى،؟ دې خلقو سره په صف كښ د مونځ كولو څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا سيد محمد صابر شاه ضلع بنوں ۲۰/۱/۱۹۶۹

الجواب: چونكه نكاح خوان او گواهانو د ښځې په وينا اعتماد كړې دې، او په قصد سره ئې دا نكاح او گواهان كيدل نه دى كړې، لهذا دا مولوى صاحب او گواهان مجرمان نه دى، بيشكه دا ناكح مجرم دې، كه دې سره ئې په قصد سره نكاح كړې وى. وفى الهداية وكذا لوقالت لرجل طلقنى زوجى وانقضت عدتى فلا باس ان يتزوجها﴿۱﴾. او يو مسلمان لره د مونځ او جمات نه منع كول جائز نه دى. بدليل قصة الثلاثة الذين خلفوا﴿۲﴾. دهغوى سره په صف كښ اودريدل جائز دى. وهو الموفق

﴿۱﴾ (هداية ۴: ۴۶۹ كتاب الكراهية فصل فى البيع)

﴿۲﴾ قال كعب بن مالك...... ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا ايها الثلاثة من بين من تخلف عنه فاجتنبنا الناس وتغيروالنا حتى تنكرت فى نفسى الارض فما هى التى اعرف فلبثنا على ذلک خمسين ليلة فاما صاحباى فاستكانا وقعدا فى بيوتهما يبكيان واما انا فكنت اشب القوم واجلدهم فكنت اخرج فاشهد الصلوٰة مع المسلمين واطوف فى الاسواق ولا يكلمنى احد واتى رسول الله ﷺ فاسلم عليه وهو فى مجلسه بعد الصلوٰة فاقول فى نفسى هل حرك شفتيه برد السلام على ام لا ثم اصلى قريبا منه فاسارقه النظر فاذا اقبلت على صلاتى اقبل الى واذا التفت نحوه اعرض عنى الخ.

(صحيح البخارى ۲: ۶۳۵ باب حديث كعب بن مالك كتاب المغازى)

د وادهٔ کولو د پاره د پلار نه د کور اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه مونږ څلور رونړه يو، والدين هم ژوندی دی، د درې رونړو ودونه شوې دی، زه د ټولو نه وړوکې او ناوادهٔ کړې يم، اوس زهٔ وايم، چه زما وادهٔ وکړئ او کور کښې چه مې څومره حصه کيږي، راکړئ، که تاسو زما وادهٔ نه کوئ، نو ټول کور ما ته راکړئ، او والدصاحب کور خرڅول غواړي، زما د پاره څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد رحيم کلاډير سوات

الجواب: د ستا په والدينو او رونړو باندې ستا د وادهٔ هيڅ حق نشته، او نه تهٔ د يو څيز خرڅولو او اخستلو نه پلار منع کولې شې، هغه مالک دې، البته که والدو غيره د احسان او مروت په وجه څه وکړي، نو منع نه دی ﴿۱﴾. وهو الموفق

يو ځائې کښې خطبه منظورولو نه پس

بيا بل ځائې کښې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زيد د خپلې لور رشته اول په زباني وعدې سره يو کس ته ورکړه. او دهغې نه پس ئې بل ځائې کښې په پوره شرطونو سره د شريعت د حکم مطابق وعده وکړه، او موجوده جرګې او جينۍ په خپله پلار ته د قرآن مجيد واسطه ورکړه، چه زما رشته هم دلته ورکړه، او نقد روپۍ ئې هم واخستلې او وعده ئې وکړه، چه

﴿۱﴾ يدل عليه مافى الدر المختار قال العلامة الحصكفى: ولا يطالب الاب بمهر ابنه الصغير الفقير اما الغنى فيطالب ابوه بالدفع من مال ابنه لامن مال نفسه اذا زوجه امرأة الا اذا ضمنه على المعقد كما فى النفقة فانه لا يؤخذ بها الا اذا ضمن.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۸۷ قبيل مطلب فى منع الزوجة نفسها)

فلانۍ ورځ به رشته درکړو، مونږ خلق دهغې ورځې په انتظار کښې وو، چه هغه سمدستې دريم ځائې کښې رشته ورکړه. اوس ددې سړې په شريعت کښې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد صابر حسين کوهاله ۱۹۷۵/۶/۳

الجواب: بشرط صدق و ثبوت دا سړې زيد د حرامو د ارتکاب په وجه د تعزير لائق دې.

كما فى الخيرية على هامش تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ۱: ۴۱ و كما تحرم الخطبة تحرم اجابتها لانه اعانة على المعصية فيعزر المجيب اليها القادر على المنع ﴿۱﴾. وهوالموفق

بعد البلوغ د نکاح د خطبې فسخ

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه ديوې نابالغې جينۍ د نکاح خطبه شوې وه، آيا د بلوغ نه پس هغې ته د فسخ حق حاصل دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا محمد سليمان مظفر آباد

الجواب: که د دوؤ ګواهانو په مخکښې باقاعده ايجاب او قبول شوې نه وی، نو دا معامله د خطبې ده، نکاح نه ده ﴿۲﴾، او دا جينۍ هر کله چه د خيار بلوغ

﴿۱﴾ قال العلامة خير الدين المنيف: سئل فى رجل خطب من آخر بنته البالغة العاقلة وسمى المهر وقبل الاب وركن قلبها الى الخاطب واحضر المهر ومابقى الا العقد فرجع الاب لطرو خاطب عالم بخطبة الاول فما الحكم الشرعى فى ذلک، اجاب المصرح فى كتب الحنفيه وغيرهم حرمة الخطبة على خطبة الغير قال فى الذخيرة كما نهى النبى ﷺ عن الاستيام على سوم الغير نهى عن الخطبة على خطبة الغير وان من ارتكب محرما لم يرد فيه حد مقدر يعزرو كما تحرم الخطبة الخ.

(الفتاوىٰ الخيرية على هامش تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ۱: ۴۱ كتاب النكاح)

﴿۲﴾ قال الفقيه ابو الليث السمرقندى: وركن (النكاح) الايجاب والقبول وحكمه الاثر الثابت بالعقد وانما حضور الشاهد عند العقد وهو شرط الصحة. (فتاوىٰ النوازل ۱۶۰ كتاب النكاح)

په وجه نکاح فسخ کولې شي(١) نو خطبه په طریقه اولی سره فسخ کولې شي، پس داجینۍ په خپله مرضۍ سره بل ځائې کښې واده کولې شي. وهو الموفق

د بالغې جينۍ يو ځائي کښې مقرر شوې کوېږدن نه انکار او بل ځائي کښې د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه زهٔ پيغله جينۍ يم، په ماشوموالی کښې والدينو په يو ځائي کښې د رشتې وعده کړې وه، او اوس زهٔ بالغه شوې يم، او په پوره عقل سره سوچ کولو نه پس پوهه شوم چه کوم ځائي زما والدين زما رشته کول غواړي، هلته کښې مادپاره ژوند تيرول ګران دی، ددې وجه نه زهٔ په خپله مرضۍ سره واده کول غواړم، او دهغې مقرر شوې رشتې نه، چه نکاح نه ده شوې صرف وعده شوې ده، زهٔ انکاری يم، او حالات دومره خراب دی، چه که زما رشته هلته وکړې شوه، نو کيدې شي چه زهٔ خودکشي وکړم، چه حرام مرګ دې، اوس د شريعت مطابق ددې مخکښنۍ رشتې نه زما انکار صحيح جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: ن، ت، ج، بکوټ، ايبټ آباد ٣/٥/١٩٧٣

الجواب: که ستا والدينو صرف وعده کړې وی، نکاح ئې نه وی کړې، نو تهٔ بل ځائي کښې نکاح کولې شې.

فی الهندية ١: ٣٠٥ ولايجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب اوسلطان بغير اذنها بكرا كانت او ثيبا فان فعل ذلك فالنكاح موقوف على اجازتها(٢).

وهو الموفق

(١) قال العلامة ابن عابدين: ولهما خيار الفسخ بالبلوغ فى غير الاب والجد بشرط القضاء اى للصغير والصغيرة اذا بلغا وقد زوجا ان يفسخا عقد النكاح الصادر من ولى غير اب ولا جد بشرط قضاء القاضى بالفرقة.
(البحر الرائق ٣: ١٢٠ باب الاولياء والاكفاء)

(٢) (فتاویٰ عالمگیریه ١: ٢٨٧ الباب الرابع فی الاولياء

د مجبورۍ نه بغير د خطبې وعده نه پوره کولو باندې ګناه لازم راځي

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې خپله لورد شهباز د ځوی دپاره مقرر کړه، متهائي هم تقسيم کړې شو، عام خلق هم خبرشو، چه فلانې خپله لور فلانې ته ورکړه، ليکن نکاح ؤنه تړلې شوه، اوس هغه سړې د لور ورکولو نه انکاری دې، شرعا څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: زيارت ګل کتوزئي شبقدر پشاور ١٨ربيع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: دا معامله د خطبې ده د نکاح نه ده. لعدم تحقق الايجاب والقبول فی حضور الشهداء ظاهرا(١). پس دا سړې د مجبورۍ په حالت کښې وعده نه پوره کولو سره ګناهګار نه دې، او بغير د مجبورۍ نه ګناه ګار دې(٢)،

ويدل على عدم كون الخطبة نكاحا ما قال القارى ايضا: ....

(١) قال الامام شمس الدين محمد الخراسانى القهستانى: النكاح ينعقد بايجاب...... وقبول...... لفظهما ماض...... او امر...... وماض ...... وشرط لصحة النكاح سماع كل منهما اى المتعاقدين لفظ الآخر وشرط ايضا حضور شاهدين حرين عند العقد الخ.
(جامع الرموز ١: ٢٤٦ كتاب النكاح)

(٢) قال الشيخ العلامة زينة المحدثين مولانا نصير الدين الغرغشتوى: الوعد الاخبار بايصال الخير فى المستقبل فاذا اخبر انسان بانه يهب احدا او يتصدق عليه او يكرمه او غير ذلك فهل يجب الوفاء به فيه اختلاف قال طائفة قليلة يجب الوفاء بالوعد استدلالا بظاهر الحديث وذهب الجمهور منهم ابوحنيفة والشافعى الى انه يستحب الوفاء بالوعد استحبابا مؤكدا ويكره خلافه كراهة تنزيهية لا تحريم ويحمل الحديث عندهم على العزم على الاخلاف حال الوعد فانه لا شك فى حرمته...... اقول ويؤيده ايضا حديث زيد بن ارقم عن النبى ﷺ قال اذا وعد الرجل اخاه ومن نيته ان يفى له فلم يف ولم يجيئ للميعاد فلا اثم عليه رواه ابوداؤد والترمذى.
(حاشية الغورغشتوية على المشكوٰة ١: ١٨ باب الكبائر وعلامات النفاق)

وهو ما نصه لکن ان تزوج الثانی تلک المرأة بغیر اذن الاول صح النکاح ولکن یاثم.
(مرقاة ۲: ۲۱۱)﴿۱﴾. وهوالموفق

د کویژدن نه پس انکار د وعدې مخالفت دې

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زید او عمرو د نابالغه لونړو رشتې د یو بل ځامنو ته د ورکولو وعده او اقرار کړې وو، اوس زید د خپلې وعدې نه انکاری دې، او رشته نه ورکوی، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید اعظم کوهاله مری ۱۰ ذی قعده ۱۳۹۲ھ

الجواب: دا سړې د وعدې مخالفت کوی، او که معذور شرعی نه وی، نو په دهٔ کښې شعبه د نفاق موجوده ده﴿۲﴾ کما فی الحدیث اذاوعد اخلف﴿۳﴾ وهو الموفق

د ضرورت په وجه کویژدن ماتولو سره ګناه نه راځی

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د یوې جینۍ کویژدن دوه کاله مخکښې دیو هلک سره وشوه. څو ځله د جینۍ والدینو

﴿۱﴾ (مرقاة المفاتیح شرح المشکوٰة ۶: ۲۱۱ باب اعلان النکاح الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة المحدث امین الله فی الارض مولانا نصیر الدین الغورغشتوی: ان الوفاء بالوعد لیس بواجب شرعی بل هو من مکارم الاخلاق بعد ان کان بنیة الوفاء واما جعل الخلف فی الوعد من علامات النفاق کما مر فمعناه الوعد علی نیة الخلف وقیل الخلف فی الوعد من غیر مانع حرام وهو المراد هنا وکان الوفاء بالوعد ماموراً به فی الشرائع السابقة ایضا. (حاشیة غورغشتویة علی المشکوٰة ۲: ۴۱۶ باب الوعد الفصل الاول)

﴿۳﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: آیة المنافق ثلاث، اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اؤتمن خان، رواه البخاری (۳۳) ومسلم (الایمان/۵۹) وغیرهما. (بلوغ المرام ۱: ۴۸۵ باب الترهیب من مساوئ الاخلاق)

هغوی ته ؤوئیل چه واده وکړئ. لیکن اوسه پورې ئې ټال مټول کوؤ، اوس هغه هلک یوه رشته داره جینۍ په بهانه ؤتښتوله. او هغه جینۍ واده کړې هم ده، ددې نه علاوه دا هلک یوڅومیاشتې مخکښې راغلې وو، او زما ښځې ته ئې وئیلې وو چه زما مور او پلار په دې کویژدن خوشاله نه دی. لهذا زما د طرف نه دا جینۍ آزاده ده، لیکن لیکلې ئې رانکړل. اوس زما لور بالغه او تعلیم یافته ده، ددې وجهې نه دهغې په کورباندې کښېنول مناسب نه معلومیږی او اوس دا جینۍ دهغه هلک سره واده کولو نه هم انکار کوی، اوس سوال دادې، چه هغه هلک پټ دې. او دهغه مور او خویندې وائې، چه کله هغه راشی نوفیصله به کیږی. اوس زمونږ دپاره څه لاره ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد زرین نوشهره

الجواب: دا خبره دې واضحه وی، چه کویژدن کښې د ګواهانو په مخکښې ایجاب او قبول نه وی شوې، نو دا نکاح نه ده، داسې ښځه آزاده ده.

لان الخطبة لیس بنکاح لعدم وجود الرکن والشرط﴿۱﴾ وکما فی المرقاة ۵: ۲۱۱ فی حدیث لا یخطب الرجل علی خطبة اخیه لکن ان تزوج الثانی تلک المرأة بغیر اذن الاول صح النکاح ولکن یأثم انتهی﴿۲﴾، قلت ولا اثم عند تحقیق الضرورة التی جاز عندها تطلیق الحاکم ایاها. وهوالموفق

که خطبه کونکی انکار وکړی، نو بل ځائې کښې په نکاح سره ورکولو کښې څه کراهت نشته

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې دخپل

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واما رکن (النکاح) فالایجاب والقبول کذا فی الکافی...... واما شروطه فمنها الشهادة قال عامة العلماء انها شرط جواز النکاح هکذا فی البدائع.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۶۷ کتاب النکاح الباب الاول)

﴿۲﴾ (مرقاة المفاتیح شرح المشکوٰة ۶: ۲۱۱ باب اعلان النکاح والخطبة والشرط)

ځوى دپاره د نكاح باره كښ صرف خبرې او وعده وكړه، باقاعده نكاح ئې نه وه كړې بيا هغه سړې انكار وكړو، چه مونږ بل ځائي كښ نكاح كوؤ، آيا اوس دا جينۍ بل ځائي كښ نكاح كولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتى: حفيظ الله كمين وزيرستان ۲۲/۱۱/۱۹۷۲

الجواب: داخبره دې واضحه وى، چه دې قسمه معاملې ته خطبه وئيلې شى، دا نكاح نه ده. نكاح بغير د ايجاب او قبول او ګواهانو نه منعقد كيږى نه.

فى تنقيح الفتاوىٰ ۱: ۳۱ **لا تكون الخطبة واقعة موقع النكاح اصلا﴿۱﴾ وفى المرقاة ۶: ۲۱۱ لكن ان تزوج الثانى تلك المرأة بغير اذن الاول صح النكاح ولكن يأثم** انتهىٰ﴿۲﴾ **قلت ولا اثم فى هذه الصورة المسئولة لوجود الترك وقال النبى ﷺ لا يخطب على خطبة اخيه حتى ينكح او يترك﴿۳﴾**

پس بهرحال جينۍ بل ځائي كښ نكاح كولې شى. وهو الموفق

د خطبې د وصيت خلاف ورزى او بل ځائي كښ نكاح

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښ چه زيد د مرګ په وخت كښ دخپلې نابالغې لور متعلق د ماشومې نيكه ته وصيت وكړو، چه زۀ خپله لورد عمروخوى ته وركوم، په دې كښ ستا هيڅ دخل نشته. اوس د جينۍ مور جينۍ لره بل ځائي ته بوتله، او هلته كښ ددې جينۍ نكاح بل چاسره كوى، او جينۍ لا نابالغه ده؟ ددې څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى: راجه محمد يوسف سبزى منډى كيملپور ۱۵/۷/۱۹۷۲

﴿۱﴾ (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ۱: ۳۱ قبيل فوائد ذكرها المؤلف مفرقة)

﴿۲﴾ (مرقاة المفاتيح شرح المشكوٰة ۶: ۲۱۱ باب اعلان النكاح الفصل الاول)

﴿۳﴾ (مشكوٰة المصابيح ۲: ۲۷۱ كتاب النكاح باب اعلان النكاح)

الجواب: په دې صورت كښ ايجاب او قبول نشته﴿۱﴾. لهذا دې جينۍ لره بل ځائي په نكاح سره وركول صحيح دى. البته بهتره داده چه وصيت پوره كړې شى. وهو الموفق

د ټيلى فون په ذريعې د نكاح كولو حكم

سوال: څه فرمائي علماء دين شرع متين دې مسئلې باره كښ چه نن صبا خلق د ټيلى فون په ذريعې نكاح كوى. آيا دا جائز دى؟ بينوا توجروا

المستفتى: حاجى رشيدالدين واه كينټ ۳۰/۷/۱۹۷۸

الجواب: كوم سړې چه د ټيلى فون په ذريعې سره نكاح كوى، مثلا هغه په لاهوركښ وى، او ښځه په لندن كښ وى، نو دا سړې دې هغې ښځې يا دهغې ولى ته د ټيلى فون په ذريعه وؤائي، چه خپلې لور سره زما نكاح ؤتړه، نو هغه دې د ګواهانو په مخامخ دا ؤوائي، چه فلانې د ټيلى فون په ذريعې دا پيغام راكړې دې، چه زما د فلانئ سره نكاح ؤتړه، نو ما فلانئ د فلانې په نكاح كښ وركړه، كه دا ولى (پلار) لاهور والا ته دا كلام د ټيلې فون په ذريعه واؤروى، او كه نه اوروى، نكاح شوې ده. (ماخوذ از فتح القدير بحواله شامى ۲\۳۶۴)﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ **قال العلامة علاء الدين السمرقندى: واما(النكاح) فى الشرع فعبارة عن وجود ركن العقد مع شروطه اما ركنه فهو الايجاب والقبول من الزوجين وهما لفظان يعبر بهما عن الماضى او يعبر باحدهما عن الماضى والاخر عن المستقبل.**

(تحفة الفقهاء ۲: ۱۷۶ كتاب النكاح)

﴿۲﴾ **قال العلامة ابن عابدين: (قوله بل غائب) الظاهر ان المراد به الغائب عن المجلس وان كان حاضرا فى البلد......وصورته ان يكتب اليها يخطبها فاذا بلغها الكتاب احضرت الشهود وقرأته عليهم وقالت زوجت نفسى منه او تقول ان فلانا كتب الى يخطبنى فاشهدوا انى زوجت نفسى منه اما لو لم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسى من فلان لا ينعقد لان سماع الشطرين شرط صحة النكاح وباسماعهم الكتاب......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)**

د خط او کتابت په ذریعې د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه سړې په انګلستان کښې دې، او دهغه چنغله په پاکستان کښې ده، نو نکاح څنګه کول پکار ده، ددې قسم یوه مسئله په ماهنامه طیبه سیالکوټ فروری ۱۹۵۶ ص ۳۱ په آخرکښې د سوال اوجواب په شکل کښې درج ده، سوال دادې، چه هلک په برطانیه کښې دې، اوجینۍ دلته، آیا د خط او کتابت په ذریعې نکاح کیدې شی؟ جواب دادې، کیدې شی، په دې طریقه چه جینۍ په خپله یا دهغې په خوښه دهغې وکیل هلک ته ؤلیکی چه فلانۍ جینۍ مې تالره په نکاح درکړه، اوهلک دې خط لره د ګواهانو په مخکښې ؤلولی، اوبیا دهغې ګواهانو په مخکښې قبول اوکړی. ینعقد بکتابه... غائب شرط اعلام الشهود کما فی الکتاب (درمختار ۱۸۰) درخواست دې، چه دا جواب سره ددې مکمل عبارت اود صحیح ترجمې سره د تصدیق شده مهر نه راؤلیږئ؟ ډیره مهربانی به وی.

المستفتی: شیر محمد قریشی کهوټه راولپنډی. ۱۲/۴/۱۹۷۲

الجواب: مکمل عبارت دادې، ولا بکتابه حاضر بل غائب بشرط اعلام الشهود بما فی الکتاب مالم یکن بلفظ الامر فیتولی الطرفین فتح (هامش ردالمحتار ۲:۳۶٤)﴿۱﴾ یعنی په مجلس کښې د حاضر سړې نکاح د خط او کتابت په ذریعې سره صحیح نه ده، بلکه صرف د غائب سړی نکاح د خط او کتابت په

(بقیه حاشیه) اوالتعبیر عنه منها قد سمعوا الشطرین بخلاف ما اذا انتفیا قال فی المصفی هذا ای الخلاف اذا کان الکتاب بلفظ التزوج اما اذا کان بلفظ الامر کقوله زوجی نفسک منی لا یشترط اعلامها الشهود بما فی الکتاب لانها تتولی طرفی العقد بحکم الوکالة ونقله عن الکامل وما نقله من نفی الخلاف فی صورة الامر لا شبهة فیه علی قول المصنف والمحققین اما علی قول من جعل لفظة الامر ایجابا کقاضی خان علی ما نقلناه عنه فیجب اعلامها ایاهم ما فی الکتاب. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۸۸ مطلب التزوج بارسال کتاب)

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۸۸ کتاب النکاح)

ذریعې صحیح ده، په شرط ددې چه مرسل الیه ګواهانو لره د خط په مضمون باندې خبر کړی، لیکن که مرسل په خط کښې د امر صیغه ؤلیکله، مثلا زما نکاح د خپل ځان سره منعقد کړه، نو دې مضمون نه ګواهانو لره خبرول ضروری نه دی، بلکه دومره کافی ده، چه د ګواهانو په مخکښې ؤوائي، چه ما مثلا فلانې په نکاح کښې قبوله کړه. وهو الموفق

د ؤړک شوی سړی د کویژدن کړې جینۍ د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د زید د لور د عمرو د ځوی سره کویژدن شوې وه، د کویژدن په څو شپو کښې د رواج مطابق خلق جمع شوې وو، خوراک وغیره تقسیم شوې وو، لیکن د نکاح خطبه نه وه لوستې شوې، اوس د عمروځوی د دولسو کالونه ؤړک دې، د ډیر کوششونو نه پس ئې هم پته ؤنه لګیده، اوس د زید لور بالغه شوې ده، آیا هغه د بل سړې په نکاح کښې ورکولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مسافر شاه کتوزئي چارسده. ۲۴/۸/۱۹۷۷

الجواب: داخبره دې واضحه وی، چه خطبه "کویژدن" نکاح نه ده، لعدم الرکن والشرط ویدل علیه ما فی المرقاة ۶\۲۱۱، لکن ان تزوج الثانی تلک المراة بغیر اذن الاول صح النکاح ولکن یاثم﴿۲﴾. پس په دې صورت کښې ددې جینۍ بل ځائې کښې نکاح کول جائز دی، او نافذ دی، او ګناه په کښې هم نشته، ځکه چه په داسې صورت کښې چه منکوحې دپاره تنسیخ نکاح جائز وی، نود مخطبې دپاره به بل ځائې کښې نکاح کول په طریقه اولی جائزوی. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: النکاح ینعقد بالایجاب والقبول...... ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین...... ان الشهادة شرط فی باب النکاح لقوله علیه السلام لانکاح الا بشهود. (هدایه ۲:۳۰۵،۳۰۶ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ (مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۶:۲۱۱ باب اعلان النکاح الفصل الاول)

په صلح کښې رشته ورکولو کښې د ایجاب او قبول او خطبې مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید او سلمان قریبي رشته دار دی، په هغوی کښې څه جګړه وه. او خفګان سخت شوې وو، زید د سلمان خاندان والو ته ؤوئیل چه مونږ صلح کول غواړو. او رشته هم، نو زید یو جرګه د حیات نور په مشرۍ کښې واستوله. زید د خپلې لور ګل مکئی چه نابالغه وه. دهغې وکیل ئې حیات نور مقرر کړو، حیات نور ؤوئیل چه که ماله مختار او وکیل جوړوې، نو زهٔ دا رشته د سلمان وړور لقمان دپاره اخلم. ځکه چه هغه ستا نه زیات خفه دې، زید ؤوئیل چه زما دطرف نه تاته مکمل اختیار دې. نو زید درې ځله اختیار ورکړو، یعنی دا ایجاب او قبول درې ځله ؤشو. اوس سوال دادې. چه دې درې ځله ایجاب او قبول سره ددې جینۍ نکاح د لقمان سره ؤشوه او که نه؟ او که بل ځائي کښې دا رشته ورکړې شی. نو دا نکاح به منعقد وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالحئي بټل هزاره. ۱۲اپریل 1985

الجواب: دا درې ځله ایجاب او قبول د توکیل دپاره شوې دې، ددې نه د حیات نور وکیل کیدل ثابتیږی. اوپه کوم ایجاب او قبول سره چه نکاح منعقد کیږی، په دې کښې دهغې هیڅ ذکر لیکلې شوې نه دې، **لهذا** دا معامله د خطبې ده د نکاح نه ده، پس بل ځائي کښې ددې جینۍ نکاح سره د کراهیت نه جائز ده.

کما فی المرقاة ۲:۲۱۱ لکن ان تزوج الثانی تلک المرأة بغیر اذن الاول صح النکاح ولکن یأثم ﴿۱﴾. وهوالموفق

آیا په رسم د سوره کښې جینۍ ورکولو سره نکاح منعقد کیږی؟

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه بعضې علماء او د قوم

﴿۱﴾ (مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۲:۲۱۱ باب اعلان النکاح الفصل الثانی)

مشران د دشمنانو په مینځ کښې صلح کوی، مثلا چرته قتل شوې وی. که په قصد سره وی، او که په خطاء سره. نو په صلح کښې د قاتل لور یا خور. که لویه وی او که وړوکې، د مقتول په خاندان کښې چاته په نکاح سره ورکوی. دې دپاره چه رشته داری قائمه شی او دزړهٔ نه صلح وشی، دې ته رسم سوره وائي، په دې رسم کښې نکاح منعقد کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۳۰ صفر ۱۴۰۲ھ

جواب: لا ضیر فی هذا النوع من النکاح لان سد باب الفتنة مصلحة عظیمة ﴿۱﴾ ولیس هذا نکاح الشغار لوجود الامهارفیه دون نکاح الشغار ولان نکاح الشغار منهی مادام کان شغارا والامر ان نکاح الشغار یلزم فیه مهر المثل فینقلب الی النکاح الشرعی ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ د سورې په رسم کښې دوه خبرې عموما پیښیږی، یو هغه کوم چه په سوال کښې ذکر ده، چه بیا د زړهٔ مینه او رشته داری قائمه شی او دشمنې ختمه شی، او د نزدې رشته دارو په شان ؤسیږی، او دویمه خبره داچه په بعضو علاقو کښې د سورې په شکل کښې انتقام ددې مظلومې جینۍ نه اخستلې کیږی، اوهغې سره د ځناورو نه بد تره رویه ساتلې شی، پس په کومو علاقو کښې چه د سورې نه مصلحت او صلح صفائي حاصلیږی، نوبیا دا لاباس به ده، اودویم صورت کښې چه جینۍ نه د دشمنۍ انتقام اخستلې شی، او جینۍ لره په اور کښې اچوی اوخپله آرام سره ژوند تیروی، نوبیا دا رسم سوره د ظلم یو صورت دې، اوجائز نه ده، او د نکاح چه کومه معامله ده، که د نکاح ټولې شرعي تقاضې پوره شوې وی، نو په دواړو صورتونو کښې نکاح بهرحال جائز ده، البته په عاقله بالغه باندې جبر دنکاح نشې کولې........ (از مرتب)

﴿۲﴾ **قال العلامه الحصکفی: ووجب مهر المثل فی الشغار ان یزوجه بنته علی ان یزوجه الآخر بنته او اخته مثلا معاوضة بالعقدین وهو منهی عنه لخلوه عن المهر فاوجبنا فیه مهر المثل فلم یبق شغاراً.**

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۶۱ مطلب نکاح الشغار)

د رخصتۍ نه پس د خاوند په کور کښې د نکاح تړلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقه کښې يو خاصه قبيله د وادۀ په موقع د خپلو جينکو نکاح رخصتۍ نه پس د خاوند په کور کښې تړي، دا نکاح جائز ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی عبد الرحمٰن

خطيب کوټ نجيب الله هزاره ۱۳ ربيع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: د رخصتۍ نه پس د خاوند په کور نکاح تړل خلاف سنت، **خلاف تعامل** سلف او خلاف تعامل امت دی، البته ممنوع يا حرام نه دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

څه موده تيريدو نه پس د تجديد نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه آيا په کتابونو کښې دا مسئله موجوده ده، چه څه موده تيريدو نه پس تجديد نکاح کول پکاردی، بنده سره اوس دا فکرملګرې شوې دې، چه اوسه پورې ما دا کارنه دې کړې، لهذا د مسئلې وضاحت ؤفرمايئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: امان الله

الجواب: تجديد نکاح څه ضروری کار نه دې، البته مستحب دې.

کمافی ردالمحتار ۱: ۳۹ **والاحتياط ان يجدد الجاهل ايمانه کل يوم ويجدد نکاح امرء ته عند شاهدين فی کل شهر مرة او مرتين ﴿۲﴾. وهو الموفق**

﴿۱﴾ يدل عليه ما فی الدرالمختار: ولذا ستحسنوا التجديد عند الزفاف.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۵ باب الولی)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۳۲ قبيل مطلب فی فرض الکفاية وفرض العين)

....

هره مياشت تجديد نکاح او په عام سړی باندې د تجديد کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه د دوؤ ګواهانو په موجودګئ کښې يو عام سړې د تجديد نکاح دپاره په خاوند او ښځې ايجاب او قبول کوی، آيا دا صحيح ده، او په شريعت کښې څو ؤرځې پس د تجديد نکاح ګنجائش دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: صالح مسعود اسلام آباد سکيټريټ. ۱۹ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: دا تجديد صحيح او د شريعت مطابق دې، اوتجديد نکاح هره مياشت يا نيمه مياشت پس جائز ده.

کما فی ردالمحتار ۱: ۳۹ ويجدد نکاح امرء ته عند شاهدين فی کل شهر مرة او مرتين اذا لخطأ وان لم يصدر من الرجل فهو من النساء کثير ﴿۱﴾. وهوالموفق

د معشوقې سره وادۀ نه کيدلو په وجه په آخرت کښې د ملاويدو دعا کول

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې د تره لور سره محبت کوی، اوهغه ددۀ معشوقه ده، ليکن د کوششونوباوجود نکاح ؤنشوه، اوس که زيد دا دعا کوی، چه په آخرت کښې ماته دا د تره لور ملاؤ شی، نو ددې دعا په غوختلو هغه ګناهګار دې او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمٰن نوشهره. **۲۹/۱۲/۱۹۸۵**

الجواب: داسوال نه مطلوب شرعی دې اونه ممنوع شرعی دې، دمسلمان دپاره بالکل دا مناسب نه ده، چه د حالت نزع، عذاب قبر، عذاب حشر او عذاب جهنم نه غافله شی، او د نفس د خواهشاتو آرزومند شی **﴿۲﴾**. وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱، ۳۲ قبل مطلب فی فرض الکفاية وفرض العين)

﴿۲﴾ قال لله تبارک وتعالیٰ: من کان يريد حرث الآخرة نزدله فی حرثه ومن کان يريد حرث الدنيا نؤته منها وماله فی الآخرة من نصيب.

(سورة الشوریٰ آيت: ۲۰ پاره: ۲۵)

د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء د نکاح مهر او د ګواهانو تحقیق

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د حضرت آدم علیه السلام نکاح په کوم ځائي کښې چا کړې وه، او ګواهان څوک جوړ شوې وو، او مهر څه مقرر شوې وو؟ بینوا توجروا

المستفتی: فریق الله صالح

الجواب: (۱) ددې متعلق په وحی (قران و حدیث) کښې تفصیل نه ملاویږي، او په ظاهر کښې دا معلومیږي چه آدم علیه السلام ته د وحی په ذریعه د استمتاع (فائده اخستلو) اجازت ملاؤ شوې وو. لکه څنګه چه مونږ ته د ګواهانو په مخامخ ایجاب و قبول کولو سره اجازت ملاویږي.

(۲) د مهر متعلق په بعضو روایاتو کښې راغلې دي، چه په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې درود شریف لیږل حق مهر مقرر کړې شوې وو. کما فی الصاوی ﴿۱﴾ وغیره ﴿۲﴾ فلیراجع. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الفقير احمد الصاوى المالكى: وقد خلقت بعد دخول الجنة نام فلما استيقظ وجدها فاراد ان يمديده اليها فقالت له الملائكة مه يا آدم حتى تؤدى مهرها، فقال وما مهرها فقالوا ثلاث صلوات او عشرون صلاة على سيدنا محمد صلى الله عليه وسلم ولا يقال ان شرط الصداق عود منفعته للزوجة لاننا نقول ليس المقصود منه حقيقة المهر وانما هو ليظهر قدر محمد لآدم من اول قدم اذ لولاه ما تمتع بزوجة فهو الواسطة لكل واسطة حتى آدم.

(حاشية الصاوى على تفسير الجلالين ۱: ۶۲ تحت الآيت اسكن انت وزوجك الجنة)

﴿۲﴾ قال الشيخ محمد ابن احمد بن اياس الحنفى: فلما نزل آدم عن المنبر جلس بين الملائكة فالقى الله عليه النوم لان فيه راحة للبدن فلما نام رأى حواء فى منامه قبل ان تخلق فمال اليها حين نظرها ثم اخرجها من ضلعه الايسر فخلقت منه حواء على هيئته وان الله خلقها واعطاها حسن الف حورية فكانت احسن النساء اللآتى من بناتها الى يوم القيامة وكان لها سبع ماة ضفيرة من الشعر فكانت على طول...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)


(بقيه حاشيه) آدم والبسها الله من الجنة الحلى والحلل فكانت تشرق اشراقا ابهى من الشمس فانتبه آدم من منامه فوجدها بجانبه فاعجبته والقى الشهوة فى آدم فهم بها فقيل له لاتفعل حتى تؤدى صداقها فقال وما صداقها قال نهيتك عن شجرة الحنطة فلا تأكل منها فهو صداقها وقيل ان الله قال اعطها صداقا، قال وما صداقها قال الصلواة على نبى وحبيبى محمد، فقال آدم يارب ومايكون محمد، قال انه من اولادك وهو آخر الانبياء ولولاه ما خلقت خلقا...... ثم زوج الله تعالىٰ آدم بحواء وكان ذلك يوم الجمعة بعد الزوال ولهذا سن عقد التزوج فى يوم الجمعة الخ.

(بدائع الزهور فى وقائع الدهور ۳۵،۳۶ ذكر قصة آدم عليه السلام)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه څلورم جلد

باب ما یجوز
تزویجها وما لا یجوز



....

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

........قال الله تعالى:........

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ
وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْأَخِ وَبَنٰتُ الْأُخْتِ
وَأُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ مِّنَ
الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ
حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ز
فَإِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ
عَلَيْكُمْ ز وَحَلَآئِلُ أَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ
أَصْلَابِكُمْ لا وَأَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا
مَا قَدْ سَلَفَ ط إِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٣﴾ لا

......[النساء: ٢٣]......

باب ما یجوز تزویجها

وما لا یجوز (المحرمات)

قانوني پابندۍ باوجود هر سړي ته د څلورو ښځو اجازت شته

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړي تقریبا اته کاله مخکښې واده کړې دې، او اولاد ئې هم موجود دې، اوس هغه سړي دویم وادهٔ کړې دې، اګر چه د شریعت مطابق درست او صحیح دې، لیکن د حکومتي قانون مطابق ناجائز دې، او هغه سړي د حکومت د قانون خلاف ورزی کړې ده، او د حکومت نه ئې هم اجازت اخستلې نه دې، او نه ئې دخپلې ښځې نه اجازت اخستلې دې، آیا دا دویمه نکاح جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: مفقود العنوان.

الجواب: د هر سړي دپاره په شریعت کښې د څلور ښځو کولو اجازت دې﴿۱﴾، که اوله ښځه اجازت ورکوی او که نه، که حکومت اجازت ورکوی او که نه، په شرط ددې چه ددې بلې حق نه تباه کوی، قال الله تعالی: **فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنی وثلث ورباع فان خفتم الا تعدلوا فواحدة** (الآیة)﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: لا یحل للرجل ان یجمع بین اکثر من اربع نسوة کذا فی محیط السرخسی. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۷۷ المحرمات بالجمع)
وقال العلامه الحصکفی: وصح نکاح اربع من الحرائر والاماء فقط للحر لا اکثر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۱۶ قبیل مطلب لو زوج المولیٰ امته)

﴿۲﴾ قال جلال الدین السیوطی: (فانکحوا) تزوجوا ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اوله نکاح په شرعي رجسټر کښې نه درج کېدلو باوجود بل ځائي کښې نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړي دعائلي قوانینو نه مخکښې وادهٔ کړې وو، لیکن د نکاح د رجسټرار په رجسټر کښې نکاح نه وه، اوس بل سړي دې ښځې لره ؤتښتوله او خپله ئې ورسره نکاح وکړه، او د نکاح د رجسټرار په رجسټر کښې ئې درج کړه، اولنی خاوند د ښځې او سړي خلاف په عدالت کښې مقدمه واچوله، عدالت سره ددې نه چه مولوی صاحب هم شهادت ورکړو چه دا نکاح ما تړلې ده، لیکن عدالت د ښځې بیان او رجسټر ته ترجیح ورکړه، او د مقدمې فیصله ئې د بل سړي په حق کښې وکړه، آیا شرعا دا نکاح صحیح ده؟ که صحیح نه وی، نو آیا دا دویم سړي واجب القتل دې؟ دا ښځه او په دې نکاح کښې امداد کونکی وغیره واجب القتل دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد شفیع کیولری لاهور ۱۲/۴/۱۹۲۹

الجواب: شرعي لحاظ سره د منکوحې دویمه نکاح حرامه ده. قال الله تعالی: والمحصنات من النساء (الآیة)﴿۱﴾. اودا تړول په تړوله واجب التعزیردی، د عوامو دپاره ضروری ده چه دوی سره تعلقات ختم کړی، او د حاکم دپاره ضروری ده، چه دوی ته مناسب سزا ورکړی،

وفی الهندیة (۲:۱۸۷) وینقسم الی ما هو حق الله وحق العبد والاول یجب علی الامام

(بقیه حاشیه) (ما) بمعنی من (طاب لکم من النساء مثنیٰ وثلاث ورباع) ای اثنین اثنین وثلاثا ثلاثا واربعا اربعا ولا تزیدوا علی ذلک (فان خفتم ان لاتعدلوا) فیهن بالنفقة والقسم (فواحدة) انکحوها (او) اقتصروا علی (ماملکت ایمانکم) من الاماء اذ لیس لهن من الحقوق ما للزوجات (ذلک) ای نکاح الاربع فقط او الواحدة او التسری (ادنی الا تعولوا) تجوروا. (التفسیر الجلالین ۱:۷۷ سورة النساء آیت ۳ پاره: ۴)

﴿۱﴾ (سورة النساء پاره: ۵ آیت: ۲۴)

ولا يحل له تركه...... قالوا لكل مسلم اقامة التعزير حال مباشرة المعصية واما بعد المباشرة فليس ذلك لغير الحاكم﴿۱﴾ وقال رسول الله ﷺ من رءیٰ منكم منكرا فليغيره بيده (الحديث)﴿۲﴾. وهو الموفق

د حمل حمل سره نکاح، شرعی نکاح نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه شپږ کسان يوځائي ناست وو، پنځو کسانو زيد ته د چائي څکولو ؤوئيل، زيد ؤوئيل چه چائي خو څه معامله تاکلو نه پس څکولې کيږي، په خبرو خبرو کښې زيد ؤوئيل چه د طالب وادهٔ شوې دې، کيدې شي چه ښځه ئې حامله وی، طالب ؤوئيل چه آو حامله ده، زيد ؤوئيل چه زما ښځه هم حامله ده، نو سودا به داوی، چه که ديو جينی او دبل هلک پيدا شو، نودا جينی به ددې هلک منکوحه وی، طالب هم منظوری ورکړه، او آؤئې وکړل، دهغې نه پس زيد مجلس والو باندې چائي وڅکوله، اود دعا سره مجلس ختم شو، اوس د الله تعالیٰ کول داسی وو، چه زيد ته ئې هلک او طالب ته ئې جينی ورکړه، زيد څه موده پس د يو عالم نه تپوس وکړو، هغه ؤوئيل چه نکاح شوې ده، ليکن طالب په توقه واړوله، ددې نکاح څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: قاسم نائب قاصد ماتونګی لکی مروت ۲۴ جمادی الاول ۱۴۰۲هـ

الجواب: چونکه محل د نکاح ښځه ده﴿۱﴾، کما فی ردالمحتار ۲: ۳۵۶﴿۲﴾ او

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۲: ۱۶۷ فصل فی التعزیر)

﴿۲﴾ (رواه مسلم، مشکواة المصابیح ۲: ۴۳۶ باب الامر بالمعروف)

﴿۳﴾ وفی الهندية: (ومن شروطها) المحل القابل وهی المرأة التی احلها الشرع بالنکاح كذا فی النهاية. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۶۷ کتاب النکاح)

﴿۴﴾ قال العلامة الشامی: (قوله من امرأة) والمراد بها ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

اضافت الی المستقبل نامنظور او كالعدم دې، كما فی شرح التنوير علی هامش ردالمحتار ۴: ۲۳۴﴿۱﴾. پس دا وعده شرعی نکاح نشی کيدې، وقد كان من امر الجاهلية ومضی. وهو الموفق

د يوې ښځې د پيرې سړې سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې که يوه ښځه دا دعوی وکړی، چه ما پيرې سره نکاح کړې ده، آيا شرعا دا جائز ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: سيد رزاق کوهاله مری

الجواب: فقهاؤ د انسان دپاره د پيری سره نکاح ناجائز ګڼرلې ده، په دې سره د زنا دروازه پرانستې شی. والتفصيل فی ردالمحتار فليراجع﴿۲﴾. وهو الموفق

د مخطوبة الاب سره د نکاح حکم :

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو سړې يوې ښځې ته د

(بقيه حاشيه) المحققة انوثتها بقرينة الاحتراز عن الخنثی...... والاولیٰ ان يقال ان محليته انثیٰ محققة من بنات آدم ليست من المحرمات الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۸۱ کتاب النکاح)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ولا اضافته الی المستقبل كتزوجتك غدا او بعد غد لم يصح. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۲۰ قبيل باب الولی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: فی الاشباه عن السراجية لا تجوز المناكحة بين بنی آدم والجن وانسان الماء لاختلاف الجنس ومفاد المفاعلة انه لا يجوز للجنی ان يتزوج انسية ايضا...... الاصح انه لا يصح نكاح آدمی جنية كعكسه لاختلاف الجنس فكانوا كبقية الحيوانات. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۸۲ کتاب النکاح)

نکاح پیغام ورکړو . لیکن نکاح شوې نه وه، اوس ددې سړي په وفات کیدلو سره ددې سړي ځوی دهغې ښځې سره نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی : نامعلوم...... ۲۵/۵/۱۹۸۵

الجواب: که باقاعده ایجاب او قبول شوې نه وی، نو د اعراض یا وفات نه پس ځوی دهغې سره نکاح کولې شی.

لان العقد یتم حقیقة بالایجاب والقبول لا الخطبة﴿۱﴾ ویدل علیه ما فی الهندیة ۱:۲۸۵ وتثبت حرمة المصاهرة بالنکاح الصحیح دون الفاسد فلو تزوجها نکاحا فاسدا لا تحرم علیه امها بمجرد العقد بل بالوط﴿۲﴾. وهو الموفق

د مقتول ښځې سره د قاتل نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید یو سړې لره ددې وجه نه وژنی چه دهغه ښځې سره نکاح وکړی، آیا دا نکاح جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی : محمد خورشید ګنډهیری، نوښار

الجواب: قتل ډیر لوئي ظلم او ګناه ده، لیکن په دې سره د نکاح حراموالې نه راځی، البته د میراث نه محرومه کیدل راځی﴿۳﴾، دا قسمه واقعه د هابیل او قابیل متعلق نقل ده﴿۴﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: وینعقد النکاح ای ذلک العقد الخاص ینعقد بالایجاب والقبول حتی یتم حقیقة فی الوجود. (البحر الرائق ۳:۸۱ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۷۴ القسم الثانی المحرمات بالصهریة)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: القاتل بغیر حق لا یرث من المقتول شیئا عندنا سواء قتله عمدا او خطأ. (فتاویٰ عالمگیریه ۲:۴۵۴ الباب الخامس فی الموانع)

﴿۴﴾ قال العلامة عماد الدین ابن کثیر: کان لا یولد......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د شاګرد د پاره د پیر یا داستاذ ښځه یا خور جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د پیر یا استاذ ښځه یا خور شاګرد یامرید دپاره په نکاح کښې راوستل جائزدی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی : محمد ولی الله ۱۰/۲/۱۹۷۳

الجواب: اجماعا جائز او حلال ده.﴿۱﴾ وهو الموفق

وکیل لره د مؤکلې د لور سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه وکیل لره د خپلې مؤکلې د لور سره نکاح جائز ده او که نه؟ او زمونږ په معاشره کښې عموما دې لره ناجائز ګڼړلې شی. د شریعت مطابق څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی : شفیع الله مغلپوره لاهور ۱۲ ذی قعده ۱۳۰۹۷ھ

(بقیه حاشیه) لآدم مولود الاولد معه جاریة فکان یزوج غلام هذا البطن جاریة هذا البطن الآخر ویزوج جاریة هذا البطن غلام هذا البطن الآخر، حتی ولد له ابنان یقال لهما: هابیل وقابیل وکان قابیل صاحب زرع وکان هابیل صاحب ضرع وکان قابیل اکبرهما وکان له اخت احسن من اخت هابیل، وان هابیل طلب ان ینکح اخت قابیل فابی علیه، وقال هیَ اختی ولدت معی وهی احسن من اختک وانا احق ان اتزوج بها فامره ابوه ان یزوجها هابیل فابی وانهما قربا قربانا الی الله عزوجل ایهما احق بالجاریة...... فلما انطلق آدم قربا قربانا، وکان قابیل یفخر علیه، فقال: انا احق بها منک هی اختی وانا اکبر منک وانا وصی والدی...... فاکلت قربان هابیل وترکت قربان قابیل فغضب وقال: لاقتلنک حتی لا تنکح اختی فقال هابیل انما یتقبل الله من المتقین . رواه ابن جریر. (تفسیر ابن کثیر ۲:۵۹ سورة المائدة آیت:۲۷)

﴿۱﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: واحل لکم ما ورآء ذلکم. (سورة النساء آیت:۲۴ پاره:۵)

الجواب: د وکیل د خپلې مؤکلې د لور سره نکاح جائز ده، دا دغه د محرماتو نه نه ده، او عدم جواز صرف محرماتو پورې خاص دې، کما فی کتب الفقه﴿۱﴾. وهو الموفق

د دینی ورور سره نکاح او په مهر کښې د شریک کیدلو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دینی ورور (په خولې وئیلې شوې ورور) سره نکاح جائز ده او که نه؟ او دا ورور په مهر کښې حصه دار دې او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عارف ژوب ملیشا بلوچستان

الجواب: وکیل د نکاح، که هغه ته د نکاح پلار وئیلې شی، او که ورور، دغه شان دینی ورور نه د ټول مهر حقدار دې، اونه د بعضې مهر حقدار دې، او نه دغه سره نکاح حرامه ده، او نه دغه مخکښې بې پرده کیدل جائز دی، ونظیره کالمتبنی﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الامام اکمل الدین البابرتی: (بیان المحرمات) لما کانت من بنات آدم من اخرجها الله عن محلیة النکاح بالنسبة الی بعض بنی آدم احتاج الی ذکرها فی فصل علی حدة واسباب حرمتهن تتنوع الی تسعة انواع القرابة والمصاهرة والرضاع والجمع وتقدیم الحرة علی الامة وقیام حق الغیر من نکاح او عدة والشرک وملک الیمین والطلقات الثلاث وکل ذلک مذکور فی الکتاب.

(شرح العنایة علی هامش فتح القدیر ۳:۱۱۷ فصل فی بیان المحرمات)

﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ: وما جعل ازواجکم الّٰئی تظهرون منهن امهتکم وما جعل ادعیآئکم ابنائکم، ذلکم قولکم بافواهکم والله یقول الحق وهو یهدی السبیل، ادعوهم لآبائهم هو اقسط عند الله فان لم تعلموا ابائهم فاخوانکم فی الدین وموالیکم.

(سورة الاحزاب پاره: ۲۱ آیت: ۴،۵)

پردې سړې د نکاح وکیل جوړیدلو سره ورور نه جوړیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د وادهٔ په وخت کښې چرته لرې رشته دار لره د نکاح دپاره وکیل جوړولو دپاره ورور جوړولې شی، ددې نه پس هغه ددې خور سره رابطه ساتی، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نعیم الرحمٰن ارباب روډ پیښور. ۲شعبان ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا سړې که دغه ښځې د محارمو نه نه وی، نو د نکاح وکیل جوړیدلو سره ورور نه جوړیږی، دا پردې وی، ددهٔ نه پرده کول ضروری دی، دا د ضررونو او خرابو نه ډک یو جاهلانه رسم دې﴿۱﴾. وهو الموفق

دینی ورور خور جوړیدل شیطانی مکر دې او په دواړوکښې نکاح جائزده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه ما یوې ښځې ته دینی خور وئیلې دی، آیا زهٔ دغې سره نکاح کولې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: شبیر حسین کوهاټ

الجواب: دا ښځه نه ستا خور ده، او نه دغې سره د خور شان رویه جائز ده، دا یو شیطانی مکردې، چه په ناجائزتعلقاتو باندې پردې اچولودپاره استعمالولې شی، بهرحال د داسې ښځې دې دینی ورور سره نکاح بالکل جائز ده. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال عبد الله النسفی: (ذلکم قولکم بافواهکم) ای ان قولکم للزوجة هی ام وللدعی هو ابن قول تقولونه بألسنتکم لا حقیقة له اذ الابن یکون بالولادة و کذا الام (والله یقول الحق) ای ما حق ظاهره وباطنه.

(التفسیر النسفی ۲:۳۳۴ سورة الاحزاب پاره: ۲۱ آیت: ۵)

د انشورنس کاروبار کونکی د لور سره رشته کولو کښې هیڅ ګناه نشته

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د یو معتبر دینداره سړې په مخکښې دا الفاظ ؤوئیل چه مولانا صاحب ما د یو کال سوچ او فکر نه پس د انشورنس کاروبار شروع کړې دې، او زۀ دې لره عبادت ګڼړلو سره کوم، کوم سړې چه د الله تعالی حرام شوي لره حلال ؤګڼړی، او صرف ګڼړی ئې نه، بلکه عملا دغې کاروبارهم کوی، د داسې سړې لور سره رشته کول جائز دی او که نه؟

المستفتی: بشیر احمد جامعه اشرفیه سرګودها. ۱۲/۷/۱۹۷۴

الجواب: په ظاهر کښې د لور دا عقیده کیدل معلوم نه دی، لهذا په دې رشته کښې هیڅ ګناه نه وی﴿۱﴾. وهو الموفق

که د تښتولې شوې ښځې نکاح نه مثلې شوې وی. او نه دلائل وی. نو بل ځائي کښې نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې یوه جینۍ ؤتښتوله، چه دهغې رپورټ د اسلام آباد په تهانه کښې لیکلې شوې دې، د ډیر کوشش نه پس مونږ دغه جینۍ ؤموندله، د جینۍ اقرار دادې، چه دغې سړې نکاح نه ده کړې، د ملزم رشته دار هم دا اقرار کوی، او ملزم خپله پټ دې، آیا مونږ ددې جینۍ نکاح بل ځائي کښې کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اصبر کوهستانی اسلام آباد. ۹/۸/۱۹۷۸

الجواب: که تښتونکی سره باقاعده نکاح کول ﴿۲﴾ نه مسلمه وی، او نه مبرهنه،

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي ما يكون كفرا اتفاقا يبطل العمل والنكاح.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۳۲۸ باب المرتد)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصكفي: النكاح هو عقد يفيد ملك... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

نو ددې تښتولې شوې ښځې بل ځائي کښې نکاح جائز ده﴿۱﴾. وهو الموفق

د نابالغ لیور سره نکاح نه پس بل ځائي کښې نکاح باطله ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوه کونډه ښځه د عدت تیرولو نه پس د خاوند مرحوم کشر ورور سره نکاح وکړې، چه هغه وخت کښې نابالغه وی، او ښځه په خپله مرضی سره مهر مقرر کړې، او وکیل هم مقرر کړې، د نکاح په وخت دوه ګواهان هم موجود وی، د جمات امام ته د خپلې رضا سره د عقد کولو لیکل هم ورکړې، بیا شپږ میاشتې پس د والدینو په وینا دهغه کور ته لاړه شی، اوس والدین هغې لره بل ځائي کښې ورکول غواړی، آیا دا نکاح په نکاح باندې جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوفی محمد اسماعیل سکوائر روډ راولپنډی.

الجواب: که دا عقد د عدت تیریدو نه پس (یعنی د وضع حمل یا څلور میاشتې او لس ورځې تیریدو نه پس) شوې وی﴿۲﴾، او د هلک د طرف نه څه وکیل یا ولی موجود وو، او دهغه په ذریعه ایجاب او قبول شوې وی﴿۳﴾، نو ددې کونډې بل ځائي نکاح باطل او کالعدم دی، قال الله تعالی: والمحصنٰت من ....

(بقیه حاشیه) المتعة ای حل استمتاع الرجل من امرأة لم يمنع من نكاحها مانع شرعي فخرج الذكر...... والمحارم.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۸۱ كتاب النكاح)

﴿۱﴾ وفي الهندية: لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره و كذلك المعتدة.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات التي يتعلق بها حق الغير)

﴿۲﴾ وفي الهندية: لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره و كذلك المعتدة سواء كانت العدة عن طلاق او وفاة او دخول في نكاح فاسد الخ.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات التي يتعلق بها حق الغير)

﴿۳﴾ وفي الهندية: واما شروطه فمنها العقل والبلوغ ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

من النساء ﴿۱﴾ وصرح به جمیع ارباب الفتاوی﴿۲﴾. وهو الموفق

د میرنزې خوابنې سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د یو سړي څوم د (خوابنې نه علاوه) ددې سړې بلې ښځې سره نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد خان نو ښار ۴صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: داد محرماتو نه نۀ ده. (ماخوذاز (شامی ۲: ۳۹۱، ۳۹۰)﴿۳﴾ وهو الموفق

د خوی د ښځې د ښوابنې د دویم خاوند سره نکاح کول

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیوې ښځې داول خاوند نه یو څوی وو، هغې ښځې دویم وادۀ وکړو، څوی ئې هم وادۀ وکړو او مړشو،

(بقیه حاشیه) والحریة فی العاقد الا ان الاول شرط الانعقاد فلا ینعقد نکاح المجنون والصبی الذی لا یعقل والاخیران شرطا النفاذ فان نکاح الصبی العاقل یتوقف نفاذه علی اجازة ولیه.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱ :۲٦۷ کتاب النکاح الباب الاول)

﴿۱﴾ (سورة النساء آیت: ۲۴ پاره: ۵)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: وانتفاء محلیة المرأة للنکاح شرعا باسباب تسعة...... السادس المحرمة لحق الغیر کمنکوحة الغیر ومعتدته الخ.

(البحر الرائق ۳: ۹۲ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها او امة ثم سیدتها لانه لو فرضت المرأة او امرأة الابن او السیدة ذکرا لم یحرم بخلاف عکسه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۰۹ فصل فی المحرمات)

....

اوس د څوی ښځې ئې ددې ښځې د دویم خاوند سره نکاح وکړه، آیا دا ښځه یعنی د هلک مور او د هلک ښځه په یوه نکاح کښې جمع کیدې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ نیک محمد هائي سکول شیخان پیښور ۱۲ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا جمع جائز ده.

کما فی شرح التنویر ۲ : ۳۹۱ علی هامش ردالمحتار: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها﴿۱﴾. وهوالموفق

ماما د خوری طلاقه کړې شوې ښځې سره نکاح کولې شی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید خپلې منکوحې زبیدې ته طلاق ورکړو، او د زبیدې د زید نه یوه جینۍ هم ده، عدت پوره کیدو نه پس د زید حقیقی ماما د زبیدې سره نکاح کول غواړی، آیا دا جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید حیات شاه کریمی انډسټریز سټیل ورکس نوشهره

الجواب: د زید د ماما دپاره د زید طلاقه کړې شوې ښځې سره نکاح جائز ده، قال الله تعالی واحل لکم ما وراء ذالکم. (الآیة)﴿۲﴾ وهو الموفق

د زید د علاتی (پلار شریک) خور نکاح د زید ماما سره صحیح ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د زید علاتی خور فاطمه ده، یعنی د پلار نه ده، او د مور نه ئې نه ده، دهغې نکاح د زید خپل ماما بکر سره صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی فضل غفار خیبر بوټ هاؤس مینګوره سوات

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۳۰۹ فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ په دې کښې د حرمت هیڅ وجه نشته.

قال لله تعالیٰ: واحل لکم............ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: په دې صورت کښې د بکر نکاح د فاطمې سره صحيح ده.﴿۱﴾ وهوالموفق

د چاچې او مامي سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ورارهٔ د خپل ترهٔ مرحوم ښځې سره او خورې د خپل ماما مرحوم ښځې سره نکاح کولې شی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: منتظر شاه پاک جرمن فارم ملتان ۱۷/۴/۱۹۷۲

الجواب: د ترهٔ او ماما ښځې سره نکاح جائز ده.

لعدم ورود النهى عنه فى القرآن والحديث وكتب الفقه﴿۲﴾ وقال الله تعالىٰ: احل لكم ما وراء ذلكم﴿۳﴾ ويدل عليه مفهوم الدر المختار وزوجة اصله وفرعه مطلقا﴿۴﴾ فافهم. وهوالموفق

(بقيه حاشيه) ما وراء ذلكم اى سوىٰ ما حرم عليكم من النساء.
(تفسيرجلالين ۱: ۸۲ پاره: ۵ آيت: ۲۴)

﴿۱﴾ په دې کښې د حرمت هيڅ وجه نشته.
لقوله تعالىٰ: واحل لكم ما وراء ذلكم. (پاره: ۵ آيت: ۲۴)

﴿۲﴾ قال العلامة الكاساني: فالمحرمات بالقرابة سبع فرق الامهات والبنات والاخوات، والعمات، والخالات، وبنات الاخ وبنات الاخت...... ثم اخبر سبحانه وتعالىٰ انه احل ما وراء ذلك بقوله (واحل لكم ما وراء ذلكم) وبنات الاعمام والعمات والاخوال والخالات لم يذكرن فى المحرمات فكن مما وراء ذلك فكن محللات، وكذا عمومات النكاح لا توجب الفصل ثم خص عنها المحرمات المذكورات فى آية التحريم فبقى غيرهن تحت العموم الخ. (البدائع الصنائع ۲: ۵۲۹، ۵۳۱ كتاب النكاح المحرمات بالقرابة)

﴿۳﴾ (سورة النساء پاره: ۵ آيت: ۲۴)

﴿۴﴾ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۳۰۲ فصل فى المحرمات)

د ميرنزې مور لور سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ديو سړې دوه ښځې دی، ديوې نه هلک پيدا شوې وو، اوس دا سړې وفات شو، او دويمې ښځې ئې بل ځائې نکاح وکړه، او دهغې نه يوه جينئ پيدا شوه، آيا ددې هلک او جينئ په مينځ کښې نکاح جائز ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: مفقود العنوان ۲۲/۵/۱۹۷۲

الجواب: ددې هلک دپاره د ميرنزې مور هغه اولاد سره چه ددهٔ د پلار نه نه وی، نکاح جائز ده. لقوله تعالى: واحل لكم ماوراء ذالكم﴿۱﴾ وفى در مختار: واما بنت زوجة ابيه او ابنه فحلال (۲: ۳۸۳)﴿۲﴾ وهو الموفق

د خوی د ښځې خور سره نکاح کول

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه د زيد پلار پرله پسې څلور ښځې وکړې، د زيد د پلار د اولې ښځې يوه خور وه، چه دهغې نکاح بل ځائې کښې شوې وه، اودهغې نه يو هلک بکر پيدا شوې دی، او د بکر دوه لونړه دی، د بکر د مشرې لور وادهٔ وشو، ليکن بيا طلاقه شوه، اوس هغې عدت پوره کړې دې، اوس د بکر د کشرې لور نکاح د زيد د مشرځوی اظهر سره شوې ده، اوس زيد خپله د بکر مشرې لور سره نکاح کول غواړی. آيا شرعا دا جائز ده، چه دوه خويندې په يو کور کښې يو د پلار سره او يو د ځوی سره وی؟ بينوا توجروا

المستفتی: عادل محمود قريشی رياض سعودی عرب ۲۱ رمضان ۱۴۰۵ھ

﴿۱﴾ (سورة النساء پاره: ۵ آيت: ۲۴)

﴿۲﴾ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۳۰۲ فصل فى المحرمات)

الجواب: هرکله چه د زید د خپل پلار د ښځې د لور سره نکاح جائز ده، لکه چه شرعی حکم هم دادې﴿١﴾، نو دهغې لونړه به څنګه محرماتې وی، بهرحال زید ددې طلاقې کړې شوې سره نکاح کولې شی. قال الله تبارک وتعالی: واحل لكم ماوراء ذالكم﴿٢﴾. وهو الموفق

د اخیافی (یعنی مور شریکې) وُریرې سره نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه سکینې بی بی د الله وسایا سره وادهٔ وکړو، دهغې نه یو هلک غفران پیدا شو، دغفران نه بیا یوه جینۍ شګفته پیدا شوه، اوس الله وسایا وفات شو. دهغه نه پس سکینه بی بی دالله دته سره وادهٔ وکړو، او دهغې خاوندنه ئې یو هلک مهربان پیدا شو، اوس د مهربان او شګفتې په مینځ کښ نکاح کیدې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد نواز لغاری آئي ډی او مردان. ١٩٧٢/٢/٩

الجواب: شګفته بی بی د مهربان وُریره ده، لهذا ددې دواړو په مینځ کښ نکاح بالکل حرامه ده، قال الله تعالی وبنات الاخ (الاية)﴿ ٣﴾ وفی در مختار حرم علی المتزوج اصله وفروعه وبنت اخيه الخ﴿٤﴾ والمسئلة واضحة﴿٥﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامه الحصكفی: واما بنت زوجة ابيه او ابنه فحلال.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣٠٣ فصل فی المحرمات)

﴿٢﴾ سورة النساء پاره: ۵ آیت: ٢۴)

﴿٣﴾ (سورة النساء پاره: ۴ آیت: ٢٣)

﴿۴﴾ (الدرلمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣٠١ فصل فی المحرمات)

﴿۵﴾ قال العلامة الكاسانی: وتحرم عليه بنات الاخ وبنات الاخت بالنص وهو قوله تعالیٰ (وبنات الاخ وبنات الاخت) وان سفلن بالاجماع.

(بدائع الصنائع ٢: ۵٣٠ المحرمات بالقرابة)

د خورې ښځې سره د ماما نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه د خوری ښځه د ماما دپاره جائز ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیرزمین چارسده روډ پیښور ١۴ جمادی الثانی ١۴٠٢هـ

الجواب: ټولو فتاوؤ زوجه اصل او زوجه فرع لره په محرماتو کښ شمار کړې دی﴿١﴾، نه د ورور ښځه او نه د ماما ښځه﴿٢﴾. وهو الموفق

د میرنزی پلار ښځې او لور سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه دوه رونړه عبدالله او شریف الله دی، عبدالله دیوې ښځې شریفې سره وادهٔ وکړو، او دهغې نه یو ځوی عابد پیدا شو، عبدالله مړشو او شریفې سره شریف الله نکاح وکړه، شریفه هم مړه شوه، او شریف الله د زینب سره دویمه نکاح وکړه، چه دهغې نه عابده لور پیدا شوه، بیا شریف الله هم مړ شو، اوس د عابد نکاح د زینب یا عابدې سره کیدې شی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاکم ګل مدرسه انجمن تعلیم القران کوهاټ ١۴ محرم ١۴٠٣ هـ

الجواب: د ترهٔ ښځې او د ترهٔ لور سره نکاح جائز ده، دا دواړه په محارمو کښ

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفی: وزوجة اصله وفرعه مطلقا ولو بعيدا الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣٠٢ فصل فی المحرمات)

﴿٢﴾ قال العلامة عبد الله بن مودود الموصلی: ان المحرمات بكتاب الله وسنة نبيه ﷺ تسعة اقسام: بالقرابة وبالصهرية...... فالمحرمات بالقرابة سبعة انواع...... وما عداهن من القرابات محللات بقوله تعالیٰ واحل لكم ما ورآء ذلكم (الآية).

(الاختيار لتعليل المختار ٢: ١١٢ فصل فی المحرمات)

داخل نه دی﴿۱﴾. د ناکح د والدې د ناکح د ترۀ سره نکاح دې حلت ته ضرر رسونکی نه دی﴿۲﴾. وهو الموفق

د ښځې په موجودګۍ کښې د ښځې د خور سره نکاح باطله او د ښځې نکاح ته ضرررسونکې نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی د خپلې ښځې خور ؤتښتوله، نکاح ئې ورسره کړې ده او که نه؟ ددې شهادت فی الحال موجود نه دې، البته که شهادت وکړې شی، نو آیا د مشرې خور نکاح به باطله وی، او که د دویمې، که نکاح شوې نه وی، نو د مشرې خور په نکاح باندې د اثر غورزیدلو څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالحق امام مسجد نیلان مانسهره

الجواب: د ښځې خورسره نکاح کول باطل او کالعدم ده، (که ښځه طلاقه کړې شوې، یا مړه شوې نه وی) او د دې دویمې خور سره جماع کول حرام او زنا ده، البته په هرحال کښې ددې مشرې خور (ښځې) په نکاح او حلت باندې ددې

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: وبنات الاعمام والعمات والاخوال والخالات لم یذکرن فی المحرمات فکن مما وراء ذلک فکن محللات، وکذا عمومات النکاح لا توجب الفصل، ثم خص عنها المحرمات المذکورات فی آیة التحریم فبقی غیرهن تحت العموم وقد ورد نص خاص فی الباب. (البدائع الصنائع ۲: ۵۳۱ المحرمات بالقرابة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: واما بنت زوجة ابیه او ابنه فحلال.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۲ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ قال العلامة الموصلی: ولایجوز الجمع بین الاختین نکاحا...... لقوله تعالیٰ وان تجمعوا بین الاختین الا ما قد سلف، وقال علیه السلام: من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یجمعن ماءه فی رحم اختین...... ولو تزوج اختین فی عقدتین ولا یدری ایتهما اولیٰ فرق بینه وبینهما لان نکاح احداهما باطل بیقین الخ.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۱۴ فصل فی المحرمات)

دویمې نکاح یا جماع هیڅ اثر نه غورزیږی.

یدل علی الاول ما فی الهندیة (۱: ۲۹۵) وان تزوجهما فی عقدتین فنکاح الاخیرة فاسد﴿۱﴾ وفی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۸۶ وفی الخلاصة وطئ اخت امرأته لا تحرم علیه امرأته﴿۲﴾. وهو الموفق

د علاتی ورور د پاره د اخیافی خور سره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د یو سړی دوه ښځې وې، هغه سړې مړ شو، او د دواړو ښځو دهغه سړې نه اولاد دې، په هغوی کښې یوې ښځې دویم وادۀ وکړو، او اولاد ئې پیدا شو. اوس ددې دویم خاوند او ښځې د اولاد نکاح د دې دویمې ښځې د اولاد سره جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد نور عدم پټه. ۹ ذی قعده ۱۳۹۲ھ

الجواب: د علاتی ورور د اخیافی خورسره نکاح جائزده. کما فی شرح التنویر وکذا نسبا بان یکون لاخیه لابیه اخت لام (هامش ردالمحتار ۲: ۵٦۱)﴿۳﴾ وهوالموفق

که پلار کنډې سره او ځامن ئې د کنډې لوڼړو سره نکاح وکړی نو جائزه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه دیوې کنډې دوه لوڼړه وې، دغه شان دیو سړې دوه ځامن وو، هغه سړې ددې کنډې سره نکاح وکړه،

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۷ القسم الرابع المحرمات بالجمع)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۵ وحرم بالصهریة فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۴۴۳ باب الرضاع)

آیا اوس ددې لونړو او ځامنو په مینځ کښې نکاح جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد خلیل الله تهائي لینډ ۱۲/۸/۱۹۷۷

الجواب: ددې سرې نکاح د کنډې سره او ددهٔ د ځامنو نکاح د کنډې لونړو سره جائز ده، په دې کښې دچا هم اختلاف نشته، قران وحدیث اوفقه کښې چه څومره محرمات مذکور دی، په هغې کښې دا صورت داخل نه دې.《۱》وفی شرح التنویر واما بنت زوجة ابیه او ابنه فحلال، هامش ردالمحتار ۲:۳۸۳ وفی ردالمحتار ولا ام زوجة الابن《۲》. وهو الموفق

د ښینې لور په نکاح کښې اخستلو دپاره مختلف صورتونه

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلو باره کښې:

۱) د ښځې په ژوند کښې ښینې حرامه ده، لیکن د ښینې د لور څه حکم دې؟

۲) دښځې دوفات نه پس ښینې نامحرمه ده، لیکن دښینې دلورڅه حکم دې؟

۳) د ښځې په ژوند کښې که دښینې انتقال وشی، نودښینې دلورڅه حکم دې؟

۴) د ښځې په ژوند کښې د اوښې لور محرمه ده او که غیر محرمه؟

《۱》قال العلامة فخر الدین الزیلعی: ان المحرمات انواع الاول المحرمات بالنسب وهن انواع فروعه واصوله وفروع ابویه وان نزلوا وفروع اجداده وجداته اذا انفصلوا ببطن واحد، والنوع الثانی المحرمات بالمصاهرة وهن انواع اربعة...... والنوع الثالث المحرمات بالرضاع وانواعهن کالنسب والنوع الرابع حرمة الجمع...... والنوع الخامس المحرمة لحق الغیر کمنکوحة الغیر ومعتدته والحامل بثابت النسب والنوع السادس المحرمة لعدم دین سماوی...... والنوع السابع المحرمة للتنافی کنکاح السیدة مملوکها.

(تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق ۲:۱۰۱ فصل فی المحرمات)

《۲》(الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۳۰۲،۳۰۳ فصل فی المحرمات)

۵) دښځې دمرګ نه پس داوښې لورمحرمه ده اوکه غیرمحرمه؟ بینوا توجروا

المستفتی: راشد محمود ملتان. یکم صفر ۱۴۰۳ھ

الجواب: ۱) د ښینې (د ښځې د خور) او د ښینې د لور یو حکم دې، چه حرامه ده. (شامی)

۲) دواړه حلالې دی، لان الممنوع هو الجمع (شامی)

۳) د ښځې په ژوند د ښینې د لور سره نکاح کول حرام دی، که ښینې ژوندې وی او که وفات شوې وی. (شامی)

٤) حرامه ده، د ترور او وریرې په مینځ کښې جمع حرام ده. (شامی)

٥) حلاله ده. (شامی)《۱》وهو الموفق

ترور او وریرې لره په نکاح کښې جمع کول. او د هدایې د عبارت وضاحت

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه قوله:........

قوله: ولا علی ابن اخیها الخ ذکر النهی من الجانبین للمبالغة فی التحریم او لازالة الاشکال، فربما یظن ان نکاح ابنة الاخ علی العمة لا یجوز ونکاح العمة علی بنت الاخ یجوز لفضل العمة کما لا یجوز نکاح الامة علی الحرة ویجوز نکاح الحرة علی الامة کذا فی الکافی،

آیا ددې حکم لاندې د وریرې په موجودګۍ کښې د ښځې وریرې سره نکاح جائز ده؟ او که ترور له طلاق ورکولو نه پس وریرې سره نکاح کولې شی؟ او

《۱》قال العلامة الحصکفی: وحرم الجمع بین المحارم نکاحا ای عقدا صحیحا وعدة ولو من طلاق بائن وحرم الجمع وطأ بملک یمین بین امرأتین ایتهما فرضت ذکرا لم تحل للاخری ابدا لحدیث مسلم لا تنکح المرأة علی عمتها وهو مشهور یصلح مخصصا للکتاب الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۰۹ فصل فی المحرمات)

بیا دوباره د وریرې په موجودګۍ کښې دهغې دغې ترور سره نکاح کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالخالق کوهاله راولپنډی. ۱۴/۹/۱۹۷۰

الجواب: د ترور او وریرې په مینځ کښې جمع حرامه ده، که اول وریرې سره نکاح شوې وی او که ترور سره.

قال رسول الله ﷺ **لا یجمع بین المرأة وعمتها ،(متفق علیه) ﴿۱﴾ نهی رسول الله ﷺ ان تنکح المرأة علی عمتها اوالعمة علی بنت اخیها، (رواه الترمذی ﴿۲﴾ وابوداؤد)﴿۳﴾، وصرح به فی الهندیة (۱: ۲۹۵)﴿۴﴾ وغیر واحد من کتب الفروع،** او کوم عبارت چه تا نقل کړې دې، دهغې مقصد جواز نه دې، بلکه صاحب د هدائي سر او حکمت ذکر کوی. وهو الموفق

د جینۍ سره عمه (د مور دطرفه ترور) یا خاله (د پلار د طرفه ترور) په یو نکاح کښې جمع کول حرام دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه الف یو سړې دې، چه دهغه منکوحه با موجوده ده. د با خور جیم ده. او څوی ئې دال دې، د دال لور ها ده، آیا د با په موجودګۍ کښې الف یعنی خاوند ها لره په نکاح کښې

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال **لا یجمع بین المرأة وعمتها ولابین المرأة وخالتها.** (رواه البخاری ۷/۱۵ ومسلم ۴: ۳۳)

﴿۲﴾ **(سننج الترمذی ۱: ۱۳۴ باب لا تنکح المرأة علی عمتها ولا علی خالتها)**

﴿۳﴾ **(سنن ابی داؤد ۱: ۲۸۹ باب ما یکره ان یجمع بینهن من النساء)**

﴿۴﴾ **وفی الهندیة: ولا یجوز الجمع بین امرأتین کل منهما عمة للاخریٰ ولا بین امرأتین کل منهما خالة للاخریٰ وصورة ذلک ان یتزوج کل من رجلین ام الآخر ویولدها بنتا فیکون کل واحدة من البنتین عمة للاخریٰ ولو تزوج کل من رجلین بنت الآخر واولدها کانت بنت کل واحد منهما خالة للاخریٰ کذا فی الهدایة.**

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۹ قبیل القسم الخامس الاماء المنکوحة الخ)

راوستلې شی، یعنی با او ها لره په یو نکاح کښې جمع کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا سراج الدین ملازئي ډی آئي خان.

الجواب: د باء او هاء په یو نکاح کښې جمع کول حرام دی.

قال رسول الله ﷺ **لا یجمع بین المرأة وعمتها ولا بین المرأة وخالتها (متفق علیه)﴿۱﴾ قلت استنبط منه الفقهاء، لا یجمع بین امرأتین لو کانت احداهما رجلا لم یجز له ان یتزوج باخریٰ (هدایة ۲۸۹)﴿۲﴾. وهوالموفق**

د ترور او خورزې په یو نکاح کښې جمع کول حرام دی.

اګر که ترور ئې اعیانیه وی او که غیر اعیانیه

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې دخپلې لورنکاح د هغه سړې سره وکړه، چه دهغه په نکاح کښې ددې سړې د لور لور موجوده ده، دا دواړه ښځې په خپلو کښې ترور خورزې جوړیږی، او ددې سړې په نکاح کښې دوه ښځې دی، ددې وجه نه بعضې جاهلان وائي، چه میاندې جدا جدا دی، ددې وجه نه دا نکاح صحیح ده، او په حقیقت کښې دا رشته په سوره کښې ورکړې شوې ده، او هغوی په دې باندې په ضد دی، اوس مونږ دهغوی سره څه طریقه وکړو؟ او دهغې نکاح خوان او ګواهانو وغیره سره څه طریقه کول پکار ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد عثمان مدرسه قاسم العلوم ضلع سکهر ۷|۱۲|۱۹۷۲

الجواب: ددې جینۍ نکاح (یعنی د ښځې د ترور) باطله ده، که اعیانی وی یا غیر اعیانی، په ټولو مسلمانانو خاصکر په حاکمانو باندې ضروری ده، چه

﴿۱﴾ **(مشکواة المصابیح ۱: ۲۷۳ باب المحرمات الفصل الاول)**

﴿۲﴾ **(هدایة ۲: ۳۰۹ فصل فی بیان المحرمات)**

﴿۳﴾ **وفی الهندیة: فلایجوز الجمع بین امرأة وعمتها نسبا او رضاعا وخالتها کذلک. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۷ القسم الرابع المحرمات بالجمع)**

دا آخرنی ښځه ددې سرې نه جدا کړئ.

لما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ نهی ان تنکح المرأة علی عمتها والعمة علی بنت اخیها والمرأة علی خالتها او الخالة علی بنت اختها (رواه الترمذی) ﴿۱﴾

دا سړې واجب القتل دې، (لوکان مستحیلا (سیف) لیکن قتل کول زمونږ په طاقت کښې نشته﴿۳﴾. لهذا کم از کم دهغه سره تعلق ختمول خو زمونږ د طاقت نه خارج نه دی﴿۴﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (سنن الترمذی ۱:۱۳۴ باب لا تنکح المرأه علی عمتها ولا علی خالتها)

﴿۲﴾ وعن البراء بن عازب قال مربی خالی ابوبردة بن نیار ومعه لواء فقلت این تذهب قال بعثنی النبی ﷺ الی رجل تزوج امرأة ابیه آتیه برأسه، رواه الترمذی وابوداؤد وفی روایة له وللنسائی وابن ماجه والدارمی ان اضرب عنقه وآخذماله، ذهب اکثر اهل العلم الی ان المتزوج کان مستحلا له علی ما یعتقده اهل الجاهلیة فصار بذلک مرتدا محاربالله ولرسوله فلذلک امر بقتله واخذماله وکان ذلک الرجل یعتقد حل هذا النکاح فمن اعتقد حل شیئ محرم کفر وجاز قتله واخذماله ومن جهل تحریم نکاح واحدة من محارمه فتزوجها لم یکفر ومن علم تحریمها واعتقدالحرمة فسق وفرق بینهما وعزر هذا اذا لم یجربینهما دخول والا فان علم تحریمها فهو زان...... وان قال علمت انها علی حرام ولکن یجب المهر ویعاقب عقوبة هی اشد ما یکون من التعزیر سیاسة لاحدا مقدرا شرعا...... قالا والشافعی ومالک واحمد یجب حده اذا کان عالما قال ابن الهمام وفی مسئلة المحارم روایة عن جابر انه یضرب عنقه الخ. (مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۶:۲۲۷،۲۲۸ التعزیر علی النکاح بالمحارم)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: وینقسم الی ماهو حق الله وحق العبد والاول یجب علی الامام لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلک لغیر الحاکم ...... قالوا الخ. (فتاویٰ عالمگیریه ۲:۱۶۷ فصل فی التعزیر)

﴿۴﴾ قال الحافظ ابن الحجر العسقلانی: (قوله باب مایجوز من الهجران لمن عصی) اراد بهذه الترجمة بیان الهجران الجائز لان عموم النهی...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ترور او خورزه په یو نکاح کښې جمع کول حرام دی، اګر که علاتی وی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه حبیبه او صائمه علاتی خویندې دی، یعنی پلارئې یو دې، او میاندې ئې جدا جدا دی، اوس د حبیبې خاوند غواړی، چه د صائمې لور زینب سره نکاح وکړی، اوس د اعیانی په صورت کښې خو مطلقا ناجائز ده، لیکن په علاتی کیدو کښې او اخیافی کیدو کښې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی : میر شهزاد خارډاګئي ملاکنډ ایجنسی.

الجواب: د ترور او بنت الاخت په نکاح کښې جمع کول مطلقا ناجائز دی، هیڅا هم په تخصیص باندې قول نه دې کړې.

فی الهدایة: لا یجمع بین المرأة وعمتها او خالتها او ابنة اخیها او ابنة اختها، لقوله علیه السلام لا تنکح المرأة الحدیث (۲:۵)﴿۱﴾ وفی الهندیة: فلا یجوز الجمع بین امرأة وعمتها نسبا او رضاعا وخالتها کذلک الخ (۱:۲۹۵)﴿۲﴾. وهوالموفق

ښځې لره او د هغې خورزې لره نکاحا جمع کول جائز نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د خپلې ښځې

(بقیه حاشیه) مخصوص بمن لم یکن لهجرة سبب مشروع فتبین هنا السبب المسوغ للهجر وهو لمن صدرت منه معصیة فیسوغ لمن اطلع علیها منه هجره علیها لیکف عنها...... قال المهلب غرض البخاری فی هذا الباب ان یبین صفة الهجران الجائز وانه یتنوع بقدر الجرم...... الهجران علی مرتبتین الهجران بالقلب والهجران باللسان فهجران الکافر بالقلب وبترک التودد والتعاون والتناصر لا سیما اذا کان حربیا الخ. (فتح الباری شرح البخاری ۱۳:۵۹۷ باب مایجوز من الهجران لمن عصی)

﴿۱﴾ (هدایة ۲:۳۰۸ کتاب النکاح فصل فی المحرمات)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۷۷ القسم الرابع المحرمات بالجمع ای الجمع بین ذوات الارحام)

يعنى منكوحې خورزې سره نكاح كول غواړي، آيا دې دواړو لره په يو نكاح كښې جمع كول جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مفقود الخبر ١١/١١/١٩٧٢

الجواب: ښځه او دهغې د خورزې په مينځ كښې جمع كول حرام دي، البته انفراد جائز دې، يعنى منكوحې ته طلاق وركولو نه پس دهغې خورزې سره نكاح كول، يا صرف ښځې لره په خپل حال آبادول. لان المحرم هو الجمع دون غيره﴿١﴾ قال الله تعالى واحل لكم ماوراء ذالكم﴿٢﴾. وهو الموفق

كه مور او لور د دوؤ رونړو په نكاح كښې وي، د هغوى د اولاد په مينځ كښې د نكاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره كښې چه دوه سكه رونړه دي، په هغوى كښې يو ورور د يوې ښځې سره نكاح وكړه، او دويم ورور ددې ښځې لور سره نكاح وكړه، اوس د دواړو نه اولاد پيدا شو، بيا دهغوى د اولاد اولاد پيدا شو، اوس ددې لور د لونړو د لونړو نكاح د مور خامنو سره جائز ده او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مرزا جان ټيكسلا

الجواب: داجينكى او د جينكو لونړه دهغې هلكانو خورزې او د خورزو لونړه

﴿١﴾ وفى الهندية: وان اراد ان يتزوج احداهما بعد التفريق فله ذلك ان كان التفريق قبل الدخول وان كان بعد الدخول فليس له ذلك حتى تنقضى عدتهما وان انقضت عدة احداهما دون الاخرىٰ فله ان يتزوج المعتدة دون الاخرىٰ مالم تنقض عدتها وان دخل باحداهما فله ان يتزوجها دون الاخرىٰ مالم تنقض عدتها.
(فتاوىٰ عالمگيريه ١ :٢٧٨ القسم الرابع المحرمات بالجمع)

﴿٢﴾ (سورة النساء پاره: ۴ آيت: ٢٣)

دي، چه محرمات دي﴿١﴾. قال الله تعالى وبنات الاخت (الآية)﴿٢﴾ وهو الموفق

د يوې ښځې نه لور او د بلې ښځې نه نوسى په يو نكاح كښې جمع كول جائز نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره كښې چه زمونږ د علم مطابق خو دا صورت جائز نه دې، ليكن ستاسو دعلم مطابق رائې حاصلول هم لازمي دي هغه داچه ديو سړي دوه ښځې وي، اود هرې يوې ښځې نه يوه يوه لور وه، او د يوې لور ئې يوه لور ده، په هغو كښې ديوې لور نكاح د يو سړي سره وشوه، څه موده پس ددې دويمې جينئ د لور يعنى د نوسې نكاح هم هغه سړي سره وشوه، په دې صورت كښې ددې دويمې نكاح څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوى ولى محمد بابر مدرسه شمس المدارس ژوب شهر ٣/٩/١٩٩٠

الجواب: په دې صورت كښې اوله نكاح (د لور سره) صحيح ده، او دويمه نكاح كالعدم او قطعا حرامه ده. للاصل الشهير: حرم الجمع بين المحارم نكاحا ووطا بملك يمين بين امرءتين ايتهما فرضت ذكرا لم تحل للاخرى ابدا﴿٣﴾. پس په دې خاوند ضرورى ده، چه د دويمې ښځې نه قبضه اوچته كړي، په علماؤ او ټول قوم او ټول اهل اسلام باندې ضرورى ده، كه دا خاوند دې لره حلال ګڼړي، نو ددې مرتد سره دې مقابله وكړي﴿۴﴾. وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن الشحنة: ويحرم على الرجل نكاح اصوله...... وفروعه...... وفروع اصوله اى الاخوة والاخوات واولادهم واولاداولادهم وان نزلوا.
(لسان الحكام يلى معين الحكام ١ :٣١٧ الفصل الثالث عشر فى النكاح)

﴿٢﴾ (سورة النساء پاره: ۴ آيت: ٢٣)

﴿٣﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢ :٣٠٨ فصل فى المحرمات)

﴿۴﴾ قال العلامة على بن سلطان محمد: ذهب...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

علاتي نيا او نوسۍ په يو نکاح کښې جمع کول جائز نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه د نيکه علاتي خور ده، او د يو سړي په نکاح کښې ده، اوس هغه سړې د نيکه نوسۍ لره په نکاح کښې راوستل غواړي، آيا ددې دواړو جمع کول جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سراج الدين کانګړه چارسده

الجواب: ددې دواړو په مينځ کښې جمع ناجائز ده.

وفي الهندية: والاصل ان كل امرأتين لو صورنا احداهما من اى جانب ذكرا لم يجز النكاح بينهما برضاع او نسب لم يجز الجمع بينهما (١: ٢٩٥)﴿١﴾. وهو الموفق

د عدت په دوران کښې نکاح کالعدم ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه ديوې ښځې خاوند وفات شو، د خاوند ورور ددې ښځې سره د عدت تيريدو نه مخکښې نکاح وکړه، آيا دا نکاح جائز ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد قدير سواتی ١٢/٣/١٩٧٤

(بقيه حاشيه) اكثر اهل العلم الى ان المتزوج كان مستحلا له على ما يعتقده اهل الجاهلية فصار بذلك مرتدا محاربالله ولرسوله فلذلك امر بقتله واخذ ماله وكان ذلك الرجل يعتقد حل هذا النكاح فمن اعتقد حل شئ محرم كفر وجاز قتله واخذماله ومن جهل تحريم نكاح واحدة من محارمه فتزوجها لم يكفرو من علم تحريمها واعتقد الحرمة فسق وفرق بينهما وعزر هذا اذا لم يجر بينهما دخول الخ.

(مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ٦: ٢٢٨ باب المحرمات الفصل الثانی)

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمگيريه ١: ٢٧٧ القسم الرابع المحرمات بالجمع)

الجواب: د معتدې نکاح ناجائز او کالعدم دې.

لما فى الهندية ١: ٢٩٨ لايجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذلك المعتدة كذا فى السراج الوهاج سواء كانت العدة عن طلاق او وفاة او دخول فى نكاح فاسد﴿١﴾. وهو الموفق

د وفات عدت تيرونکې حاملې ښځې سره د نکاح کونکي حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې که يو سړي د وفات عدت تيرونکې حاملې ښځې سره چه ثابت النسب وي، نکاح وکړي، آيا دا جائز ده؟ که جائز نه وي، نو ددې حلال ګڼرونکي څه حکم دې؟ او چه هغه ته معلومه هم وي چه دا حامله ده، که هغه ددې نکاح په وجه وطی وکړي، نو آيا په هغه به حد جاري کولې شي، يعنی تعزير به ورته ورکولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: ضياء المرسلين دار العلوم ربانيه هری پور هزاره ٢١ ذی قعده ١٣٨٩ھ

الجواب: د عدت تيريدو نه مخکښې دا نکاح حرامه ده.

قال الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب اجله (الآية)﴿٢﴾ وقال تعالى: واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن (الآية)﴿٣﴾ فالناكح ان كان جاهلا فلا يكفر وان كان عالما بالحرمة فعند الاستحلال يكفر والافيفسق﴿٤﴾ ولا سبيل لنا الى الجزم. وهو الموفق

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمگيريه ١: ٢٨٠ القسم السادس المحرمات التی يتعلق بها حق الغير)

﴿٢﴾ (سورة البقرة پاره: ٢ آيت: ٢٣٥)

﴿٣﴾ (سورة الطلاق پاره: ٢٨ ايت: ٤)

﴿٤﴾ قال الملا على بن سلطان محمد: فمن اعتقد حل شئ محرم كفر وجاز قتله واخذماله ومن جهل تحريم نكاح واحدة من محارمه فتزوجها لم يكفر ومن علم تحريمها واعتقد الحرمة فسق وفرق بينهما وعزر هذا اذا لم يجر بينهما دخول.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ٦: ٢٢٨ التعزير على النكاح بالمحارم)

د عدت دوران کښې نکاح کونکې د طلاق ثلاثه

ورکولو نه پس دوباره د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلې باره کښې چه د عدت دوران کښې یو کس ښځې ته طلاق ثلاثه ورکړل، د طلاق په وخت کښې د حمل پته نه وه، د ظاهری عدت نه پس دویم سړي دې سره نکاح وکړه، د نکاح نه پس معلومه شوه، چه ددې ښځې د اول خاوند نه حمل دې، د وضع حمل نه پس دویم خاوند هم طلاق ثلاثه ورکړل، اوس دا دویم خاوند ئې بیا غواړي، چه دې ښځې سره نکاح وکړي، آیا دا نکاح صحیح کیدې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: تقدیر الله جهانګیره نوښاره ۲۱/۲/۱۹۸۴

الجواب: ددې دویم سړي سره نکاح نه وه شوې﴿۱﴾، او دهغه طلاق ثلاثه ورکول هم کالعدم وو﴿۲﴾، پس دا دویم خاوند دهغې ښځې سره نکاح کولې شي، اګر که هغه د وضع حمل نه پس جماع کړې وی﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره و کذلک المعتدة سواء کانت العدة عن طلاق او وفاة او دخول فی نکاح فاسد الخ.

(فتاوٰی عالمګیریه ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات التی یتعلق بها حق الغیر)

﴿۲﴾ وقال العلامة النظام: واما شرط (الطلاق) فشیآن احدهما قیام القید فی المرأة نکاح او عدة والثانی قیام حل محل النکاح حتی لو حرمت بالمصاهرة بعد الدخول بها حتی وجبت العدة فطلقها فی العدة الخ. (فتاوٰی عالمګیریه ۱: ۳۴۸ کتاب الطلاق الباب الاول)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ولو تزوج بمنکوحة الغیر وهو لا یعلم انها منکوحة الغیر فوطئها تجب العدة وان کان یعلم انها منکوحة الغیر لا تجب حتی لا یحرم علی الزوج وطؤها ویجوز لصاحب العدة ان یتزوجها کذا فی المحیط للسرخسی.

(فتاوٰی عالمګیریه ۱: ۲۸۰ القسم السادس المحرمات لحق الغیر)

په طلاق معلق سره طلاقه کړې شوې ښځه د باقاعده نکاح، جماع او طلاق نه پس د اول خاوند سره نکاح کولې شي

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلې باره کښې چه یو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل، چه د اتو بچو مور ده، عدت ختمیدو نه پس دې ښځې د بل سړي سره نکاح شرعی وکړه. او خلوت صحیحه هم وشو، مهر هم ورکړې شو، دې دویم خاوند د څه مصلحت په وجه دې ښځې ته درې طلاقه ورکړل، او عدت ئې تیر کړو، اوس ددې ښځې نکاح د مخکښنې خاوند سره کیدې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اسحاق عرشی مسجد راولپنډی ۳/۲/۱۹۷۵

الجواب: که دې دویم خاوند یو ځل جماع ددې ښځې سره کړې وی، نو دا ښځه د اول خاوند سره نکاح کولې شی. لوجود التحلیل هو وطی الزوج الثانی﴿۱﴾. والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات. وهو الموفق

د خاوند د پاره عدت وفات نشته. د ښځې خور سره یو دوه ورځې پس نکاح کولې شي

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلې باره کښې چه کله د یو سړي ښځه وفات شی، نو آیا د خاوند دپاره دا جائز ده، چه یو یا دوه ورځې پس د ښځې خور سره نکاح وکړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شاهد لوند خوړ ۲۹/۸/۱۹۸۵

﴿۱﴾ وفی الهندیة: واذا کان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة.

(فتاوٰی عالمګیریه ۱: ۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

الجواب: په خاوند باندې نه ماتم کول شته، او نه عدت تیرول، ددې وجه نه د ښځې دوفات نه پس هر وخت نکاح کولې شی﴿۱﴾ وفی الهندية ويجوز لـزوج المرتدة اذا لحقت بدارالحرب تزوج قبل انقضاء عدتها كما اذا ماتت﴿۲﴾ وهوالموفق

د حرامی نکاح او نور احکام

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسائیلو باره کښې چه:

۱) د حرامی او حلالی ماشومانو جینکو او هلکانو په مراتبو کښې به د قیامت په ورځ څه فرق وی او که نه، هرکله چه د دواړو نیکی برابر وی؟

۲) د حرامی جینی سره د حلالی هلک نکاح صحیح ده.؟ دغه رنګ د حرامی هلک سره د حلالی جینی نکاح صحیح ده؟

۳) آیا په حرامی به شرعی لحاظ سره د حقیقی والدینو شان حقوق وی،؟ هرکله چه دې حرام کار والدینو دوی لره پاللې وی، او تعلیم ئې پرې کړې وی، وغیره.

۴) حرامی هلک به خومره مودې پورې د پلار فرمانبردار وی، او خومره مودې پورې دمور؟

۵) که دا حرامی د بلوغ نه پس د والدینو نه جدائي اختیار کړی، نو ددې به حشر کښې څه کیږی؟

المستفتی: زرولی خان تربیلا ډیم

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: ماتت امراته له التزوج باختها بعد يوم من موتها كما فى الخلاصة...... واما ما عزى الى النتف من وجوب العدة فلا يعتمد عليه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۰۸ فصل فى المحرمات وحرم الجمع نكاحا)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۷۹ القسم الرابع المحرمات بالجمع)

الجواب: ۱) د حلالی او حرامی فرق دنیا پورې محدود دې﴿۱﴾، په آخرت کښې به دارومدار په ایمان او عمل صالح وی.

۲) د دې ټولو ښځو سره نکاح صحیح ده﴿۲﴾.

۳) د مور حق او احترام بې شک او شبهې ثابت دې، البته پلار په حقیقت کښې پلار نه دې، دغه هیڅ د پلارولۍ حق نشته، البته د تربیت حق ئې شته.

۴) په جائز امورو کښې به د مور همیشه دپاره فرمانبردار وی، او د زانی پلار دپاره څه خاص فرمانبرداری نشته.

۵) د بلوغ نه پس جدا کیدلو کښې هر حلالی او حرامی معاف شرعی دې.
وهو الموفق

ولد الزنا مسلمان هلک او جینی سره نکاح صحیح ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه روخانی د دلبر ښځه ؤتښتوله، او لرې ئې چرته بوتله، او ډیرې مودې پورې ئې د ښځې په حیثیت سره ساتله، دې ښځې د روخانی نه څو اولاده پیدا کړل، اوس هغه هلکان او

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: والولد له ان جاءت بعد النكاح لستة اشهر فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النكاح لا يثبت النسب ولا يرث منه الا ان يقول هذا الولد منى ولا يقول من الزنا، والظاهر ان هذا من حيث القضاء اما من حيث الديانة فلا يجوز له ان يدعيه لان الشرع قطع نسبه منه فلا يحل له استلحاقه به ولذا لو صرح بانه من الزنا لا يثبت قضاء ايضا وانما يثبت لولم يصرح لاحتمال كونه بعقد سابق الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۱۷ قبيل مطلب فيما لو زوج المولىٰ امته)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: حل استمتاع الرجل من امرأة لم يمنع من نكاحها مانع شرعى فخرج الذكر والخنثىٰ مشكل والوثنية والمحارم والجنية وانسان الماء.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۸۰ كتاب النكاح)

جينکي ځواني شوې دی، آيا دهغوی سره نکاح جائز ده. او ددې ښځې دواړه خاوندان ژوندی دی؟ بينوا توجروا

المستفتی : محمد کمال اتمان زئي چارسده. ۹/۳/۱۹۲۹

الجواب: چونکه دا هلکان او جينکۍ انسانان او مسلمانان دی، لهذا ددوی سره نکاح صحيح ده، ځکه چه فقهاؤ د مسلمان نکاح د غير انسان او غير مسلم سره (على التفصيل المشهور) ناجائز ګرزولې ده، فليراجع الى الهندية﴿۱﴾ والدرالمختار﴿۲﴾. وهو الموفق

د مزنيې سره د زانی نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښ چه يو وادۀ کړی سړې د يوې کنډې سره په پټه مهر مقرر کړو، او خپل وجود ئې يو بل ته وُبخښلو، او ددې نه پس دواړو هم بستری هم کوله، دوه مياشتې پس هغه سړې دې کنډې ښځې سره نکاح کول غواړی، آيا دا نکاح به جائز وی؟ بينوا توجروا

المستفتی : حکم دار خان کوه مری راولپنډی ۵/۳/۱۹۷۳

الجواب: د مزنيې سره د زانی نکاح جائز ده، او د نکاح نه پس جماع هم جائز ده. فی الدر المختار ولو نکحها الزانی حل له وطئها اتفاقا (هامش ردالمحتار ۲:٤٠١)﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندية: ومن شروطها المحل القابل وهی المرأة التی احلها الشرع بالنكاح كذا فی النهاية. (فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲٦٧ كتاب النكاح الباب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: النكاح عقد يفيد ملك المتعة ای حل استمتاع الرجل من امرأة لم يمنع من نكاحها مانع شرعی فخرج الذكر والخنثیٰ المشكل والوثنية لجواز ذكورته والمحارم والجنية وانسان الماء لاختلاف الجنس.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۸۱ كتاب النكاح)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۱٧ قبيل مطلب فيما لو زوج المولیٰ امته)

د مزنيې لور سره د زانی نکاح حرامه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښ چه په زيد د يوې ښځې سره د ناجائز تعلقاتو تهمت وُلګيدو او حمل هم ښکاره شو، ليکن زيد انکارکوی. روستو بيا زيد ددې ښځې د لور سره نکاح هم وکړه، آيا دا نکاح صحيح ده؟ نکاح خوان ګناه ګار دې؟ او کوم خلق چه په دغې مجلس کښ ناست وو، دهغوی څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی : محمد ادريس مسجد کيملپور ۵/۴/۱۹۷۲

الجواب: که په اقرار يا شهادت سره زنا ثابته شی، نو د زيد دپاره ددې ښځې لور سره نکاح حرامه ده، او په هغې کښ تعاون هم حرام دې، او د ثبوت نه مخکښ نه حرمت د نکاح موجود دې، او نه حرمت د تعاون.

وفی الهندية: فمن زنی بامرأة حرمت عليه امها وان علت وابنتها وان سفلت. (۱:۲۹۱)﴿۱﴾. وقال الله تعالیٰ: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (المائدة ﴿۲﴾. وهوالموفق

د زانی د ورور د مزنيۍ د لور سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښ چه يو سړی د يوې ښځې سره چه وادۀ کړې وه، زنا وکړه، اوس ددې مزنيۍ لور ددې زانی د رور دپاره جائز ده او که نه؟ او په دې مسئله کښ اختلاف د مذاهبو شته او که نه؟ پوره تفصيلاتو نه خبرولو باندې به بنده شکر ګزار وی؟ بينوا توجروا

المستفتی : محمد يوسف شريک دوره حديث. ۵/۴/۱۹۷۲

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگيريه ۱:۲٧۴ القسم الثانی المحرمات بالصهرية)

﴿۲﴾ (سورة المائدة پاره: ٦ آيت: ۲)

الجواب: څنګه چه د زانی وړور دپاره د زانی د ښځې لور چه د بل خاوند نه وی، جائز ده، دغه رنګې د مزنئي لور هم جائز ده.

لان حكم الحلال والحرام واحد من الحديث ويحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها، (ردالمحتار ٢: ٣٨٤)﴿١﴾ قلت فالجواز للاخوة يكون باولیٰ. وهو الموفق

د زانی او مزنیئ د ځوی او لور په خپلو کښې د نکاح مسئله

سوال: محترم المقام شیخ الحدیث مولانا عبدالحق صاحب دارالعلوم حقانیه!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتة!

څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې د یوې منکوحې ښځې سره زنا وکړه، بیا د منکوحې زانیئ ښځې لور پیدا شوه، او د زانی ځوی پیدا شو، اوس زانی وائي چه دا جینۍ زما نه ده، ددې هلک او جینۍ په خپلو کښې نکاح جائز ده او که نه؟ په دې مسئله کښې پریشانه یم، زمونږ په علاقه کښې یو مولوی صاحب هم داسې استفتاء مولانارسول خان صاحب ته ؤلیکله مولانا رسول خان صاحب دا جواب راؤلیږو، الولد من النكاح لا من السفاح (شرح وقایه باب النسب ١٥٠) او په فتاوی عبد الحئي باب ثبوت النسب کښې ئې لیکلې دی، که یو سړې دعوی وکړی، چه دا ماشوم زما د زنا د نطفې نه پیدا شوې دې، نو نسب به ثابت وی او که نه؟ په جواب کښې لیکی، ثابت به نه وی. عالمګیری کښې دی، قال انه منی من الزنا لا يثبت نسبه ولا يرث منه كذا فی الينابيع، که وې وئیل چه دا زما د زنا د نطفې نه دې، نو نسب به ثابت نه وی، او وارث به نه وی، لکه چه په ینابیع کښې دی.

اوس مسئله داده، چه د ینابیع د عبارت نه دا معلومیږی، چه کله دده نسب

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين: قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة على اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها على الزانی نسبا ورضاعا كما الوطٔ الحلال ويحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها. (ردالمحتار هامش الدر المختار ٢: ٣٠٣ فصل فی المحرمات)

ثابت نه شو، نو ددې زانی د مزنیئ لور سره خپله هم نکاح کیدې شی، او د خپل ځوی دپاره هم کولې شی، ځکه چه دا جینۍ ددې زانی هیڅ نه کیږی، اوس که مسئله داسې ده، نو په فقه احناف کښې چه فقهاؤ لیکلې دی، چه که چا یوه ښځه ښکل کړه، یعنی قبلها نو په دې سره حرمت مصاهرت ثابتیږی، که دیوې ښځې فرج داخل ته ئې ؤکتل او خوند ئې حاصل کړوو یا ئې زنا وکړه، نو حرمت مصاهرت ثابتیږی، او د مزنیئ اولاد سره نکاح کول حرام او ناجائز ګرزی، او ددې دواړو په اولاد کښې هم نکاح جائز نه ده، اوس په دې عباراتو کښې تناقض معلومیږی، د مسئلې صحیح صورت واضح کړئ او دا پریشانی لرې کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی حفظ الرحمٰن خده بانډه تخت نصرتی کرک ٢٣/٣/١٩٦٩

الجواب: ددې زانی ځوی اود زانیئ لور خپلو کښې نکاح کولې شی، اګرچه احتیاط په نه کولو کښې دې، ځکه چه فقهاء کرامو لیکلې دی، حرم اصله وفروعه وبنت اخيه واخته وبنتها ولو من زنا (در مختار) لیکن په دې صورت کښې دا متعین نه ده، چه دا جینۍ د زانی نه پیدا شوې ده، ممکن ده چه دې ښځې د بل سړی سره هم زنا کړې وی، او دهغه نه حامله شوې وی، قال العلامه الشامی (قوله ولو من الزنا) بان يزنی الزانی ببكر ويمسكها حتى تلد بنتا بحر عن الفتح، قال الحانوتی، ولا يتصور كونها ابنته من الزنا الا بذالک﴿١﴾. پس که زانی داسې طریقه اختیار کړې وی، لکه چه شامی ذکر کړې ده، بیا حرمت د نکاح بغیر د شک او شبهې نه ثابت دی، ګنی احتیاط دادې، چه نکاح اونه کړی، لوجود الشبهة فليراجع الى حديث ابن زمعة﴿٢﴾ دلته د حرمت

﴿١﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ٢: ٣٠١ فصل فی المحرمات)

﴿٢﴾ عن عائشة قالت كان عتبة بن ابی وقاص عهد الى اخيه سعد بن ابی وقاص ان ابن وليدة زمعة منی فاقبضه اليک فلما كان عام الفتح اخذه سعد فقال انه ابن اخی وقال عبد بن زمعة اخی فتساوقا الى رسول الله ﷺ فقال سعد يا رسول الله ان اخی كان عهد الى فيه وقال عبد بن زمعة اخی وابن وليدة ابی ولد على فراشه ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مصاهرت په وجه حرمت متصور نه دي، ځکه چه د زانی د فروعو دپاره د زانيئ فروع حرام نه دی.﴿١﴾ وهو الموفق .... (محمد فريد عفى عنه)

حبلى من الزنا سره نکاح صحيح ده. او د غير زانی په صورت کښ وضع حمل پورې جماع حرامه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښ چه يوې پيغلې جينۍ سره يو سړي هم بستری وکړه، چه دهغې په وجه دهغې حمل پيدا شو، والدينو د غيرت بچ کولو دپاره ديو سړي هغې سره نکاح وکړه، څلور مياشتې پس ماشوم پيدا شو، او څه وخت پس مړ شو، آيا ددې حبلى من الزنا سره دا نکاح جائز وه؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد آفتاب بتهالين. ١٨/٧/١٩٧٤

الجواب: ددې جينۍ سره ددې هلک نکاح صحيح ده، ليکن وضع دحمل نه مخکښ چه کومه جماع ئې کړې ده، هغه حرامه ده، په شرط ددې چه دا حمل ددغې هلک نه نه وی،

كما فى الدرالمختار: **وصح نكاح حبلى من زناً لامن غيره وان حرم وطؤها ودواعيه حتى تضع لئلا يسقى مائه زرع غيره(فروع) لونكحها الزانى حل له وطؤها اتفاقا (بحذف يسير)(هامش ردالمحتار ٢:٤٠١ قبيل الولى)﴿٢﴾. وهوالموفق**

(بقيه حاشيه) فقال رسول الله ﷺ هو لک ياعبد بن زمعة الولد للفراش وللعاهر الحجر ثم قال لسودة بنت زمعة احتجبى منه لما رأى من شبهه بعتبة فما راها حتى لقى الله، وفى رواية قال هو اخوک يا عبد بن زمعة من اجل انه ولد على فراش ابيه، متفق عليه. (مشكواة المصابيح ٢:٢٨٧ باب اللعان الفصل الاول)

﴿١﴾ قال العلامة الافندى: ويحل لاصول الزانى وفروعه اصول المزنى بها وفروعها. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٣٠٣ فصل فى المحرمات)

﴿٢﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢:٣١٦ قبيل مطلب فيما لو زوج المولىٰ امته)

د زانيې د ترور (د پلار خور) سره نکاح جائز ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښ چه يو سړي ديوې رشته دارې پيغلې ښځې سره زنا کوله، درې کالو پورې دهغوی مينځ کښ د ښځې او خاوند تعلقات قائم وو، په آخر کښ حمل ؤشو او ساقط کړې شو، او په ناپوهۍ کښ ئې د دې زانيئ ترور سره نکاح وکړه، چه کله دا راز ښکاره شو، نو ددې جينۍ خپلوانو ددې خبرې ډير زيات بد ؤګڼړل؛ چه داسې ګناه ګار ته مونږ هيچرې هم جينۍ ورکولو ته تيار نه يو، او بيا د سورة النور ددې تشريعی حکم په وجه هم په دې اطلاق کيږی، حرام دی د ايمان والو دپاره چه هغوی سره د پوهې خپلې لونړو داسې ګناهګارو (عام زنا کارو) ته ورکړی. او الزانى لا ينكح الا زانية او مشركة والزانية لا ينكحها الا زان او مشرک و حرم ذالک على المؤمنين. او بله داچه هم د زانی سره د نکاح حرام کيدلو مطلب امام محمد رحمة الله عليه دا بيان کړې دي، چه د سرنه نکاح نه منعقد کيږی، اوس د اسلامی قوانينو مطابق آيا ددې مظلومې منکوحې نکاح ددې سړی سره ختمه شوې ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد بشير حليم کيملپور

الجواب: دادويمه نکاح صحيح ده، ځکه چه د زانيئ ترور د محرماتو نه نه ده،

قال الله تعالىٰ: واحل لكم ما وراء ذلكم (الآية)﴿١﴾، واما قوله تعالىٰ: الزانى لا ينكح(الآية) فقيل منسوخ وقيل المقصود نفى اللياقة الابه فافهم﴿٢﴾. وللتفصيل موضع آخر. وهوالموفق

﴿١﴾ (سورة النساء پاره: ٥ آيت: ٢٤)

﴿٢﴾ قال العلامة علاؤالدين على بن محمد: وقال سعيد بن المسيب وجماعة ان حكم الاية منسوخ وكان نكاح الزانية حراما بهذه الآية ثم نسخت بقوله تعالىٰ (وانكحوا الايامىٰ منكم فدخلت الزانية فى هذا العموم واحتج من جوز نكاح الزانية بما روى عن جابر...... وقيل فى معنى الآية ان الفاجر الخبيث لا يرغب فى نكاح الصالحة ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د حاملې مزنيئ سره نکاح او په هغه سرې د جرمانې لازمولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يو ځوانه عاقله بالغه جينۍ په هوش او حواس کښې په خپله رضامندۍ سره ديو ځوان سړې سره د وادۀ کولو په غرض په عدالت کښې بيان ورکړی او دهغه سره وادۀ وکړی. په کلي کښې ډله بازی شروع شوې ده، او زمونږ امام صاحب چه مستند عالم نه دي، بلکه ريټائرډ فوجی دې، او اوس امام جوړ شوې دې، هغه ددې جينۍ خلاف حکم شرعی صادر کړې دې، او امام خپله هم د پنځه ثلويښتو کالو باوجود ناوادۀ کړې دې، امام صاحب ته ؤوئيلې شو چه جينۍ حامله ده، ليکن د حامله کيدو هيڅ ثبوت چاسره هم نشته، امام صاحب په دې بنياد په وادۀ کونکی سړې د يو سلو او شلو کسانو ډوډۍ بطور جرمانه لازم کړه، او دهغه سره ئې سلام او کلام بند کړو، سوال دادې، چه دا نکاح صحيح ده او که نه؟ او په وادۀ والا باندې جرمانه لازميږی او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نورالحق کوهاله مری براسته آزاد کشمير

الجواب: که دا جينۍ حامله وی نو بيا هم نکاح صحيح ده، ليکن د وضع حمل نه مخکښې دهغې سره جماع نشی کولې، هرکله چه حمل ددغې سړې نه نه وی. او که حمل ددې سړې نه وی، نوبيا جماع جائزده. فی الدرالمختار وصح نکاح حبلی من الزنا وان حرم وطؤها حتی تضع (فروع) لو نکحها الزانی حل له

(بقيه حاشيه) من النساء وانما يرغب فی نکاح فاجرة خبيثة مثله او مشرکة والفاسقة الخبيثة لا ترغب فی نکاح الصلحاء من الرجال وانما ترغب فی نکاح فاسق خبيث مثلها او مشرک وحرم ذلک علی المؤمنين ای صرف الرغبة بالکلية الی نکاح الزوانی وترک الرغبة فی الصالحات العفائف محرم علی المؤمنين ولا يلزم من حرمة هذا حرمة التزوج بالزانية.

(تفسير خازن ٣: ٢٨٠ سورة النور آيت: ٢)

وطؤها اتفاقا والولد له انتهی باختصار يسير ﴿١﴾.

ملاحظه: دغير کفو سره نکاح نامنظور ده ﴿٢﴾ او جرمانه د جاهليت رسم دې. وهوالموفق

د مسلمانې ښځې د غير مسلم سره نکاح کالعدم ده

سوال: څه فرمائي علماء دين دې مسئلې باره کښې چه يوه ښځه مسلمانه شوه، او نيکه په زور زبردستۍ يو غير مسلم ته په نکاح ورکړه، آيا دا نکاح صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: عصمت بيګم زيده مردان ١٤ صفر المظفر ١٤٠١ه

الجواب: د مسلمانې ښځې او غير مسلم سړې په مينځ کښې نکاح نامنظور او کالعدم ده، که دا نکاح په خوښه وی او که په ناخوښه، او که دا غير مسلم اهل کتاب وی او که غير اهل کتاب.

کما فی البدائع (٢: ٢٧١) ومنها اسلام الرجل اذا کانت المرأة مسلمة فلا يجوز النکاح المؤمنة الکافر لقوله تعالیٰ: ولا تنکحوا المشرکين حتی يؤمنوا (الآية) ...... والنص وان ورد فی المشرکين لکن العلة وهی الدعاء الی النار يعم الکفرة اجمع فيتعمم الحکم بعموم العلة فلا يجوز انکاح المسلمة الکتابی کما لا يجوز انکاحها الوثنی والمجوسی لان الشرع قطع ولاية الکافرين عن المؤمنين بقوله تعالیٰ: ولن يجعل الله للکافرين علی المؤمنين سبيلا (الآية) ﴿٣﴾. وهوالموفق

﴿١﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣١٦، ٣١٧ قبيل مطلب فی ما لوزوج المولیٰ امته)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصکفی: نفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضاولی ...... وله ای للولی اذا کان عصبة ...... الاعتراض فی غير الکف فيفسخه القاضی ويتجدد بتجدد النکاح مالم تلدمنه ويفتی فی غير الکف بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتویٰ لفساد الزمان.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣٢٢ باب الولی)

﴿٣﴾ (بدائع الصنائع ٢: ٥٥٤ من شروط صحة النکاح ان لا تکون مشرکة)

د عیسائی ښځې سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه د عیسائی ښځې سره د نکاح څه حکم دې؟ چه هغه په خپل مذهب وی، که یو مسلمان د عیسائی ښځې سره په دې امید نکاح وکړی، چه هغه مسلمان جوړیدل ظاهر کړی، چه د نکاح په وجه به مسلمانه شی، نو په دې صورت کښې ددې عیسائی ښځې سره نکاح کولو کښې زیات ثواب دې، یا د مسلمانې ښځې سره نکاح کولو کښې زیات ثواب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید رحیم الله شاه اضاخیل بالا نوښار ۱۴۰۲ھ

الجواب: د موجوده زمانې عیسایان د مسئله نبوت، قیامت او جنت دوزخ نه منکر دی، لهذا دهغوی سره نکاح جائز نه ده، ﴿۱﴾ البته که په هغوی کښې یوه

﴿۱﴾قال الشاه اشرف علی التهانوی رحمه الله: لیکن په دې زمانه کښې چه کومو ته نصاری وئیلې کیږی، هغوی اکثر په قومی حیثیت سره نصاری دی، مذهبی حیثیت سره صرف دهریان او سائنس پرست دی، د داسې خلقو دپاره دا حکم د جواز د نکاح نه دې (امداد الفتاوی ۲:۲۱۳ کتاب النکاح وتفسیر بیان القرآن ۹:۳)

په فتاویٰ دارالعلوم دیوبند کښې دی: نن صبا چه کومو خلقو ته نصاری وئیلې کیږی، په هغوی کښې ډیر داسې خلق هم شته، چه دهریان دی، یو مذهب لره هم نه منی، بلکه د الله تعالی د وجود هم قائله نه دی، دا خلق اګر چه د مردم شماری په وجه نصاری ګڼړلې شی، لیکن د شریعت په حکم کښې داسې خلق اهل کتاب نشی ګڼړلې (فتاوی دارالعلوم قدیم ۱:۲، ۱۶۰)

وقال العلامه شبیراحمد عثمانی: زمونږ د زمانې نصاری عموما صرف په نوم نصاری دی، په دوی کښې په کثرت سره هغه خلق دی، چه نه د یو اسمانی کتاب قائل دی، نه د مذهب او نه د خدائې، په دوی د اهل کتاب اطلاق نشی کیدې، لهذا ددوی د ذبیحې او د ښځو حکم به د اهل کتابو پشان نه وی...... په موجوده زمانه کښې د نصاراؤ سره خوراک څکاک، بې ضرورته اختلاط کول، دهغوی د ښځو په عشق کښې انختل، دا څیزونه چه خطرناکې نتیجې پیدا کوی، پټې نه دی. (فوائد عثمانیه علی تفسیر عثمانی ۷۹۶ سورة المائده پاره ۶)

ښځه ددې امورو قائله وی، نو دهغې سره نکاح صحیح ده، کما فی الهندیة ویجوز للمسلم نکاح الکتابیة الحربیة. والاولی ان لا یفعل﴿۱﴾. او بعضې وخت کښې یو غیر افضل کار د عوارض خارجیه په وجه افضل کیږی، پس که ددې کتابیئ ښځې اسلام قبلول متیقّن یا مظنون وی، نو دا نکاح مصلحتا افضله ده، او ذاتا افضله نه ده، لیکن واقعات داسې دی، چه دهغوی اسلام قبلول یقینی نه وی، او د خاوند د اسلام نه خلاف کارونو سره محبت پیدا کیدل مظنون دی، پس دا حیله او بهانه فائده منده نه ده﴿۲﴾. وهو الموفق

د عیسائې ښځې سره نکاح او د مور پلار سره د معاملاتو جدا جدا احکام

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو مسلمان ځوان د اووه کالونه اعلی تعلیم دپاره یوعیسائې ملک ته تلې دې، دهغې وطن د قوانینو مطابق هلته کښې د ؤسیدلودپاره د یو عیسائې جینۍ سره واده کول غواړی، د شریعت مطابق والدین په لاندینو کارونو کښې رهنمائې حاصلول غواړی:

۱) آیا د موجوده زمانې عیسایان په کتاب او سنت کښې مذکور عیسایانو پشان اهل کتاب ګڼړلې شی؟

۲) کوم چه اهل کتاب ګڼړلې شی، په هغوی کښې تثلیث پرست شامل دی او که نه؟ ....

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۲۸۱ القسم السابع المحرمات بالشرک)

﴿۲﴾ قال العلامة عبد الرحمن الجزیری: الحنفیة قالوا یحرم تزوج الکتابیة اذا کانت فی دارالحرب غیر خاضعة لاحکام المسلمین لان ذلک فتح لباب الفتنة فقد ترغمه علی التخلق باخلاقها التی یأباها الاسلام ویعرض ابنه للتدین بدین غیر دینه ویزج بنفسه فیما لا قبل له به من ضیاع سلطته التی یحفظ بها عرضها وغیرذلک من المفاسد فالعقد وان کان یصح الا ان الاقدام علیه مکروه تحریما لما یترتب علیه من المفاسد اما اذا کانت ذمیة ویمکن اخضاعها للقوانین الاسلامیة فانه یکره نکاحها تنزیها.

(الفقه علی المذاهب الاربعة ۴: ۷۴ مبحث المحرمات لاختلاف الدین)

۳) او که جینۍ عیسائیه وی نو دهغې سره نکاح جائز ده؟

۴) د نکاح کولو نه مخکښ یا روستو که دا جینۍ د سخر سره خط وکتابت شروع کړی، نو دهغې جواب ورکول پکار دی؟

۵) د وادهٔ نه پس هغه اینګور هر د مسلمانانو یا کافرانو په معاشره کښ د خاوند سره یا د خاوند نه بغیر شرکت کوی، په دې صورت کښ که انګور عیسائیه وی، او که مسلمانه شی، نو سخر لره د اینګور سره خط او کتابت او جینۍ ته تلې راتلې شی؟

۶) که څوی عیسائي مذهب اختیار کړی، نو په دې صورت کښ د څوی او اینګور سره د کومو تعلقاتو ممانعت دې؟

نوټ: هلک والدینو ته داسې یو خط لیکلې دې، ددې څه حکم دې؟

"زهٔ جینۍ ته د یوانسان په حیثیت سره ګورم، دهغې ذات پات، رنګ، مذهب او ملکیت ته نه ګورم، او نه ماته دهغې حق شته، کومې خبرې چه په پاکستان کښ ضروری ګڼړلې شی، دهغې دلته کښ شمار نشته، د مشرق او مغرب یو ځائي والې نه شوې دې او نه به ؤشی، د وادهٔ نه پس به هم زما د تاسو سره هم هغه رشته وی"

المستفتی:غلام نبی مدرسه عربیه عیدګاه طوغی روډ کوئټه ۱۲/۳/۱۹۷۲

الجواب: (۱) د نن زمانې عیسایان اکثر دهریان شوې دی، لهذا په هغوی به بغیر د تحقیق نه د اهل کتاب احکام نشی جاری کولې، په هغوی کښ چه څوک الله تعالی نه منی، یا د نبوت او ارسال کتب نه منکر دی، یا د قیامت او جنت دوزخ نه منکر دی، هغوی اهل کتاب نه دی. ﴿۱﴾

﴿۱﴾ قال الشیخ العلامة الحافظ محمد ادریس الکاندهلوی: د اهل کتابونه هغه خلق مراد دی چه هغوی مذهباً اهل کتاب وی دا نه چه هغوی صرف د قومیت په لحاظ سره یهودی یا نصرانی وی.................(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

۲) اعتقاد د تثلیث او بنوت د عیسی علیه السلام لره د الله تعالی څوی ګڼړل په اهل کتاب کیدلو کښ مانع نه دی. لانهم کانوا یعتقدون بهما فی زمنه وهو ظاهر المذهب﴿۱﴾.

۳) که دا جینۍ اهل کتاب وی، یعنی پیغمبر او نازل شوې کتاب منی، نو ددې سره نکاح جائز ده.

۴) په خط او کتابت کښ هیڅ ګناه نشته.

۵) په نقل وحرکت او شرکت کولو کښ د مسلمې او غیرمسلمې څه خاص فرق نشته، خط وکتابت او تلل راتلل جائز دی، هرکله چه د فتنې ویره نه وی.

۶) په دهٔ به د مرتد احکام جاری کیږی.

نوټ : دا د زندقې الفاظ دی. وهو الموفق

د شیعه سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه د یوې سنې ښځې د

(بقیه حاشیه) اګر که عقیدةً دهریه وی. ددې زمانې نصاری عموما صرف په نوم نصاری دی، په هغوی کښ په کثرت سره داسې دی، چه نه دخدائي قائل دی، او نه د مذهب قائل دی، اونه د اسمانی کتاب قائل دی، په داسې خلقو د اهل کتاب اطلاق نه کیږی، لهذا دهغوی د ذبیحې او دهغوی د ښځو حکم به د اهل کتاب پشان نه وی.

(تفسیر معارف القرآن ۲:٦ ۴۴ سورة المائدة آیت:۵ پاره:٦)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی البحر وحاصله ان المذهب الاطلاق لما ذکره شمس الائمة فی المبسوط من ان ذبیحة النصرانی حلال مطلقا سواء قال بثالث ثلاثة اولا لاطلاق الکتاب هنا والدلیل ورجحه فی فتح القدیر بان القائل بذلک طائفتان من الیهود والنصاریٰ انقرضوا لا کلهم مع ان مطلق لفظ الشرک اذا ذکر فی لسان الشرع لا ینصرف الی اهل الکتاب الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۳۱۴ قوله وصح نکاح کتابیة باب المحرمات)

شیعه سړي سره نکاح جائز ده او که نه؟ چه د ښځي رضا نه وی او والدینو د پیسو په لالچ کښ ورکړې وی، بیا دا جینۍ د هغه نه اؤتښتیده، او د بل سړي سره ئې نکاح وکړه، آیا دا دویمه نکاح هم جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد اکرم مین بازار سرګودها. ۲۵/۴/۱۹۷۲

الجواب: که والدینو دې جینۍ لره بغیر د دې د مرضۍ نه په نکاح سره ورکړې وی، نو دا نکاح نامنظوره او کالعدم ده، په شرط ددې چه جینۍ بالغه وی، او د نکاح خبر موندلو سره ئې رد کړې وی، فی الهندیة ۱: ۳۰۵ لا یجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها﴿۱﴾. او که نکاح د نابالغ والی په حالت کښ شوې وی، او دا شیعه کافر وی، یعنی د حضرت علی رضی الله عنه د نبوت قائل وی، یا د حضرت عائشې رضی الله عنها باندې تهمت لګونکې وی، وهکذا، نو دا نکاح کالعدم او نامنظوره ده، او دویمه نکاح د سنی مسلمان سره صحیح ده، لانه کافر صرح به فی ردالمحتار ۳: ۴۲۸﴿۲﴾ ونکاح المسلمة من الکافر لا یصح اجماعا﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمګیریه ۱: ۲۸۷ الباب الرابع فی الاولیاء)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی اوان جبرئیل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۲۱ مطلب فی حکم سب الشیخین)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الرحمن الجزیری: ولا یحل للمسلمة ان تتزوج الکتابی، کما لایحل لها ان تتزوج غیره(ای غیر الکتابی من الکافر)فالشرط فی صحة نکاح المسلمة ان یکون الزوج مسلماً ودلیل ذلک قوله تعالیٰ: ولا تنکحوا المشرکٰت حتی یؤمن، (البقرة) وقوله مخاطباً للرجال: ولا تنکحوا المشرکین حتی......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د شیعه ښځې یا سړي سره د سنی مسلمان نکاح جائز نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه د شیعه ګانو سره د نکاح څه حکم دې؟ آیا عدم جواز په دې صورت کښ دې، چه ښځه شیعه وی، او سړې سنی وی، یا ښځه سنی او سړې شیعه وی، په تفصیل سره مو خبر کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سردار کوهاټ. ۵/۱۰/۱۹۷۸

الجواب: پاکستانی او ایرانی شیعه د اسلام نه خارج دی، ځکه چه دا خلق د ضروریات دین نه منکر دی.

کما یدل علیه مافی ردالمحتار ۳: ۴۲۸ وکذا قال فی شرح منیة المصلی ان ساب الشیخین ومنکر خلافتهما ممن بناه علی شبهة له لا یکفر بخلاف من ادعی ان علیا اله وان جبرئیل غلط (الی ان قال الشامی) وکذا یکفر قاذف عائشة ومنکر صحبة ابیها لان ذلک تکذیب صریح القرآن کما مر فی الباب السابق﴿۱﴾.

لهذا د شیعه ښځې یا سړي سره نکاح دهغوی د کفر په وجه جائز نه ده﴿۲﴾.

ای لکفرهم بعد ادعاء اسلامهم وهو ارتداد ....

(بقیه حاشیه) یؤمنوا، (البقرة) فهاتان الآیتان تدلان علی انه لا یحل للرجل ان ینکح المشرکة علی ای حال کما لایحل للمرأة ان تنکح المشرک علی ای حال الابعد ایمانهم ودخولهم فی المسلمین. (الفقه علی المذاهب الاربعة ۴: ۷۳ مبحث المحرمات لاختلاف الدین)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۳۹ قبیل مطلب الامام یصیر اماما بالمبایعة)

﴿۲﴾ قال العلامة علاء الدین السمرقندی: لا یحل وطٔ المشرکات بنکاح ولا بملک یمین لقوله تعالیٰ: ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن، (الآیة)...... واما المرتدة فلا یجوز لمسلم ولا لکافر ولا لمرتد نکاحها لانه لاملة لها للحال لانها ترکت ملة الاسلام فلا تقر علی ما صارت الیه من الملة.

(تحفة الفقهاء ۲: ۱۹۲، ۱۹۳ بحث التحریم بسبب الشرک)

فی الحقیقة﴿١﴾.فافهم، وهوالموفق

د رافضی اوشیعی سره نکاح باطل او کالعدم ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زما تره د اهل سنت والجماعت قریشی هاشمی فرقه حنفی سره تعلق ساتی، بدقسمتی سره زما مشر تره نهه لس کاله په تیر شوې جنګ عظیم کښې په ایران کښې تیر کړل، چه کله پاکستان ته واپس راغلو، نو کټر رافضی او شیعه جوړ شوې وو، او ننه پورې په دې مسلک قائم دې. بدقسمتی نه زما کشر تره خپل ورارهٔ ته صرف د لور ورکولو وعده کړې ده، او هغه ځوم هم د خپل پلار په مسلک باندې مضبوطیا سره قائم دې. مونږ ټول خاندان والو دهغوی سره قطع تعلق کړې دې، اوس ددې رشتې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورمحمد قریشی راولپنډی. ٧ رمضان ١٣٩٥ھ

الجواب: داخبره د واضحه وی، چه د پاکستان او ایران شیعه ګان د اسلام نه خارج دی، دهغوی سره د مسلمانانو نکاح باطل او کالعدم ده.

اما خروجهم عن الاسلام فلانهم یعتقدون بتحریف القرآن سراً ویتهمون بالافک علی الصدیقة وینکرون صحبة ابیها، وفی ردالمحتار ٢: ٣٩٨ وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی (رضی الله عنه) او ان جبرئیل غلط فی الوحی او کان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السیدة الصدیقة ....

﴿١﴾ قال العلامة الحصکفی: (المرتد) شرعا الراجع عن دین الاسلام ورکنها اجراء کلمة الکفر علی اللسان بعد الایمان، قال ابن عابدین: هذا بالنسبة الی الظاهر الذی یحکم به الحاکم والا فقد تکون بدونه کما لو عرض له اعتقاد باطل او نوی ان یکفر بعد حین. (الدرالمختار مع ردالمحتار ٣: ٣٠٩ باب المرتد)

فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة﴿١﴾، انتهیٰ بقدر الضرورة.

واما عدم صحة النکاح فلقوله تعالیٰ: فان علمتموهن مؤمنات (الآیة) (ممتحنة)﴿٢﴾

قلت: انهم ادعو الاسلام اجمالا فی بدء الامر ثم خرجوا منه فی العاقبة فیکونون مرتدین ولا یکونون مثل اهل الکتاب لانهم یدعوا الاسلام فافهم، فانه من مزال الاقدام﴿٣﴾

اوکه دا ثابته شی چه دا رافضی (ناکح) د اسلام نه خارج نه دې، د دین ضروری احکامو لره منی﴿٤﴾، نو په دې کښې به د عدم کفاءت احکام جاری کیږی﴿٥﴾، پس بهرحال ددې نکاح نه بچ کیدل ضروری دی. وهوالموفق

﴿١﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٣١٤ فصل فی المحرمات کتاب النکاح)

﴿٢﴾ (سورة الممتحنة پاره: ٢٨ آیت: ١٠)

﴿٣﴾ قال العلامه محمد امین افندی: ویجب اکفار الروافض بقولهم برجعة الاموات الی الدنیا وتناسخ الارواح وانتقال روح الاله الی الائمة وان الائمة آلهة وبقولهم بخروج امام ناطق بالحق وانقطاع الامر والنهی الی ان یخرج وبقولهم ان جبریل علیه السلام غلط فی الوحی الی محمد ﷺ دون علی کرم الله وجهه واحکام هؤلاء احکام المرتدین...... اعلم ان المفهوم من هذه النقول المنقولة عن علماء مذهبنا وغیرهم ان المحکوم علیه بالکفر فی هذه المسائل حکمه حکم المرتد.

(رسائل ابن عابدین ١: ٣٥٩ تنبیه الولاة والحکام علی احکام شاتم خیر الانام)

﴿٤﴾ قال العلامة الآفندی: واما المعتزلة فمقتضی الوجه حل مناکحتهم لان الحق عدم تکفیر اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث بخلاف من خالف القواطع المعلومة بالضرورة من الدین. (فتاویٰ الشامیة ٢: ٣١٤ تحت قوله وصح نکاح کتابیة فصل فی المحرمات)

﴿٥﴾ وفی الهندیة: تعتبر الکفاءة فی الدیانة...... فلا یکون الفاسق کفأ للصالحة سواء کان معلن الفسق اولم یکن. (فتاویٰ عالمگیریه ١: ٢٩١ الباب الخامس فی الاکفاء)

د شیعه او سنی په نکاح کښې د اهل سنت مولوی کښېناستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوه نکاح منعقده شوه، چه په هغې کښې د جینۍ پلار شیعه وو، په دې مجلس کښې یو مولوی صاحب هم ناست وو، چه د اهل سنت نه وو، دهغه متعلق اوس بعضې خلق پروپیګنډه کوی، چه دا نکاح اګر چه د اهل سنت وه، لیکن د جینۍ پلار شیعه وو، ددې وجه نه دا مولوی صاحب چه کوم ناست وو، مجرم دې، شرعا ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: انسپکټر غلام رسول ۲۹/۷/۱۹۷۸

الجواب: په داسې مجلس کښې د شاملیدو د حرمت هیڅ وجه نشته، البته په حرام نکاح کښې شاملیدل حرام دی. لکونه تعاونا علی المعصیة﴿۱﴾ وتقریرا للمنکر﴿۲﴾. وهو الموفق

د سنی شیعه نکاح کولو والا او په دې مجلس کښې د شرکت کونکو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه زید سنی المذهب دې، اوصالح غالی شیعه دې، اوس زید د خپلې سنی لور نکاح د صالح ځوی سره کړې ده، چه د پلار په شان غالی شیعه ده، په دې مجلس نکاح کښې عام مسلمانانو هم شرکت وکړو، اوس سوال دادې، چه دې شرکت کونکو دپاره د تجدید نکاح ضرورت شته او که نه؟ دې شریکانو لره د اختر په مونځ کښې، دجمعې اوجنازې وغیره په مونځ کښې شریکیدلو اجازت ورکول پکاردی که

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان(الآیة). (سورة المائدة پاره:۶ آیت:۲)

﴿۲﴾ عن جریر بن عبد الله قال سمعت رسول الله ﷺ یقول ما من رجل یکون فی قوم یعمل فیهم بالمعاصی یقدرون علی ان یغیروا علیه ولا یغیرون الا اصابهم الله منه بعقاب قبل ان یموتوا ، رواه ابوداؤد وابن ماجة. (مشکواة المصابیح ۲:۴۳۷ باب الامر بالمعروف الفصل الثانی)

نه؟ اودجینۍ نکاح بغیرد طلاق نه بل ځائې کیدې شی که نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عطاء الله چکړالوی میانوالی. ۵/۲/۱۹۷۲

الجواب: دا نکاح باطل او کالعدم ده.

لکون الزوج کافراً کما فی ردالمحتار ۲:۳۹۸ وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی او ان جبرئیل غلط فی الوحی او کان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السیدة الصدیقة فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة﴿۱﴾ دا جینۍ د طلاق نه بغیر بل ځائې کښې نکاح کولې شی، او دا ناکح او ګواهان او نکاح خوان که دې لره حلاله ګڼړی، نو په هغوی توبه﴿۲﴾ او تجدید نکاح ضروری ده﴿۳﴾، ګنې ضروری نه ده، او د مونځ او عبادت نه دهغوی منع کول حرام دی. وهو الموفق

د قادیانی سره نکاح باطل او کالعدم ده

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه درې کاله مخکښې د یوې ښځې نکاح د یو سړې سره شوې وه، اوس معلومه شوه چه هغه قادیانی دې، دهغوی دوه بچی هم شوې دی، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: اختر ۳۰/۱۰/۱۹۷۷

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۱۴ فصل فی المحرمات کتاب النکاح)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری: اذا اعتقد الحرام حلالا فان کان حرمته لعینه وقد ثبت بدلیل قطعی یکفر والا فلابان تکون حرمته لغیره اوثبت بدلیل ظنی، وبعضهم لم یفرق بین الحرام لعینه ولغیره فقال من استحل حراما وقد علم فی دین النبی ﷺ تحریمه کنکاح ذوی المحارم او شرب الخمر اواکل میتة او دم اولحم خنزیر من غیر ضرورة فکافر. (شرح فقه الاکبر ۱۵۲ ومنها استحلال المعصیة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: ما یکون کفرا اتفاقا...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: قادیانان د ضروریات دین نه د انکار او زندقیت په وجه کافران دی﴿۱﴾، لهذا دا نکاح باطل او کالعدم ده، او ښځې لره زر ترزره جدا کیدل پکار دی﴿۲﴾. اوپه اهل اسلام ددې امداد کول ضروری دې﴿۳﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) **یبطل العمل والنکاح.**

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۳۲۸ باب المرتد)

﴿۱﴾ قال العلامة مفتی کفایت الله الدهلوی: مرزا قادیانی په خپلو تصنیفاتو کښ د نبوت، مجددیت، محدثیت، مسیحیت او د مهدویت دومره صفا او کثرت سره دعوی کړې ده، چه دهغې نه انکار یا په هغې کښ تاویل ناممکن دې، د خاتم المرسلین نه پس د نبوت دعوی کول کفر دې، ملت اسلامیه د نبی کریم ﷺ نه پس یو د نبوت دعوی کونکې لره په اسلام کښ داخلولو دپاره بالکل تیار نه دی. اګر که هغه د نبوت ظلیه، بروزیه جزئیه تاویلاتو پناه واخلی، یا ښکاره د نبوت تشریعیه مدعی وی، د مرزا قادیانی د کفرنورې هم وجه دی، مثلاد عیسٰی علیه السلام سپکوالې، د قرآن مجید د معجزو نه انکار، او په ناقابل اعتبار تاویلونو سره هغه رد کول، یا توقې کول، او چونکه دا کارونه د مرزا صاحب په کتابونو کښ د نیمې ورځې د نمرشان روښانه اوښکاره دی، ددې وجه نه د لاهوری ډلې انکار او تاویلونه هم لاهوری ډلې لره د کفر نه بچ نه کړل، اګر چه دا دواړه ډلې د اسلام دعوٰی کونکی دی. لیکن د عالم اسلام معتمد علماؤ دې دواړو لره د ملت اسلامیه نه خارج کړې دی. (کفایة المفتی ۱: ۳۲۳ فصل چهارم فرقه قادیانی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (وحرم نکاح الوثنیة) ...... **ویدخل فی عبد الاوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التی استحسنوها والمعطلة والزنادقة والباطنیة والاباحیة وفی شرح الوجیز وکل مذهب یکفر به معتقده قلت وشمل ذلک الدروز والنصیریة والتیامنة فلا تحل مناکحتهم الخ.**

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۱۴ فصل فی المحرمات)

﴿۳﴾ **قال الله تعالیٰ: وتعاونوا علی البر والتقویٰ.**

(سورة المائدة پاره: ۶ آیت: ۲)

د مرزایانو په نکاح کښ د رجسټرار د تعاون حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه یو مرزائي سړې د خپلې لور واده د یو مرزائي سړې سره وکړو، چه دهغې نکاح یو مرزائي نکاح خوان وتړله، اود نکاح نامې ئې څلور فهرستونه ټیپ کړل، اود متعلقه وارډ دنکاح رجسټرار ته ئې ولیږل، یعنی د ټاؤن کمیټۍ دفتر ته ئې فارمونه ولیږل، نکاح رجسټرار دې فارمونو لره لوستلې هم نه دی، اوس صرف فارمونه د نکاح رجسټرار په ذریعې ټاؤن کمیټۍ ته لیږل دی، آیا په دې لیږلو کښ به شرعی ګناه وی؟ څکه چه دا خو دمالایطاق ترک موالات صورت دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل کریم کهوټه راولپنډی.

الجواب: اګر چه په دې کښ څه ګناه نشته، لیکن ستا دپاره ضروری ده، چه د داسې عمل نه هم د بچ کیدلو څه تدبیر وکړې﴿۱﴾. وهو الموفق

قادیانۍ ښځه که مسلمانه شی نو دوباره ئې قادیانی ته حواله کول حرام دی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه یوه ښځه واده کړې، چه مرزائي عقیده ئې لرله، د قادیانی خاوند او دهغې په مینځ کښ په بعضو معاملاتو اختلاف پیدا شو، د ذهنی تضاد په وجه هغې د خاوند نه قانونی طور باندې جدا والې اختیار کړو، او اتۀ میاشتې د یو سنی العقیده سړې په پرورش کښ وه، په دې دوران کښ دهغې خاوند په یو ځائې کیدلو او خرچه ورکولو کښ ناکامه وو، ښځې د دوؤ ګواهانو په مخکښ په عدالت کښ د مرزاغلام احمد د نبوت نه انکار وکړو، او د یو ممتاز عالم دین په لاس

﴿۱﴾ **قال العلامة عمادالدین ابن کثیر: یامر الله تعالیٰ عباده المؤمنین بالمعاونة علی فعل الخیرات وهو البر، وترک المنکرات وهو التقویٰ وینهاهم عن التناصر علی الباطل والتعاون علی المآثم والمحارم.**

(تفسیر ابن کثیر ۲: ۱۰ سوره المائدة آیت: ۲)

مبارک ئې اسلام قبول کړو، علماء دین فتوی جاری کړه، چه که د عدت دوران کښ خاوند هم اسلام قبول کړو، نو صحیح ګڼی د عدت نه پس به دا دهغه د نکاح نه خارجه شی. لیکن حاکمانو دې فتوې لره د منلو نه انکار وکړو،او د ملکی عائلی قوانینو د لاندې دا ئې د قادیانی ښځه مقرر کړه، او دهغه سره د تللو حکم ئې ورته وکړو، آیا شرعاً دا دهغه قادیانی ښځه کیدې شی؟ او مونږ ددې حاکمانو خلاف دعوې کولو حقدار یو، چه یوه مسلمانه ښځه د مرزائي په زوجیت کښ ورکوی، او په زنا کاری ئې مجبوروی، او د اسلام سپکاوې کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عجائب ګوندل تهرپارکر ۹/۱۰/۱۹۷۹

الجواب: که دې ښځې د مرزا غلام احمد د نبوت او مجددیت دواړو نه انکار کړې وی،او د مرزایانو د ټول عقیدو نه ئې جدا والې اختیار کړې وی، نو دې ښځې لره قادیانی ته حواله کول حرام دی﴿۱﴾، او همیشه دپاره په زنا باندې مجبوره کول دی، چه د مسلمان حاکم او محکوم ټولو دپاره یو بدرنګه داغ دې. وهو الموفق

د قادیانی سره نکاح کالعدم او حرام ده، او اولاد به صرف د مور نه ثابت النسب وی

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه د یوې مسلمانې جینۍ نکاح د قادیانی (لاهوری) سره ؤشوه، او اولاد ئې هم پیدا شو، بیا نوسې هم پیدا شوې، اوس چه هرکله هغوی غیر مسلم ګرزولې شوې دی، نو ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملازم حسین راولپنډی. ۱۷ جولائي ۱۹۷۹ء

الجواب: دانکاح حرام اوکالعدم ده،اود اولاد نسب صرف د مور نه ثابت دې، اوددې مرزائي نه ثابت نه دې، کما فی الدر المختار ۳: ۵۵۵ وفی مجمع الفتاوی

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: واذا اسلم احد الزوجين...... عرض الاسلام على الآخر فان اسلم فبها والا بان ابى اوسكت فرق بينهما. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۴۲۲ باب نكاح الكافر)

نكح كافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة لانه نكاح باطل﴿۱﴾. وهو الموفق

د ناپوهۍ په وجه د قادیانئ سره د نکاح کونکی او نکاح تړونکی حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه زۀ د ګجرات ؤسیدونکې یم، ما په جنوری ۱۹۷۵ء کښ شهبازیه نوښار صدر کښ د اسلامی فقه مطابق نکاح وکړه، نکاح مولانا..... خطیب مسجد درزیان ؤتړله، دې دوران کښ جینۍ خپل ځان مسلمان حنفی مذهب والا ظاهر کړو، درې نیم کاله په جده کښ ماسره آباده وه، ما دې جینۍ ته د حج د ادا کولو ؤوئیل نو هغې ناخوښه الفاظ استعمال کړل، او وې وئیل چه ما حج اکبر په دسمبر کښ په ربوه کښ کیږی، ما هغې ته د اسلام دعوت ورکړو، لیکن د انکار نه پس ما درې طلاقه ورکړل، او پاکستان ته مې راؤلیږله، پوښتنه داده:

۱) چه د ناپوهۍ په وجه ددې نکاح دوران کښ د جماع څه حکم دې؟آیا شرعاً څه تعزیر شته؟

۲) روستو بیا سول جج په اختیاراتو د فیملی حج ګجرات دې نکاح لره غیر شرعی اوګرزؤله، دهغې قادیانیت ثابت شو. بیا هم په دې نکاح کونکې مولوی صاحب باندې څه ګناه وی؟ یا ګواهان ګناه ګار دی؟

۳) د نکاح په وخت کښ مهر پنځه زره معجل او پنځه زره مؤجل ایښودلې شوې وو، هغه مې د نکاح په دویمه ؤرځ ورکړې وو، اوس ترې انکارې هم ده، او عدالت ته ئې رجوع کړې ده، ددې مهر څه حکم دې؟

۴) د خپل سامان سره تقریبا د پنځویشتو زرو زما سامان ئې هم ؤړولې دې، هغې لره واپس اخستلې شم، یا هغه به دهغې وی؟

۵) د ربوه عقیده لرونکې یا غلام احمد ته نبی ویونکې که د مسلمان سره دهوکه وکړی،یا د مذهبی سپکوالی ارتکاب وکړی،نود وخت حاکم به دهغه محاسبه کوی او که نه؟او حکومت دوی لره غیر مسلم ګڼړلې دی، لیکن دا

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۶۸۷ قبيل باب الحضانة)

خلق شناختي کارډ، پاسپورټ او مسلم فیملی لاء ۱۹۷۸ء عدالتونو ته دهوکه ورکولو دپاره د اسلام نوم استعمالوي، آیا دا خلق د مسلم فیملی لاء ۱۹۲۹ء د لاندې د مسلمان خلاف دعوی کولې شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اورنگزیب خان لودهی کنجاه گجرات ۱۲ محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: ۱) قادیانیه ښځه مرتده ده، او د مرتدې سره نکاح ناجائز ده، (شامی)﴿۱﴾ بحر)﴿۲﴾ او د ناپوهي په وجه په دې خاوند هیڅ حد یا تعزیر نشته، خاصکر چه د عقد شبه موجوده ده. (شامی)﴿۳﴾

۲) ناکح، خطیب (نکاح خوان) او گواهانو د ناپوهي په وجه دا کار کړې دې، لهذا په دوی کښې یو هم مجرم او گناه گار نه دې، لحدیث ورد بذالک﴿۴﴾.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: ويبطل من النكاح والذبيحة والصيد والشهادة والارث، قال ابن عابدين: النكاح اى ولو لمرتدة مثله.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳: ۳۳۰ باب المرتد)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: فلا يتزوج المرتد مسلمة ولا كتابية ولا مرتدة ولا يتزوج المرتدة مسلم ولا كافر ولا مرتد.

(البحر الرائق ۳: ۲۰۹ باب نكاح الكافر)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي: ولا حد ايضا بشبهة العقد اى عقد النكاح، قال ابن عابدين: اى ما وجد فيه العقد صورة لا حقيقة...... او لكون اختها مثلا فى نكاحه او هى مجوسية او مرتدة فلا حد عليه وان علم الحرمة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳: ۱۶۸ مطلب فى بيان شبهة العقد كتاب الحدود)

﴿۴﴾ عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ قال ان الله تجاوز عن امتى الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه رواه ابن ماجة والبيهقى وفى الجامع رواه ابن ماجة عن ابى ذر والطبرانى والحاكم فى مستدركه عن ابن عباس وفى...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

۳) په دې صورت کښې د عقد د شبهې په وجه حد ساقط دې او د جماع په وجه مهر لازم دې. (شامی)﴿۱﴾

۴) ته د خپل سامان یا دهغې دقیمت اخستلو حقدار ئې.

۵) مرتد خلق ددې دعوی حقدار نه دی، بلکه د دهوکې وغیره جرمونو سزا ملاویدو حقدار دی، وهو الموفق

د مشرکې ښځې سره د دیوبندی عقیدې لرونکې سړي نکاح

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو صحیح العقیده دیوبندی مسلک والا مسلمان ځوان سړي نکاح د یو بریلوی عقیدې والا ښځې سره، چه دهغې عقیده داوي، چه نبی کریم ﷺ د الله تعالی ذاتی نور دې، عالم الغیب حاضر ناظر او کارساز هم دې، د بشریت نه منکره ده، ټول انبیاء او اولیاء حاجت روا، مشکل کشا، عالم الغیب او حاضر ناظر دی، سره نکاح کیدې شي او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سیف الدین اټک ښار ۷/۸/۱۹۸۳

(بقيه حاشيه) رواية للطبرانى عن ثوبان. (مرقاة المفاتيح ۱۱: ۴۷۱ باب ثواب هذه الامة) وفى انجاح الحاجة هامش ابن ماجة: ان الله تعالىٰ رفع عن امتى الخ (ابن ماجة ۱: ۶۵)

وقال العلامة ابن عابدين: (رفع عن امتى الخطأ) قال فى الفتح ولم يوجد بهذا اللفظ فى شيئ من كتب الحديث بل الموجود فيها ان الله وضع عن امتى الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه رواه ابن ماجة وابن حبان والحاكم وقال صحيح على شرطهما.

(ردالمحتار ۱: ۴۵۴ مطلب فى الفرق بين السهو والنسيان)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وفى مسئلة النسيان اذالحكم فى تزوجهما معا البطلان وعدم وجوب المهر الا بالوطئ كما فى عامة الكتب الخ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۱۰ باب المحرمات)

الجواب: د داسې ښځې سره د مسلمان نکاح صحیح نه ده، داسې ښځه مرتده ده، او د اهل کتاب نه هم بدتره ده﴿۱﴾ لقوله تعالی : ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن (الآیة)﴿۲﴾ وهو الموفق

د قبر پرست او د غیر الله په نوم منخته کولو والا سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یو قبر پرست، پیر پرست، او د غیرالله په نوم منخته کونکې او نور شرکیه عقیدې لرونکې سړې سره نکاح شرعا جائز ده او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: صوفی محمد شریف کیملپور ۱۰/۲/۱۹۷۵

الجواب: بشرط صدق و ثبوت د داسې سړې سره د مسلمانې جینۍ نکاح صحیح نه ده.

کما فی الهندیة ۱:۲۹۹ ویدخل فی عبدة الاوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التی استحسنوها والمعطلة والزنادقة والباطنیة والاباحیة وکل مذهب یکفر به معتقده کذا فی فتح القدیر﴿۳﴾. وهو الموفق

د پرچمی او خلقی پارټۍ والو سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه کوم خلق په افغانستان

﴿۱﴾ وفی الهندیة: لا یجوز نکاح المجوسیات ولا الوثنیات...... ویدخل فی عبدة الاوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التی استحسنوها والمعطلة والزنادقة والباطنیة والاباحیة وکل مذهب یکفر به معتقده کذا فی فتح القدیر.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۱ القسم السابع المحرمات بالشرک

﴿۲﴾ (سورة البقرة پاره:۲ آیت:۲۲۱)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۱ القسم السابع المحرمات بالشرک

کښې پرچمی او خلقی دی، او د مجاهدینو په مقابله کښې جنګیږي، د دغې خلقو سره د نکاح څه حکم دې؟ او د دغوی نکاح ختمې شوې دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمود حقانی ۱۴/۲/۱۹۸۷

الجواب: هرهغه سړې چه د دغه عقیده د کمیونزم وی، او کمیونزم لره د ترقۍ او اسلام لره د تنزل باعث ګڼړي، هغه مرتد دې﴿۱﴾، د دغه سره نکاح جائز نه ده، او د دغوی ښځو سره د عدت نه پس نکاح کیدې شی﴿۲﴾. وهو الموفق

د فسخ نکاح دپاره ارتداد د فسخ باعث نه دې، او نه د دویمې نکاح د پاره جائز کونکې دې

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښې چه یوه ښځه چه دیو سړې منکوحه وی، او صرف په دې ارادې چه زما نکاح ختمه شی، ارتداد اختیار

﴿۱﴾ قال العلامة الافندی: ذکر فی المسایرة ان ماینفی الاستسلام او یوجب التکذیب فهو کفر، وقال الحصکفی: من هزل بلفظ کفر ارتد وان لم یعتقده للاستخفاف فهو ککفر العناد والکفر شرعا تکذیبه ﷺ فی شیئ مماجاء به من الدین ضرورة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۳۱۱ باب المرتد
وفی الهندیة: وبتحسین امر الکفار اتفاقا. (فتاویٰ عالمگیریة ۲:۲۷۷ کتاب الارتداد

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: لم تبن حتی تحیض ثلاثا او تمضی ثلاثة اشهر قبل اسلام الآخر اقامة لشرط الفرقة مقام السبب، قال ابن عابدین: وهل تجب العدة بعد مضی هذه المدة فان کانت المرأة حربیة فلا لانه لا عدة علی الحربیة وان کانت هی المسلمة فخرجت الینا فتمت الحیض هنا فکذلک عند ابی حنیفة خلافا لهما لان المهاجرة لاعدة علیها عنده خلافا لهما کما سیأتی بدائع وهدایة وجزم الطحاوی بوجوبها قال البحر وینبغی حمله علی اختیار قولهما.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۲۴ باب نکاح الکافر

کړی، او بل سړي سره نکاح وکړی. نو آیا دا اوله نکاح ختمیږی، او چه کله اسلام قبول کړی، نو دا دویمه نکاح د دویم سړي سره منعقد کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: متعلم جامعه حقانیه. ۱۴۰۴/۴/۴ھ

الجواب: د ښځي ارتداد چه کله د خاوند نه د جدایئ دپاره وی، نو د فسخ نکاح دپاره باعث نه دي، او د دویم خاوند دپاره نکاح جائز کونکي نه دي. والتفصیل فی ردالمحتار ۲: ۵۴۰)﴿۱﴾ وهو الموفق

شیعه جوړیدلو سره د مخکښنی نکاح حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښ چه دیو سړي د یوي جینی سره په وړوکوالی کښ نکاح وشوه، د نکاح په وخت کښ دواړه مسلمانان وو، بیا روستو سړي د شیعه ښځي سره نکاح وکړه، د واقعاتو نه دا معلومیږی چه هغه سړي هم شیعه شوي دي، لیکن سړي خپله انکاری دي، چه زهٔ شیعه نه یم، په دي صورت کښ دهغه سړي د اولي ښځي سره نکاح باقی ده او که ختمه شوي ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الحمید ټانک ډی آئي خان. ۱۲/۱/۱۹۲۹

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: لو ارتدت لمجئ الفرقة منها ...... تجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوىٰ ولو الجية وافتى مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتيسيرا لا سيما التى تقع فى المكفر ثم تنكر قال فى النهر والافتاء بهذا اولىٰ من الافتاء بما فى النوادر لكن قال المصنف ومن تصفح احوال نساء زماننا وما يقع منهن من موجبات الردة مكررا فى كل يوم لم يتوقف فى الافتاء برواية النوادر قال ابن عابدين: (قوله زجرا لها) عبارة البحر حسما لباب المعصية والحيلة للخلاص منه ولا يلزم من هذا ان يكون الجبر على تجديد النكاح مقصورا على ما اذا ارتدت لاجل الخلاص منه بل قالوا ذلك سدا لهذا الباب من اصله سواء تعمدت الحيلة ام لا كى لاتجعل ذلك حيلة...... ولا يخفىٰ ان الافتاء بما اختاره بعض ائمة بلخ اولىٰ من الافتاء بما فى النوادر الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۴۲۶ باب نكاح الكافر)

الجواب: تر کوم وخته پوري چه دا ثابته شوي نه وی، چه دا سړي د شیعه ګانو هغي ډلي کښ داخل شوي دي، کوم چه کافران دی، تر هغي وخته پوري اوله نکاح باقی ده﴿۱﴾. وهو الموفق

د مهر معجل نه ورکولو سره نکاح ته نقصان نه رسیږی

سوال: څه فرمائي علماء دین دي مسئلي باره کښ چه زید دخپل ځوی بکر د رشتي دپاره دخالد کورته جرګه ؤلیږله، خالد انکار وکړو، لیکن زید او د خالد سخرګنی خالد لره مجبوره کړو، په آخر کښ خالد یو شرط ؤلګولو، چه زید به د بکر د طرف نه جینی ته لس زره روپی نقد یا دومره قیمت زمکه په مهر کښ ورکوی، دي شرط منلو نه پس دخالد سخرګنی یعنی د زینب جدفاسد نکاح ورکړه، او زینب هغه وخت کښ نابالغه وه، بالغ کیدلو نه پس زینب انکار وکړو او خالد ډیر ځله بکر ته د جرګي په ذریعي ؤوئیل، چه شرط پوره کړه نو رشته اوچته کړه ګنی رشته نه درکوم، په دي خبره د زینب جدفاسد خپل جائیداد په بکر خرڅ کړو، چه تهٔ شرط پوره کړه، بکر انتقال ؤلیکلو، او د انتقال د تصدیق په وخت کښ بکر دي شرط وفاء لره فسخ کړو، او پټ شو، او لیکلي شوي د انتقال کاغذونه د محکمه مال نه خارجیږی، اوس سوال دادي، چه که بکر دا شرط پوره کړی، نو د زینب نکاح چه جدفاسد کړي ده، صحیح ده او که نه؟ او که دا شرط پوره نه کړی، نو بیا هم دا نکاح صحیح ده او که نه؟ او زینب په دي صورت کښ بل ځائي کښ نکاح کولي شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عظیم الله خان چټه بټه هزاره.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وبهذا ظهر ان الرافضى ان كان ممن يعتقد الالوهية فى على او ان جبريل غلط فى الوحى او كان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة بخلاف ما اذا كان يفضل عليا او يسب الصحابة فانه مبتدع لا كافر. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۱۴ فصل فى المحرمات قوله وصح نكاح كتابية)

الجواب: د زینب چه د خالد لور ده، دهغې نکاح اوسه پورې د بکر سره موجود ده. لهذا بل ځائي کښ نکاح صحیح نه ده، ځکه چه د مهرمعجل په نه ورکولو سره په نکاح کښ څه نقصان نه راځی، او د خیار بلوغ په صورت کښ د قاضی د فیصلې نه بغیر نکاح نه فسخ کیږی.

لان الحکم عند عدم قبض المعجل المنع الوطی وغیره فی الدرالمختار: ولها منعه من الوطی ودواعیه لاخذ ما بین تعجیله انتهیٰ مختصرا، قال العلامة الشامی ۲:۳۶۷ وکذا لولی الصغیرة المنع المذکور﴿۱﴾ وفی الهندیة ۱:۳۰۴ ویشترط فیه القضاء بخلاف خیار العتق کذا فی الهدایة فان اختار الصغیر او الصغیرة الفرقة بعد البلوغ فلم یفرق القاضی بینهما حتی مات احدهما توارثا ویحل للزوج ان یطأها مالم یفرق القاضی بینهما﴿۲﴾. وهوالموفق

ښځې ته د تحقیق نه بغیر خنثی وئیل او د پلار په کور کښینول ظلم دي

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه یوې ښځه بلوغ ته رسیدلو نه پس حیض راځی، سینې ئې د ښځو پشان دی، ددې نه علاوه دائي هم ددې د ښځې کیدلو اعتراف کوی، ددې ښځې وادهٔ وشو، او درې میاشتې د خاوند سره وه، اوس خاوند ښځې ته ؤوئیل چه د خپل پلار په کور کښینه، ځکه چه زما سره ستا اوسیدل ګناه ده، تهٔ ښځه نه ئې بلکه خنثی (هیجړا) ئې، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عمرمتعلم حقانیه. ۱۴۰۱/۱/۱۲ھ

الجواب: که عقدنکاح ددې علاماتو د ظاهریدو نه پس شوې وی، نو دا عقدلازم

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۸۸،۳۸۹ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۸۵ الباب الرابع فی الاولیاء)

دي، او دا ښځه منکوحه ده، ﴿۱﴾ د طلاق نه بغیر ازادیدې نه شی، او دا خاوند په دې کار کښ ظالم دې. یدل علي اصل المسئلة مافی الهندیة: ولو ظهر له ثدی کثدی المرءة او نزل له لبن فی ثدیه او حاض. فهو امرءة﴿۲﴾. وهو الموفق

د جینۍ په نکاح کښ د فریقینو دعوی او د فیصلې صورت

سوال: څه فرمائي علماء دین دې مسئلې باره کښ چه دیوې جینۍ طلاقه کړې شوې نکاح د زید سره په ۱۳ جون د عامو خلقو په مخکښ وشوه، روستو بیا اکرم اغوا کړه، او دعوی ئې وکړه چه ما په ۲۳ مئی دې سره نکاح کړې ده، او اکرم په دې تاریخ په جیل کښ قید وو، دهغه د ترهٔ بیان دې، چه ما دهغه نه په جیل کښ وکالت اخستلې وو، او د جینۍ ماما وائي، چه ما د جینۍ نه وکالت اخستلې وو، او دا دواړه ګواهان هم پیش کوی، او زید دعوی کوی چه د ۱۳ جون نه علاوه په ۲۶ اپریل هم ما د غنمو د لو کولو دوران کښ د دوؤ ګواهانو په مخکښ نکاح کړې ده، او اوس متواتر دوؤ جرګو د جینۍ نکاح د زید سره ثابت کړې ده، ددې نه علاوه د جمات د امام بیان دې، چه زهٔ د ۱۳ جون نه یو هفته مخکښ دې جینۍ لره د خپل ؤرارهٔ په نکاح کښ راوستلو دپاره ددوی کور ته لاړم، لیکن په مهر باندې د نه راضی کیدلو په وجه واپس راغلم، اوس ددې جینۍ نکاح د چا سره صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نورحسین شاه ډم کله کرک. ۲/۱/۱۹۶۹

﴿۱﴾ قال العلامة الافندی: لو زوجه ابوه او مولاه امرأة او رجلا لا یحکم بصحته حتی یتبین حاله انه رجل او امرأة فاذا ظهر انه خلاف مازوج به تبین ان العقد کان صحیحا والافباطل لعدم مصادفة المحل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۸۱ کتاب النکاح)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۶:۴۵۷ الباب التاسع فی میراث الخنثیٰ)

الجواب: که زید د ۲۲ اپریل د عقد نکاح ګواهان د فیصله کونکي یا حاکم مخکښ پیش کړل، نو د مخکښ والی په وجه به ددهٔ دعوی ثابته شی، او د فریقینو دپاره د شهادت پیش کولو نه مخکښ به ښځه دهغه چا وی، د چا دپاره چه ښځه اقرار وکړی.

صرح به فی جمیع معتبرات الفقه، قال صاحب الهدایة ۳: ۲۱۶ ویرجع الی تصدیق المرأة لاحدهما وهذا اذالم یوقت البینتان فاما اذا وقتا فصاحب الوقت الاول اولیٰ (یعنی اذا لم یکن الدعویٰ بعد الطلاق) وان اقرت لاحدهما قبل اقامة البینة فهی امرأته لتصادقهما وان اقام الآخر البینة قضیٰ بها لان البینة اقویٰ من الاقرار انتهیٰ باختصار یسیر﴿۱﴾. وهوالموفق

د وینځې سره د جماع کولو او نکاح نه کولو مسئله

